د افغانستان ملي تحریک
2013 AFGHAN NATIONAL MOVEMENT ۱۳۹۲

# د سمون په لټه

## (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه)



Ketabton.com

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سمون په لټه

## (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: د سمون په لټه

لیکــوال: محمد اسمعیل یون

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: ضیاء الرحمن ضیاء

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۹۸)

لیکوال د خپرونو لړ: (۴۳)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې د دې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله
د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


لیکنه — مخ

- د مظلوم اکثریت چغه ........................................ ۱
- ولې د سمون په لټه ..................................... ۵
- په ولسي جرګه کې د یوه درېیم قوت د جوړولو اړتیا............. ۱۰
- د افغانستان اوسني حالات ........................................ ۱۵
- د کاندیدانو مارکیټ............................................... ۲۴
- مقابله که مفاهمه؟ مناظره که محاسبه؟................................ ۴۵
- اوسنۍ پارلماني ټاکنې= نوی سیاسي سرطان .................... ۶۷
- په ننګرهار کې د ولسي جرګې د ټاکنو ................................ ۷۶
- پښتانه او د هالبروک تعبیر.............................................. ۸۶
- افغانستان او عربي متحده امارات ګډې وجې.............................. ۹۸
- د طالبانو له مشرتابه څخه څو هیلې.................................... ۱۰۵
- یو تریخ او خوږ لیک.................................................... ۱۰۸
- (بېنوا) او (ټول افغان)............................................... ۱۱۴
- د انتخاباتو کمیسیون او درغلي............................................. ۱۱۶
- راځئ چې حقیقتونه بیان کړو!............................................ ۱۲۲
- خپلو هېوادوالو ته یو ډاډ ( د حقیقت په لټه)............................... ۱۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د افغانستان او پاکستان پارلمانونه او ګډه غونډه..................۱۵۱
- امریکایان او پښتانه، تقابل او تفاهم.....................................۱۵۴
- افغانستان او د ایران لاسوهنه.............................................۱۶۹
- په تراژیدۍ کې ژوندی قوم.................................................۱۷۷
- ډیورنډ مړ دی، کرښه یې مړه ده..........................................۱۸۱
- شل دلایل ..........................................................................۱۹۵
- ژوندون ټلوېزیون او لویه څارنوالي........................................۲۰۲
- یوه ناقانونه پرېکړه او زموږ مدني غبرګون...............................۲۰۸
- د ملت حماسه.....................................................................۲۱۹
- بیا هم افغانیت او ملي هویت...............................................۲۳۳
- د اختر نوي کالي دې مبارک! ناکامي دې مبارک!.................۲۸۰
- غوڅ سړی او پڅ کارونه.......................................................۲۹۳
- هوډ، تکل او خپلواکي..........................................................۳۰۸
- په تراژیدۍ کې لمانځنه او یادونه............................................۳۱۸
- اسلامیت، افغانیت او ملي اجماع..........................................۳۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مظلوم اکثریت چغه

د ولسواکۍ له ټولو ستونزو سره سره، د هغې یو لوی ارزښت د بیان د ازادۍ ارزښت دی. د افغانستان د اساسي قانون پر اساس هر افغان د بیان حق لري، د پخواني ولسمشر (حامد کرزي) د حکومتولۍ د دورې تر ټولو ستره لاسته راوړنه د بیان د ازادۍ ساتل و. په دې مانا چې رسنیو (چاپي، غږیزو او تصویري) ټولو تر یو حده د بیان د ازادۍ له برکته، له سانسوره پرته د ولس د غږ د پورته کولو وړتیا پیدا کړه.

د بیان د خپلواکۍ په برخه کې له ځینو بریاوو سره سره په هېواد کې د اوږده سیاسي اختناق، په واقعي بڼه د ولسواکۍ نه عملي کېدل او په پای کې د ملي مصلحتونو تر نامه لاندې د ملي خیانت د دسیسو برلاسی او داسې نورې ستونزې ددې سبب شوې چې لا هم ډېر مسایل د رسنیو له انعکاس او شخوند څخه پټ پاتې شي. که قدرمن او ویاړلي استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون صیب ورته ژور پام نه وای کړی، نو د خاموش اکثریت په زړه کې به ډېرې ناویلې خبرې همداسې پټې پاتې شوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد یون د تنظیمونو او طالبانو په دورو کې د ګڼو داسې مسایلو په باب چې د ولس درد او فریاد و، خو چا یې د اوچتولو جرئت نه شو کولای، په اخلاقي جرئت لاس پورې کړ او د هغوی فریاد یې د یوه ملي رسالت په توګه پورته کړ. تر هغه وروسته په تېره څه د پاسه یوه لسیزه کې استاد یون په لسګونو مقالې، مرکې او ویناوې په همدې پار ترسره کړې چې د مظلوم اکثریت غږ نړیوالو ورسوي.

قدرمن استاد د وهم چوپتیا ماته او د حق چیغه یې پورته کړه او دادی نن له همدې شور او ځوږ څخه د را پورته شویو مقالو یوه بشکلې ټولګه تاسو قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کوي. ددې ټولګې (د سمون په لټه) ارزښت په دې کې دی، چې ګڼې داسې لیکنې په کې ځای پر ځای شوي چې له تخنیکي او علمي پلوه به په راتلونکې کې هم د ورته غلطیو د سم سمکي او د نورو غلطیو د مخنیوي لپاره ترې کار واخیستل شي. ګڼو محصلینو ته به د تحقیق او شننې لپاره مواد برابر کړي او ګڼو مضرو احتیاط کارو ته به پر خولې سوک شي چې که د ولس غږ نه غبرګوي، دوی به هم له معقول غبرګون سره هرو مرو مخا مخ شي.

د ټاکنو (ولسمشرۍ او ولسي جرګې) په اړه په کې ګڼ شمېر داسې حقایق په ګوته کړي چې هغه وخت په یو نه یو ډول تر سانسور لاندې راغلي وو، له ولسه پټ پاتې شوي وو، خو استاد یون په مېړانه د خپلو لیکنو له لارې هغه خپاره کړل، پخواني ولسمشر (حامد کرزي) ته د پرانیستي لیک محتوا د چوپ اکثریت چیغه ده چې د وخت ولسمشر یې د بېتې مجبور کړ، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد یون سره له نږدې وګوري، د کار او عمل لپاره یې میکانیزمونه جوړ کړي، چې د ورته ستونزو د تکرار مخه پرې ډب شي.

تر ټولو مهم غږ چې استاد یون په مېړانه په لومړي سر کې د لیکنو په بڼه را غبرګ کړ او وروسته له دې غږه ولسي مبارزه راوټوکېده او د تاریخي مسولیت په بڼه یې د ګڼو نورو مبارزو ځوانانو له خوا ملاتړ وشو، هغه د هویت د تذکرو په اړه د قدرمن استاد یون شننه وه. افغان دښمنه عناصرو زموږ ولس ته د ورکاوي داسې یوه توطیه جوړه کړې وه چې هم ترې ملي هویت ترورل کېده او هم اسلامي، خو د استاد یون مبارزې او د دې مبارزې د ملاتړ په مټ عامه پوهاوي ولس د ښه چمتو کړ، چې لارو کوڅو ته را ووځي او ګڼ نور ځوان مبارزین ورسره یوځای شي. همدا مبارزه وه چې افغاني روښانتیا ته یې لاره هواره کړه. د افغان هویت د ملاتړ او ذکر په اړه یې (شل) داسې دلایل د وخت حکومت ته وړاندې کړل، چې حکومت هم په مجبور شو، د ولس دې غوښتنو ته غوږ ونیسي، خو عملي کېدو ته یې لا هم لاره پاتې ده.

په لنډه توګه (د سمون په لټه ) کتاب به له لوستونکو سره مرسته وکړي چې د ګڼو پټو خبرو، رازونو، او غږونو له شور او ځوږه خبر شي، له ګڼو سره به د ژور تحقیق او څېړنې په برخه کې مرسته وکړي او ځینې به د ښه وهڅوي چې حقیقت که هر څومره تریخ وي، باید چې د بیان هوډ یې وشي او له ولس سره شریک شي. نور نو دا ټولګه خپله ستاسو مخې ته پرته ده، هره لیکنه یې مشخص حالات او حوادث تشریح کوي، ددې ټولګې پر هره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکنه، ليکنه او ليکنې کېدلای شي، خو زه نه غواړم د لوستونکو او د دې ټولګې ترمنځ خنډ شم، ښه به وي چې هر څوک په خپله ژر ( د سمون په لټه ) کې شي. دا هم تاسو او دا هم (د سمون په لټه ) د څېړنيزو او شننيزو ليکنو دا ټولګه.

په درناوي

پوهنيار فيض محمد ځلاند

۲۰/۱۰/۱۳۹۴

کابل پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې د سمون په لټه؟

(د سمون په لټه) زما د هغو بېلابېلو ليکنو ټولګه ده چې ما تر (۱۳۸۷ل) کال وروسته ليکلي دي. يوه نيمه ليکنه به د ياد کال د وروستيو وختونو هم په کې وي، خو نورې ليکنې تر ياد کال وروسته ليکل شوي دي. د دې ليکنو زياته برخه پر خپل وخت د چاپي او برېښنايي رسنيو له لارې خپره شوې ده او يو څو داسې ليکنې په کې دي چې هغه لا تر دې دمه نه دي خپرې شوي او لومړی ځل به په دې اثر کې خپرې شي. دا ليکنې تر ډېره حده سياسي او ټولنيز رنګ لري او پر همدې موضوعاتو رڼا خپروي. البته ما تر دې د مخه هم يو شمېر سياسي او ټولنيزې ليکنې کړې چې هغه پر (۱۳۸۷ل) کال هغه مهال چې ما د خپلې (۲۳) کلنې ليکوالۍ ټول راټول کړی کار سره منظم کړ چاپ شوې، تر هغه وروسته نو بيا داسې ليکنې او يا هم ځانګړی اثار نه وو چې هغه د تېر په شان د يوې بستې يا پيکېج په شکل وړاندې کړم، تر (۱۳۸۷ل) کال وروسته مې بيا وپتيله، کله هم د ځانګړو او متفرقو اثارو او ليکنو شمېر زيات شي، نو بيا به يې د يوه پيکېج په بڼه خپل ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ډالۍ کوم. اوس چې د (۱۳۹۴ل) کال مې وروستي وختونه دي، غواړم بیا خپل ولس ته خپل ځیني ځانګړي اثار او همدارنګه د بېلابېلو لیکنو ټولګې وړاندې کړم، البته پر (۱۳۸۹ل) کال مې دوه عنوانه مستقل اثار هم چاپ کړل، خو نور کارونه لا روان وو. اوس بیا خپل ولس یو ښه پیکېج ډالۍ کوم، په دې پکېج کې هم نږدې لس عنوانه بېلابېل اثار شامل دي چې دا ټولګه هم د همدې پیکېج یوه برخه ده. دا د هغو سیاسي او ټولنیزو لیکنو یوه ټولګه ده چې تر (۱۳۸۷ل) کال وروسته بیا د (۱۳۹۴ل) کال تر وروستیو پورې په بېلابېلو وختونو کې، پر بېلابېلو موضوعګانو لیکل شوي دي. ددې لیکنو هدف دادی چې حقیقت بیان شي او د واقعیتونو د بیان په نتیجه کې رغاوی او سمون رامنځته شي. په دې کې هم شک نه شته، چې له دې لیکنو سره یو شمېر خلکو مخالفت هم کړی او لا به یې نور حساسیت هم راوپارېږي، خو پر دې هم پوهېږم چې پر عام ولس ښې لګي او د هغوی د ټپونو لپاره به یو تسکین وي، طبیعي خبره ده چې د بلې هرې مظلومې ټولنې په شان زموږ په ټولنه کې هم اکثریت مظلوم دی او ډېرو کمو ډلو او یا اشخاصو تر خپل استحقاقه زیات امتیاز ترلاسه کړی او دې لړۍ ته لا هم دوام ورکوي. دا ډول اشخاص طبعاً پر داسې لیکنو نه یوازې دا چې خوابدي کېږي، بلکې منفي غبرګون هم ښیي، خو که د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی او عظیم اکثریت لپاره یو څو محدودي ډلګۍ او اشخاص خفه هم شي، تورو برېښن هم وکړي ودې کړي.

په تېرو درېو څلورو لسیزو کې زه له ډېرو زیاتو ګواښونو او خطرونو سره مخامخ شوی یم، خو څوک چې ددې ډول خطرونو او ګواښونو د رفعې او دفعې اصلي واک ورسره دی، پر هغه مې ډېره لګولې. ((د خوشال ختټک تکیه پر ذوالجلال ده))، د ملکیار بابا خبره ((ښتن مو مل دی)) چې څښتن دې مل وي، نوره پر چا رایه مه وهه، پر لوی الله مې توکل کړی او خپل هوډ او تکل مې غښتلی کړی، نو ځکه مې دا دومره اوږد او ستونزمن مزل تر دې دمه رارسولی دی.

دا هره لیکنه د یوې خاصې موضوع پر چورلیز راڅرخي او دا موضوع یا پېښه بیا د خپل زمان او مکان د حالاتو او نورو حوادثو زېږنده ده. ما د هرې پېښې په اړه پر خپل وخت غبرګون ښودلی دی. د لیکوال غبرګون به څه وي؟ پرته له لیکنې! همدا مې په وس کې و، همدا مې کړي او اوس ډېر خوشاله یم چې دا هر څه مې لیکلي او ثبت کړي او که نه نو ډېر حالات او پېښې به همداسې د تاریخ له حافظې وتې وي. یوازې دا لیکنې نه دي، نور ډېر مثبت شیان هم شته، ((دا خو ته ولوله په سترګو کې دي- نورې خبرې مې په زړه پاتې دي.)) یو بل (زر مخیزه) کتاب هم راروان دی چې اوس یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکیزول نه دي په کار: ((نه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي)) ډېر مرموز، پټ او نیمه ښکاره شیان به تاسو په هغه اثر کې ولولئ، خو لږ وخت به غواړي، لږې رڼایي ته به منتظر شو، دومره رڼایي ته چې لوستونکي یې د لوستلو پر مهال په تکلیف نه شي.

لکه څنګه چې د مخه مو یادونه وکړه، دا لیکنې د خپل وخت او خپلو شرایطو محصول دي او د همدې خپلو حالاتو انځورنه کوي، ماضي کې چې څه وو او راتلونکي کې چې څه پېښېږي؟ په هغو معیارونو د پېته نظر نه شي کېدی، البته ماضي، حال او راتلونکي یو بل سره ارګانیک اړیکي لري، (پرون) د (نن) پلار او د (سبا) نیکه دی او (نن) د (سبا) پلار، خو په دې لیکنو کې یوازې د (نن) اړوند مسایل څېړل شوي دي. څکه چې موږ په (نن) کې ټوکېدلي یو، (پرون) خپل پښت درلود او (سبا) خپل نسل لري، د هر لیکوال او اندیال دا دنده ده چې د خپل وخت د ناخوالو انځور وکاږي.

کاشکې دا لیکنې او په ټوله کې د پېته ورته اثار د راتلونکي لپاره د ښه پیغام رسولو وسیله شي او یا لږ تر لږه راتلونکي ته خو د حال یو انځور ورکړي: ((شهیدو! تاسو نه که هلته چا پوښتنه وکړه-ورته به وایئ چې وطن کې بهېدلې اوښکې)) زه غواړم د همدغو اوښکو او اوسېلو انځور راتلونکي نسل ته ولېږدوم. دا چې ما به ددې ټولنیزو، سیاسي پېښو او ناخوالو په انځورنه کې څومره موثره هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـړې وي، دا قضـاوت ددې اثـر لوسـتونکو او راتلـونکي پښـت تـه پرېږدم، خو کـوم څـه چې څرګنـد دي هغـه دادي چې څـه مـې پـه وس کې وو هغه مې له خپل ولسه نه دي سپمولي. کـه نيوکـه مـې کـړې، که مې د چا د خبرې ترديـد کـړی او يـا مـې پـر يـوې خبـرې ټينګـار، يوازې په دې نيت و چې حقيقت څرګند شي او سمون رامنځته شـي، د سـمون پـه لټـه کـې وم او لابـه دې مبـارزې تـه دوام ورکـوم. نـور نـو تاسو او دا هم (د سمون پـه لټـه)، تاسـو پـوهېږئ او (سـمون) مـو او زه به درنه د نور سمون په هيله (د سمون په لټه) کې شم.

په درناوي درنښت

ستاسو سمونپالی (يون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ولسي جرګه کې د يوه درېيم قوت د جوړولو اړتيا

(دا ليکنه د ولسي جرګې د (۱۵) مې دورې د لومړي کال پر مهال شوې ده او د همغه وخت د حالاتو او غوښتنو انځورنه کوي.)

**په افغانستان کې د ولسي جرګې يا په عمومي ډول د اوسنۍ ملي شورا له عمر څخه يو کال تېرېږي. خو د شورا تر جوړېدو دمخه او د شورا د يو کلن ژوند په بهير کې چې د ولس کومې هيلې او غوښتنې وې، هغه نه دي پوره شوي دا کار ددې سبب کېږي چې پر حکومت سربېره پر ولسي جرګه هم د خلکو باور کمزوری شي او په نتيجه کې د دولت او ولس ترمنځ د باور او اعتماد يو لوی بحران رامنځته شي. د داسې يو بحران د احتمالي راتګ يو عامل دادی چې ولي جرګې دحکومت او ولس ترمنځ د ارتباطي پل او د قانون او اصلاح د يوې سرچينې په توګه خپل رول ادا نه کړ.**

**ولسي جرګه د يو شمېر اشخاصو د شخصي او تنظيمي غوښتنو او د حکومت د سياسي نفوذ پر ميدان بدله شوه او په دې ډول په ولسي جرګه کې د مثبت خو متفرق اکثريت رول هم پيکه شو. د مثبت اکثريت مهمه ناروغي همدا وه چې په خپل منځ کې يې منظمه او سيتماتيکه همغږي نه لرله او د ګډ او مشترک فعاليت پر محور راټول نه و. همدا وجه وه هغو اشخاصو چې پخوا يې هم د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشروعو او نا مشروعو ائتلافونو یوه اوږده او پخه تجربه لرله، له حکومت سره د مشروع او نا مشروع سازښت لاره ونیوله په دې ډول یې هم په حکومت کې خپل امتیاز خوندي کړ او هم یې په ولسي جرګه کې د حکومت پراخ نفوذ ته لاره اواره کړه. اوس چې موږ ولسي جرګې ته نظر کوو نو د حکومت پر وړاندې د یوه مثبت غوښتونکي او مشروع همکار اپوزیشن بڼه نه لري، بلکې په ولسي جرګه کې یو شمېر داسې اشخاص شته چې ظاهراً ځان د حکومت اپوزیشن ګڼي خو په حکومت کې یې تر ټولو زیات امتیازات ترلاسه کړي دي. که حالات همداسې روان وي نو موږ به د هېواد په کچه د اصلاحاتو کوم بهیر ونه وینو او تر دې دمه لاسته راغلي اصلاحات او بریالیتوبونه به هم له ستونزو او خنډونو سره مخ شي. نو ددې په خاطر چې موږ په هېواد کې تېر بریالیتوبونه هم خوندي ساتلي وي او د نویو اصلاحاتو لپاره مو هم لاره پرانیستې او اواره کړې وي، نو تر ټولو دمخه په کار دي چې د افغانستان ملي شورا په تېره بیا ولسي جرګه چې قانوناً د خلکو د ارادې ممثله ګڼل کېږي عملاً یې د خلکو د غوښتنو او ارادو د تمثیل پر مرکز بدله کړو، دا کار په ولسي جرګه کې د یوه مثبت اصلاح غوښتونکي ګروپ یا هم مثبت اپوزیشن د جوړېدو له لارې ممکن دي. څرګنده خبره ده چې په ولسي جرګه کې د امتیاز غوښتونکو وکیلانو په اندول اصلاح غوښتونکي وکیلان زیات دي. خو دا وکیلان څه ناڅه متفرق او تیت او پرک دي. ددې ریفورمیست یا سمونپال اپوزیشن د جوړولو په اړه دلته څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظرونو او وړانديزونو يادونه کېږي چې کېدی شي نور نظرونه هم پرې ورزيات شي او دا طرحه لانبه شي:
۱- اکثرو وکيلانو سره دې مشوره وشي او د يوه مثبت اپوزيشن د جوړېدو ضرورت دې ور په ګوته شي.
۲- د نظر تر توافق وروسته دې يو اصلاحي ګروپ د تشکيلاتي جوړښت د څرنګوالي په باب نظريې راټولې کړي.
۳- له نظريو څخه دې مشترک ټکي راټول او هغه دې ډلبندي شي.
۴- که چېرې په تشکيلاتي جوړښت کې پر يوه واحد شخص د راټولېدو لپاره د نظريو پوره توافق نه وي، کېدی شي د مشرتابه هئيت ته دوراني بڼه ورکړل شي.
۵- د يوه مثبت اپوزيشن د جوړېدو ضرورت او اهداف دې په ليکلي بڼه د نورو د قناعت او د هغوی د نظرياتو د جذب په خاطر تيار او ترتيب شي.
٦- تر ټولو دمخه دې يو مشورتي ګروپ دنده پر غاړه واخلي او د ولسي جرګې له ټولو اصلاح غوښتونکو وکيلانو سره دې هر اړخيزې مشورې وکړي.
۷- طبيعي خبره ده چې د سلامشورو پر وخت دداسې يو اصلاحي اپوزيشن د جوړولو د ګټو او زيانونو په اړه ګڼې پوښتنې مطرح کېږي، دلته کېدی شي ددې اصلاحي ګروپ احتمالي ګټو او زيانونو ته اشاره وکړو:
۱- په ولسي جرګه کې د يوه رښتيني منظم، سيستماتيک او څرګند اصلاحي اپوزيشن کمی دی دا خلا به ډکه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- اوس چې ځينې کسان د اپوزيشن په توګه مطرح دي او له حکومت څخه نا مشروع امتيازات اخلي د هغو د نامشروع امتيازاتو مخه به ونيول شي.
۳- د هغو ډلو او اشخاصو مخه به هم ونيول شي چې هم په حکومت کې زيات واک و ځواک لري او هم په ولسي جرګه کې د اپوزيشن امتيازه تر لاسه کوي.
۴- د سالم او مثبت اپوزيشن له لارې به په حکومت کې د اصلاحاتو لړۍ پياوړې شي او ولس ته به کې زياته ګټه ورسېږي.
۵- د ملت د استازو او د قانون د يوې مرجعې په توګه به د ولسي جرګې باور او اعتبار زيات شي.
٦- متفرق او تيت و پرک مثبت وکيلان به پر يوه محور راټول شي او د يوه مثبت قوت په توګه به څرګند شي.
۷- د قانون حاکميت به د قانون له مرجعې څخه پيل شي.
۸- د يوه مثبت اپوزيشن له لارې کېدی شي د ولسي جرګې مشرتوب ترلاسه او يا هم په سالم ډول کنټرول شي.
ب- زيانونه: هره مثبته پديده د خپلو ګټو ترڅنګ يو څه نيمګړتياوې او زيانونه هم لري، د مثبت اپوزيشن د جوړېدو څخه کېدی شي د خپلو ګڼو ګټو ترڅنګ يو څه ضمني زيانونه هم ولري چې دلته يې د ځينو احتمالي زيانونو يادونه کوو:
۱- که چېرې اوس د يوه مثبت اپوزيشن هڅه وشي او دا هڅه ناکامه شي نو اوسني امتياز غوښتونکی اپوزيشن به لا پسې پياوړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- که چیرې د یوه مثبت اپوزیشن دجوړیدو خطر محسوس شي نو د هغه مخالفین به له هر ډول مشروع او نا مشروع امکاناتو او مالي سرچینو ناوړه ګټه پورته وکړي د هغه مخه به ونیسي. دا کار به په ولسي جرګه کې د یوه ناسالم رقابت زمینه برابره کړي او یو شمیر ضعیف النفسه وکیلان به د پیسو په زور وخت پر وخت خپل سیاسي لوری رد وبدل کړي.

۳- که سالم اپوزیشن جوړ او وروسته بیا ناکام یا ړنګ شي نو دا به داسې وانګیرل شي چې په افغانستان کې د مثبتو پدیدو په انډول د منفي پدیدو د کامیابۍ چانس زیات دی او دا کار به د مخالفینو روحیه پیاوړې کړي. خو په هر ترتیب که د مثبت اپوزیشن مثبتې او منفي نتیجې سره پرتله کړو، منفي یې د مثبتو هغو په انډول د نشت برابر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان اوسني حالات
# څېړنه او ارزونه

دا تحلیلي لیکنه او ارزونه د (١٣٨٧ل) کال په وروستیو کې شوې وه، جمهور رییس، نورو مطرح شخصیتونو او اړوندو ارګانونو ته ورلېږل شوې، خو چا پرې سر ونه ګراوه، دادی دلته یې د هغه وخت د حالاتو د یوه تحلیل او ارزونې په توګه وړاندې کوم.

## الف- امنیتي حالات:

په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو په پوځي زور د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته امنیتي حالات پر دغو دریو برخو وېشلای شو:

١- د طالبانو تر سقوط وروسته پړاو: دا هغه مرحله وه چې طالبان د امریکایانو په زیات پوځي زور او د هغو د کورنیو متحدینو (شمالټلوالې) په مرسته له نظامي پلوه مات او ړنګ شول، د طالبانو او القاعدې نیټورک زیانمن او دوی د افغانستان په کلیو، باندو، لرې پرتو سیمو او تر ډیورنډ کرښې اخوا په قبایلو سیمو کې تیت و پرک او پټ شول. دا هغه مهال و چې طالبانو له بهرنیو ځواکونو او د هغوی د متحدو کورنیو وسلوالو ډلو پر وړاندې جګړه نه شوه کولای. دې پړاو نږدې دوه دوه نیم کاله دوام وکړ، دا همغه وخت و چې اضطراري لویه جرګه، اساسي قانون لویه جرګه، د جمهوري ریاست او ملي شورا انتخابات ترسره شول.

٢- د طالبانو د دفاعي حالت پړاو: د جمهوري ریاست تر انتخاباتو وروسته حکومت بیا هم ائتلافي بڼه غوره کړه، اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library

فساد او د جنګسالارانو واک په حکومت کې لا زیات شو، د خلکو رایو او نظریو ته چندان ارزښت ور نه کړل شو، همدغه و چې د خلکو او حکومت ترمنځ فاصله زیاته شوه، له دې خلا څخه طالبانو ګټه پورته کړه، بېرته یې ځانونه منظم کړل او په ډېرو ساحو کې یې د دولتي ځواکونو او ان د بهرنیو ځواکونو پر ضد د دفاع او خرپ او ترپ جنګ توان پیدا کړ، طالبانو او د هغوی بهرنیو ملاتړ کوونکو ته دا وخت، د دولتي او بهرنیو ځواکونو نیمګړتیاوې او جنګي ظرفیت هم معلوم شو.

**۳- د طالبانو د تعرضي حالت پړاو:** څومره چې دولت په اداري او مالي فساد کې غرقېده او د دولت جوړونکي بېلابېل او مختلف تنظیمونه او اشخاص په حکومت کې پر امتیازاتو ورانېدل، نو همغومره طالبانو ته د تنفس او ودې زمینه برابرېده، دا مهال طالبانو خپل بهرني روابط هم سره منظم کړل او له ځینو ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا له ایران او پاکستان څخه یې وسلې هم واخیستې او د وسلو د هغو دولتي او نادولتي قاچاق وړونکو له لارې یې هم وسلې ترلاسه کړې چې د افغانستان له شمال څخه تر جنوبه د وسلو پر قاچاق بوخت وو. طالبانو ددې وس پیدا کړ چې د ځان وژونکو حملو او ګوریلایي جنګونو تر څنګ پر منظمو جبهه یي جنګونو هم لاس پورې کړي او له حکومت څخه د ولسوالیو په ګډون پراخې سیمې لاندې کړي. د نړیوالو رپوټونو پر اساس اوس د افغانستان حکومت د افغانستان په سلو کې یوازې پر (د ېرش) برخې خاورې حاکمیت لري او که په دې پاتې برخه کې د دولت د دولتي مخالفو قوتونو د واک وېش سره محاسبه کړو، نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکمیت لاپسې متلاشي کېږي، ځکه چې دا واک هم د بېلابېلو جنګسالارانو او تنظیمونو ترمنځ وېشل شوی دی.

۴- اوسني امنیتي حالات: اوسني امنیتي حالات په تېرو اوو کلونو کې تر بل هر وخت څخه ډېر خراب شوي، په ښارونو کې اختطاف، وېره او تښتونه عامه شوې او له لویو ښارونو د پانګوالو فرار روان دی. روښنفکران او د قلم خاوندان هم ځان مصئون نه ګڼي، نادولتي موسسې او بهرني وګړي ټول ځان په خطر کې احساسوي.

د دولتي پولیسو او ملکي مامورینو تلفات زیات شوي او د ملي پوځ د سرتېرو د مرګ ژوبلې کچه هم اوچته شوې، ددې ترڅنګ نړیوالو پوځي ځواکونو، ملکي وګړو او همدارنګه د مخالفو طالبانو ټولو د مرګ کچه اوچته شوې ده. دا ددې مانا ورکوي چې د جګړې ساحه پراخه شوې، جګړه درنه شوې او لا د درنېدو په حال کې ده.

## ب- راتلونکي حالات او پرمختګونه:

د راتلونکو حالاتو په اړه مخکې تر مخکې خبرې او وړاندوینه کېدی شي پوره دقیقه نه وي، خو هغه څه چې د اوسنیو حالاتو له مخې یې احتمال کېدی شي، حالات په مجموعي ډول د ښه والي پر لوري روان نه دي. د راتلونکو حالاتو پر وړاندې دا ستر سیاسي چیلنجونه پراته دي:

۱- د جمهوري ریاست انتخابات: ځینې سیاسي ډلې لکه پخوانی شمال ائیتلاف او نور د ۱۳۸۸ ل کال د جوزا پر میاشت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاباتو ترسره کېدل غواړي، خو حکومت د میزان پر میاشت او ان تر هغه وروسته د انتخاباتو ترسره کېدل غواړي، په دې ډول دا یو سیاسي بحران دی، امنیتي وضعه هم داسې ده چې د عادلانه انتخاباتو ترسره کېدل ناشوني کوي. که په داسې حالت کې انتخابات ترسره هم شي، نو دهېواد اکثریت (پښتانه) به په کې ګډون ونه کړای شي، د پښتنو د نشتوالي په حالت کې به انتخابات مشروعیت ونه لري.

**۲- که انتخابات ترسره نه شي:** که انتخابات ترسره نه شي نو بیا به هم هېواد له یو سیاسي بحران سره مخامخ شي، د حل یو ضمني او نسبي لاره (لویه جرګه) ده چې نوی زعامت تاکلای شي، خو پر لویه جرګه هم کېدلای شي ځینې کورنۍ او بهرنۍ موثره سرچینې خپل اغېز وشیندي او په ښه او عادلانه ډول پرېکړه ونه کړای شي.

په هر حال افغانستان ته په راتلونکي کې د یو سیاسي بحران د ورپېښېدو قوي وېره شته.

ج- د افغانستان د اوسنیو سیاسي او پوځي ځواکونو تناسب:

په رسمي ډول خو په افغانستان کې له عدلیې وزارت سره تر (۹۷) زیات سیاسي ګوندونه ثبت دي او یو زیات شمېر لا تر اوسه ثبت شوي هم نه دي، خو فعالیت کوي، دا ټول ثبت او ناثبت شوي ګوندونه او ډلې له یوې مخې ولسي، سیاسي او پوځي قوت نه لري، موږ دلته یوازې هغو ډلو ته لنډه اشاره کوو چې سیاسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

قـومي، مـذهبي، ولسـي، پـوځي او اقتصـادي قـوت يـې محسـوس دی.

۱- طالبـان: يـوه مـذهبي او نظـامي ډلـه ده چـې اوس د دولتــي او نړيوالـو ځواکونـو پـر وړانـدې سـتر چيلـنج دی، کـه چېـرې نړيـوال ځواکونه نه وي، نو نورې دولتي او نا دولتي سياسي ډلې د طالبـانو د نظامي زور او قوت تـاب نه لـري، د نړيوالـو ځواکونـو د نشـتوالي په حالت کې کېدی شي اوسنی حکومت د څو ورځـو پـه بهيـر کـې د طالبانو له خوا رنګ شي. د يـادونې وړ ده چـې طالبـان مـذهب پلـوه ډله ده، سياسي تفکر يې کمزوری او نظامي فعاليت يې زيـات دی، قـومي تفکـر نـه لـري، خـو د دوی مخـالفين (پخـوانی شـمالتړلواله) دوی پر قومي او قبيله يي تمايلاتو تورنوي.

۲- اوسـنی ملـي جبهـه (پخـوانی شـمالتړلواله): د برهـان الـدين ربـاني اسـلامي جمعيـت ددې جبهــې اصـلي محرکـه قـوه او د ثقـل مرکـز دی، لـه نـا متجانسـو سياسـي ډلـو جـوړه ده، هـره شـېبه يـې د وېشل کېدو امکانات شـته، دا ائـتلاف اساساً قومي تمـايلات لـري، خو ظاهراً ملي او اسلامي رنګ لري، د افغانستان د دولت اساسـي رګونه د همدې ائتلاف په لاس کې دي، دا ائتلاف پراخې کـورنی او بهرنـی مـالي سـرچينې لـري او د افغانسـتان د ازادې ميـډيا درنـه برخه يې په لاس کې ده، په ځينو سيمو کې رسمي او په ځينـو کـې نـا رسـمي ملېشــې لـري او همدارنګـه قـانوني او نـا قانونـه وسـلې، د حکومت په داخل کې تر دې ډلې بلـه قـوي ډلـه نـه شـته، دې ائـتلاف پخوا هم له روسيې او ايران سره اړيکي درلودل او اوس يې هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳**- شیعه ګوندونه: د خلیلي په مشرۍ د افغانستان اسلامي وحدت ګوند، د محقق په مشرۍ د افغانستان د خلکو د اسلامي وحدت ګوند، د مصطفی کاظمي د ورور په مشرۍ د ملي اقتدار ګوند، د محسني په مشرۍ د اسلامي حرکت او د صادق مدبر په مشرۍ د ملي انسجام ګوندونه، د شیعه ګانو غټ ګوندونه دي چې مذهبي، سیاسي او اقتصادي قوت لري، ددې ګوندونو تفکر اساساً پر قومي، مذهبي او ژبنیو ګټو راڅرخي.

**۴**- د حکمتیار اسلامي حزب او د انوارالحق احدي افغان ملت:

دحکمتیار حزب اوس هم یو سیاسي، مذهبي او نظامي قوت دی چې د دولت او بهرنیو ځواکونو پر وړاندې جنګېږي، ځینې پخواني غړي یې په حکومت کې هم شتته، خو له اقتصادي پلوه کمزوری شوی، که چېرې بهرني قوتونه نه وي، نو تر طالبانو وروسته کېدی شي د دویمې سیاسي، پوځي او مذهبي ډلې په توګه څرګند شي.

افغان ملت یو دیموکرات ګوند دی چې ملي افکار لري، نظامي ډله نه ده، یوه سیاسي ډله ده چې په حکومت او تر حکومته بهر یې یو شمېر غړي فعال دي. ددې ډلو ترڅنګ نورې لویې وړې ډلې هم شته چې افکار یې همدې ډلو ته ورته دي او د هېواد په سیاسي ډګر کې یې اغېز ډېر زیات نه دی، نو ځکه د ټولو له یادونو تېرېږو.

د پورتنیو ستونزو د یادونې ترڅنګ د افغانستان دولت له ځینو نورو ستونزو سره هم مخ دی چې دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. دولتي اپوزيسيون: د دولت په داخل کې پر مهمو پوستونو کار کوي، د دولت امتيازات اخلي، امکانات يې کاروي او بېرته د دولت د ريفورمونو مخالفت کوي. ملي جبهه د هغې بېلابېل غړي، د جمهور رئيس لومړی مرستيال، ځينې وزيران. د امنيتي سکتور ځينې مهم غړي ددې اپوزيسيون برخه ده.

۲. نا دولتي اپوزيسيون: په دولت کې کار نه کوي، خو تر دولته بهر د دولت مخالفت کوي لکه طالبان ، د حکمتيار اسلامي حزب ، يو شمېر پخواني جهادي قومندانان او داسې نور... تر نا دولتي اپوزيسيون څخه دولت ته دولتي اپوزيسيون ډېر خطرناک دی.

۳. دولت د سياسي انحاصر په منګولو کې : که څه هم د دولت مشرتابه (جمهور رئيس) د خلکو له خوا ټاکل شوی، خو له جمهوري رياست پرته نورې اکثره څوکۍ او مهم دولتي پوستونه د اسلامي جمعيت په لاس کې دي او په اسانۍ سره نو رڅوک نشي زغملای.

۴. قومي انحصار: دا دولت که څه هم د ديموکرات دولت په نامه يادېږي، خو پر دولت د يوې قومي ډلې(تاجکانو) زيات انحصار نورې قومي ډلې خفه کړې او په دې ډول د دولت او خلکو تر منځ واټن رامنځته شوی دی. د اوسني دولت په مهمو پوستونو کې ۲۲,۲% (شپږ شپېته اعشاريه شپږ سلنه) تاجک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵,۳% پښتانه، ۴,۳% هزاره او پاتې نور قومونه ونډه لري. دا په داسې حال کې ده، یو شمېر رسنۍ چې ګنې د تاجکانو ننګه کوي، هغوی پر دې سهم هم قانع نه دي او کرزي پر «فاشیزم» تورنوي، خو دې خوا بیا پښتانه د خپل کمیت له مخې په دې حکومت له خپلې کمې ونډې څخه نا راضه دي.

۵. **امنیتي سکتور**: امنیتي سکتور هم تر ډېره حده د اسلامي جمعیت په لاس کې دی، دا تنظیم نه غواړي د افغانستان په ډېرو سیمو په تېره بیا په جنوب، جنوب غرب او شرق کې امن وي، ځکه که هلته امن راشي نو په کابل کې ددې ډلې انحصار ختمېږي او نور خلک هم په حکومت کې شاملېږي.

۶. **اداري فساد**: د حکومت پر وړاندې بل غټ چلنج اداري فساد دی، چې اکثره لوړ او ټیټ رتبه مامورین پرې ککړ دي.

۷. **امنیتي حالت**: د خلکو او دولت غټ ستونزه دا ده چې دهېواد په اکثرو سیمو کې امنیت ورځ پر ورځ خرابېږي، په ملکي او امنیتي ارګانونو کې د یو شمېر بې کفایته او د دولت د دولتي مخالفو سیاسي ډلو واک ددې سبب کېږي، چې امنیت لا پسې خراب شي.

۸. **د ګاونډیو هېوادونو مداخله**: ایران او پاکستان په افغانستان کې تر هر چا زیاته مداخله کوي، په تېره بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران. اوسمهال چې ایران په افغانستان کې څومره واک او ځواک لري د نړۍ هېڅ هېواد یې نه لري، ایران له یوې خوا د حکومت په داخل کې خپل پلویان تقویه کوي او بل پلو ته دولت مخالفو طالبانو ته هم وسایل او پیسې ورکوي او په دې ډول غواړي ناامني دوام وکړي. د ایران لپاره دا یو طلایي چانس دی، چې له خپلو پخوانیو مخالفینو(طالبانو) څخه د امریکا پر ضد ګټه پورته کړي. که طالبان وژل کېږي هم ایران ته یې ګټه رسي، که امریکایان وژل کېږي هم دوی ګټه اخلي او که سیمه ورانېږي هم د پښتنو سیمه ده، چې له مذهبي او ژبني پلوه د ایران مخالفه ده.

۹. **منفي میډیا**: د افغانستان د اوسنۍ ازادې میډیا زیاته برخه د ایران له خوا کنترول او تمولېږي، د افغانستان د پېښو په منفي ښودلو کې ددې میډیا نقش زیات دی، دا میډیا په افغانستان کې د مثبتو پرمختیاوو په اندول منفي پېښې زیاتې ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کاندیدانو مارکیټ

یادښت: دا لیکنه پر (۱۳۸۸ل) کال د جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره د نوملیکنې د بهیر د بشپړېدو پر مهال لیکل شوې وه او د همغه وخت د سیاسي انتخاباتي بهیر انځورنه کوي.

ټاکل شوې ده، د روان (۱۳۸۸ل) کال په بهیر کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره عمومي ټولټاکنې ترسره شي. طبعاً د هرو دا ډول ټولټاکنو پر وړاندې ستونزې پرتې وي. د هېواد امنیتي حالات، رقابتونه، ګډوډي، درغلي، د زر و زور استعمال، یو پر بل د تورونو پورې کول، د سپکو او سپورو الفاظو کارول، له انتخاباتو نه د ځینو کاندیدانو بایکاټ، په زور، چل او هنر د ځینو کاندیدانو ګوښه کول، د ټاکنو د نتیجو نه منل، د ځینو کاندیدانو چغې و فریاد، د کاندیدانو د پلویانو ترمنځ حق و ناحق جنجالونه، ناندرۍ او داسې نور ګڼ مسایل د ټاکنو د بهیر طبیعي ځانګړنې دي.

خو زه په دې لیکنه کې دې پورتنیو ځانګړنو یوې ته هم نغوته نه کوم، یوازې غواړم د افغانستان د جمهوري ریاست د راتلونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تباکنو لپاره د کاندیدانو ظرفیت، کفایت او اخلاقي جرئت ته د لوستونکو پام را واړوم او د بېته اشاره وکړم، چې د دې ګڼ شمېر کاندیدانو د کمښت لاړې چارې هم شته او که نه؟ نو تر ټولو لومړی دا پوښتنه مطرح کوم، چې څوک کاندیدان دي او څوک نور کاندید پرې؟

## سریزه:

په مجموعي ډول د هر چا ذوق او شوق چې پارېدلی، احساس یې په څپو راغلی، نو پرته له دې چې له عقل سره مشوره وکړي او ځان یو ځل د خپل وجدان په تله وتلي، ځان یې کاندید کړی، کومې نمونې چې اوس یې ځانونه نوماند کړي، پر دې نمونو سربېره نورې څېرې او نمونې هم په راټوکېدو دي، چې په نږدې راتلونکي کې به یې شاهدان یو، که هغه نمونې مو ولیدلې، نو پر دې اوسنیو به شکر وکاږئ! ښه به وي، چې دلته د دې کاندیدانو پر ډلبندۍ لږه رڼا واچوو:

### ۱ - د کور و کلي کاندیدان:

دا هغه ډول کاندیدان دي، چې ان د خپلې مېرمنې او د کور د نورو غړو خبره هم پرې بره ده، د هغو ځواب هم نه شي ویلی، خپل کلي کې یې هم څوک نه پېژني، سیمه، ولسوالۍ او ولایت خو لاڅه کوې. دده لپاره، نو دا تر ټولو ښه وسیله ده، چې ځان کاذب شهرت ته ورسوي، لومړی خپلې مېرمنې ته خپل حیثیت اوچت کړي، چې دا دی زه خو هم دومره یم، چې ځان مې ان د افغانستان جمهوري ریاست ته کاندید کړ، بیا به په خپلې ټولنې، کلي او ولس کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پنځو کې یاد شي، غم، ښادي، واده، خیرات او فاتحې کې به د ګډون جوګه شي او د شهرت په دې وړیا وسیلې به د کاذب شهرت پوړیو ته ورسېږي.

## ۲- سیمه ییز کاندیدان:

یو شمېر کاندیدان په کې داسې دي، چې یوازې د یوې سیمې یانې د یوې ولسوالۍ د یوې برخې یو څه کسان پېژني او یو شمېر کسان دی پېژني، دوی فکر کوي، چې ټول افغانستان همدا دی، ځکه چې دومره خلک دی پېژني. ددې ډول کاندیدانو د فکر دایره ډېره تنګه وي، دوی افغانستان په همدې دایره کې ګوري. اصلاً د خپل هېواد له جغرافیایي، سیاسي او ملي جوړښت څخه ناخبره دي. یو وخت زموږ په کلي کې یو نداف و، خورا خدمتګاره او صادقه سړی و، خو په خپل ټول عمر کې له کلي لرې چېرته نه و تللی. د اعلیحضرت محمدظاهرشاه وخت و، یوه ورځ د کلي مشر یا خان ځان سره (الینګار) ولسوالۍ ته بوته، دا لومړی ځل و، چې ده الینګار ولسوالۍ لیدله، نو لومړی ځل یې د ولسوالۍ پر پنځه لس تنو عسکرو سترګې ولګېدې، چې د دېوال غاړې ته منظم ناست وو او سپینې خولۍ یې پر سرو وې. دا د ټولې ولسوالۍ عسکر وو، چې ((قوهٔ- ضربه)) یې ورته ویله. ده چې دا دومره عسکر ولیدل، نو خپل مشر ته یې وویل: ((او باداره عسکر ګوره عسکر دا چې ما سره وای، نو ما پاچاهي نیوله...))

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو پر دې سیمه ییز کاندیدانو هم همغه کانه شوې، چې په ځو عسکرو ټوله پاچاهي نیسي، دوی د خپلې سیمې په حساب، ټول افغانستان محاسبه کوي.

## ۳- د ولسي جرګې په ټاکنو کې ناکام کاندیدان:

د جمهوري ریاست ټاکنو ته یو شمېر داسې کسانو هم ځانونه کاندید کړي، چې د ولسي جرګې لپاره په تېرو انتخاباتو کې یې ولایتي ځوکۍ هم نه ده ګټلې، چې ورته ووایې هغه دې ونه ګټله، نو دا به څنګه وګټي؟ نو سم له لاسه ځواب درکړي، والله نو هلته خو ډېره درغلي وشوه، اوس خو حالاتو هم تغیر کړی، کرزي نه هم ټول خلک خفه دي، نو ځکه مو ځان کاندید کړی، نو چې ورته ووایې: کرزي نه چې خفه دي، نو له تا څخه خوشاله دي که څنګه؟ نو بیا وایي چې انتخاباتو کې د ځان کاندیدي د هر چا حق دی، موږ هم له همدې حقه ګټه اخلو او داسې نور دلایل به بیان کړي.

## ۴- د ولسي جرګې په ټاکنو کې بریالي کاندیدان:

د اوسنیو کاندیدانو په ډله کې بیا یو شمېر داسې هم دي، چې اوس د ولسي جرګې غړي دي، له هرې لارې چې تللي، خو تللي او اوس د ولسي جرګې غړیتوب لري. دوی هم ځانونه کاندید کړي، ددې یوعلت دادی، چې د ولسي جرګې لپاره په راتلونکو ټاکنو کې په هېڅ وجه خپل سیټ نه شي ترلاسه کولای، نو په همدې پلمه ځان جمهوري ریاست ته کاندیدوي، که سبا څوک ورته ووایي چې ولې دې ولسي جرګې ته ځان کاندید نه کړ؟ نو دی به ورته ووایي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نو زما لپاره شرم دی، چې ځان ولسي جرګې ته کاندید کړم، ځکه چې زه خو جمهوري ریاست ته کاندید وم. په همدې کسانو کې زه داسې یو څوک پېژنم، چې د ولسي جرګې په انتخاباتو کې یې نږدې (۸) لکه ډالره مصرف کړل، چې ایله (۸) زره شاوخواو کې رایې پرې پوره کړي، یانې ټول مصرف شوي ډالر تقسیم دده پر وټرانو، هر وټر ته (سل امریکایي ډالره) رسېدل. اوس یې نو بیا ځان د جمهوري ریاست څوکۍ ته کاندید کړی دی، دې ښاغلي، د ولسي جرګې د کار په بهیر کې څو نامشروع قراردادونه ترلاسه کړل او یو څه پیسې یې اوس زېرمه کړي، غواړي په هغو د خلکو ضمیرونه واخلي، خو له دې ناخبره چې که یوه رایه (سل ډالره) رانیسي، نو یو لک رایې چې د مجموعي رایو له جملې څخه په سلو کې یوه هم نه جوړوي، مجموعي لګښت یې لس ملیونه ډالره کېږي، خو خدای دې دا وطن دومره نه ذلیلوي، چې یو لک ضمیر پلوري په کې پیدا شي. د ولسي جرګې اوسني غړي چې د جمهوري ریاست کاندیدان دي، نور ډېر ګڼ شمېر مرضونه او غرضونه هم لري، چې د لیکنې د اوږدوالي له امله ورڅخه ډډه کوم.

## ۵- د لفظي ملي ګوندونو نا ملي کاندیدان:

یو شمېر ګوندونو، چې په ځان پورې د ((ملي)) روستاړی تړلی و، له هغو څخه هم ځینې کاندیدان ودرېدلي دي، خو نه ګنې د ګوندونو په استازۍ، بلکې په مستقل ډول او د ((ملي کاندید)) په توګه. دلته دا پوښتنه پیدا کېږي، چې که دا ښاغلي کاندیدان رښتیا هم ((ملي)) وي، نو بیا یې په هغو ګوندونو کې غړیتوب او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرتوب ته څه حاجت و، چې لا ((ملي)) شوي نه دي، خو تش لفظاً ملي دي، بله خبره دا چې که چېرې ددوی ګوندونه ((ملي)) وي، نو بيا خو دې د خپلو ګوندونو له خوا ځان کانديد کړي او که چېرې يې ګوندونه ((ملي)) نه وي، نو بيا دې ترې د ((ملي)) روستاړی يا اصطلاح لرې کړي. عجيب منطق دی، ګوندونه يې ملي دي، خو کانديدان يې ملي نه دي، يا کانديدان يې ملي دي، خو ګوندونه يې ملي نه دي، خو په الفاظو کې هر ځای ((ملت)) او ((ملي)) لفظ او اصطلاح نه ګټه پورته کوي. دا کانديدان هم په واقعيت کې هېڅ نه دي، هسې په اصطلاح ستر ګې تورول کوي، دوی اکثره پر دې پوهېږي، چې په هېڅ ډول، انتخابات نه شي ګټلای، خو غواړي په انتخاباتو کې د شهرت له لارې ځان او خپله ډله مطرح کړي او بيا د تېر حکومت په شان، چې د مضر مصلحت منفور دود پرې واکمن و، يو ځل بيا خپل ځان او بيا خپله ډله له امتيازه برخمن کړي.

## ۲- بهر مېشتي افغان کانديدان:

يو شمېر بهر مېشتو افغانانو هم د کانديدۍ شوق کړی، په دې کې په الحادي او جهادي ډلو پورې تړلي اشخاص هم شته او همدارنګه ناپېيلي اشخاص هم، په دې کې بيا يو شمېر داسې دي، چې هسې نوم يې په پنځو کې ياد شي، هم ورته کفايت کوي، په لويديزو او متمدنو ټولنو کې، خو د جمهوري رياست يو کانديد، بريالی وي که ناکام، خاص موقف لري، نو دوی غواړي که ناکام هم شي، نو په افغاني ټولنه کې خو هسې هم ژوند نه کوي او خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه ټولنه یې چې ده، په هغو کې خو به خپل موقف مستحکم کړي، په مجلسونو کې خو به یې کله کله یادونه کېږي، چې: ((پلانکی خان د افغانستان جمهوري ریاست پخوانی کاندید...)) په دې کې بیا بله کټه ګوری هغه کاندیدان دي، چې په تېرو حکومتونو کې هم د ښه شان و شوکت او دبدبې خاوندان وو، خو له بېلابېلو وجو یې په حکومت کې د کار دوام تضمین نه شو، دا ډله په ولس کې هم یو څه وزن لري، د هغې یو علت دا دی: یو زیات شمېر خلک فکر کوي، چې د دوی تر شا امریکا ولاړه ده، که دا فرضیه رښتیا وي، نو کېدی شي دوی د حامد کرزي پر وړاندې قوي کاندیدان وګڼل شي، خو که چېرې د دوی پر سر، رښتیا هم د امریکا د لورېینې سیوری نه وي او ولس هم پر دې پوه شو، چې دوی یوازې په خپل سر راغلي، نو بیا خو د دوی په خپلو اوسنیو کمپاینرانو کې هم په اصطلاح یو سل و اتیا درجې بدلون راتللای شي. د دوی مثال عیناً لکه د عبدالستار سیرت په شان دی، چې له خپل علمیت او سرېتوب سره سره یې د جمهوري ریاست په تېرو ټاکنو کې د ((لوی عالم او د ودانۍ د سمبول))(!) (جنرال دوستم) پر وړاندې سخته ماته وخوړه او له سیاسي پلوه یې ((سیرت)) ته سخت زیان ورسید. زموږ په ټولنه کې یو اوسنی ناعادلانه واقعیت دادی، چې اکثره خلک هغه چا پسې ځي، چې زر و زور ولري، شان و شوکت ولري او خلکو ته همدا اوس د یو څه د ورکړې توان ولري. یوازې علمیت زموږ د ټولنې په اوسنیو شرایطو کې د قدرت معیار نه دی، د سرېتوب معیار به وي، خو د قدرت معیار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷- تنظیمي کاندیدان:

تنظیمونو بیا انډوخر جوړ کړی، خپل خپل کاندیدان یې هم ودرولي، خو له نورو قوي کاندیدانو سره هم غوړ جنګوي، د ارګ دروازې یې هم سترې کړي او بیا لکه د غنمو راشه چې وېشي، د وېش تله یې په لاسو کې ده. دوی کې هم داسې د تورې سرې او کاندید نه شته، خو مقصد اورېدلي یې دي چې: ((زیارت کې بنډاره ده خورې ته هم په کې راځه...)) نو دې حالت ته چې سرې ګوري، یوه خوا په تله کې دې کاندیدانو خپل ضمیرونه ایښي او بله خوا امتیازونه، نو د تېرو تجربو په رڼا کې چې موږ ګورو، د امتیاز په مقابل کې دا ډول ضمیرونه همېشه مات شوي دي.

## ۸- جبهه یي کاندیدان:

نظار شورا ،اسلامي جمعیت او پخوانۍ شمالټلواله چې اوس ورته ((متحده ملي جبهه)) وایي. په واقعیت کې نه متحده ده او نه ملي، دوی تر نورو ټولو کاندیدانو، د کاندیداتورۍ مارکیټ زیات ګرم کړی دی، له نورو کاندیدانو څخه یې توپیر دادی، چې نورو اکثرو ضعیفو کاندیدانو د یوه، دوه یا درېو قوي کاندیدانو دروازې ټکولي، خو دوی د ټولو دروازې سترې کړې دي. دوی له هر چا سره دي، خو له هېچا سره نه دي، لکه ازادۍ راډیو کې چې کله کله وایي: ((ازادي راډیو د هر چا ده، خو د هېچا نه ده.)) او یا هم د دیني متنونو ملایي ژباړه چې کله کله وایي: ((انسان نه دی پیداشوی مګر پیدا شوی دی...)) نو دوی هم، ((له هېچا سره نه دي، خو له هر چا سره دي، یا هم له هرچا سره دي، خو له هېچا سره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي.)) د جبهې منګې خو لا هغه وخت تصنعي ښکاريده، چې د بېلابېلو ماتو شويو ډلو او اشخاصو کودړي يې سره په مصنوعي پتري ټينګ کړل او د ((متحدې ملي جبهې)) په نوم يې يوسست منګی جوړ کړ، چې د يوه ګوزار تاب هم نه لري. د جبهې د منګي د ماتېدنې د همدغې ويرې له امله جبهه تراوسه پر دې نه ده برياله شوې، چې يو واحد کانديد وړاندې کړي، سره له دې چې له دوو کلونو راهيسې يې په وارو وارو ويلي نن او سبا به خپل کانديد معرفي کړو، خو (( دا نن او سبا)) تر(ننه) راونه رسېدل.

جبهه يان د هغو مداريانو په شان دي، چې له سهاره تر غرمې پورې، خلک ځان سره په دې پلمه مصروف ساتي، چې زه، مار او موشخورما په جنګ اچوو، خو په پای کې خپل څادر او کڅوړې راټول کړي، خپل مار په کې ورواچوي او خلکو ته وايي: ((خو څه لېونی نه يم، چې دا په جنګ واچوم، زما ګټه خو همدا ده، چې تاسې مصروف وساتم، پيسې درنه راټولې کړم، که دا په جنګ واچوم، نو يو خو ضرور له منځه ځي، نو زه به بله ورځ څه کوم؟)) نو دا جبهه يان هم همداسې دي. دوی وېره لري، پر کومه ورځ چې خپل کانديد معرفي کړي، نو جبهه چې له پخوا څخه هم چندان متحده نه وه، يو دم به وپاشل شي او خلک به يې له اصلي ماهيته خبر شي، نو ځکه خو متفرق او ځينې ځواکمن غړي يې د هر قوي کانديد په دروازو کې ولاړ دي او د لومړي مرستيال د څوکۍ پر تجارت بوخت دي. په واقعيت کې د جبهې څو مطرحو غړو ټولو همدا مزي ځغلولي دي. کېدی شي يو څوک وروسته د جبهې د کانديد په نامه معرفي شي، خو هغه به په واقعيت کې د نظار شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا هم اسلامي جمعیت کاندید وي؛ په دې جبهه کې نورې راټاله شوې نامتجانسې ډلې او افراد به یې ونه مني.

## ۹- متفرقه کاندیدان:

د پورتنیو ډول کاندیدانو ترڅنګ یو شمېر نور کاندیدان هم شته، چې د جنس، مذهب او نورو نومونو په شعارولو سره یې ځانونه کاندید کړي او یا یې کاندیدوي. دا ټول د کاذب شهرت او نامشروع امتیاز په لټه کې دي، د قوي کاندیدانو په ډله کې نه راځي، خو پر انتخاباتي فضا پرازیت خپرولای شي.

## ۱۰- اوسنی ولسمشر حامد کرزی:

که حالات همداسې روان وي، د اساسي او قوي کاندیدانو له جملې څخه یو هم اوسنی ولسمشر حامد کرزی دی. دده تېرې اووه کلنۍ واکمنۍ که څه هم ډېرې نیمګړتیاوې لرلې، خو بریاوې یې هم ډېرې زیاتې وې. د جمهور رئیس په توګه دده د واک دوام هم د انتخاباتو په معادله کې دده وزن زیاتوي. یو تریخ او نا عدالته واقعیت چې اوس زموږ د ټولنې د سیاسي ژوندانه یو منفي دود ګرځېدلی، هغه له مشروع، نامشروع ډلو او اشخاصو سره مثبت یا منفي ایتلاف دی، چې په افغاني ټولنه کې د سیاست لوري ته بدلون ورکولای شي. حامد کرزی په دې ډول ایتلافونو او سازشونو کې تر نورو اوسنیو مطرح کاندیدانو زیاته تجربه لري. دی د نورو کاندیدانو په انډول خپلو ایتلافي ملګرو ته تر حده زیات امتیاز ورکوي، دا کار هم ددې سبب کېدی شي چې د نورو کاندیدانو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې دده مټ غښتلی کړي، دا پورته ایتلافونه طبعاً د عدالت پر بنسټ ولاړ نه دي، خو د ټولنې د یوه منفي واقعیت په توګه یې په پام کې نه نیول، د انتخاباتي بهیر نا سمه ارزونه ده.

د پورتنیو مختلف الشکله او متضادو ایتلافونو او ګڼ شمېر کاندیدانو شتوالي، ولس ته ګڼ شمېر اندېښني پیدا کړي دي. تر ټولو ستره اندېښنه د همدې ګڼ شمېر کاندیدانو شتوالی دی، چې د ولس د ذهني پاشنې اونارامۍ سبب ګرځي او هغوی نه شي کولای، تر ټولو غوره کاندید په اسانۍ سره په نښه کړي.

د ګڼ شمېر کاندیدانو شتوالی به ددې سبب شي، چې ټاکنې احتمالاً دویم پړاو ته وغځول شي او په دې حالت کې به افغانستان له سختو قومي، شخړو، بحرانونو او ملت ضد ایتلافونو سره مخامخ شي، د ګاونډیو هېوادونو لاس به لارا اوږد شي، په ایتلافونو کې به د پیسو نقش او امتیاز لازیات شي او په نتیجه کې به د ولس رایې په ډول ډول امتیازونو، رشوتونو او مهارتونو وتروړل شي، داسې یو حکومت به رامنځته شي، چې د ولس به خوښ نه وي، خو د ولس خوښې نظام نوم به ورکول کېږي. دغو تشویشونو ته د حل کومه لاره او یا لارې شته که نه؟

زه فکر کوم چې طبعاً هره ستونزه یوه یا څو حل لارې لري. دا اوسنۍ ستونزه هم حل لارې لري، دلته به یې ځینو ته نغوته وکړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱ - د اساسي قانون محتويات:

اساسي قانون په خپله دوه شپېتمه ماده کې له محتوايي پلوه، جمهوري رياست ته د کانديد دغه لاندې ځانګړنې په ګوته کړې دي:

((۱ - د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونه لري.

۲ - د کانديدۍ پر ورځ يې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي.

۳ - د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي...))

دا مشخصات طبعاً اکثره کانديدان او ان عادي افغانان پوره کولای شي. خو ددې مادې درېيمه فقره د غور وړ ده. ايا يو څوک چې: ((د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوي وي..)) هغه به ازاد ګرځي که په زندان کې به وي؟ که چېرې د محکمې په حکم له محکوميت سره سره يو څوک ازاد وګرځي بيا خو دلته نه قانون شته نه حکومت، نو ايا په داسې يوه قانوني خلا کې ، هغه هم ((قانوني تاکنې)) شوني دي؟ بله خبره داده، چې د روانې درې لسيزې سياسي جګړې په بهير کې کوم غټ جنايتکاران، محکمې په همداسې کوم حکم محکوم کړي؟ له دې څخه معلومېږي، چې دلته هېڅ مجرم او جنايتکار نه شته، نو دا کابل بيا ((پرښتو)) وران کړی او دومره خلکو خپله ځانونه وژلي دي؟ ستره محکمه بايد ددې مادې په رڼا کې د کانديدانو دوسيې وڅېړي او تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته، چې هر کاندید سپین شو، د انتخاباتو کمیسیون ته دې وړاندې کړي.

یوه عجیبه انتیکه خو دا وه، چې د جمهوري ریاست په تېرو ټاکنو کې، چا چې د سترې محکمې ودانۍ په درنو وسلو غلبېل غلبېل کړې وه، نه یوازې قاضي القضات، بلکې عادي قاضیان هم په منظم ډول خپلو دندو ته، د جګړه مارو او جګړو له وېرې نه شو ورتللای، بیا همدې سترې محکمې له همغو ښاغلو ځخه سپینې او بېګناه کوترې جوړې کړې او په ټاکنو کې یې ورته د ګډون حق ورکړ. که چېرې ستره محکمه جنایتکارانو ته بیا د ګډون سپین سند ورکړي، نو دا به د افغان ولس پر وړاندې ستره جفا وي او د سترې محکمې رنګ او ماهیت ته به ډېر زیات زیان واړوي. که چېرې د دوه شپېتمې مادې محتوا تطبیق شي، نه د هغې پروسیجر یا کاغذي بهیر، نو پوره باور دی، چې یو شمېر کاندیدان به همدلته راکم شي، که ستره محکمه جرئت وکړي، نو یو شمېر کسان به اصلاً هېڅ ځان کاندید نه کړي. ستره محکمه باید ددې کاندیدانو پر وړاندې، د خلکو له خوا مستندو شواهدو او اسنادو ته هم پام وکړي او کاندیدان تر کاندیدۍ مخکې د خلکو د سمو او نا سمو ادعاوو له مخې وارزوي.

## ۲- د انتخاباتو قانون کې د تخنیکي معیارونو اوچتول:

د انتخاباتو قانون چې په دیارلسو ځپرکو کې ولسي جرګې ته وړاندې شوی، تراوسه لا ولسي جرګې تصویب کړی نه دی. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون کې دې تخنیکي معیارونه یو ځل بیا وارزول شي. دلته کېدی شي دغه څو وړاندیزونه موثر واقع شي.

## الف- د باور کارتونو یا لاسلیکونو د معیار لوړاوی:

د جمهوري ریاست په تېرو انتخاباتو کې د هر کاندید لپاره (لس زره کارتونه) په کار وو، چې کاندید یې باید راټول کړي او د اعتبار په توګه یې د نوماندۍ لپاره وکاروي او هم (پنځوس زره افغانۍ) د تضمین لپاره وې.

د کارتونو شمېر او د پانګې تضمین او د هغو د کچې لوړاوی او ټیټاوی، د اساسي قانون له محتوا سره هېڅ ټکر نه کوي، دا د انتخاباتو د قانون په جزئیاتو کې راځي، د انتخاباتو خپلواک کمیسیون کولای شي دا رقم زیات او کم کړي. اوس چې د کاندیدانو ګڼه او ګوڼه جوړه ده، نو نه یوازې یې ولس ته ګڼ شمېر ستونزې راولاړې کړي، بلکې خپله د انتخاباتو کمیسیون ته یې هم ستر مشکلات راټوکولي دي. نو که د انتخاباتو کمیسیون، د انتخاباتو په قانون کې یوازې همدغه تضمیني معیارونه لوړ کړي، په یودم به د سلګونو کاندیدانو شمېر لسګونو ته راټیټ شي او له لسګونو به لسو ته او تر هغه به د ګوتو شمار کسانو ته راټیټ شي.

دا کار به نه یوازې د انتخاباتو کمیسیون ته کار اسانه کړي، بلکې د ټاکنو په لګښت کې به هم زیات کمی راشي او ولس ته به هم د انتخاب او غوراوي شرایط ډېر اسانه کړي. د یاد وړ خبره داده، چې د انتخاباتو قانون تراوسه پورې د ملي شورا له خوا هم پاس شوی نه دی، نو دوی کولای شي د تخنیکي معیارونو په برخه کې هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تغیر راولي. د ساري په توګه که چېرې پخوانی معیار (لس زره کارته) پر ( دوه لکه کارته) واړوي، نو مشکل به سلو کې لسو ته راټیټ شي، تراوسه پورې د پخوانیو او اوسنیو وټرانو د کارتونو شمېر پنځه لس ملیونه کسان اټکل شوی، نو که موږ یې اوسط محاسبه کړو (لس ملیونه کارته) به شي. (دوه لکه کارته) د دې لسو ملیونو کارتونو په سلو کې ( دوه برخې) جوړوي، نو یو څوک چې له سلو څخه دوه برخې تش باورکارتونه نه شي ترلاسه کولای، نو بیا به (په سلو کې پنځوس جمع یو) رایې څنګه ترلاسه کړي؟ د باورکارتونو ترلاسه کول ډېر اسانه دي، ځکه چې یو کاندید مخامخ له یو چا څخه کارت اخلي او بېرته یې ورکوي. مخامخ څوک، څوک نه خفه کوي، نو که یو څوک چاته د ډېر کم احترام وړ هم وي، کارت ورکوي، خو رایه بیا بل شی دی. هلته د وټر ضمیر او د کاندید کیفیت او نور ګڼ مسایل رول لري. نو یو څوک چې په سلو کې دوه کارته نه شي تر لاسه کولای، نو بیا به په سلو کې (پنځوس جمع یو) وټونه څنګه ترلاسه کړي؟ دا کار به د ټولو هغو کاندیدانو مخه ونیسي، چې څوک دې څوکۍ ته د نوماندۍ لیاقت، ظرفیت او کفایت نه لري، یوازې د ځاني او دروغجن شهرت او نامشروع امتیازونو په لټه کې دي، غواړي له دې انتخاباتي بهیر څخه ناوړه ګټه پورته کړي او ځان په پنځو کې حساب کړي.

ب- د مالي تضمین د معیار لوړاوی: په تېرو انتخاباتو کې د جمهوري ریاست لپاره (پنځوس زره افغانۍ) د تضمین په توګه ټاکل شوې وې. د ولسي جرګې د هر کاندید لپاره (لس زره

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانی) ټاکل شوې وې. شرط دا و: که د ولسي جرګې هر کاندید د همغه ولایت په ټاکنو کې د ټولو استعمال شویو رایو له جملې څخه، په سلو کې (دوه رایه) ترلاسه نه کړي، نو لس زره افغانۍ یې بېرته نه ورکول کېږي.

د جمهوري ریاست راتلونکو انتخاباتو کې هم په کار دي، چې داسې یو شرط کېښودل شي. د ساري په توګه: که هر کاندید د ټولو استعمال شویو رایو له مجموعي شمېر څخه په سلو کې (۵ رایې) ترلاسه نه کړې، نو د انتخاباتو ټول لګښت تقسیم پر ټولو ولاړو کاندیدانو، د هر کاندید لپاره چې څومره لګښت راغی، دا کاندید به یې پرېکوي او یا هم لږ تر لږه هغه لګښت چې له نورمال حالت پرته د زیاتو کاندیدانو د ودرېدو له امله پیدا شوی دی، همدا لګښت دې پر کاندیدانو تقسیم شي او هر کاندید چې معیار پوره نه کړ، د خپلې برخې لګښت باید وزغمي.

دلته بیا کېدی شي، د کاذب شهرت او د نورو ډول ډول امتیازونو غوښتونکي کاندیدان له دې نظر سره مخالفت وکړي او ووایي: ((غریب کاندیدان ددې وس نه لري او دا د ولسواکۍ د اصل مخالف کار دی)) د بشر حقوقو تش په نامه سازمانونه هم کېدی شي له دې طرحې سره مخالفت وکړي او د تش په نامه سیاسي او ملي ګوندونو، بې کفایته او نا ملي کاندیدان هم ورسره سخت مخالفت ښیي. ددې ډول احتمالي مخالفتونو پر وړاندې باید وویل شي: دا ښاغلي کاندیدان، چې د انتخاباتو د لګښت د لوړاوي سبب ګرځي او په پای کې دا بار د ولس پر اوږو پرېوزي، نو بایده دي، چې د لګښت د ټیټاوي سبب هم شي. بله خبره داده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس یو څوک دومره کمزوری دی، چې په سلو کې (پنځه) رایې نه شي اخیستلای، نو بیا ولې ټاکنو ته ودرېږي؟ د خپل ځاني شهرت لپاره د ولس د وخت د ضایع کېدو او د انتخاباتو د لګښت لوړاوي سبب ګرځي؟ که چېرې د کاندیدانو دا بهیر سم او مهار نه شي، نو شمېر یې کېدی شي ان تر سلو تنو پورې ورسي او که پورتني وړاندیزونه عملي شي، کېدی شي کاندیدان تر لسو تنو هم زیات نه شي. په دې حالت کې د ووټ کارت لګښت له سلمې برخې څخه لسمې ته راټیټېږي، د صندوقو شمېر، د ټرانسپورت لګښت، د کارت کاروني او کارت شمېر وخت، همدارنګه نور ګڼ لګښتونه تقریباً په سلو کې (۹۰) راټیټېږي، خو که دا خبره عملي نه شوه، پر پورتنیو لګښتونو سربېره د مامورینو د شمېر زیاتون ته هم اړتیا ده او تر ټولو بده یې لادا چې زموږ لوستو، کم لوستو او نا لوستو خلکو ته به ډېره ګرانه وي، چې په دومره ګڼ شمېر کاندیدانو کې د خپلې خوښې کاندید غوره کړي او تېروتنه په کې ونه کړي. ددغو ټولو ستونزو اصلي مسولین همغه کاندیدان دي، چې څوک یې په کلي کې نه پېژني، خو دی د ټول هېواد د مشرتوب دعوه کوي. بل په مالي تضمین کې خو څه حقوقي نقیصه ځکه نه شته، چې دا د چا دکاندیدی حقوق نه سلبوي، که چېرې کاندید په سلو کې تر پنځو زیاتې رایې وګټلې نو مالي تضمین خو یې هسې هم نه سوزي، نو بیا یې مخالفت ته څه حاجت دی؟ که هر څوک له دې طرحې سره مخالفت کوي، نو له ورایه معلومېږي، چې دی پر ځان باوري نه دی، چې په سلو کې پنځمه برخه رایې به وګټي او که ګټلای یې شي، نو بیا خو یې طبعاً مخالفت هم نه کوي. ددې مالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تضمین ترخنګ نور تضمینونه هم کېدی شي په دې برخه کې موثر تمام شي، خو دا دوه تضمینه: یو د «دوه لکو کارتونو» راټولول او پر هر شوي کاندید کېدونکی انتخاباتي لګښت، ډېر څرګند دي.

**۳- د مخورو او پوهانو منځګړتوب:** د کاندیدانو د کمولو یوه بله لاره چاره داده، چې یو شمېر نېک، ناپېیلي مخور اشخاص او پوهان سره په خپل منځ کې جرګه شي او له بېلابېلو کاندیدانو سره وګوري او دسلا مشورې له لارې ځینې یې له خپل کاندیدۍ تېر کړي، دا کار کېدی شي یو څه تاثیر ولري، خو ډېر تاثیر به ځکه نه لري، چې تر اوسه لااکثره کاندیدان د خپل غرور پر نیلي سواره دي. که څه هم همدا اوس یو شمېر لیکوال او پوهان له ځینو کاندیدانوسره پر خبر اترو بوخت دي، چې هغوی له خپلې کاندیدۍ منصرف کړي، خو هر یو سره چې ناست دي، ټول من دي، نیم منی په کې نه شته، هر یو همدا خبره کوي: چې ما شا وخوا وکتل، داسې د کار سړی مې ونه لید، نو ځکه مجبور شوم، ځان مې کاندید کړ، زه پر نورو یو څه خوبۍ لرم، عقل و پوهه لرم، بهرنیان مې پېژني، داخل کې محبوبیت لرم، قرباني مې ورکړې، سیاسي پوهه لرم، تر نورو یو څه زیات پوهېږم، له هر قوم سره تماس لرم او سل نورې ځانګړنې به ځان پورې وتړي، دې سره سره وایي: خوبیا هم زه ستاسو مخورو پوهانو خبرې شاته نه غورځوم، تاسې لاړ شئ! نورو کاندیدانو سره هم خبرې وکړئ، که تر ما مو بل غوره ، پوه، هوښیار او لایقه کاندید پیدا کړ، داسې کاندید ، چې داخل او خارج کې یې خلک ملاتړ وکړي، نو بیا به زه هغه ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو په غوښتنه تېر شم،خو که تر نورو زه هوښیار او په سیاسي مسایلو پوه یم، بهر او داخل کې هم ملاتړ لرم، نو به بیا دا ډېره بې انصافي وي، چې تاسې ماته وایئ، چې ته تېر شه او هغه ته وایئ چې مه تېرېږه!

په دې باب ماته یوه کیسه رایاده شوه: د ولسي جرګې لپاره په تېرو ټاکنو کې په یو ولایت کې همداسې یو څوک کاندید و، چې د زور پر اس سور و،خو له عقل او منطقه پلی و، د لیک لوست له نعمت سره یې هم جوړه نه وه، پر خلکو یې د خپلې واکمنۍ یوه توره او جاهلانه دوره هم تېره کړې وه. د کمپاین پر وخت یې د خپلې سیمې او خپل ټبر ګڼ خلک هم راټول کړي وو، ډېر پسونه یې حلال کړي وو او خلکو ته یې ښه ډوډۍ تیاره کړې وه، کله چې د سټېج سر ته پورته شو، نو خلکو ته یې وویل: ((او خلکو تاسو ته وایم، ښه پوه شئ، زه کاندید یم پارلمان ته! نو اوس تاسې ته وایم دلته هر سړی ولاړ دی، تاسې خو پوهېږئ، چې زه هم مجاهد یم، قومي سړی هم یم، تر نورو هم زیات پوهېږم، دا ټایونه ټول راته معلوم دي، تر نورو هوښیار هم یم، خو بیا هم که تاسو تر ما دلته بل هوښیار پیدا کړ، چې هم مجاهد وي، هم ښه سړی وي، هم تر ما هوښیار وي، نو تاسې هغه ته رایه ورکړئ او که نه، چې زه خو هم مجاهد یم او ستاسې خپل سړی یم، هم پوهېږم، نو بیا خو باید ماته رایه راکړئ!)) د غونډې په برخوالو کې یو سپین ږیری مخور له یوه ګوټه ګوته ورته کړه، ویې ویل: ((حاجي صیب قوماندان صیب! دا خبره خو موږ نه شو کولای، چې په دې ولایت کې به تر تا بل هوښیار سړی وي، خو خدای دې بیخ د هغه سړي وباسي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ولایت کې اوسېږي او تر تا کم عقل وي»، نو دې کاندیدانو اکثرو ته هم دغسې ځواب په کار دی: خو په هر ترتیب،د ټاکنو کمیسیون کولای شي، نورې متبادلې لارې هم وڅېړي چې د کاندیدانو شمېر راکم کړي او زموږ ولس د دروغجنو کاندیدانو له دې غالمغال او جنجال څخه خلاص کړي. د ګڼو کاندیدانو شتوالی نه یوازې ولس او عامه شتمنۍ ته یو ستر جنجال دی، بلکې د قوي کاندیدانو رنګه هم پیکه کوي، د هغوی مخې ته هم تیږې تولوي، رسنۍ هم په خپلو الفاظو ککړوي، د ښه او بد ، قوي او ضعیف کاندید توپیر ګرانوي، دا ډول کاندیدان که چېرې په وروستیو شېبو د کوم قوي کاندید په ګټه تېرېږي، نو له هغوی څخه هم بیا ډېر ناوړه نامشروع امتیازونه غواړي. د قوي کاندیدانو د ناکامۍ په حالت کې به قوي کاندیدان د هغوی شوي اقتصادي لګښتونه پرې کوي او د بریالیتوب په حالت کې به له بریالي کاندید څخه د زیاتو هغو دولتي پوستونو ورکړه غواړي، چې قوي کاندید ته به یې هم ورکړه په ګرانه او د ولس د حق د سلبېدو په بیه تمامېږي.

په هر حال د ګڼو کاندیدانو شتوالی په هېڅ ډول هېواد ته په ګټه نه دی، د ولسواکۍ تمثیل نه دی، بلکې پر ولسواکۍ یو ډول ریشخند وهل دي. دا کار د ولس د ذهني انارشۍ سبب ګرځي، په سیمه ییزه کچه د دښمنۍ او نفاق یو لامل کېږي، د انتخاباتو لګښت څو برابره لوړوي. بل پړاو ته د ټاکنو د وړلو سبب ګرځي او په لسګونو نورې ناروغۍ راټوکوي. همدغو ستونزو ته په پام سره داسې ګڼ شمېر دلایل، چې هغه وڅېړل شي او تخنیکي دلایلو اونورو قانوني لارو چارو پر بنسټ پرې د نوماندانو شمېر راکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، تر دې حده چې په يو مناسب او واړه کارت کې ټول قوي کانديدان ولس ته وړاندې شي. په دې لړۍ کې کېدی شي نورې ګڼې ليکنې هم وشي، زه هيله من يم د نظر خاوندان او ملتپال افغانان زما دا وړانديز پوره او کره کړي او په هر اړخيز ډول يې وڅېړي. د انتخاباتو له خپلواک کميسيون څخه هيله لرم، چې د رڼو، عادلانه انتخاباتو د ترسره کولو لپاره هلې ځلې وکړي او د ګڼو کانديدانو له اسارته او ناوړه مهارته هم خپل ځان او هم زموږ ولس وژغوري او د کانديدانو پر دې اوسني ګرم مارکيټ د منطق سره اوبه تويې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مقابله که مفاهمه؟
# مناظره که محاسبه؟

دا لیکنــه د جمهــوري ریاســت د ټــاکنو پــر مهــال د ښــاغلي (حامد کرزي) او ښاغلي (ډاکټر اشرف غني احمدزي) د یـو والي پـه باب لیکل شوې ده.

له هغې ورځې چې په افغانستان کې د جمهوري ریاست د ټاکنو موضــوع مطـرح شـوه، نـو ګـڼ شـمېر ملتپـالو افغانـانو سـره د کاندیدانو د تعدد او ډېرښت په بـاب اندېښـنه پیـدا شـوه او اوس هم دا اندېښنه شته، ما هم خپلـه اندېښـنه او د نوماندانو لـه تعـدد څخه راټوکېدونکي خطرونه، اقتصادي او ټولنیز زیانونه پـه نـورو لیکنـو کـې پـه ګوتـه کـړي، نـه غـواړم بیـا پـرې بحث وکـړم. هـره سیاسي او ټولنیزه لیکنه د خپل زمان، مکان او شرایطو محصول ده. اوس چې کومـه لیکنـه کـوم تـر ټـاکنو وروسـته خپـل دا اوسنی ارزښت له لاسه ورکوي.

( د کاندیـدانو مارکیـټ) لیکنــه کــې زمــا هــدف دا و، چــې د کاندیدانو د تعدد مخه ونیسو او (لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم) لیکنه کې مې موخه دا وه، له هرې ممکنې لارې چې وي، بایـد ښاغلی کرزی په دې قانع کړو، چې د مرستیال پـه توګـه د ښـاغلي فهیم خان غوراوی خپله ده او زموږ ټول ملت ته په تـاوان دی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ مخامخ خبرو، لیکنو او ویناوو د هغه خطر مخه ونه شوه نیولای او نږدې شل ورځې وروسته کرزي صیب له هرې وجې چې وه خپله پرېکړه وکړه. ما د یو افغان په توګه خپله وروستۍ وسه وکړه او خپل وجداني مسئولیت مې رفع کړ او اوس روحاً ځکه ارام یم، څه چې مې په وس کې و هغه مې تر وروستي بریده استعمال کړل. تر هغه وروسته په دې فکر کې وم چې ددې اوسني ترکیب پر وړاندې بل (ښه او ګټونکی) بدیل کوم دی؟ (ښه او ګټونکی بدیل) په دې خاطر قیدوم چې که یو بدیل (ښه) هم وي، خو چې د ګټلو قابلیت ونه لري، له سیاسي محاسبې وځي. په همدې سوچ کې وم، له ډېرو نیمګړتیاوو سره سره یو نسبتاً (ښه بدیل) پیدا شو، خو د ګټنې چانس یې ډېر کم او یا هم په نشت حساب و، پر همدې وخت یو بل خطرناک بدیل څرګند شو؛ شمالټلواله او د هغې اساسي زړې (نظار شورا) چې د فهیم خان په وجود کې یې د جمهور رئیس د لومړي معاونیت پوست تضمین او له دې لارې یې خپل سیاسي حیات خوندي کړ، تر دې لا د لوړ امتیاز په لټه کې شوه. د ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله په وجود کې یې یو نوی ترکیب جوړ او د جمهوري ریاست لپاره یې کاندید کړ. د اسلامي جمعیت، نظار شورا، ټول ماهیت او محتوا او همدارنګه د ستم او پرچم ډلې اساسي ارکان یې تر شا ودرېدل. پر دې وخت بیا یوې دقیقې محاسبې ته اړ شو، چې اوس څه کول په کار دي؟ درې حالته وو: تر اوسني حالته د ښه حالت د بریالیتوب چانس ډېر کم دی، اوسني حالت ته دوام ورکوو؟ که تر دې بدتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت ته غاړه ږدو؟ په دې دربو حالتونو کې بیاهم همدا دوه او اساسي حالتونه ډېر مطرح وو او اساسي مقابله هم د همدې دوو ترمنځ وه.

یو ځل مې بیا د افغانستان ټولې لاسلرې احصاییې، د تېرو انتخاباتو نتیجې، په هر ولایت کې د وټرانو شمېر، د انتخاباتو کمیسیون وروستۍ شمېرنې، نا امنه ولسوالۍ، له حکومته د ګڼ شمېر خلکو نا رضایي، په انتخاباتو کې د حکومت د معادلې رول، په دې ټاکنو کې د افغان مهاجرینو نه ګډون، اوسنۍ خپلپاله او پردیپاله میډیا، د کاندیدانو اقتصادي او تخنیکي امکانات، له انتخاباتو سره د یو شمېر پښتنو بې تفاوتي، په پښتنو کې د یو منظم سیاسي سیستم نشتوالی، پښتنو ته د ګاونډیو هېوادونو نیتونه، د کاندیدانو اوسپله، منطق، د پښتنو کاندیدانو د شمېر زیاتون، د حامدکرزي پر وړاندې د کورنۍ او بهرنۍ میډیا چلند، د پردې پر مخ او د پردې ترشا د بهرنیو سیاسي استازو نظرونه او نور ګڼ شمېر عوامل او دلایل مې یو یو د ریاضي او اجتماعي منطق او اوسني سیاسي واقعیت په فورمولونو کې واچول، ښه مې چاڼ کړل، نتیجه همدا شوه چې اوس هم موږ ددې وس نه لرو چې یو ښه ایډیال حالت او یا لږ تر لږه تر دې اوسني حالت ښه حالت، بري ته ورسوو، خو که لږ تر لږه همدا حالت هم وساتو تر هغه بل لوی خطره به مو ولس بچ کړی وي، چې تراوسه لا راغلی نه دی او که مخه یې ونه نیول شي، نو د بري ټېنګ احتمال یې شته. خپله ډاکتر عبدالله عبدالله او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر شا چې کوم ټیم او سیستم کار کوي، هغوی د وینا او عمل له مخې په افغانستان کې د اساسي بدلون غوښتونکي دي. په نظام کې د «اساسي تغیراتو» په مانا هغه څوک ښه پوهېږي چې شل کاله یې د نظار شورا او ستم ګروپ پر ضد مخامخ او شعوري مبارزه کړې وي. که ډاکتر عبدالله د انتخاباتو تر چتر او ماسک لاندې پر دې ولس واکمن شو، نو هغه لوبې به پر دې ولس او په تېره بیا پر پښتنو وکړي، چې تېر تاریخ کې، شوي جنایتونه به هم درته د حیرت ګوته په غاښ کړي. هغه ډله چې د افغان او افغانستان له نامه سره حساسیت لري، د هغې د حاکمیت تصویر به څه ډول وي؟ ددې ډلې هدفونه په ترتیب سره دادي: لومړی پر پارلماني نظام د ریاستي نظام بدلون، دویم پړاو کې له پارلماني نظام څخه د فدرالي نظام پر لوري حرکت او په وروستۍ نتیجه کې د افغانستان تجزیه. ددې ډلې د نیتونو او عملونو په باب ډېر اوږده بحثونه کېدی شي، خو دې لیکنه کې ټول هغه مسایل نه شي راټولېدلای. اوس راځو دې ته چې د ښاغلي کرزي له خوا ښاغلي فهیم خان ته له دومره غټ امتیاز سره سره بیا هم ډاکتر عبدالله ولې ځان کاندید کړ؟ دې خبرې ته مې مخکې هم اشاره وکړه، خو ددوی محاسبه داده، چې په یو شمېر پښتون مېشته ولایتونو او زیات شمېر ولسوالیو کې جګړه روانه ده، نو دا کار په ټاکنو کې د پښتنو طبیعي اکثریت زیانمنوي، د پښتون نسبه کاندیدانو شمېر هم ددې سبب کېږي، چې د پښتنو رایې ووېشل شي، په انتخاباتو کې د کلتوري ستونزو له امله د پښتنو ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کم ګډون هم دوی ته هیله پیدا کوي. په ځینو سیمو کې د پیسو بې دریغه استعمال، په ځینو سیمو کې په ټاکنو کې درغلي او په ځینو نورو کې د زور استعمال ددوی هوسونو ته هوا ورکوي. همدارنګه په ټاکنو کې له دوی سره د ایران، پاکستان او ځینو نورو هېوادونو پټې او ښکاره مرستې د دوی په فکر، ددې سبب کېږي چې دوی به ټاکنې وګټي. فهیم خان او نور هغه جمعیتیان چې په حکومت کې دي دوی ټول خپل منځ کې تفاهم لري، ددې زیات شواهد شته چې اکثریت دولتي جمعیتیان همدا اوس په زغرده ډاکترعبدالله ته کمپاین کوي. فهیم خان تراوسه پورې یوه خبره هم د ډاکترعبدالله پر ضد نه ده کړې، دوی فکر کوي چې که چېرې کرزی صیب بریالی شو، بیا به اکثریت جمعیتیان او نظار شورا والا دفهیم خان د زور له امله په حکومت کې خوندي پاتې شي او فهیم خان به هم په دې پلمه نور جمعیتیان او د خپلې سیمې خلک په حکومت کې ځای پر ځای کړي، چې ده خو ګټنې کرزي صیب ته کمپاین کړی او ډاکتر عبدالله به د زیاتو رایو په لرلو سره د اپوزېشن د مشر په توګه د مخالف د ((حیثیت او محتوا)) د ممثل په توګه خپل ځان تثبیت کړي. په دې ډول به د تېرو پنځو کلونو په شان د حاکمیت زیاته برخه او هم څرګند سیاسي اپوزېشن د دوی لاس ته ورشي او له دواړو امتیازونو څخه به برخمن شي. دا هغه حالت دی چې دوی به د ((مبارزینو)) په توګه څرګند شي او هېڅ ډول زیان به ورته نه رسېږي، یانې په اصطلاح په ژوندوني به هم غازیان وي هم به شهیدان او هم به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندي ګرځي؛ له ښو امتيازاتو به برخمن وي. که چېرې ډاکتر عبدالله بريالی شو، نو فهيم خان به ورسره د يو ستر مشاور او يا هم د دفاع د وزير په توګه په لوړ مقام کې ځای ولري او ټول به په ګډه هغه پلانونه تطبيقوي، چې په زړونو کې يې ګرځي. دوی ټول ددې وس لري چې له سهاره تر مازيګره خپلې ټولې تاکتيکي خوابدی سره هېرې او تېرې کړي، دوی که نه خلکي شته نه ستمي، نه اخواني شته، نه پرچمي، نه طالب شته او نه دا او نه هغه، خو اوس خپل حال ته ګورو چې موږ پر ځومره ډول ډول ناروغيو اخته يو: هم «حاکم» يو هم محکوم يو، هم «قاتل» يو، هم مقتول او سل نور مرضونه چې ضرور نه دي ټول يې دلته ياد کړو. د دوی روښنفکر او ليکوال به هېڅکله د ډاکتر عبدالله، رباني، مسعود او ان ببرک کارمل سپکه ونه وايي، خو زموږ «ليکوالو» د دې هېواد تر ټولو هغو شعوري شخصيتونو پسې قلمونه تېره کړي او هغه څه ورپسې ليکي چې که دوی ته وواېې مهرباني وکړه، همدغه ليکنه دې په يو محفل کې په خپله خوله ولوله، نو دی به يې خپله هم د سپوره او کرکجنو الفاظو له امله ونه شي لوستلای، نو په دغسې يو حالت کې چې له هرې خوا د تيارو د غشو بارانونه وي، د رڼا پر لوري د لارې ايستل اسانه کار نه دی. ځو ځو ځله مې جمهور رئيس ته دا مفهوم د خبرو او ليکنو له لارې ورسولای، چې تېره تجربه بايد تکرار نه شي، د جمهوري رياست معاونيتونه بايد د قوميت د اصل له مخې ونه وېشل شي، لياقت بايد په پام کې ونيول شي او که احياناً قوميت په پام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیول کېږي، نو لیاقت او کفایت دې هم ورسره مل شي او حتمي نه ده، چې همدا قراردادي څېرې او سیمې چې کلیشه شوي دي، همدا دې وي. دا داسې څېرې دي چې هم یې تاسو او هم یې ستاسو پلویان دې ولس ته سپینولای نه شي. ما دا خبره هم ورسولې چې پرته له هغې هم په هلمند، کندهار او ځینو نورو ولایتونو کې تر لسو زیاتې ولسوالۍ د حکومت په ولکه کې نه دي، یو پنجشېر دې هم نه وي، ددې سیمې ټول نفوس د ټول هېواد په کچه (۳، ۰) دی چې دا پر انتخاباتو کوم خاص اغېز نه لري، که ته ترې څوک د مرستیال په توګه هم راولې، بیایې هم رایه خپل بل کاندید ته ځي، ځکه دوی سره داسې یو فکر دی، چې څه معاونیت خو خوندي شو، اوس رائه د جمهوري ریاست لپاره کار وکړه، خو زما وړاندیزونه یوازې د یو نظر او وړاندیز په توګه پاتې شول.

زه د هغو کسانو له جملې څخه نه یم چې یوه فرضیه یوازې له یوه اړخه مطالعه کوي او یا یوازې د یوه بدیل په فکر کې وي او که هغه ونه شو، نو بیا لاس تر زنې کېني. اوس زما وړاندوینه داده، چې که چېرې ټاکنې ترسره شي او له ټاکنو پرته پر کوم بل بدیل غور ونه شي، نو دوه کاندیدان به سرته وځي: یو (ښاغلی حامدکرزی) او بل (ښاغلی ډاکتر عبدالله عبدالله) دی. یا به ټاکنې لومړي پړاو کې نتیجه ورکړي او یا به هم دویم پړاو ته ځي، په دې دواړو حالتونو کې به همدا دوه کاندیدان مطرح وي. دا چې ولې دا دواړه کاندیدان تر نورو زیات مطرح دي، د نورو علتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخنګ ددې يو علت دادی چې دواړه په حکومت او دولت کې شريک دي. واقعيت خو دادی چې د ټول حکومت نيمايي برخه د ښاغلي کرزي او د هغه د پلويانو په لاس کې ده او د حکومت نوره نيمايي برخه چې قهريه قوه هم په کې شامله ده، د اسلامي جمعيت او د ډاکتر عبدالله د پلويانو په لاس کې ده.

ټاکنو کې دولتي، اقتصادي او قومي عنصر ډېر رول لري، دواړه کانديدان له دې عناصرو برخمن دي. د ايران د بې دريغه مرستو له امله د ډاکتر عبدالله اقتصادي بېلانس د کرزي صيب په انډول قوي دی، خو د ډاکتر عبدالله ډېره بده پخوانۍ سابقه په عامه افغاني ټولنه کې د هغه د بريالیتوب کمزوری کوي؛ يو زيات شمېر پښتانه له ډاکتر عبدالله څخه د هغه د پخواني چلند له امله يا په خپله خوښه او يا هم د مجبوريت له مخې د ښاغلي کرزي ملاتړ کوي، يو شمېر نورو اقليتونو ته د زياتو امتيازاتو د ورکړې له امله، هغوی هم د کرزي ننګه کوي او که دا وفاداري يې تر پايه پاتې شوه، نو په لومړي پړاو کې د کرزي د ګټني چانس ممکنوي. په مقابل کې ډاکتر عبدالله په پښتون مېشته سيمو کې له نااميو څخه خوند اخلي او ګټه پورته کوي، د کرزي د ووټ په طبيعي ساحه کې دا ستونزې د هغه رايې راکموي. د اسلامي جمعيت ځينې قانوني او نا قانونه وسله وال ګروپونه په پښتون مېشته سيمو کې نااميو ته په شعوري ډول لمن وهي او ځينو اشخاصو ته د پيسو د ورکړې له لارې غواړي د کرزي رايې راکمې کړي. د نظار شورا ټوله پاملرنه اوس کرزي ته متوجه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ښاغلي ډاکتر اشرف غني سره اوس کار نه لري، ان د هغه له قوت او مرکو څخه خوند اخلي، ځکه چې خپل اصلي رقیب یې نه ګڼي، خو که احیاناً د ښاغلي ډاکتر اشرف غني احتمال تر کرزي صیب زیات وای، نو بیا یې ټول کمپاین همغې خواته متوجه کاوه، دوی یو ځل بیا له هغه چلند څخه کار اخلي چې طالبان یې د اسلامي حزب پر وړاندې تقویه کول. کله چې طالبانو اسلامي حزب له چهاراسیاب څخه پورته کړ، نو دوی بیا پر طالبانو برید وکړ، هلته د طالبانو عقل سرته راغی چې نه اساسي دښمن بل څوک دی. اوس که نظار شورا اشرف غني سره کوم مستقیم کومک نه کوي، خو د اشرف غني له هغه قوت، قهر، مهارت او لیاقت څخه چې د کرزي پر وړاندې یې څرګندوي، سخت خوند اخلي او دواړه د یوه ګډ رقیب پر وړاندې په «مناظره» کې د ګډون لېوالتیا لري. په داسې حال کې چې همدا نظار شورا او اسلامي جمعیت وو چې پر کرزي د زیات ناقانونه فشار له امله، له سیاسي او دولتي ډګر څخه د ډاکتر اشرف غني د ګوښه کولو سبب شول، ځکه اشرف غني ددې عامل ګرځېدلی و، چې په دولت کې د نظار شورا په خاص ډول د «مارشال» فهیم خان د ناقانونه مالي امتیازاتو او غوښتنو مخنیوی وکړي. هغه وخت ما د یو افغان په توګه، هم د یوې ځانګړې لیکنې او هم د بي بي سي او نورو راډیوګانو له لارې خپل غږ اوچت کړ او ومې ویل چې ښاغلی ډاکتر اشرف غني « د خپل لیاقت قرباني شو» او دی مې یو «ستر ریفورمیست» وګاڼه، سره له دې چې نه هغه وخت زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر اشرف غني د سياسي او اجتماعي کرکتر پلوي وم او نه هم اوس يم. خو دده د خپل لياقت او کفايت له مخې او په هېواد کې د اقتصادي سمون له امله ورته هر وخت درناوی لرم. زه پر دې هم پوهېږم چې نظار شورا او نورې افغان دښمنې ډلې د ښاغلي کرزي په انډول ډاکتر اشرف غني ته په ډېر کرکجن نظر ګوري، خو څرنګه چې د واک د اوسنۍ معادلې له مخې په اوسنيو ټاکنو کې د کرزي په انډول د ډاکتر اشرف غني د برياليتوب احتمال کم دی، نو ځکه يې اوس د خپل لومړي رقيب په توګه نه محاسبه کوي. خو له دې ټولو ويلو او نا ويلو ستونزو، کړلېچونو او ابهاماتو سره سره ايا د ملي او شعوري مبارزې د بري لپاره کوم چانس او څرک هم شته که نه لاس تر زنې کېناستل په کار دي؟

زه خو فکر کم چې رښتيني او شعوري مبارزين همغه دي، چې په سختو حالاتو او ابهاماتو کې د سمې لارې څرک پيدا کړي. اوس هم حل لارې شته چې که دقت ورته وکړو او په ټينګه ورته مبارزه وکړو، نو خپل ولس له دې بحرانه رااېستلای شو. زما په نظر کېدی شي څو حل لارې يې دا وي:

۱- که انتخابات وشي، نو د اوسنيو امکاناتو، شواهدو او محاسبو له مخې د ښاغلي حامد کرزي او د ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله له جملې څخه به يو د ټاکنو په اول يا هم په دويم پړاو کې بريالی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- که ډاکتر عبدالله بريالی شي، نو د زيان اټکل يې همدا اوس موږ کولای شو، په تېره بيا پښتنو ته، نو په کار دي، چې په هر ترتيب وي مخه يې ونيول شي.

ځينې کسان کله کله په خپلو خبرو کې وايي، چې تر کرزي عبدالله ځکه ښه دی چې مخامخ دښمن دی چې څه کوي مقابله به ورسره کوو، دی بيا زموږ حقوق نه شي خوړلای! دا هغه ضعيفه منطق دی، چې بايد ژر يې علاج وشي، دې ښاغلو ته بايد وويل شي، هغه وخت چې دوی په واک کې وو، تاسې يې څه مخه ونيوله چې بيا به يې ونيسئ، هغه وخت لا د دوی پر وړاندې ځينو نورو مخالفو تنظيمونو سره وسله هم وه، جګړه پيل شوه، دوی يې د خپلو پلانونو تطبيق ته پرېښښودل، خو بيا هم يې دې ملت ته دومره زيان واړوه چې بيا جوړونه يې کلونه کلونه وخت غواړي.

بله خبره داده چې يو ځل دوی د انتخاباتو د قانونيت تر چتر لاندې بريالي شول، بيا خو دوی په پنځو کلونو کې په اقتصادي، سياسي او کلتوري برخه کې دومره ځان رسوي، چې بيا يې د لسيزو په اوږدو کې هم مقابله نه شي کولای. هغه مهال که په پښتنو کې څوک د دوی وسلوال مخالفت ته هم راودانګي، نو دوی دا مخالفين د بهرنيو ځواکونو په زور ځپي او که پښتانه روښنفکران يې مخالفت کوي، هغوی به د ډيموکراسۍ د اصولو خلاف ګڼي، ځکه چې د انتخابي حکومت پر وړاندې ودرېدلي، يو نيم بل مخالف ليکوال او روښنفکر به په کلي ولس کې د نشنليست او افغان ملتي په نوم په خپله د پښتنو مذهبي ډلو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا لـه منځـه وړي، ځکـه چې پـر دې حکومـت بـه د مجاهـدينو د حکومت ماسک هم غوړېدلی وي. پښتون ليکوال به په (مستعار) نامه د ليکنې جرئت هم له لاسه ورکړي، ځکه چې کـه بـل ((پښتون ليکوال)) ته يې پيسې ورکړې، نو هغه به يې د مستعار نامه کيلي او رمز ور خلاصوي او ورته وايي به چې دا ليکنې پلانکي کړې، ګورئ ورته ښه ويښ شئ! موږ ټول پښتانه خو داسې نه يو!! دا يو څو تنه دي چې دې ((تعصب)) ته لمن وهي. دا هغه تجربې دي چې پخوا تېرې شوي او بيا بايد ورته زمينه برابره نه کړو.

۳- که کرزی صيب بريالی شو، نو درې احتمالـه دي: ۱- يا بـه پښتانه په همدې حالت کې وي، ۲- يا بـه تـر دې لـږ ښـه شي ۳- او يا به تر دې لږ نور هم خراب شي. خو پـه ټولـيز ډول سياسي واک هغه حالت ته هېڅکله نه ځي، چې د ډاکتر عبدالله د واکمنۍ پر مهال يې اټکل کېږي. خو ايا د کرزي صيب د واکمنۍ دا درې حالته پر يو ښه حالت بدلېدی شي که نه؟ دا هغه پوښتنه ده چې سم ځوابونه بايد ورته ورکړل شي، يو څو ځوابونه يې دادي:

۴- د ښاغلي حامد کرزي او ښاغلي ډاکتر اشرف غني مفاهمه:
که چېرې په اوسنيو انتخاباتو کې مقابله يوازې د ښاغلي کرزي او ښاغلي غني ترمنځ وای او درېيمګړي قوت تـه پـه کـې د بريـاليتوب چانس نـه وای، نـو بيـا نـو مـوږ هېڅ ډول تشويش نـه درلود، کېدی شي زما شخصي دريځ هم بل ډول وای. سره له دې چې پر کانديدانو او د هغو پر پلويانو دا خبره د غشي پـه شان سخته لګېږي، چې د واقعيت له مخې ورته وواييچې ستا رايې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه بل په انډول کمې دي، خو زه او زما په شان نور افغانان چې د ملي ګټو پر وړاندې د کاندیدانو خیال نه ساتو، د ګڼو دلایلو له مخې وایم چې د ښاغلي کرزي او ښاغلي عبدالله په انډول د ښاغلي غني رایې کمې دي. د رایو په باب زما محاسبه همدا سې ده، خو د لیاقت او کفایت په باب زما قضاوت بیا معکوس دی. څرنګه چې په ټاکنو کې رایې تلل کېږي او محاسبه کېږي، نه لیاقت. لیاقت یو کیفیت دی او د رایو شمېر یو کمیت دی. ټاکنې داسې یو حالت دی چې کمیت په کې ګټونکی ګڼل کېږي، که څه هم دا کمیت ناعادلانه وي، ښه حالت هماغه دی چې کیفیت او کمیت دواړو بریالی شي، نو ځکه زموږ وړاندیز دا دی چې ښاغلی غني باید ښاغلي کرزي سره بشپړ تفاهم ته ورسېږي. دلته یو پوښتنه مطرح کېږي، چې په دې تفاهم کې دې کرزی د غني او که غني د کرزي په ګټه تېر شي؟ لکه څنګه چې دمخه مو وویل د قدرت په اوسني معادله کې د دولت ځواک اساسي نقش لري او دولت هم پنځوس په سلو کې د کرزي صیب او پنځوس په سل کې د هغه د نورو مخالفو ائیتلافینو په تېره بیا د اسلامي جمعیت په لاس کې دی، چې نېغ په نېغه د ډاکتر عبدالله ملاتړ کوي. نو که کرزی صیب د غني صیب په ګټه تېر هم شي، ډېره ګټه به یې ډاکتر عبدالله ته ورسي، ځکه چې ددې پاتې دولتي ځواک اکثره برخه به هم د خپلو مقامونو د خوندیتابه لپاره د ډاکتر عبدالله پلوي وکړي، په دې ډول به د دولت ډېره زیاته برخه د ډاکتر عبدالله پلویان شي او دا کار به د اشرف غني د بري چانس چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس له دولتي ځواکه او نورو زياتو اقتصادي امکاناتو بې برخې دی، لا پسې کمزوری کړي. هغه ډلې ټپلې به هم د ډاکتر عبدالله خواته تمايل پيدا کړي، چې عادلانه نه دي، خو موثرې دي او کرزي صيب د زياتو امتيازاتو په ورکړه له ځان سره مل کړې دي، هغوی د اشرف غني له قاطع کرکټر سره هېڅکله روغه جوړه نه شي کولای. دغه راز کرزی صيب به هم د دولتي مقام په پام کې نيولو سره هغه وخت د دې وس پيدا نه کړي چې له داسې مقام څخه د يوه مشخص کانديد په ګټه علني کمپاين وکړي، که په پښتون مېشته ولايتونو کې امن وای، بيا هم د اشرف غني د بري چانس لوړېده او يا هم نړيوال په بشپړ او څرګند ډول د غني صيب تر شا ولاړ وای. د ښاغلي غني يو شمېر پلويان هغه ته داسې انتباع ورکوي، چې کېدی شي، ټاکنې دويم پړاو ته پاتې شي، په دې پړاو کې به اشرف غني حتمي مطرح وي، بل کانديد به يا کرزی صيب وي يا ډاکټر صيب عبدالله ، له دی دوو به يو وي، نو په دې ډول به د اشرف غني د ګټنې چانس برابر شي. د دوی پټ او څرګند منطق دا دی، چې له کرزي صيب څخه يو زيات شمېر پښتانه خوابدي دي، که د کرزي صيب او اشرف غني مقابله وي، نو زيات شمېر پښتانه به ډاکټر اشرف غني ته رايه وکړي او يا که همدارنګه د ډاکټراشرف غني او ډاکټر عبدالله مقابله وي، نو ټول پښتانه به اشرف غني ته رايه ورکړي او عبدالله به ماتې وخوري. دا د هغو کسانو د روحيې تقويې لپاره چې په ټاکنو کې برخه اخلي يوه ښه هيله ده، خو دوی بايد د دې مقابل حالت هم محاسبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. زه نه غواړم د هغه دردېدلي حالت جزيات بيان کړم، چې اوس زمور متفرق اکثريت له کومو رنځونو سره مخ دی. دا پورته تصور د يوې فرضيې په توګه سم دی، خو د عملي کېدو احتمال يې کم دی. اوس نو دا فرضيه پاتې کېږي؛ که ډاکتر اشرف غني د کرزي په ګټه تېر شي، څه به وشي؟ دا کار به په لومړي ګام کې ښاغلي غني ته د هغه د توند مزاج له امله ګران وي، خو وروسته به يې مېوه بده نه وي.

د اشرف غني او حامد کرزي د مفاهمې شرايط بايد پر اصولو ولاړ وي.د ډاکتر اشرف غني حيثيت بايد خوندي شي او داسې يو مهم مقام ورته وسپارل شي چې اجرايي ځواک ولري او دی پرې په دولت کې رشوت او فساد مهار کړي. که چېرې ډاکتر اشرف غني له يوه مناسب ځواک سره په حکومت کې وي، نو هغه وېره چې په حکومت کې د فهيم خان په راتګ سره د اداري فساد او د ځمکو د غصب له وجې احساسېږي، هغه به تر ډېره حده راکمه او يا به له منځه ولاړه شي. د اشرف غني غوندې يو کس کولای شي د کرزي صيب په حکومت کې د فساد مخه تر ډېره بريده ونيسي او دا هغه حالت دی چې هم د کرزي صيب حيثيت ته په ګټه دی او هم ملت ته او خپله د اشرف غني حيثيت ډېر اوچتوي.

نه يوازې له کرزي صيب سره بايد د ډاکتر اشرف غني د خبرو او مفاهمې لار اواره شي، بلکې ښاغلی پروفيسور علي احمد جلالي او ډاکتر انوارالحق احدي ته که په هر ترتيب سره امنيتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکتور او د بهرني سیاست چارې وسپارل شي، نو د حکومت اساسي ستنې به ټینګې شي او دې حالت سره به د یو قوي مرکزي حکومت لمن پراخه شي، نه یوازې دا اشخاص، بلکې نور مهم او موثر شخصیتونه هم باید په حکومت کې راټاله شي. که چېرې اشرف غني، جلالي، احدي او نور موثر او ملي شخصیتونه د کابینې په غونډه کې ناست وي، نو هېڅکله به د ښاغلي محقق په شان خلک له کلي څخه د ولسوالۍ، له ولسوالۍ څخه د ولایت او په پای کې له ولایت څخه د مملکت د جوړولو دعوه او غوښتنه ونه کړي او که میدان ورته همداسې شغالی وي، نو بیا خو به ډېر هغه څه وکړي چې تراوسه یې لا په زړونو کې دي. که چېرې کرزي صیب او غني صیب او د هغوی پلویان یې هر یو ځانته ځانته ډنګوي، نو بیا ټول مسولیت د همدغو کاندیدانو او د هغو د اوسنیو پلویانو پر غاړه دی. که چېرې د مفاهمې لاره رامنځته نه شي نو بیا خو نور نور اټکلونه کېدی شي چې هر یو په خپل وار دې ټولنې او همدې کاندیدانو ته په زیان دي:

١ - کېدی شي د ډاکتر اشرف غني له پخلاینې پرته کرزی بریالی شي، په دې حالت کې به هغه ډلې ټپلې ډېر امتیازات واخلي، چې اوس د کرزي صیب صادقانه او یا هم فریبانه ملاتړ کوي. دوی به په دې پلمه چې ګڼې موږ کرزی بریالی کړی، ډېر ناقانونه امتیازات واخلي. یو زیات شمېر پښتانه به د اشرف غني د کمپاینرانو او یا هم پلویانو په نامه په حکومت کې له دندو محروم شي او یو شمېر نور چې په حکومت کې د خپل لیاقت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې کار کوي، هغوی ته به هم توطیې جوړې او له حکومته به یې په ډېر مهارت بهر کړي، په دې ډول به دوی په راتلونکو پنځو کلونو کې د حکومت اکثره اساسي څوکۍ ونیسي او بیا به ترې بله دوره کې، که حالات همداسې روان وو، انتخابات ګټل هم اسانه نه وي.

۲- دویم احتمال دادی چې کرزی صیب یې بایلي، ډاکتر صیب عبدالله یې وګټي، د ډاکتر عبدالله د واکمنۍ د حالت وړاندوینه خو مو مخکې هم کړې چې څه به کېږي. په دې حالت کې به ښاغلی کرزی ناکام وي، هغه به خپل غږ نه شي پورته کولای، ځکه د ناکام سړي معقول اواز هم څوک نه اوري. پر میډیا هم پوهېږو چې د چا په لاس کې ده، د نړیوالې ټولنې او ګاونډیو هېوادونو حالات هم موږ ته ښه معلوم دي. ډاکتر اشرف غني به مایوسه وي ځکه چې ولس به ده ته د خپل لیاقت په انډول کمې رایې ورکړي وي. خپل ورور، خپلو کمپاینرانو او نورو ته به په قهر وي، چې ولې یې ده ته غوره مالي کړې، واقعیت یې ورته نه دی ویلای او دده تقاضا یې ولې بېځایه پورته کړې ده. د داسې یو سړي لپاره چې په لوړ کفایت او لوړو مقامونو کې یې کار کړی وي، د ناکامۍ زغمل د زړه د حملې تر بریده خطر لري، ښاغلی غني به له ډېرې مایوسۍ سره بېرته امریکا او یا کوم بهرني هېواد ته ځي، دی به ځان سره دا فکر کوي، هغه ټولنه چې د باکفایته خلکو پر ارزښت نه پوهېږي، هغو ته کار کول څه ګټه نه لري. ښاغلی میرویس یاسیني به په انتخاباتو کې د خپلو مالي زیانونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبران په لټه کې وي، یا به په حکومت کې ځان ځایوي یا به ازاد کاروبار کوي او یا به هم له انګرېزي او نورو امریکایي کمپنیو سره د ساختماني شرکتونو د معاملاتو له لارې، د خپل اقتصادي زیان جبیره کوي. زموږ ملت به د تېرو ناخوالو په تعقیب له داسې یو حالت سره مخامخ وي، چې لاس به مروړي، څه به لاس ته نه ورځي او د تېر هغه نیمګړي حالت په ارمان به وي.

لیکوال به یو بل سره پر نانډریو بوخت وي، څوک به یو ملامتوي او څوک به بل، څوک به دا وایي چې تا ولې هغه پسې په خپل نامه مقاله ولیکله او څوک به وایي چې تا ولې په بدل نامه دې اور ته لمن ووهله. په انټرنیټ کې د بدل نامه مبارزین به لا ډېر ملامت وي چې ولې یې یو بل پسې د سپکو سپورو خبرو پر خپرولو لاس پورې کړې دی. زه ددې لیکنې په دې برخه کې په زغرده وایم، چې ما د یو افغان په توګه د هغو ضرورتونو له مخې چې مخکې مې ورته اشاره وکړه، د کرزي صیب مشروطه پلوي کړې. سمون راوستل اسانه کار نه دی، هر واکمن خپل خپل مجبوریتونه لري، ځینې مجبوریتونه ډېر ناعادلانه وي، تر کومه ځایه چې ما د یو افغان په توګه وس درلود هغه مې تر سره کړ، خو زه او زما په شان نور ملتپال افغانان په دې بریالي نه شو چې له کرزي صیب سره د معاونیت په پوست کې د فهیم خان مخه ونیسو، که دا کار چاته اسانه برېښي، نو ټول لیکوال، «د انټرنېټ مبارزین»، د اشرف غني خواخوږي او نور دې راټول شي، د اشرف غني له څنګه دې بناغلی حشمت غني لرې کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره چې فهیم خان د کرزي رنګه بده کړې، همدومره حشمت غني د اشرف غني حیثیت ته زیان رسولی دی. تر انتخاباتو وروسته که کرزی صیب بریالی شو، طبعاً به زما او زما په شان د نورو افغانانو مبارزه د هغه چا پر وړاندې وي، چې هغه د افغانستان ملي ګټو ته زیان رسوي، د فساد سبب ګرځي او عدالت تر پښو لاندې کوي، که هغه فهیم خان وي، که استاد رباني، که محقق وي که رحیم وردګ، که کرزی صیب وي که غني صیب او یا هم نور نور صاحبان او ناصاحبان. په لنډه موده کې زما نظر همدادی چې د جمهوري ریاست د څوکۍ د خوندیتوب لپاره باید د وراثت اصل خوندي وساتل شي او د هغې ډلې د تېرې واکمنۍ مخه ونیول شي، چې په نظر او عمل، ماهیت او کیفیت کې د افغانستان د ملي ګټو مخالف دي. د کرزي صیب او اشرف غني په شمول له ټولو ملي او ملي رنګه کاندیدانو او د هغو د پلویانو څخه مې هیله ده چې په خپلو تشو لاپو شاپو، عقدو او کینو د کاندیدانو ترمنځ واټن دومره مه زیاتوئ، چې د هغوی د پخلاینې ټول پلونه ونړوئ او د ببرته راتګ ټولې لارې یې بندې کړئ.

په انټرنېټ کې له ښکاره نومو، پټنومو، بېنومو، ښځنومو او څونومو لیکوالو او نالیکوالو څخه مې هیله ده چې ډېر په احتیاط ګام پورته کړي، د خپلو کاندیدانو په پلوي د فرهنګیانو ترمنځ د کینې زهر مه شیندئ، کاندیدان موسمي دي، که ټاکنې وشي څو ورځې وروسته یې د بریالي او ناکامو کاندیدانو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوسیه تړل کېږي. ددې (اوو درجنو) کاندیدانو کوم یو نوم که چېرې یاد شي، خو هغه څوک چې د زړه په وینو ددې ولس کلتور ته کار کوي، هغه به بیا هم وي، په همدې ټولنه کې به اوسېږي، تاسې باید هغه خلک هم وپېژنئ چې چا سیاست د فرهنګي خدمت لپاره استخدام کړی او څوک د لیکوالو او ژورنالیستانو د ټولنې په نوم خپل جیبونه ډکوي.

موږ هغه (ښځنومي) لیکوال یا ژورنالیستان هم پېژنو چې په درباورنو کې د سندرو، کمپوز او نڅاوو تر بریده د واکمنو په خدمت کې دي، خو داسې لیکوال هم پېژنو چې سرکښه جهادي قوماندانان او زورور واکمن یې دې ته رامات کړل چې فرهنګي خدمت ته ملا وتړي او خپله پانګه پر لیکوالو ولګوي، ددې دوو کټګوریو لیکوالو ترمنځ باید توپیر وشي، د یوه په خوله کې دومره لاړې وي چې د زورورو په توصیف یې په خوله کې وچې شي، د بل په زړه کې دومره اور او په خوله کې دومره زور وي چې زورور دېته لېوال کړي چې د کمزوري احترام وکړي او د ښېوسو لیکوالو اثار چاپ کړي، علمي مرکزونه جوړ کړي او رښتیني لیکوال ته د درناوي او مرستې لاس ورکړي.

ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ

واړه مشغول دي ځیني ځان ځیني جهان جوړوي

د هوښیارو او پوه لیکوالو کار همدا دی چې په ټولنه کې شته ظرفیتونه د خپلې ټولنې د خدمت مسیر ته سوق کړي، په تېرو دېرشو کلونو کې، هر لیکوال او سیاستوال، هر ژورنالیست او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه ژورنالیست ټولو ځان ځرګند کړي، چې چا څه کړي او څه کوي؟ موږ هیله لرو چې زموږ لیکوال تر سیاستوالو څو ګامه دمخه وي، لیکوال باید ددې وس ولري، چې سیاستوال د فرهنګیانو د پالنې او فرهنګي خدمت لپاره استخدام کړي، نه دا چې خبره معکوس کړي. اوس مې له ټولو پښتنو لیکوالو څخه هیله داده، له هرې ممکنې لارې چې وي د ملتپالو کاندیدانو د پیوستون لپاره کوښښ وکړي، د رښتینو او غوره مالو اشخاصو چې یو د تضاد واټن له منځه وړي او بل تضاد زیاتوي، ددې دواړو توپیر باید وشي.

په پای کې د پخوا په څېر یو ځل بیا خپلو معقولو او سرغندویو پلویانو او ټولو رښتینو افغانانو ته ډاډ ورکوم، چې زه به هېڅکله داسې کار ونه کړم، چې هغه د افغانستان ملي هویت او د افغانانو ملي ګټو ته زیان ورسوي، له خپلو ټولو ملتپالو او د ملي شعور په ګاڼه سمبال لیکوالو نه مننه کوم، چې په زغرده یې زما دملي ارمانونو او ملي ایډیالونو ننګه کړې، زه پر دوی ډاډه یم او د دوی دې پر ما ډاډه وي. دا خبره هم د یادونې وړ ده چې کېدی شي په (۴۱) کاندیدانو کې اکثریت یاټول پر سیاسي او علمي مسایلو تر ما ډېر پوهېږي، خو پر دې ویاړم چې د حامد کرزي او ډاکټر اشرف غني په شمول هر یو کاندید، تر خپل ملي درک او احساسه لوړ نه بولم. پټونومو، بېنومو او ښځنومو ((لیکوالو)) او ((ژورنالیستانو)) ټولو ته مې دا چلېنج دی، چې ددې هېواد په هره رسنۍ، هر علمي ډګر، هره محکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هر ځای کې چې د هر کورني او بهرني جنايتکار پر ضد، په خوله، په قلم، په لاس، په منطق او هرې وسيلې، مبارزې ته حاضر وي، دا ګز او دا ميدان.

په هېواد کې د اوسني بحران د ختمېدو، د يوه ملي حکومت د جوړېدو او ملي فرهنګ د غوړېدو په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوسنۍ پارلماني ټاکنې= نوی سیاسي سرطان

دا لیکنه د (۱۳۸۹ ل کال) د ولسي جرګې د ټاکنو د نتیجو تر اعلان وروسته شوې ده، هغه وخت چې یادې ټاکنې له زیاتو اعتراضونو سره مخ شوې، ما هڅه وکړه چې ولسمشر کرزی د دې ناعادلانه ټاکنو پر عواقبو ښه خبر کړم، هغه یې د سمون ژمنه هم وکړه، خو په پای کې هېڅ سمون رانغی او زه یې پر هغه مهال دغه یادښت لیکلو ته مجبور کړم.

د افغانستان د اساسي قانون د (۸۳) یمې مادې د یوې فقرې له مخې: ((د انتخاباتو په قانون کې باید داسې تدبیرونه ونیول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازیتوب تامین کړي.)) په دې ماده کې د (عدالت) عنصر لا هغه وخت تر پښو لاندې شو چې د اساسي قانون د روحیې له مخې د نفوسو په انډول د پارلماني څوکیو وېش مطرح کېده. د ولسي جرګې د (۲۴۹) څوکیو د وېش پر وخت پښتون مېشتو ولایتونو ته تر اصلي استحقاقه (۱۲) څوکۍ کمې ورکړل شوې او (۵) څوکۍ هم د کوچیانو د نفوسو په انډول د هغوی له اصلي حقه راکمې شوې، په بدل کې پنجشېر، پروان او ځینو نورو سیمو ته د خپل نفوس په انډول زیات امتیاز ورکړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسي جرګې د څوکیو د وېش د دې ځرګند ظلم تر څنګ د مشرانو جرګې د انتصابي څوکیو په برخه کې هم، ولسمشر د اکثریت پر وړاندې خپله بې تفاوتي او د اقلیتونو پر وړاندې خپله مهرباني په زبات ورسوله، یانې په قصدي او سیاسي ډول د ملي شورا په دواړو جرګو کې د پښتنو سیاسي حقوق تر پښو لاندې شول. له پورتني ظلم او نورو ناخوالو سره سره بیا هم پښتنو خپل زغم ته دوام ورکړ او په دې هیله چې په هېواد کې د سولې او ثبات په حالت کې به هر څوک خپلو حقه حقوقو ته ورسېږي، چوپتیا غوره کړه، خو دا هیله هغه وخت لا پسې په نهیلۍ بدله شوه او پر عدالت باندې لا نور ګوزارونه وشول چې د جمهور رئیس او څو تش په نامه جهادي مشرانو له خوا د پنجشېر اوسېدونکی اسلامي جمعیت او نظار شورا ته یو منسوب شخص د انتخاباتو د مستقل کمیسیون د رئیس په توګه وټاکل شو. دې کار د هغه ماین حیثیت درلود چې جمهور رئیس په خپله د افغانستان د یوې ډیموکراتیکې پروسې تر پښو لاندې کېښود. له دې سره جوخت د ټاکنو خپلواک کمیسیون بیا د خپلواکۍ مفهوم له لاسه ورکړ، د تنظیمواکۍ او نظار شورا د فاشیستي افکارو پر یو مرکز بدل شو. د فضل احمد معنوي په انتصاب سره ټول هغه ماتې خوړلي ستمي کاندیدان، چې په څو تېرو انتخاباتو کې یې ماتې خوړلې وه، بیا له سره وغوړېدل او له ښاغلي معنوي سره په هماهنګۍ یې ځانونه ولسي جرګې ته کاندیدان کړل.

د معنوي پر انتصاب سربېره د جمهور رئیس بله غټه اشتباه دا وه، چې د شکایتونو د اورېدو کمیسیون یې هم د همدې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاصـو پـه لاس کـې ورکـړ، احمدضـیا رفعـت چـې د پښـتنو پـر وړاندې یې تعصب له هېچا پټ نه دی او د څو کلونو په بهیر کې یې د اسلامي جمعیت د سکې د بـل مـخ (ملـي متحـدې شـورا) د نـوبتي رئیس په توګه دنده اجراکوله او هزاره تـوکمی سـلطان شـاه عـاکفي دواړه یې د انتخاباتي شکایتونو د اورېدو د کمېسـون غـړي کـړل، دوه تنـه بهرنیـان چـې لـه پښـتنو سـره یـې تعصـب څرګنـد دی هـم د کمیسیون غړي شول او یو تن تـش پـه نامـه پښـتون (قاضـي شـریفي) یې هم ورسره د مشروعیت په خاطر یو ځای کړ چې هغه نو بیا هېڅ ډول اجتماعي او ملي فکر نه لري او یوازې د یوه مامورګي حیثیت لري. پـه دې ډول د دوو کمیسـیونونو اصـلي واک د داسـې اشخاصـو لاس ته ورغی، چې نه یوازې د هېواد اکثریت پښتنو سره حساسیت او تعصـب لـري، بلکـې د ټـول هېـواد د ملـي هویـت او یـووالي پـر وړانـدې هـم ترخـه سـابقه لـري. د ټـاکنیزو کمیسـیونونو د دې ډول ترکیب پـه شـتوالي کـې د عـادلانـه انتخابـاتو ترسره کـول خپلـه یـوه ناعقلانـه او جاهلانـه هیلـه وه. د انتخابـاتي کمیسـیونونو ددې ډول ترکیب جوړول د افغانسـتان د ملـي یـووالي، عـدالت او ولسـواکۍ پر ضد یو مضر حرکت و. لـه دې حرکت څخـه دا هیلـه نـه کېـده چـې افغانسـتان کـې دې ګـلان وکـړي، ملتپـالو افغانـانو لـه همغـه پیلـه جمهور رئیس او د هغه درباري غوړه مـالانو تـه ددې حرکت د منفـي نتایجو پیغام ور رسولی و، خو هغوی لکه د نورو مهمو مسـایلو پـه شـان دې مسـئلې تـه هـم پـه مصـلحتي او سرسـري سـترګه کتـل. یـو افغان لیکوال جمهور رئیس تـه لیکلـي وو: ((هغـه مـاین چـې دې پـه خپلـو لاسـو کېښـود، کېـدی شـي تـر ټولـو لـومړی پـر تاسـو انفجـار

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي.)) څرګنده خبره ده چې د پاړوګر مرګ له ماره او د ماین پال یا ماین اینښودونکي مرګ اکثره د خپلو ماینونو له لاسه وي. که چېرې د انتخاباتو ددې تنظیمي کمیسیون دا لومړنۍ نتیجې او یا وروسته د شکایتونو د کمیسیون نورې پښتون ضد هڅې، توطیې او تصفیې ومنل شي، نو څه عواقب، خطرونه او ضررونه به پېښ شي؟ دې احتمالي خطرونو ته به په لنډ ډول اشاره وکړو:

**د اکثریت محرومیت:** په دې ټاکنو کې اکثریت قصداً له سیاسي حقوقو محروم شو، دا محرومیت همداسې چوپ نه پاتې کېږي، په یو نه یو ډول غبرګون ښیي، دا غبرګون، د سیاسي او نظامي پېښو سبب کېږي او د حقوقو د ترلاسه کولو په دې بهیر کې طبعاً د ټولو لپاره د زیان د پېښېدو اټکل شته.

**سیاسي بې ثباتي:** د دوو اقلیتونو د ناقانونه او ناطبیعي واک په دې پروسه کې د هېواد سیاسي ثبات له منځه ځي او د دولت مخالفینو او ځینو نورو ګاونډیو هېوادو ته ددې زمینه برابرېږي چې د محرومیت له دې حالت څخه ناوړه ګټه پورته کړي او په افغانستان کې کورني جنګ ته لمن ووهي.

**د هویت خطر:** په دې ټاکنوکې داسې اشخاصو ته د بریالیتوب امکانات برابر کړای شول چې هغوی د افغانستان د هویت مخالفین دي، هغوی به په پارلمان کې عام ولس ته د خدماتو د وړاندې کولو پرځای د افغانستان د هویت د له منځه وړلو لپاره هڅه او هاند کوي، په لومړي ګام کې دوی کېدی شي دغو لاندې مسایلو ته لمن ووهي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الـف-** پښـتو نومونـه او اصـطلاحات دې د حکومـت لـه ادارو څخه لرې شي.

**ب-** بانکنوټونه ولې په پښتو ژبه دي، په دري ولـې نه چاپېږي؟ ولـې پـرې د احمدشـاه مسـعود او نـورو تنظیمواکـانو عکسـونه نـه شتـه؟

**ج-** د افغانسـتان اساسـي قـانون ځینـې مـادې نـه منـو، ولـې پـه اساسي قانون کې پښتو لومړۍ او دري دویمه ژبه ده؟

**د -** افغان، د دوی په نظر د یوه قـوم نـوم دی، پـه لـومړي ګـام کـې بـه وړاندیز کـوي چـې د افغـان پـر ځـای دې (افغانسـتاني) اصـطلاح وکارول شي او بیا به هڅه کوي چې دا نوم چورلټ لـرې او د ملـت د هر فرد لپاره دې رانه شي او تر هغه وروسته به کوښښ کـوي چـې د افغانستان نوم پر (خراسان) یا هم کوم بل څه واړوي.

**هـ-** دوی به هڅه وکړي بیرغ او ملـي سـرود بـدل کـړي، د دوی پـه نظر بیرغ یوه قوم ته منسوبېږي او سرود هم په پښتو ژبه دی.

**ط-** دابه هم ووایـي چـې ولـې کوچیـانو تـه د انتخابـاتو پـه قـانون کـې لس څوکۍ بېلې شوي، دا بایـد لـه منځـه لاړ شـي لکـه مخکـې چې یې هم دا هڅه کړې وه او دې ته ورته ځینې نور مسایل چې ملي حساسیتونه راپاروي.

**پـه حکومـت کـې بشـپړ واک:** یـو شـمېر حکـومتي چـارواکي او د پارلمـان دا احتمـالي ترکیبـي متعصـبه ډلـه بـه هڅـه وکـړي چـې د خپـل منځـي ائتلافونـو لـه لارې لـومړی هغـه وزیـران

(c) ketabton.com: The Digital Library

بريالي کړي چې د دوی له فکر سره همغاړي وي، په پښتنو کې به ځينو هغو وزيرانو ته رايه ورکوي، چې په ختـه پښتانه وي خو پښتو يې زده نه وي او يا له پښتنو سره کومه خواخوږي نه لري. دا به په حکومت کې د پښتنو ونډه نوره هم صفر ته نږدې کړي.

**ولايتي شوراګانې**: دوی به په لومړي ګام کې هڅه وکړي، د ولايتي شوراګانو واک زيات کړي او واليان د ولايتي شوراګانو له لارې جمهور رئيس ته وړاندې او هغه يې بيا يوازې د تقرر لپاره لاسليک کړي.

**پارلماني نظام**: د ولايتي شوراګانو د واک د زياتونې له لارې به دوی د پارلماني نظام لپاره لاره اواره کړي، دا به د دوی په نظر يوه لومړنۍ تجربه وي او بيا به د فدرالي او وروسته به بيا د افغانستان تجزيې ته زمينه برابره کړي.

**د اداري واحدونو زياتول**: دوی به هڅه وکړي د محلي ارګانونو د اداري په قوانينو کې داسې بدلون راولي چې د هغو له مخې د خپلو سيمو اداري واحدونه زيات او د پښتون مېشتو سيمو راکم کړي.

**لويه جرګه**: دا ډله به کوښښ وکړي په پارلمان کې د خپل تصنعي او جعلي اکثريت له لارې جمهور رئيس تر ډېر فشار لاندې راولي چې د دوی هر ډول غوښتنې ومني، د دوی د غوښتنو په حالت کې هم، افغانستان د بشپړ بحران خواته ځي او د نه منلو په حالت کې به هم دوی په پارلمان کې په دوو ثلثو ملت ضد قوانين

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصـویبوي او هـم کـولای شـي لویـه جرګـه دعـوت کـړي، د جمهـور رئیس د محاکمه کولو وس هم پیدا کوي او په یوه عادي پلمه کولای شي جمهور رئیس محاکمې ته راکاږي، د سترې محکمې رئـیس او لوی څارنوال هم طبعاً د دوی په مزاج برابـر اشـخاص راځـي، نـو کـه جمهـور رئـیس د دوی د هیلـو مخالفـت کـوي د محـاکمې لـه انجـام سره به مخامخېږي او که نه یې کوي د یو عـادي سـمبول حیثیـت بـه لري او د خپلې دورې تر ختمېدو پورې به یې، افغانسـتان د تبـاهۍ لور ته لاړ شي.

**حل لاره څـه ده؟** کـه جمهـور رئـیس د وروسـتي چـانس پـه توګه غواړي چې ځان او افغانستان وژغـوري، نـو حـل لاره داده چـې دا پارلماني ټاکنې پـه بشـپړ ډول ملغـی اعـلان کـړي. د ملغـی کېـدو لپاره په لسګونو څه چې په سلګونو داسې قـانوني او حقـوقي دلایـل موجـود دي چـې د هغـو لـه مخـې دا ټـاکنې بـاطلې او ملغـی کېـدی شي. یو څو دلیلونه به یې دلته د بېلګې په توګه راوړو.

د اساسـي قـانون د (۸۳) یمـې مـادې حکـم چـې پـه ټـاکنو کـې د خلکو پر عادلانه ګډون ټینګار کوي او دا د ټاکنو د کمیسیون دنده بـولي چـې د افغانســتان د ټولـو خلکـو لپـاره عمـومي او عـادلانـه اسـتازیتوب تـامین کـړي، د قـانون دا حکـم پـه بشـپړ ډول تـر پښـو لاندې شوی دی.

- ټاکنې پـه ټـول افغانسـتان کـې رڼـې او شـفافې نـه وې، لـه پـوره درغلیو ډکې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د انتخاباتو د کمیسیون اساسي چارواکي تنظیمي افراد وو، چې د خپل قوم، سیمې، ژبې او سمت لپاره یې قصداً کار کړی، د دوی دغه چلند انتخابات منحرف کړي او د قانون خلاف اجرائت ګڼل کېږي.

ـ د انتخاباتو د کمیسیون یو زیات شمېر غړي په تېره بیا د مرکزي کمیسیون مشر په خپله په درغلیو ککړ وو.

ـ د هېواد په کچه اکثریت قوم د جګړې په پلمه او هم په قصدي ډول په ټاکنو کې له ګډون څخه بې برخې شوی.

ـ د انتخاباتو تر لومړنۍ شمېرنې وروسته هم په قصدي توګه د هېواد د اکثرو پښتنو کاندیدانو رایې قرنطین او یا باطلې شوې دي.

ـ که د ټولو په اصطلاح ګټونکو او بایلونکو کاندیدانو د رایو شمېر سره پرتله کړو، نو د ګټونکو هغو کېدی شي په سلو کې له (۱۵-۲۰) پورې وي، نورې په سلو کې (۸۰-۸۵) رایې د بایلونکو کاندیدانو دي، په دې کې که بیا هم د همدې ګټونکو کاندیدانو پاکې رایې له ناپاکو هغو جلا کړو، نو کېدی شي په سلو کې لس رایې پاتې شي، ایا په سلو کې د (لس) رایو په خاطر څوک د دې حق لري چې په سلو کې د (۹۰) خلکو حق تر پښو لاندې کړي.

ـ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر او نورو چارواکو په مستقیم ډول د قانون خلاف د رایې په شمېرنه کې لاسوهنه کړې او د خپلې خوښې کاندیدان یې بریالي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د شمېرنې ټوله پروسه له پیله تر پایه شفافه نه وه، د قسمي او ابتدايي نتايجو د اعلان پر وخت هم په ډېټابېس کې شخصاً د کمیسیون رئیس او نورو چارواکو ګوتې وهلې.

ـ د ابتدايي نتايجو تر اعلان وروسته، د شکايتونو کمیسیون له خوا هم همغه ظلم او قصدي عمل بیا تکرار شوی او یو شمېر نور بریالي کاندیدان د هغوی د ظلم ښکار شوي چې هغه هم اکثره پښتانه دي.

ـ د ټولو استعمال شویو رايو په اړه د انتخاباتو د لومړۍ ورځې او د لومړنیو نتايجو د اعلان ترمنځ د رايو تفاوت (یو ملیون رایې) ګڼل شوی، دا د نړۍ د انتخاباتو په تاریخ کې هغه دروغ دي چې ساری نه لري، د یو ملیون کسانو د شمېر په انډول د یو ملیون نورو درغلیو احتمال هم هېڅکله رد بدلی نه شي.

نو ښه لاره دا ده تر هغه چې په افغانستان کې په بشپړ ډول سوله او ثبات نه وي ټینګ شوي، پارلماني ټاکنې دې نه کېږي.

همدا زړه ولسي جرګه او نوې مشرانو جرګه دې قانوني خلا ډکه کړي. خو که چېرې د اوسنیو ټاکنو دا تقلبي نتيجې ومنل شي نو دا به افغان ولس، افغانستان او دې خاورې سره داسې یو لوی خیانت وي، چې جبیره به یې هېڅ ممکنه نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ننګرهار کې د ولسي جرګې د ټاکنو د نتيجو يو احتمالي انځور

دا ليکنه پر (۱۳۸۹ ل) کال د ولسي جرګې د ټاکنو د لومړنيو نتيجو تر اعلان د مخه شوې وه.

د افغانستان د نورو سيمو په شان په ننګرهار کې هم ټاکنې ترسره شوې، لکه څنګه چې د هېواد په هره سيمه کې د ټاکنو په باب د درغليو غږونه پورته شوي، ننګرهار هم له دې حالته مستثنی نه دی، دا چې په ټاکنو کې شوې پاکي او ناپاکي به سره بېلېږي او که نه دا نو د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون کار دی، وخت ته به منتظر شو، دا احتمال هم شته چې د شکاياتو د کميسيون له خوا د سياسي موخو لپاره د درغليو په نامه نورې درغلۍ هم وشي، خو زه نه غواړم پر دې ټولو جزياتو دلته وغږېږم، يوازې غواړم دلته تر ټاکنو وروسته پر رامنځته شوي کميت لنډه رڼا واچوم:

ما خپله په ننګرهار کې په ټاکنو کې ګډون کړی او د يوه ښارونکي دنده مې هم اجرا کړې ده، ګڼ شمېر مرکزونه مې کتلي او د نږدې اتو مطرح کانديدانو غتې رايې مې هم له نظره تېرې کړي، د هغو کمپاينرانو او ناظرينو سره مې هم کتلي او د نتايجو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو پاموړ شمېر هغه پاڼې مې هم کتلي چې له ببلابېلو کانديدانو سره موجودې وې. په دې وجه په دې ليکنه کې د ټاکنو د څرنګوالي او څومره والي په باب داسې يو اټکل کولای شم چې په (سلو کې (اويا) واقعيت ته نږدې وي.

هغه ارقام چې اوس د ببلابېلو کانديدانو په لاس کې دي او په لويه کچه د هغو د خپلو ناظرينو له خوا هغو ته ورکړل شوي، په دې ارقامو کې نيم په نيمه د مبالغې اټکل شته، په همدې خاطر ننګرهار کې ګڼ شمېر کانديدان ځان بريالي ګڼي. د ارقامو د لوړتيا علتونه ډېر دي، دلته پرې بحث نه کوم، دلته غواړم په ترتيب سره د هغو کانديدانو د رايو اټکل وکړم چې د هر معقول، نامعقول، مشروع او نامشروع علت له وجې يې تر نورو زياتې رايې کټلې دي.

## الف- نرينه نوماندان:

**۱- حاجي عبدالظاهر قدير**: د حاجي ظاهر پلويان د هغه د رايو شمېر له (۳۰-۴۰) زرو پورې اټکلوي، خو واقعيت دادی چې کېدی شي حاجي ظاهر له (۹-۱۱) زرو پورې رايې ګټلې وي. د ووټ غټه ساحه يې حصارک، سور رود، جلال اباد ښار، د شينوارو بيلابيلې ولسوالۍ دي او د ننګرهار په نورو سيمو کې يې هم پاموړ شمېر متفرقه رايې اخيستي دي.

**۲- حاجي حضرت علي**: د حاجي حضرت علي ووټ شمېر هم کېدی شي حاجي ظاهر ته ورته وي، د ووټ غټه ساحه يې دره نور، ښېوه، د جلال اباد ښار مربوطات او شينواري دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګرهار نورو سيمو کې يې هم متفرقه ووټ اخيستی دی، کېدی شي په ننګرهار کې حاجي ظاهر يا حاجي حضرت علي په لومړي او دويم مقام کې راشي. د يادونې وړ ده چې حاجي ظاهر او حضرت علي په ننګرهار کې د قوم، زور او زر له درېواړو امکاناتو برخمن دي.

**۳- حاجي اميرخان يار**: د ننګرهار په محلي سياست کې نوې څېره ده چې پراخ اقتصادي او ټولنيز امکانات يې کارولي او په لنډ وخت کې يې ځان ډېر مشهور کړ، د رايو شمېر يې له (۸-۹) زرو پورې اټکل کېدی شي، د ووټ غټه ساحه يې د کامې او بټي کوټ ولسوالۍ او د جلال اباد ښار دي، له شينوارو او نورو سيمو څخه يې هم متفرقه رايې اخيستې دي.

**۴- انجنير سيد اکرام**: انجنير سيد اکرام د ننګرهار په سياست کې بله نوې څېره ده چې دی هم په ډېر لنډ وخت کې ډېر زيات مطرح شو. انجنير اکرام هم د اميرخان يار په شان پراخ اقتصادي، اداري او تر يوه حده ټولنيز امکانات کارولي. دده رايه هم د (۸-۹) زرو په شاوخوا کې اټکلېدی شي. کېدی شي په دې دوو کسانو کې يو په درېيم او بل په څلورم مقام کې راشي. انجنير سيد اکرام په جلال اباد ښار او د سره رود په مربوطاتو کې ډېره رايه اخيستې ده، خو بهسودو، روداتو، شينوارو او نورو سيمو کې يې هم پامور رايه اخيستې ده.

**۵- ميرويس ياسيني**: ميرويس ياسيني بيا هم پراخ مالي امکانات کارولي، پخوانی شهرت،مالي امکانات او تر يوه حده

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ییز اغېز یې ددې سبب شوي چې دی هم په ننګرهار کې ډېره رایه ترلاسه کړي. د ده رایې هم کېدی شي د امیرخان یار او انجنیر سیداکرام د رایو په حدودو (۸-۹) زرو پورې اټکل شي، ددې اټکل هم شته چې کېدی شي یاسیني یا تر دې دوو دمخه او یا وروسته مقام کې راشي.

**۶ - فریدون مومند** : فریدون مومند سره له دې چې د ټول ننګرهار په کچه مطرح نه دی او په تېر پارلمان کې یې متواتر غیابت د هغه شخصیت او رایو ته سخت زیان اړولی، خو څرنګه چې یو نسبي خان او دروند سړی دی، په خپله ولسوالۍ، سیمه او قوم کې لاهم تر ده څوک محبوب او غښتلی نه شته، نو ځکه یې یو ځل بیا خپل قوم ورته په زغرده رایه ورکړه. فریدون مومند زور او زر دواړه نه دي کارولي او یا هم کېدی شي ډېر کم یې کارولي وي، دده د رایو شمېر له (۷-۸) زرو پورې اټکل شوی. د رایو غټه ساحه یې ګوشتې، لعل پورې او مومندرې ولسوالۍ دي، خو د ننګرهار په نورو سیمو کې یې هم متفرقه ووټ اخیستی دی.

**۷ - ډاکتر حبیب الله زاخېلوال**: ډاکتر حبیب الله زاخېلوال زور نه دی کارولی، خو د پیسو په کارونه کې یې بیا لاسنیوی نه دی کړی. زاخېلوال کېدی شي له (۷۰۰-۷۵۰۰)رایو پورې ګټلې وي. د ووټ غټه ساحه یې روداتو ولسوالۍ ده چې ډېرې رایې ورڅخه اخیستې، د روداتو له ګاونډیو ولسوالیو او نورو سیمو څخه یې هم پاموړ رایه اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸- انجنیر عبدالغفار**: د اسلامي حزب پخواني غښتلی قومندان و، اوس یې له زور څخه چندان کار وانخیست، خو د پیسو په استعمال کې یې صرفه ونه کړه، په بهسودو، ښېوه او دره نور کې یې تر نورو سیمو زیاتې رایې اخیستې دي، خو په جلال اباد ښار او نورو سیمو کې یې هم متفرقه رایه اخیستې ده.

د رایو عمومي شمېر یې له (۲۰۰۰-۷۰۰۰) پورې اټکل کېدلای شي.

**۹- فاروق مېړنی**: د زر و زور خاوند نه دی، خو په خپل قوم (خوګیانو) او د ننګرهار په روښنفکره قشر کې محبوبیت لري، څرنګه چې خوګیانو کې اکثره سایټونه وتړل شول، نو دې کار د مېړني ووټ ته سخت زیان ورسوه، خو دې سره سره یې په خوګیانو کې دومره ووټ واخیست چې د خوګیانیو په کچه په دویم یا درېیم مقام کې راځي. خو دا ووټ دومره زیات نه دی. له جلال اباد ښار او د ننګرهار له بېلابېلو ولسوالیو څخه یې هم ووټ اخیستی دی، د ووټ مجموعي شمېر یې له (۲۰۰۰-۲۵۰۰) پورې اټکل کېدی شي.

**۱۰- ملک نظیر**: ولسي سړی دی، ملک دی، خو وسله هم ګرځوي، پیسې یې هم کارولي خو کمې، په خپله ولسوالۍ (پچیر او اګام) کې یې تر ټولو زیاته رایه ګټلې ده، په خالص فامیلو او د جلال اباد ښار په ځینو نورو سیمو کې یې هم متفرقه رایه اخیستې، د رایو مجموعي شمېر یې کېدی شي له (۵۰۰۰-۲۰۰۰)پورې اټکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۱- پیربخش ګردیوال:** د حاجي پیرمحمد ګردیوال زوی دی، حاجي پیرمحمد په خپله سیمه کې د خاص نفوذ خاوند دی. پیر بخش د شمال تلوالې پخوانی او اوسنی غړی دی، د ننګرهار په نورو سیمو کې هېڅ محبوبیت نه لري، خو په خپله سیمه کې یې د پیسو او زور په استعمال رایه اخیستې، ډېره زیاته پیسه یې کارولې، په (مومندره ګردي غوث) ، لالپوره او ګوشته کې یې ډېره رایه اخیستې، د رایو عمومي شمېر یې له (۵۵۰۰-۲۰۰۰)پورې اټکل کېدی شي.

**۱۲- عبدالظاهر ملک بابا:** په (دره نور) کې په یوې مشهورې او نسبي کورنۍ پورې اړه لري، له حاجي حضرت علي سره یې سخت رقابت دی. په دره نور کې به یې رایې له حاجي حضرت علي سره یا برابرې او یا لږ څه زیاتې یا کمې وي، یو څه رایه یې له ښېوې او جلال اباد ښار څخه هم اخیستې، لږ څه نوره متفرقه رایه هم لري، د رایو مجموعي شمېر یې کېدی شي له (۵۰۰۰-۵۵۰۰) پورې وي. د یادونې وړ ده چې کېدی شي د پیربخش او ملک بابا رایې د مېړني او ملک نظیر له رایو سره هم مساوي شي.

تر دې وروسته کته ګورۍ کې اټکل کېږي چې عبدالرحمن شمس، ډاکتر عصمت شینواري، امان خیري، سید هاشم پولاد ، فضل مولالټون، عزت الله حلیمي، رحمن الله دولتزی، زرخان ثارن، شېربهادر همت، معلم عاشق الله او فاروق ندیم تر پاتې نورو کاندیدانو یوڅه زیاتې رایې اخیستې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب- ښځینه نوماندې:

**۱ - مېرمن ارین یون:** ارین یون په ننګرهار کې د فکري، سیاسي، ټولنیز او اخلاقي نفوذ خاونده ده. د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې هم د ننګرهار خلکو د خپلې استازې په توګه وټاکله او دا ځل یې هم په ننګرهار کې د ښځینه وکیلانو په ډله کې تر ټولو زیاتې رایې اخیستې. ارین یون په ښېوې ولسوالۍ کې تر ډېرو زورورو کاندیدانو زیاتې رایې ګټلې، د جلال اباد ښار، بهسودو، غني خېلو، بټي کوټ، روداتو، کامې، اچین، مومندرې او کوټ کې هم پاموړ رایې اخیستې. له خوګیانو، سره رود، حصارک، پچیر او اګام، لعلپورې، ګوشتې او دره نور څخه یې هم یو شمېر رایې ترلاسه کړې دي. په مجموعي ډول یې د ننګرهار هرې سیمې څخه یې څه نا څه رایې ترلاسه کړې. د ارین یون د رایو شمېر له (۲۰۰۰-۷۰۰۰) پورې اټکلېدی شي. ارین یون کېدی شي د ټول ننګرهار په کچه په اووم یا اتم پوزېشن کې راشي او د ښځینه کاندیدانو په ډله کې په لومړي مقام کې.

**۲ - مېرمن صفیه صدیقي:** صفیه صدیقي د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې د ښځینه وکیلانو په ډله کې تر ټولو زیاتې رایې اخیستې وې، خو هغسې چې د ننګرهار د خلکو هیله وه، دې د هغو غوښتنو ته ځواب ونه شو ویلای، اکثره خلک ترې خوابدي وو، حتی پخوانیو کمپاینرانو یې هم ورسره سخت مخالفت وکړ او نورو کاندیدانو سره ملګري شول. صفیه صدیقي به کامیابه شي، خو د پخوا په انډول په ډېرو کمو رایو. د رایو شمېر یې د (۱۵۰۰-

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۰۰) شاوخوا کې اټکلېدی شي. د ووټ غټه ساحه یې د سره رود ولسوالۍ، جلال اباد ښار و او یو شمېر کمې رایې یې له نورو سیمو څخه هم ترلاسه کړي دي.

**۳- مېرمن فرشته انوري:** په جلال اباد کې یوه نوې څېره ده، چې پخوا یې د محلي ارګانونو اداره کې د سکرترۍ په توګه دنده اجرا کوله. د محلي ارګانونو د لومړي لاس چارواکو په مستقیم کمک ننګرهار کې کاندیده شوه. د جلال اباد ښاروال ورته په څرګنده او ښکاره ډول کمپاین کاوه، دکمپاین په بهیر کې یې خپل زیات عکسونه چاپ کړل او له ټکس پرته یې د ښار په حساسو ځایونو کې نصب کړل، بې کچه پیسې یې ولګولې ځینې کتونکي یې مالي لګښت له (۱۵۰) زرو څخه تر (۲۰۰) زرو امریکایي ډالرو پورې اټکلوي.. اوازه وه چې د محلي ارګانونو د ادارې له خوا پر محلي ښاروالانو او ولسوالانو فشار راوړل شوی چې هر ولسوال باید ورته لږ تر لږه (۲۰۰) رایې برابرې کړي. داسې اټکل و چې فرشته انوري به په ننګرهار کې تر ښځینه کاندیدانو څه چې تر نارینه وو هم جګه رایه یوسي، خو د انتخاباتو پر ورځ عکسونو، فشارونو او لګښتونو هغسې نتیجه ور نه کړه. چې اټکل یې کېده د. په جلال اباد ښار او د خپل خاوند په پلرنۍ سیمه (هسکه مېنه) کې یې یو څه رایې واخیستلې او نورې یې له ځینو نورو سیمو څخه په متفرقه ډول ترلاسه کړې. د ټولو رایو شمېر یې د (۱۸۰۰)پورته اټکلېدی شي. د فرشتې د کامیابۍ چانس شته، خو نه په هغومره رایو چې اټکل یې کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴- سایمه خوګیاڼۍ**: د ولسي جرګې په تېرو انتخاباتو کې یې پاموړ شمېر رایې ګټلې وې، خو ولس ته د پاملرنې پرځای یې خپل شخصي ژوند ته ډېره زیاته توجه وکړه، نو ځکه خو ولس ترې سخت خوابدی و. زیات اټکل و چې سایمه خوګیاڼۍ به په مطلق ډول ناکامه شي، خو خاوند یې ورته یو ځل بیا مټې ورکړې او په خپله پلرنۍ سیمه (کوټ) ولسوالۍ کې یې ورته په ډېر مهارت په یوه مرکز کې نږدې (۵-۶) سوه رایې ور برابرې کړې. ځینې رایې له خوګیاڼو او یو شمېر نورې یې له جلال اباد ښار څخه ترلاسه کړې او یو کم شمېر نورې متفرقه رایې یې له نورو سیمو. په دې وجه اوس د سایمې خوګیاڼۍ د بیا کامیابېدو اټکل هم کېدلای شي.

**۵- مېرمن نجیبه ساپۍ**: د ننګرهار د ښېوې ولسوالۍ اوسېدونکې ده، یوه درنه او باعزته مېرمن ښکاري، کمپاین یې ډېر مناسب و، باعزته تصویرونه یې چاپ کړي وو، یوې درنې او روښنفکره کورنۍ پورې اړه لري، د خپلې سیمې (نوجو) په نرینه او ښځینه سنټرونو کې یې پاموړ شمېر رایې اخیستې دي. په جلال اباد ښار او ځینو نورو سیمو کې یې هم متفرقه رایې اخیستې، د ټولو رایو شمېر یې د همدې (۱۲۰۰-۱۵۰۰) حدودو کې اټکلېدی شي.

**۶- مېرمن لیلما حکمي**: مېرمن حکمي د ننګرهار د سره رود اوسېدونکې ده، په ننګرهار کې نوې څېره ده، دومره شهرت نه لري، په کمپاین کې هم ډېره ښه ونه ځلېده، د ننګرهار د خلکو د وکالت لپاره ولاړه ده، خو په پښتو سمې خبرې نه شي کولای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمپاین یې د خپل خاوند له خوا، چې د کلیو د پراختیا رئیس دی، د نسب او نفوذ خاوند دی، پرمخ وړل کېده، د ملي پیوستون د ځینو شوراګانو په مرسته یې ځینې رایې ترلاسه کړي دي. کېدی شي د ټولو رایو شمېر تر (۱۲۰۰-۱۵۰۰) واوړي.

له اړین یون پرته چې د ښځو لومړنی سیټ یې خپل ځان ته خوندي کړی، نور پاتې درې سیټونه: صفیې صدیقي، فرشتې انوري، سایمې خوګیانۍ، نجیبې ساپۍ او لیلما حکمي ته پاتې دي، له دې پنځو مېرمنو څخه به درې تنه نور پاتې درې سیټونه راخپلوي. تر دې پورته مېرمنو وروسته نادره ولي، نورزیه (پخوانۍ نورزیه اتمر)، ډاکتره رمزیه محمدي او حسیبه سادات هغه مېرمنې دي چې ویل کېږي تر نورو پاتې مېرمنو به یې رایې لږ څه زیاتې وي، خو د بریالیتوب چانس یې کم ښکاري.

که د انتخاباتو د کمیسیون او یا د شکایتونو کمیسیون له خوا په ننګرهار کې د کوم یو یا څو کاندیدانو رایې قرنتین شي او یا له محاسبې ووځي، نو په هغه حالت کې کېدی شي پورتنی اټکل بله بڼه خپله کړي، خو که رایې لکه څنګه چې کارېدلي همداسې وشمېرل شي، نو په سلو کې (۷۰) اټکل کېږي چې پورتنی اټکل له واقعیت سره سمون وخوري. ددې امکان هم شته چې د پورتنیو کاندیدانو د رایو په یاد شمېر کې څه ناڅه بدلون راشي خو دا بدلون به هم متناسب وي، د یو،دوه یا درېو تنو په تغیر سره کېدی شي بریالي کسان به همدا وي چې پورته یې یادونه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانه او د هالبروک تعبیر

دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال هغه مهال شوې وه چې (ریچرد هالبروک) د پښتنو په اړه یو ناسم نظر څرګند کړ، دا لیکنه په کابل کې د امریکا سفارت کلتوري برخې ته د برېښنا لیک له لارې ورولېږل شوه. سفارت ډېر ژر د امریکا د حکومت رسمي نظر څرګند کړ، د (هالبروک) خبرې یې د هغه شخصي نظر وباله، نه د امریکا د حکومت رسمي نظر

د افغانستان لپاره په امریکایي سیاستوالو کې (هالبروک) هغه څېره ده، چې د خپل ماموریت له پیله یې له یوې عقدې او کینې سره کار پیل کړ. هالبروک او د هغه بل ملګری (ګالبریټ) چې په ځینو هېوادونو کې د هغو د طبعي سیاسي جوړښت د بدلولو قهرجنه تجربه لري، غوښتل یې په افغانستان کې هم دا تجربه تکرار کړي. په افغانستان کې د دوی هڅې له څو کلونو راهیسې روانې وې، خو څرکونه یې هغه وخت لا پسې ولګېدل چې د جمهوري ریاست ټاکنې پیل شوې. هالبروک او ګالبریټ به په ساعتونو ساعتونو له (ډاکتر عبدالله عبدالله) سره پر مجلسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرول او لکه د يوې کورنۍ د غړو په څېر به يې يو بل سره مجلسونه کول. هالبروک او ګالبريټ تر دې دمخه په يوګوسلاويا او عراق کې د بحرانونو، قومي او مذهبي شخړو لامل ګرځېدلي وو او ګالبريټ خو د عراق د اختتام لپاره لومړنۍ ذهني نقشه هم انځور کړې وه. هغه کتاب (the end of Iraq) (د عراق خاتمه) چې د ګالبريټ په قلم ليکل شوی، پر ټولو ملتپالو عراقيانو د ناسور ټپ په شان لګېږي، په همدې خاطر خو يې په عراق کې دده د ماموريت کمپله ټوله کړه. ګالبريټ څو موده دمخه د بي بي سي د نړيوال سرويس په يوه مناظره کې چې په (دوحه) کې جوړه شوې وه او په ژوندۍ بڼه له بي بي سي ټلويزيون څخه خپربدله، يو ځل بيا څرګنده کړه؛ تر څو چې په افغانستان کې د نظام بڼه بدله نه شي، هلته ثبات نه راځي، د ده په نظر د نظام د بڼې بدلون هغه مانا ورکوي چې په ډېرې اسانۍ او مهارت سره د واک طبعي جوړښتونه خپل واک مصنوعي سرچينو ته پرېږدي، ياني د وسايلو او امکاناتو ماهرانه استعمال ددې سبب کېږي، چې سياسي واک په اسانۍ سره له اکثريت څخه اقليت ته ولېږدي، هغه هم په داسې شرايطو کې چې په افغانستان کې د اقليتونو د حقوقو د ساتنې په پلمه د کورنيو او بهرنيو مدعيانو غوا لنګه ده. هالبروک د جمهوري رياست د ټاکنو پر دويمه ورځ چې د رايې شمېرنې اساسي بهير لا پيل شوی نه و، د افغانستان د جمهوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریاست په ماڼۍ کې پر کرزي نیوکه وکړه، چې په پښتون مېشتو سیمو کې درغلي شوې ده. ده په ځانګړي ډول (ننګرهار) ته ګوته ونیوله، دده په نظر په ننګرهار کې اصلاً دومره نفوس نه شته، نو ولې دومره خلک رایه واچوي؟ هالبروک هغه وخت د ډاکتر عبدالله، نظار شورا او نورو هېواد دښمنو عناصرو تر تبلیغاتو لاندې دومره کوچنی شوی و، چې اصلاً د افغانستان لوی او واړه ولایتونه، ګڼ مېشتې سیمې او نور ټول یې له یاده وتي وو، ما چې هغه وخت د هالبروک منطق ته وکتل چې ولې یو لوی او ګڼ مېشته ولایت په کم نفوسه ولایت کې حسابوي، هغه وخت مې اندېښنه نوره هم زیاته شوه، چې نه والله ددې سړي په ذهن کې نورې خبرې دي. ګالبریټ په خپله مخه لاړ، خو هالبروک لا بیا هم د افغانستان لپاره په امریکایي ماموریت کې د واک و ځواک څښتن دی. ویل کېږي چې د جمهوري ریاست تر ټاکنو دمخه پر ښاغلي کرزي د هالبروک او نورو امریکایي سیاستوالو یو شرط دا و چې یو به (لویه جرګه) نه راغواړي او بل به له طالبانو سره د سولې خبرې نه کوي.

له رښتینې لویې جرګې څخه د دوی وېره دا وه چې کېدی شي دا جرګه د امریکا د پوځي شتوالي د قانونیت خبره راولاړه کړي او له طالبانو سره د خبرو د پیلېدو وېره دا وه چې کېدی شي په دې کار سره سوله راشي، بیا به د دوی اوږدمهالي پاتې کېدو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلمه پاتې نه شي او هغه ستراتیژیک هدفونه چې دوی یې لري، هغو ته به زیان ورسېږي. خیر په هر ترتیب، سره له دې چې نه پر دې وخت د رښتینې لویې جرګې د جوړېدو امکان و او نه هم په داسې شرایطو کې چې د دولت ټول حساس امنیتي ارګانونه د شمالټلوالې په واک کې دي، له طالبانو سره د رښتینو خبرو پیلول عملي بڼه لري. شمالټلواله په هېڅ قیمت دېته حاضره نه ده چې د سولې او عدالت په بدل کې خپل نامشروع واک له لاسه ورکړي، خو په هر ډول امریکایانو وېره احساسوله.

د ښاغلي هالبروک او ښاغلي کرزي ترمنځ نورې ډېرې داسې ترخې خبرې تبادله شوې چې لا تر اوسه د رسنیو مخ ته نه دي راوتلې، خو په هر ډول له دې ټولو خبرو څخه داسې استنباط کېږي، چې امریکا غواړي په سیمه کې د خپلو هدفونو د بري تر وخته پاتې شي او تر هغه وخته د جګړې غځول د دوی یوه اړتیا ده. دا چې لر او بر پښتون ولې د دې جګړې قرباني دی، د دې یو علت دا دی چې د روسانو تر یرغل وروسته د پښتنو سیاسي او قومي اډانه کمزورې شوه، دا قوم د سیمې او نړۍ په کچه داسې کوم دوست نه لري چې د دوی اواز نړۍ ته پورته کړي، سیاسي، علمي کدرونه یې هم کم دي، نړیوال روابط یې هم کمزوري دي، ټول ګاونډي هېوادونه یې دښمنان دي، جګړې یې اقتصاد ډېر کمزوری کړی، له پوهې او عصري زده کړې هم محروم پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي، نو ځکه خو هر کورني او بهرني يرغلګر، کس او ناکس ته ددې لاره اواره ده چې پر پښتنو بلوسه وکړي.

د همدې تسلسل په لړ کې ښاغلي هالبروک يو ځل بيا څه نوي زهر وشيندل د پښتنو په باب يې يو ناوړه تعبير وړاندې کړ او يو ځل بيا يې خپله پټه کينه څرګنده کړه. ښاغلي هالبروک د خپلې کينې په څرګندولو سره دومره مخې ته لاړ چې ان روسانو هم د خپل لسکلن اشغال په کلونو کې د پښتنو پر وړاندې دومره سپين سترګي نه وه کړې او دومره ستغ الفاظ يې نه وو کارولي. هغوی سره له دې چې د پښتنو نږدې دوه مليونه کورونه ړنګ، په مليونونو يې مهاجرت ته اړ او په مليونونو نور يې شهيدان کړل، خو بيا يې هم هېڅکله دومره په زغرده خپله کينه د رسنيو پرمخ نه وه څرګنده کړې. د (ګلوبل پوسټ) د راپور له مخې ښاغلي هالبروک د مارچ پر ۵ نېټه (هاروارډ فوروم) ته په خپله وينا کې څرګنده کړې چې: ((امريکا د افغانستان د سولې او ملي پخلاينې په پروسه کې شامله نه ده، طالبان د پښتني ټولنې زېږنده دي او په هره کورنۍ کې داسې څوک شته چې له طالبانو سره تړاو لري، افغان ولسمشر حامد کرزی هم پښتون دی، ځکه خو نوموړی غواړي له طالبانو سره سوله وکړي.))

په پورته څرګندونو کې هالبروک د سولې بهير ردوي، جګړې ته ترجيح ورکوي، پښتانه طالبان بولي او لازياتوي چې: ((طالبان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښتانه لکه د غالیو د تارونو په شان یو بل سره اوبدل شوي دي...» او کرزی څکه له طالبانو سره د سولې بهیر تعقیبوي چې ګني پښتون دی. دلته غواړم ښاغلي هالبروک ته د افغاني په تېره بیا د پښتني ټولنې د طبعي جوړښت په باب څو ټکي څرګند کړم: لومړی دا چې پښتانه اساساً افراطي خلک نه دي، غېږه یې پراخه او اوسېله یې د امریکا تر دنګو ماڼیو هم لوړه ده. افراطیت، اخوانیزم او طالبیزم ستاسو د سیاستونو نتیجه وه، چې دلته خواره شول. اخوانیت او افراطیت مو د روسانو پر ضد د جګړې لپاره د یوې وسیلې په توګه پیاوړی کړ او طالبانیزم مو د خپلو اقتصادي ګټو په خاطر له سعودي عربستان او پاکستان سره په تفاهم کې رامنځته کړ او په دواړو حرکتونو مو زموږ د ټولنې طبعي جوړښت او مسیر ته زیان ورسوه؛ د واک طبعي سرچینې مو زیانمنې او تصنعي سرچینې مو رامنځته کړې. دا چې ستاسو خپله رامنځته کړې پدیده ټول عمر ستاسو په ګټه نه تمامېږي، دې کې زموږ د مظلوم ملت ګناه نه شته، دا ستاسو خپله اشتباه ده. اسامه او نور ستاسو د حرکتونو په نتیجه کې پر افغانستان رانازل شوي وو، کله چې پښتنو د همدې جهادي تنظیمونو تر سیوري لاندې د روسانو پر وړاندې جګړه کوله، نو د اتلولۍ فلمونه به یې تاسې په سینماګانو کې ننداري ته وړاندې کول، مهرباني وکړه خپل سینمایي ارشیف ته مراجعه وکړه. اسامه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو په لاربښوونه د روس پر ضد جګړه کې د يو لوبغاړي په توګه مطرح شو. پښتون بېچاره خو د جګړې په سيند کې ډوب و، هغه ميډيا نه لرله چې خپلې اتلولي وځلوي، همدا تاسې وئ چې د هرې پردې رنګ ته مو بل رنګ ورکولای شو. د روس د تېل شوې جګړې داستان چې ختم شو، نو تاسې د شوروي له احتمالي يرغله بې غمه او پر ارام خوب ويده شوئ، خو زموږ ملت ته مو ددې مجال ور نه کړ چې خپل زخمونه بېرته وګنډي او خپل شلېدلی ګرېوان راټول کړي، بيا مو د جهاد په نامه (اوه سري) او (اته سري) ښاماران پرې رانازل کړل، هره ورځ به يې ددې وطن په سلګونو پېغلې او ځوانان تر ستوني تېرول. بيا چې کله د (يونيکال) او (بريډاس) کمپنيو سيالۍ پيل شوې، په سپين لباس کې مو تور ذهنيت بيا پر دې ټولنه واکمن کړ، خو کله چې ستاسو په اند يې زيان تر تاسو در ورسېد، نو بيا دربانديې ځمکه سره شوه، پرته له دې چې لږ له تعقل او زغم څخه کار واخلئ د هوا تر څپو مو هم تېز پر افغانستان راودانګل. دلته مو بيا هغه مړه او نيم ژواندي لړمان، ماران او ښاماران بيا راژوندي کړل چې تر دې دمه لا طالبانو دا ولس ترې بېغمه کړی و، ټول په ځمځو کې ننوتي وو. تاسو بيا هغه راژوندي کړل، څه مو د الوتکو تر وزرونو لاندې او څه مو د خپلو ټانکونو پر سرونو باندې تر کابله را ورسول. په (بن) کې مو يو تصنعي کنفرانس چې زموږ د ولس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوپ اکثریت اکثره قاتلین په کې ناست وو، جوړ او د سیاسي واک اساسي کیلي مو د هغو په لاس ورکړه. هغوی ته مو وویل چې موږ مو تر شا ولاړ یو، واک چلوئ، د خپلو پیسو سیلاو مو پرې را خور کړ، خو دوی ددې پرځای چې په دې پیسو زموږ د ولس زخمونه درمل کړي، خپل ځانونه یې پرې وپړسول؛ د ولسواکۍ په نامه یې دکانونه او مارکیټونه خلاص کړل، نوې ډلې ټپلې یې جوړې کړې، هر چا ببرته خپلې هغه پخوانۍ یارانې راتازه کړې؛ د روس ګوډاګیان د روس، د ایران د ایران او نور د نورو خواوو ته لاړل. هغه وخت دوی ټولو په پټه ستاسو پر ساده ګۍ خندل او په هره خصوصي غونډه کې به یې ویل: «یاره موږ به فکر کاوه چې دا امریکایان به ډېر هوښیار وي دا خو ډېر ساده خلک دي، پیسې د دوی دي او کارونه زموږ خپل دي...» خپلو اصلي بادارانو به یې ویل: «ښه طلایي چانس دی؛ امریکا په افغانستان کې زموږ د هدفونو د پلي کولو لپاره پیسې لګوي...» تاسې کله هم دا موضوع درک کړې چې په افغانستان کې تاسې د ځمکې پرمخ کار کوئ، خو ایران او روسیه تر ځمکې لاندې؟ ایا دا دې کله درک کړې چې د افغانستان په دولتي ادارو په تېره بیا په کابل کې له هرو پنځو کسانو څخه یو یا دوه یې ایران ته ژمن دي؟ ایا ته پر دې پوهېږې چې ستاسو د پیسو په زور په اصطلاح ازاده افغاني میډیا کې ایراني مفکوره ځلېږي؟ تا څخه یې ذهن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره اخیستی چې پر دې اصلي خطرونو نه پوهېږي، خو همدا وايي چې: ((د هر پښتون په کور کې يو طالب شته)) او بل کرزی ولې يادوې؟ ته نه پوهېږې چې هغه څومره واک لري؟ او پښتنو ته يې څه ورکړي؟ د پښتنو له زړه خو کرزي ته وينې څاخي، د کرزي خو يوازې په انتخاباتو کې پښتانه يادېږي، د واک پر وخت يې نه يادېږي، تاسې خو تل داسې کړي چې د کرزي پر وړاندې داسې يو څوک ودروئ چې زموږ ولس له مجبوريت او ناچارۍ څخه کرزي ته رايه ورکړي. ستاسو په خپلو رسنيو کې اعلان وکړ چې د ملي پوځ په سلو کې (۲) عسکر پښتانه دي، څه فکر کوئ هغه پوځ چې په سلو کې يې (۲) عسکر پښتانه وي، نو چې په ټيټه کچه دا حال وي په پورته پوړيو کې به څه حال وي؟ ايا پښتون چې په خپل هېواد کې له دغسې يو محروميت سره مخامخ وي، څه فکر کوئ چې دا حالت به د نفرت کوم پړاو ته رسېږي؟ له ښاغلي هالبروک څخه مو خو په دې ګيله نه ده چې ولې مو وژني، ولې مو کورونه بمباروي، ولې مو د طالب په نامه ګوانتانامو ته بيايي، ځکه موږ خو هسې هم له دې ډول غمونو او تراژيديو سره عادت يو؛ يتيم هسې هم په ژړا پوخ وي، له روسانو څخه مو کله ګيله وکړه چې اوس به يې د (هالبروک) په شان امريکايانو څخه وکړو، خو له ده ښاغلي څخه مو په دې ګيله ده؛ هغه څوک چې زما نه دي نو ولې يې زما په نامه يادوې او يا ولې ما د هغو په نامه يادوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان د پښتنو په سیمه کې ښوونځي سېزي، پلونه نړوي، ښوونکي وژني او پوهنځي له منځه وړي او پښتانه له سلګونو محرومیتونو سره مخامخوي، د ژوند ټول اساسي امکانات ورځخه واخلي، خو تاسې بیا هغه د پښتنو استازي بولئ او یا د پښتنې ټولنې زېږنده پدیده. ایا که امریکا کې کوم ګوند، ډله یا د سرزورو یو ګروپ ستاسو ښوونځی یا پوهنځی او درملځی در وسېزي او مور بیا په نړیواله کچه هغه د امریکایانو په نامه یاد کړو چې دا د امریکایانو استازي کوي، نو تاته به څومره زور درکړي؟

جمهور رئیس کرزی ولې یادوې؟ یو زیات شمېر پښتانه په دې نظر دي چې د ده په واکمنۍ کې خو پښتانه دومره وځپل شول چې د چنګېزخان په عصر کې هم نه دي ځپل شوي، نو د هغه دا سمبولیک واک بیا ولې د پښتون په نامه محاسبه کوې؟ یانې تاسو په خپل هېواد کې د کوم داسې انتخابي ولسمشر چې د خپلې واکمنۍ پر مهال یې د هغو سیمو یا ښارونو خلک چې تر ټولو زیاته رایه یې ولسمشر ته ورکړې وي، خو تر ټولو زیات هغوی په حکومت کې له خپلو حقوقو محروم شوي وي، بېلګه لرئ؟ پوره باور دی چې نه یې لرئ، نو چې نه یې لرئ دا ډول ولسمشران هم باید د پښتنو د استحقاق په جم کې محاسبه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی (هالبروک)! بله خبره: تاسو چې وایئ: ((د هر پښتون په کور کې یو طالب دی))، نو ایا ستا دا نیت دی، خو دا مانا نه ورکوي جګړه تر وروستي افغانه پورې وغځېږي؟ ځکه که ستا په وینا؛ په هره پښتنه کورنۍ کې یو طالب وي، نو پښتانه خو اوس د ځمکې پر مخ تر شپېتو ملیونو تنو پورې رسېږي او تاته خو به زموږ کلتور معلوم وي، چې د کورنۍ هر غړی په بل سر ورکوي، نو بیا خو ته یوازې له طالبانو سره نه جنګېږې، بلکې شپېتو ملیونو پښتنو سره جنګېږې، ایا تاسو دومره زورور یاست او یا دې له لوی خدای(ج) څخه کوم فرمان راوړی، چې دا شپېته ملیونه خلک به ټول وژنئ، که ددې نیت لرئ نو بیا خو داسې عام وژنه نه هېټلر کړې، نه چنګېز او نه د نړۍ پرمخ کوم بل چا. نو بیا به دې ته هم د بشري حقونو د تامین او دیموکراسۍ الفاظ کاروې؟

ښاغلی هالبروک! تاسې اوس پر همغه خطرناکه لار روان یاست چې تر تاسو شل کاله مخکې روسان پرې روان وو. هغوی هم دلته له اکثریت پښتنو سره دښمني پیل کړه، کورونه او کلي یې ور وران کړل او تاسو هم همغه کارونه پیل کړي، هغوی هم یوه محدوده ډله او لرکي واک ته ورسول او تاسې هم همغه مسیر تعقیبوئ، د هغوی نتیجه خو هغه شوه چې پښتانه یې هم تباه کړل او خپله امپراتوري یې هم رنګه کړه، تاسې هم کېدی شي پر همغه برخلیک اخته شئ! هیله ده په افغانستان کې د شوروي لښکرو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو قطعاتو د مشر ستر جنرال الکساندر مایوروف لیکلی اثر: ((په افغانستان کې ربښتیا څه تېرېدل؟)) په دقت سره ولولئ، هغه لیکلي وو: (( د افغانستان جګړې زموږ لپاره د هغه خښ شوي ماین حیثیت درلود، چې یوې لویې امپراتورۍ پرې پښه کېښوده او په پای کې دړې وړې شوه.)) نو مخکې تر دې چې ستاسو امپراتوري د شوروي امپراتورۍ پر برخلیک اخته شي، ښه به وي چې په خپلو خبرو، ویناوو او عمل کې پوره دقت وکړئ، د یوه ملت د تباهۍ اسباب مه برابروئ چې ستاسو د تباهۍ اسباب برابر نه شي. مه پښتنو ته غمونه کره او مه خپل هېواد ته!

کوهي مه کنه د بل سړي په لار کې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
رحمان بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان او عربي متحده امارات
# ګډې وجې او مشترکې ګټې

دا لیکنه پر (۱۳۸۵ل) کال شوې وه، هغه وخت مې په کابل کې د اماراتو سفارت اړوندو کارکوونکو ته ورولېږله، خو چا پرې سر ونه ګراوه.

افغانستان او عربي متحده امارات هغه دوه اسلامي هېوادونه دي چې د ګډ کار، تفاهم او ګډو ګټو ډېر زيات مشترک ټکي لري. که د دواړو هېوادونو د سیاستوالو له خوا یوه پراخه، دقیقه او هر اړخیزه ستراتیژي جوړه شي، نه یوازې به ددې دواړو هېوادونو ملي ګټې تامین او غښتلې شي، بلکې د منطقې سیاسي ثبات ته به هم ډېره ګټه ورسېږي. څرنګه چې د افغانستان په دولت کې له ګاونډیو او اسلامي هېوادونو سره د مناسب چلند په باب یوه دقیقه او ملي ستراتیژي نه شته نو ځکه لکه څنګه چې لازمه ده، د عربي هېوادونو په تېره بیا د عربي متحده اماراتو له سیاسي، مذهبي او اقتصادي قوت څخه د افغانستان په بیا رغونه او پرمختګ کې لکه څنګه چې لازمه وه، ډېره ګټه نه ده پورته شوې. ددې دواړو هېوادونو ترمنځ ډېر مشترک ټکي شته چې که پاملرنه ورته وشي دواړو هېوادونو ته یې ګټه او خیر رسېدلای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. دلته به د ځينو هغو ټکو چې د دواړو هېوادونو ملي ګټو ته زيان پېښوي او هم ځينو هغو ټکو ته چې دواړه هېوادونه سره وصلوي په لنډيز سره نغوته وکړو:

**۱- په سيمه کې د ايران ناکنتروله قوت:** ايران داسې يو هېواد دی چې اوس په سيمه کې د سياسي، اقتصادي او پوځي قوت په توګه مطرح کېږي. د ايران ناکنتروله قوت طبعاً نه يوازې غربي نړۍ، بلکې د ايران ګاونډيو هېوادونو له هغې جملې څخه افغانستان او عربي متحده اماراتو ته غټ ګواښ دی. ايران غواړي د سيمې ګاونډيو هېوادونو ته د شيعه مذهب، فارسي ژبې او ايراني فرهنګ له لارې نفوذ وکړي، افغانستان کې دوی اوس فوق العاده، مذهبي، کلتوري، سياسي او پوځي مداخله کوي، عربي هېوادونه هم په اينده کې له دې مداخلې څخه خوندي پاتې کېدی نه شي، خصوصاً له مذهبي مداخلې څخه، نو که افغانستان او عربي نړۍ په تېره بيا د عربي متحده ايالاتو سياستوال په دې برخه کې يوه اوږد مهالې ستراتيژي جوړه کړي نو د ايران د مداخلې او مضر قوت په مخنيوي کې به مهم رول ولوبوي. د افغانستان او عربي متحده اماراتو لپاره يو ښه طلايي چانس دادی چې اوس د نړۍ اکثره ځواکمن هېوادونه، په تېره بيا غربي نړۍ د ايران مخالفان دي، د هغوی له ملاتړ او پاملرنې څخه هم په دې برخه کې ښه مرسته اخيستل کېدلای شي.

**۲- د پاکستان پوځي قوت او د پراختيا غوښتنې سياست:** يو شمېر عربي هېوادونه، پاکستان سره د " اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوت" له مخې ښه مناسبات لري او پاکستان هغوی ته ځان داسې معرفي کوي چې د اسلامي نړۍ يو قوت او طاقت دی. خو پاکستان د عربي نړۍ له اسلامي روحيې څخه د خپل ځان د تقويې او ګاونډيو هېوادونو کې د پراختيا غوښتنې سياست د پرمخبيولو لپاره کار اخلي. دوی د افغانستان تضعيف غواړي او بيا له دې لارې د منځنۍ اسيا سرچينو ته ځان رسوي. پاکستان په خپله اينده ستراتيژۍ کې دا هم غواړي چې د چين په مرسته " ګوادر بندر" جوړ کړي او دا بندر د دوبۍ په شان د يوه ازاد بازار او مارکيټ شکل غوره کړي او په دې ډول د منځنۍ او سويلي اسيا اقتصادي مارکيټ راخپل او کنترول کړي. دا کار به اينده کې ددې سبب شي چې له پاکستان څخه يو غټ اقتصادي قوت جوړ شي او له دې قوت څخه به د افغانستان د کمزورۍ لپاره لازياته ګټه پورته کړي. د " ګوادر بندر" نه يوازې د پاکستان د اقتصادي تقويې سبب ګرځي، بلکې ددې عامل هم ګرځي چې د (دوبۍ) او د اماراتو د نورو بندرونو اقتصادي ارزښت کمزوری کړي او په اوږده مهال کې هغو ته ډېر زيان واړوي. نو پاکستان او ايران دواړه افغانستان او عربي متحده اماراتو ته په اوږده موده کې پراته خطرونه دي چې مخکې تر مخکې ددې خطرونو علاج په کار دی.

## ۳- د افغانستان او عربي متحده اماراتو مذهبي پيوستون:

افغانستان هغه سني مذهبه مسلمان هېواد دی چې له مذهبي پلوه له عربي نړۍ او عربي متحده اماراتو سره پيوستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. که څه هم ایران غواړي په افغانستان کې د شیعه اقلیت د تقویې له لارې د افغانستان د سني مذهبه ټولنې رنګ بدل کړي او له مذهب نه د یوې سیاسي وسیلې او د خپلې پراختیا غوښتنې سیاست د یوې الې په توګه ګټه پورته کړي، خو اوس هم د افغانستان څرګند اکثریت له عربي نړۍ او عربي متحده اماراتو سره خپل مذهبي او پخوانی دودیز پیوستون غواړي او عربي نړۍ د خپلو مذهبي لارښوونو لپاره د تقلید مرجع ګڼي. سږ کال په کابل کې په دوو بیلابیلو ورځو کې د شیعه او سني مذهب پر بنسټ دلوی اختر او نورو ورځو لمانځل د ایران د مذهبي مداخلې او پرمختګ بل غټ ثبوت دی. عربي متحده امارات چې اوس په عربي، اسلامي او ټوله نړۍ کې د ښه لوړ موقف او ښه اقتصاد خاوند هېواد دی او له سیاسي پلوه با اهمیته ملک ګڼل کېږي، له افغانانو سره په افغانستان کې د ایران د مذهبي – سیاسي نفوذ د مخنیوي په لاره کې ډېره مرسته او هم نورې نړۍ ته د دپلوماتیکو چینلونو له لارې د ایران دمداخلې او د افغانانو د مظلومیت حالت ور په ګوته کولای شي.

۴- ژبني او کلتوري روابط: افغانستان او د عربي متحده امارات او ټوله عربي نړۍ پر مذهبي پیوستون سربېره ژبني او کلتوري روابط هم لري. افغانستان کې د نږدې ټولو مقدسو مذهبي ځایونو، شخصیتونو او مسجدونو نومونه، دهمغو نومیالیو دي چې عربي نړۍ پورې اړه لري او د اسلام د مقدس دین په خپراوي کې یې ډېر زیات زیار ګاللی دی، عربي ژبه نه یوازې د ټولې اسلامي نړۍ د پیوستون ژبه ده، د افغانانو لومړۍ مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه هم ده او د افغانانو هر کور او کلي ته يې لاره پيدا کړې. ايران غواړي په افغانستان کې د اکثريت ژبې ( پښتو) او د اسلامي نړۍ د ژبې (عربي) دواړو پر ضد هڅې پيل کړي، په مذهبي برخه کې يې د لسګونو مدرسو ترڅنګ د لسګونو مليونو ډالرو په لګښت د شيخ محمداصف محسني تر چتر لاندې د " جامعه خاتم النبين" په نامه يوه لويه مدرسه جوړه کړه او د خپلې فارسي ژبې د پراختيا لپاره پر لسګونو اخبارونو سربېره، د يو شمېر تلويزيونو له لارې غواړي خپله ايرانۍ ترمينالوژي او ايراني فارسي په ټول افغانستان کې مروجه کړي.

ايران هر کال په لسګونو مليونه ډالره د خپل کلتوري سياست د پراختيا او تطبيق لپاره په افغانستان کې مصرفوي. نو داسې يو هېواد چې په نورو اسلامي هېوادونو کې د ناوړه مداخلې او پراختيا غوښتنې نيت لري، د هغه پر وړاندې د ګډې مبارزې ترسره کول پر ټولو اسلامي هېوادونو په تېره بيا پر افغانستان او متحده عرب اماراتو لازم دي.

## ۵- د افغانستان په دولت او سياسي ډلو کې د عربي نړۍ مخالفين:

د افغانستان په دولت کې او تر دولته بهر يو شمېر داسې اشخاص، کړۍ او ګروپونه شته چې هغه هم د افغانستان د ملي ګټو، هم د هېواد له اکثريت پښتنو او هم له عربي نړۍ سره سخت مخالفت لري. دا کسان اکثره د ايران، روسيې او ځينو نورو ګاونډيو هېوادونو له خوا تمويلېږي، او هغوی يې سياسي او اقتصادي ملاتړ کوي، مرکزي دولت دېته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږدي چې پر ټول هېواد واکمن شي، د افغانستان بهرنی سیاست د ایران، روسیې او ځینو نورو له خوا څارل کېږي او نه غواړي چې عربي نړۍ سره د افغانستان روابط ډېر ښه او پیاوړي شي. ایران په دې برخه کې دومره بریالی شوی چې د خپلو افغاني شبکو، ګروپونو یا تنظیمونو پواسطه یې غربي نړۍ هم د اکثریت پښتنو او عربي نړۍ پرضد له ځان سره ملګرې کړې ده. دوی داسې یوه فضا رامنځته کړې او غربي نړۍ ته یې هم دا تصور ورکړی چې هر (پښتون) یا هر (عرب) مانا (طالب) او یا (القاعده) دی. د تروریزم له دغې ناوړه ټاپې څخه اوس تر ډېره حده ایران او په هغه پورې ځینې تړلې افغانې ډلې ګټې پورته کوي، افغانستان او عربي متحده امارات باید داسې مشترکې هلې ځلې وکړي چې هم د غربي نړۍ ذهنیت بدل کړي او هم هغه ناوړه ګټه چې ایران یې له دې حالت څخه اخلي، ددې ناوړه ګټو مخنیوی وکړي.

که په افغانستان کې د ایران او روسیې د پټو او ښکاره مداخلو د مخنیوي لپاره د افغانستان دولت د خپلو ملي ګټو او عربي هېوادونه، په تېره بیا عربي متحده امارات د خپلو ملي ګټو پر بنسټ چې دا دواړه له یوې واحدې مرجعې څخه تهدیدیږي، د یوې اوږدې، ژورې او واقعي ستراتیژۍ د جوړولو له لارې هڅې ونه کړي، نو نه یوازې به افغانستان د ایران تر سخت سیاست، کلتوري او مذهبي نفوذ لاندې راشي، بلکې عربي نړۍ ته به هم سخت ګواښونه او خطرونه پېښ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ دلته څو مهمو ټکو ته اشاره وکړه چې دواړو هېوادونو ته د ورپېښو خطرونو پر بنسټ په ګوته شوي دي ، د افغانستان او عربي متحده اماراتو ترمنځ د ښو همکاريو او نېکو روابطو ډېرې خواوې شته چې کېدی شي د عمومي ستراتيژۍ ديوې برخې په توګه نورو جزئياتو ته هم اشاره وشي، خو دلته يوازې څو مهمو ټکو ته اشاره وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د طالبانو له مشرتابه څخه څو هیلې

دا لیکنه پر (۱۳۸۸ل) کال هغه مهال وشوه چې یو پخوانی تېټ پوړی طالب چارواکی له زابل څخه کابل ته راغلی و، ما سره یې وکتل، شونډې یې وچې، رنګ یې الوتی او تور ژېړي نیولی و، سخت ناروغه و، طالبي یې پرې ایښې وه، په خپل کور کې اوسېده، ما ترې د پخوانیو لوړ پوړو چارواکو پوښتنه وکړه، هغه وویل، اکثره یې ژوندي دي، زیاتره یې په کوټه کې دولتي خو له داخل سره هم تماس لري، که کوم پیغام لرې د بېلابېلو اشخاصو په لاس یې ورسولای شم. ما دغه لیک ورته ورکړ چې متن یې دلته کټ مټ وړاندې کوم.

د طالبانو مشرانو ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده افغانستان له یو لړ داسې مشکلاتو سره مخامخ دی، چې ټول افغانان باید د هغو په حل کې یو بل ته لاسونه سره ورکړي. افغانان که په هر نظر وي خو چې د لویو مشکلاتو په حل کې یو بل سره همکاري ونه کړي، هېواد یې له لاورانۍ او ویجاړۍ سره مخامخېږي. ځینې مشکلات داسې دي چې طالبان او د هغو مشران یې په حل کې مرسته کولای شي، نو ځکه خو د طالبانو او د هغو د مشرانو پام دې لاندې مشکلاتو ته را اړوو او هیله ورڅخه کوو، چې د هغوی په حل کې خپل اسلامي او ملي مسولیت ادا کړي:

۱- **د قومي مشرانو وژنه:** د افغانستان په یو شمېر سیمو کې چې هلته طالبان هم حضور لري، د قومي مشرانو د وژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیستماتیکه لري، روانه ده، که چېرې دا کار د طالبانو له خوا کېږي، نو د طالبانو له مشرانو څخه هیله کوو چې دا لړۍ ژر تر ژره بنده کړي، ځکه د قومي مشرانو وژنه هېواد له سخت بحران سره مخامخوي او که چېرې د طالبانو په نامه د نورو کړیو له خوا دا ډول عمل ترسره کېږي، نو طالبان او د طالبانو مشران یې باید مخنیوی وکړي او په دې اړه دې خپل نظر په ډاګه څرګند کړي.

**۲- د ښوونځیو سوځونه:** د ښوونځیو سوځونه او تړنه د هېواد لویه تباهي ده. له طالبانو څخه هیله کوو چې په جدي ډول د ښوونځیو د رنګولو او سوځولو مخه ونیسي.

**۳- د ماینونو ایښودل:** په ځینو سیمو کې په زراعتي ځمکو، لارو، کوڅو او نورو استوګنو سیمو کې ماینونه ایښودل کېږي، ماین د انسان د دایمې او پټ دښمن په توګه پاتې کېږي، هیله ده طالبان ددې ډول کارونو مخه هم ونیسي.

**۴- د امریکایانو پوځي اډې:** که چېرې طالبان په افغانستان کې د امریکا د پوځي اډو مخالفت وکړي، نو امریکایان به د طالبانو د پخوانیو مخالفینو په مرسته او همدارنګه د ګاونډیو هېوادو د ځینو کړیو په ګډو هلو ځلو دا کار وکړي، نو په داسې یو حالت کې به دا کار د افغانانو لپاره په ډېر زیات زیان تمام شي، خو که طالبان ددې کار مخالفت ونه کړي او یا ځان غلی کړي، نو کېدی شي دا کار افغانستان ته په ګټه تمام شي.هدف دادی چې د طالبانو د مخالفت ګټه باید د طالبانو او افغانستان مخالفینو ته لاړه نه شي. که د امریکایانو تر پاتې کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته طالبان وروسته بیا د اډو مخالفت کوي پر هغه مهال بیا مخالفینو ته ډېره ګټه نه رسېږي.

**۵- افغانستان کې د سعودي او ترکیې رول:** سعودي عربستان او ترکیه ستر اسلامي هېوادونه دي، د سولې په برخه کې د دوی رول د افغانستان په خیر دی، طالبان که دې هېوادونو ته په درنه سترګه وګوري، نو دا کار افغانستان ته په ګټه دی.

**۶- نوی پارلمان:** افغانستان کې د نوي پارلمان له جوړېدو سره نوې ستونزې راټوکېږي، یو شمېر کړۍ شته چې افغانستان د فدرالیزم خواته بیایي، طالبان باید دې ډول لویو خطرونو ته متوجه وي.

په درناوي

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو تریخ او خوږ لیک

**یادښت**: د غبرګولي پر اتمه نېټه؛ د شنبې ورځ د غرمې ډوډۍ پرمهال خبر شوم، چې جمهور رئیس له ځینو ډلمشرانو سره تر سلامشورو وروسته پرېکړه کړې، چې ښاغلی برهان الدین رباني د سولې د ملي مشورتي جرګې د رئیس په توګه انتصابوي، ددې خبر په اورېدو سره د غرمې ډوډۍ راباندې ډېره ترخه شوه، سملاسي مې دا لیک ولیکه، جمهور رئیس ته مې پر همغه ورځ د ځو تنو هغو اشخاصو په لاس ولېږه، چې هغه ته هر وخت د ورتګ لاسرسی لري، له نېکه مرغه جمهور رئیس ته پر همغه ورځ دا لیک ورسېد او ښه خبره لا دا چې ولسمشر په خپل کور کې دا لیک له پیله تر پایه لوستلی و، ماښام راته د ټلېفون په ذریعه خبر راکړ شو، چې رئیس صیب ډېر په قهر دی او سبا (یکشنبې ورځ غرمه) یې غوښتی یې.

د یکشنبې ورځ غرمه له ښاغلي سرمحقق زلمي هېواد مل سره یوځای ورغلم. د توقع خلاف جمهور رئیس ماسره دومره نېک او صمیمي چلند وکړ، چې ما یې هېڅ هیله نه لرله، له اخلاصه ډکه غېږه یې راکړه او په غوږ کې یې راته وویل: «ډېر ګلالی لیک دې راته رالېږلی و، اوس نو راځه چې زه درته خپله کیسه بیان کړم». ولسمشر ډېرې اوږدې او دردونکې خبرې وکړې، خپل مجبوریتونه یې یو په بل پسې بیان کړل، کورنۍ او بهرنۍ توطیې، خپل امکانات او ځواک یې ټول موږ ته څرګند کړل. د جمهور رئیس مجبوریتونه او د افغان ولس پرضد د پټو توطیو څرنګوالی یو بېل بحث دی چې بیان یې بېل زمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مکان غواړي، د کتنې وروستي ټکي دا وو، چې ولسمشر خپلو مجبوریتونو ته ګوته نیوله او ما د عدالت د تطبیق غوښتنه کوله، د ظالمانه او ناعادلانه مجبوریت او سالم عدالت ترمنځ ډېر واټن او تضاد موجود و. یوه نیمه بجه د جمهور رئیس له دفتره راووتم او د سولې ملي مشورتي جرګې د دفتر پر لوري لاړم، ټوله ورځ راباندې غمېدلې تېره شوه.

د دوشنبې ورځ د لویې جرګې کېږدۍ ته یو زیات شمېر راغلي استازي له دې احتمالي پرېکړې خبر شول، ټولو سخت تشویش څرګند کړ او دا کار یې جرګې ته یو ستر ګواښ وباله.

د چار شنبې ورځ د ملي مشورتي جرګې لومړۍ پرانیستونکې ورځ ده، که چېرې جمهور رئیس د استاد رباني په باب خپلې احتمالي پرېکړې ته عملي بڼه ورکړي، نو پوهېږم چې زیات تشویشونه او اندېښنې به راوټوکوي. ما خپله اندېښنه لاوار دمخه د خپل لیک او کتنې له لارې جمهور رئیس ته څرګنده کړې ده. غواړم خپل ملت سره هم په دې اړه خپل درد شریک کړم او په دې ډول د یوه عادي افغان په توګه تر خپل وروستي وسه خپل مسولیت ادا کړم. دا دی دا لیک له دې یادښت سره یوځای ستاسو مخې ته ږدم.))

# یو تریخ او خوږ لیک

د افغانستان د اسلامي جمهوریت قدرمن جمهور رئیس ته!
تر ټولو دمخه سلامونه او نېکې هیلې!

له بېلابېلو سرچینو څخه خبر شوي یو، چې ستاسو له خوا، ښاغلی پروفیسور برهان الدین رباني د سولې د ملي مشورتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګې لپاره د رئیس په توګه انتصابېږي. که دا خبره واقعیت ولري، نو دا کار به نه یوازې د سولې د ملي مشورتي جرګې ارزښت له صفر سره ضرب کړي، بلکې د جرګې د کار دوام به هم ناممکن کړي، داسې یو شخص چې د کابل په ورانۍ او د افغانستان په تباهۍ کې پوره پوره لاس لري، د جرګې د رئیس په توګه د هغه انتصاب، خپله د جرګې له ارزښت، عنعنې او ماهیت سره سل په سلو کې تضاد لري.

دې جرګې ته د ((سولې ملي مشورتي جرګې)) نوم ورکړل شوی، دا تنظیمي جرګه نه ده چې کوم تنظیم سالار او جنګسالار یې په راس کې واقع شي. د جرګې د رئیس په توګه د رباني انتصاب به د مخالفینو او نړیوالې ټولنې هغه منطق لاپسې قوي کړي، چې وایي: ((ستاسو حکومت د څو تنو فسادګرو او جنګسالارانو په لاس کې دی.)) طالبان او د اسلامي جمعیت نور پخواني او اوسني مخالفین به په ډېر پیاوړي دریځ کې راشي او دا جرګه به هسې د باد ښکه وبولي، ټول پښتون قوم به چې هسې هم ستاسو په اته نیم کلن حکومت کې د محکومیت د اور بتۍ ته لوېدلی، د جرګې په راس کې د رباني غوندې د یوه متنازعه شخص انتصاب پر خپلو حقوقو یو بل تېری وګڼي او نور به هم په سیاسي انزوا کې راشي.

ستاسې په حکومت کې تراوسه پورې درې مهمې جرګې ( بېړنۍ لویه جرګه، د اساسي قانون لویه جرګه او امن ګډه جرګه) تېرې شوي، ددې درې واړو جرګو مشري له پښتنو څخه واخیستل شوه، دا ددې مانا ورکوي چې پښتانه د افغانستان په سیاسي صحنه کې د فعال حضور حق نه لري. د قوم په نوم اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمعیت او ځینو نورو اقلیتونو ته چې کوم امتیـازات ستاسو د واک په اته نیم کلنه دوره کې ورکړل شوي، د افغانستان څه چې د نړۍ په تاریخ کې ساری نه لري، ستاسو معـاونین چې د جمهـوري ریاست پـه دواړو دورو کـې ستاسو تـر وزرونـو لاندې د پښتنو پـه رایـو راغلـل، پـر هـره تنګـه او سـخته ورځ ستاسـو پـر وړانـدې ودرېدلي، خو پښتون قوم چې یوازې پـه انتخابـاتو کـې تاسو تـه د رایو اچونې پر وخت تر بل هر چا زیات ظاهرېږي، پـه حکومـت کـې یې ونډه په واقعي مانا د بل هر چا پـه تناسب کمـه ده، حتـی ټولـه نړیواله ټولنـه هم پـر دې اعتـراف کـوي، چـې د جګـړې یـو علت پـه حکومت کې د پښتنو محرومیت دی. دا حالـت نـور پـه هـیڅ وجـه د زغملو نه دی، چې مخـالفین دې ستاسو پـه حکومـت او سیاسـت کې دومره امتیاز واخلي، چې هم ستاسـو مخالفـت وکـړي او هـم د افغانسـتان ملـي ګټـو او ملـي یـووالي تـه زیـان واړوي، تـر ټولـو دردوونکـې خبـره بیـا لا داده؛ دا ټـول امتیـازات ستاسـو لـه خـوا ستاسـو پـه قلـم او ګوتـو هغـوی تـه ډالـۍ کیـږي، هغـوی لـه دې سیاسي، اقتصادي او پوځي امتیاز څخه ګټه اخلـي، خپـل موقـف قـوي کـوي او بېرتـه ستاسـو او ټـول ملـت د ملـي ګټـو پـر وړانـدې ودرېږي. کـه ربـاني، محقـق، اکبـري، انـوري، عطامحمـد او نـور ستاسو خپلېدلی، نو په تېرو اتو کلونو کې به دې په دې بې شمېره امتیازاتو راخپل کړي وای، ستاسو پـه لاس د افغانسـتان دې ډول مخالفینو ته پـه ورکـړل شـویو امتیـازاتو کـې د ټـول ملت حق دی، هیله ده دا امتیاز پر ملت ووېشل شي، نه پر څو تنو جنګسالارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تنظیم سالارانو، چې تلویزیونونه یې د نورو په پیسو او دسیسو چلیږي او افکار هم په کې د نورو خپریږي.

دا یو بل تریخ حقیقت هم باید درته په ډاګه کړم: کوم پښتانه چې ستاسو په حکومت کې دي او د ملي شعور خاوندان دي، هغوی هم ځان په دې حکومت کې دومره محروم احساسوي چې حد او برید نه لري، هیله ده د هغو رایه ورکوونکو د حیثیت اعادې ته هم لږ پام وکړئ چې د جمهوري ریاست د دواړو دورو په ټاکنو کې په سرومال تاسو سره ودرېدل، خو ستاسو په حکومت کې د همدې جنګسالارانو د زیاتې ونډې له امله یې اوس نه سر خوندي دی او نه مال، عجیبه خبره داده: همغه جنګسالاران او تنظیم سالاران، چې په هره مهمه سیاسي او اداري غونډه کې یې تاسو حضور حتمي بولئ، سهارنۍ او غرمنۍ هم درسره یو ځای خوري او ستاسو پر دسترخوان راټول دي، همغوی تر هر چا زیات په خپلو رسنیو کې ستاسو پر ضد نیوکې کوي او هغه ډول الفاظ درته کاروي چې قلم یې له لیکلو شرمېږي، خو دې سره سره هره ورځ بیا هم په دربار، امتیاز او کاروبار کې ډېر محترم دي. زه د هغو کسانو په جمله کې یم چې په تېرو اتو کلونو کې مې د خپل وس تر وروستي بریده په هېواد کې د سیاسي عدالت د تامین په خاطر منډې تررړې کړي او اوس لا ستاسو په حکومت کې د یو ((ماموري)) په توګه ستاسو (ترڅنګ) خو تر تا (ډېر لرې) کار کوم، دا ماموریت دې ماته زهر شي چې زه به یې د افغانستان د ملي ګټو خلاف کاروم او خپلو شخصي ګټو ته به ترجیح ورکوم، زه حاضر یم چې لومړی ما د دربار له دې عذابه خلاص کړې او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړپسې متصل ټول جنګسالاران، تنظیم سالاران، فسادګر او د اووګونو، اته ګونو او نورو لسګونو تنظیمونو پنډتان او سیاسي سوداګر، په چټکۍ سره له دې حکومته رخصت کړې، چې خلک په ارامه فضا کې تنفس وکړي او د سوکالۍ وړمه پړې ولګېږي.
اوس د افغانستان پنځه ویشت ملیونه وګړي، نږدې دوه زره زورواکو، رسمي او نارسمي ټوپکوالو یرغمل کړي، ددې دوه زره کسانو زیاترو د همدې حکومت په امکاناتو ددې ولس پر ستوني پښه ایښې ده، که دوی سره د حکومت امکانات نه وي، نو ولس په ډېره اسانۍ سره د دوی سابه په مالګه کولای شي.
وخت کم و، د تنظیم سالارانو غوندې وخت پر وخت ستا د ملاقات زمینه موږ ته نه میسرېږي، نو ځکه مې درته دا (تریخ) خو (خوږ) لیک ولیکه، هیله ده لومړی د سولې ملي مشورتي جرګه له رباني، رباني خېلو او نورو تنظیم سالارانو وژغورئ او بیا نور ټول افغانستان.

په ډېر درنښت
محمد اسمعیل یون
د ګران او خوږ افغانستان یو خواخوږی
۱۳۸۹ ل کال د غبرګولي ۸ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېنوا او ټول افغان

دا لیکنه د (۱۳۸۹ل) کال په بهیر کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا د (بېنوا) او (ټول افغان) د وېبپاڼو د بندولو په اړه شوې او پر همغه مهال ولسمشر کرزي ته ورلېږل شوې وه.

## د افغانستان محترم جمهور رئیس ته!

تاکل شوې ده د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر له خوا، په دې پلمه چې (بېنوا) او (ټول افغان) وېبپاڼو یو ناسم خبر خپور کړی، دا سایټونه وتړل شي. که دا نیت او هیله عملي شي، نو دا به نه یوازې د رښتینو او ازادو رسنیو پر فعالیت یو درونند ګوزار وي، بلکې د قومي او ژبني تبعیض داسې یوه څرګنده بېلګه به وي، چې هېڅوک به پرې بیا پرده ونه شي غوړولای. عجیبه خبره داده چې (بېنوا) او (ټول افغان) سایټونه په دې پلمه تړل کېږي چې یو ((ناسم خبر)) یې خپور کړی، که څه هم همغه خبر بېرته همدې سایټونو اصلاح کړی هم دی. خو بیا یې هم د دې سایټونو د تړلو پرېکړه کړې ده. د دې سایټونو د بندولو خبر په داسې حال کې خپرېږي چې په دې بله خوا کې بیا هره ورځ په لسګونو راډیوګانې، چاپي خپرونې، شخصي ټلویزیونونه او وېبسایټونه د افغانستان د هویت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخریب، د هېواد د تجزیې او ملي شخصیتونو د سپکاوي په باب خپروني کوي، هغو ته هېڅ نه ویل کېږي. دا نو بیا د تبعیض داسې یوه بېلګه ده چې په جنوبي افریقا کې یې هم ساری نه دی لیدل شوی. که چېرې ددې وېبسایټونو د بندولو په باب د اطلاعاتو او کلتور وزیر دا نیت یا پرېکړه عملي شي، نو د هېواد د اکثریت فرهنګیانو او قلموالو غوڅ غبرګون به راوپارېږي، په هغه حالت کې به یې ټول مسولیت د ځو زورواکو او ځو پردیپالو فرهنګي چارواکو پر غاړه وي.

وما علینا اللبلاغ

محمد اسمعیل یون

د افغاني فرهنګ

یو مینوال او لېوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انتخاباتو کمیسیون او درغلي

دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د ولسي جرګې تر ټاکنو وروسته شوې او په یادو ټاکنو کې د ټاکنو د کمیسیون درغلیو ته نغوته کوي.

۱ - استعمال شوې رایې هغومره نه دي چې دوی ویلي دي.

۲ - د هر ولایت مجموعي استعمال شوې رایه، په هغو کې باطله، قرنطین شوې او پاکه رایه له یو بل څخه نه ده تفکیک شوې، د پاکو رایو مجموعي شمېر هم نه دی معلوم او د ټولو رایو مجموعي شمېر هم.

۳ - که له سره په هر ولایت کې د ټولې استعمالو شویو رایو شمېر قید شوی وای، کېدی شي د درغلیو مخه تر یوه حده په دې نیول شوی وای، چې د انتخاباتو کمیسیون د خپلې خوښې کاندید ته په اسانۍ رایه نه نه شوه زیاتولای، دا کار به ورته ډېر مشکل و، خو اوس ورته لاره خلاصه ده.

۴ - د انتخاباتو د کمیسیون د لومړۍ او وروستۍ ورځې ارقامو ترمنځ یو ملیون تفاوت او د کابل د رایو په شمېر کې هم جوت توپیر ښکاري.

۵ - ډېټابیس له تخنیکي پلوه نیمګړی دی، د ډېټابیس دویم سرور د جمهوري ریاست د رایو مرکزونو او رایو محلونو په حساب برابر شوی، خو اوس چې په پارلماني ټاکنو کې په رایو محلونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څه تغیر راغلی، د ډېټابېس لومړی سرور ټول محلونه جذبوي، خو دویم همغه محلونه جذبوي چې په ډېټابېس کې قونسل (ځايګی) یا خونه لري.

۶- یوازې د څو لومړنیو ورځو په بهیر کې د (T.B) فورمو سکېن شوې بڼه په انټرنېټ وښودل شوه، چې هغه هم په ډېر تکلیف ډاونلوډ کېدله او په ټول افغانستان کې د (فیفا) په شمول چا ددې امکان نه درلود چې د (T.B) فورمو دا بڼه ځانته پرنټ کړي او بیا یې له اعلان شویو رایو سره پرتله کړي. ان خپله د انتخاباتو او شکایاتو د کمیسیون مسولین هم ددې وس نه لري چې له خپل دفتره بهر د T.B فورمو اصلي بڼه له اعلان شویو رایو سره پرتله کړي.

۷- د انتخاباتو کمیسیون په تېره بیا په مرکزي دفتر کې په سلو کې (۷۵) کارکوونکي د تنظیمي او قومي ملاحظاتو پر بنسټ غوره شوي، چې دا برخه یې اکثره د نظار شورا، جمعیت فکري خط تعقیبوي چې اوس یې ډاکټر عبدالله عبدالله په یوه نوې بڼه استازي کوي.

۸- د انتخاباتو کمیسیون د انتخاباتو د قانون د محتویاتو خلاف په اکثرو مهمو پوستونو کې خپل خپلوان، خپل تنظیمیان او د خپلې سیمې خلک مقرر کړي چې دلته یې یو څو د بېلګې په توګه یادوو:

- د IT سرپرست رئیس، شفیق احمد د کاپیسا له ولایت څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- محمد سمیع، د ډیټاسنټر کوارډیناتور یا مسول له پنجشیر څخه.
- ډاکتر کامران، د ډیټابیس ډیولفر، چې د شفیق احمد خپلوان او د کاپیسا ولایت دی.

د یادونې وړ ده چې دا درېواړه موقتي کارمندان دي، په داسې حال کې چې دا حساس پوستونه د اداري اصلاحاتو د کمیسیون له خوا مقررېږي، خو ښاغلي فضل احمد معنوي دا له دې پروسیجر پرته په خپل زور مقرر کړي دي.

- د معنوي حقوقي مشاور، سریر برمک له پنجشیر څخه.
- امنیتي مشاور، له پنجشیر څخه.
- بشیر فاروق یو بل چاړواکی، له پنجشیر څخه
- امنیتي یاور، مبین خیرخواه، له پنجشیر څخه
- حفیظ هاشمي، د دفتر رئیس له پنجشیر څخه.

په مجموعي ډول یوازې په ډیټا انټري کې د ښاغلي معنوي خپل خپلوان او د پنجشیر سیمه وال تر پنځوسو کسانو پورې رسېږي.

- ډاکتر مهدي چې پنجشیر څخه دی تېر ځل یې له کابل څخه ځان کاندید کړی و او د معنوي نږدې خپلوان دی، دا ځل یې د معنوي په ملاتړ له بغلان ولایت څخه ځان کاندید کړ، د ډاکتر مهدي یو ورور (امان الله تجلي) د شکایتونو د اورېدو کمیسیون د تحقیق د رئیس په توګه مقرر شو، چې د ډاکتر مهدي پر درغلیو پرده وغوړوي.

۹- لومړني نتایج د ورځې تر ماښامه تکمیل شول، ځینې کاندیدان چې په دې لست کې شامل وو، په انتخاباتو کې د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مامورینو له خوا ورته خبر راغی چې سبا لست اعلانېږي، خو لست کې د شپې یوولس بجې تغیر راوړل شو او سبا اعلان شوي لست بله بڼه غوره کړې وه.

۱۰- حفیظ منصور د معنوي سیمه وال او د یوه تنظیم خلک دي، زیات اسناد موجود دي چې هغه رایې نه درلودلې، خو معنوي د ((مارشال)) فهیم او نظار شورا د نورو مشرانو په مخکښي تفاهم او غوښتنه هغه په وچ زور په بریالیو کاندیدانو کې راوړ.

۱۱- د سیدحسین انوري په اړه د لوی څارنوال رسمي غوښتنلیک د معنوي له خوا رد شو، لوی څارنوال غوښتي وو چې انوري ناقانونه وسلې لري، تر هغه چې دا وسلې تسلیم نه کړي، په ټاکنو کې د ګډون حق نه لري، خو معنوي د هغه ملاتړ له امله چې انوري له ډاکتر عبدالله څخه په تېرو ټاکنو کې کړی و، انوري له لیسته حذف نه کړ او هم یې په ټاکنو کې هغه سره ډېره مرسته وکړه.

۱۲- په ګڼ شمېر ولایتونو کې د اکثریت پښتنو پر وړاندې رهبري شوي حرکتونه ترسره شوي، د هغو رایه په قصدي ډول له محاسبې وتې، د اکثریت پښتنو ترڅنګ د ازبکو، ترکمنو، بلوڅو او ځینو نورو قومي لږکیو پر وړاندې هم له تعصب څخه کار اخیستل شوی. یوه انتخاباتي حقوقي پروسه پر یوه منظم سیاسي جریان بدله شوې ده.

۱۳- لکه څنګه چې د انتخاباتو کمیسیون د سیاسي او تنظیمي اشخاصو په منګولو کې پرېوت، دغسې د شکایتونو کمیسیون هم له سیاسي غرضنو او مرضونو خوندي پاتې نه شو. ښاغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدضیا رفعت ددي کمیسیون د غړي او ویاند په توګه خپل سیاسي غرض او مرض پټ نه شو کړای، رفعت مخکې تر دې د «ملي متحدې شورا» په اصطلاح نوبتي رئیس و. دا شورا د حفیظ منصور، ډاکتر مهدي او ځینو نورو له خوا جوړه شوې ده، احمدضیا رفعت د معنوي ترڅنګ د دې کسانو په ناقانونه کامیابۍ کې لوی لاس درلود. رفعت په هرات او د افغانستان په نورو سیمو کې د تقلب په نامه په لوی لاس او د تبعیض له مخې یو شمېر بریالي کاندیدان ناکام او د یو شمېر نورو ملتپالو د بریالیتوب مخه ونیوله.

۱۴- د انتخاباتو ټوله پروسه په تېره بیا د انتخاباتو تر ورځې وروسته چې د انتخاباتو واک له ولس څخه د انتخاباتو د کمیسیون لاس ته ورغی د دوو میاشتو په بهیر کې ډېره زیاته درغلي وشوه، د یوه کاندید د بریالي کېدو قیمت تر (۴) لکو ډالرو پورې ورسېده، په شهزاده سرای او دوبۍ کې معاملې شوي، په شهزاده سرای کې ((خدمات پولي عقاب تابان)) کې چې د پنجشېریانو یوه صرافي ده، له لسګونو کاندیدانو سره پټې معاملې وشوې.

## یادښت:

د رایو غټې توپیرونه:

- لومړۍ ورځ مجموعي: (۵۷۷۲۱۰۵)
- څو ورځې وروسته: (۴۳۳۲۸۷۱)
- لومړۍ ورځ: (۷۲۲) محلونه قرنطین وګڼل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لږ وروسته: (۵۴۲) محله
- د غزني د ابتدايي رايو په شمول اوسني با اعتباره رايې: (۳۹۵۵۸۴۹)
- په نهايي نتيجه کې باطلې شوې رايې: (۱۸۶۲۸۵)
- له باطلو رايو پرته د نهايي او ابتدايي رايو توپير: (۲۰۵۲۵۶)
- د باطلو رايو په ګډون د نهايي او ابتدايي رايو ترمنځ توپير: (۱۸۹۷۱)
- د ناکامو کانديدانو د ټولو رايو مجموعه: (۲۵۷۴۴۳۳)
- د بريالي ګڼل شويو کانديدانو د ټولو رايو مجموعه: (۱۴۰۲۵۸۶)
- د ناکامو او برياليو ګڼل شويو کانديدانو د رايو ترمنځ توپير: (۱۲۰۹۷۳۹)
- د لومړۍ ورځې د ټولو اعلان شويو رايو او د بريالي ګڼل شويو کانديدانو د ټولو رايو ترمنځ توپير: (۴۳۳۲۸۷۱)

په مجموعي ډول د لومړۍ ورځې د اعلان شويو او د دويمې ورځې د اعلان شويو رايو ترمنځ څرګند توپير ليدل کېږي، له دې پرته د دويمې ورځې د اعلان شويو رايو او همدارنګه د وروستيو با اعتباره رايو ترمنځ هم ډېر توپير موجود دی.

او داسې نورې ګڼې نيمګړتياوې او درغلۍ چې هره برخه يې پوره څېړنه غواړي، خو که دا هر څه په ډاګه هم ثابت شي څه نتيجه ځکه نه ورکوي چې د کميسيون مشر له داسې سياسي ملاتړه برخمن دی چې په هر حکومتي او سياسي کار کې د ويټو حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راځئ چې حقیقتونه بیان کړو!

پـر (۱۳۹۰ل) کـال مـا لـه (افغـان جـرمن انلایـن) وېبپاڼې سـره یـوه ځانګړې مرکه کړې وه، ددې مرکې ځوابونه تر یوه حده د لیکنې بڼه لري. دلته یې کټ مټ وړاندې کوم.

**پوښتنه: تاسو په یوه لیکنه کې د رسنیو تنظیمي امپراتورۍ ته اشاره کړې، دغه امپراتوري څومره پیاوړې ده؟ د بیان د ازادۍ لپاره څـومره ګواښ جوړوي او کوم ډول سیاسي یا تنظیمي ډلې په کې ګډون لري؟**

ځـواب: د طالبـانو نظـام تـر ړنګولـو وروسـته پـه مطلـق ډول هغـه اشخاص او ډلې واک ته ورسول شول، چې د طالبـانو مخـالفین او د امریکـایي ائیـتلاف کـورني غـړي وو، دوی مخکـې تـر مخکـې د پښتنو د سیاسي، ټولنیزې او کلتـوري کمزورۍ لپـاره کـار کـاوه او یو شمېر ګاونډي هېوادونـه یـې تـر شـا ولاړ وو. د (طـالب) لـه نامـه او (امریکایي) ځواکه یې نـاوړه ګټـه پورتـه کـړه او د پښـتنو د ځـورولـو، کړولو او کډوالولو لپاره یې تر وروستي بریده کـار وکـړ، دوی پـخـوا هم له رسنیز ځواک او تبلیغاتو څخه ډېره ګټه اخیستله او دا ځل نو سیاسـي او پـوځي واک هـم ورسـره مـل و، لکـه د نـورو وارډو شـویو شیانو په څېر یې لـه وارد شـوې ډیموکراسـۍ څخـه هـم اعظمـي ګټـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته کړه او د رسنیو ډګر یې هم راخپل کړ. څو ډوله رسنۍ په دې ترڅ کې راوټوکېدې: حکومتي رسنۍ، انجویزې رسنۍ، ازادې رسنۍ، د ازادو رسنیو په نوم نا ازادې رسنۍ او تنظیمي رسنۍ. له شکلي پلوه اورېدنۍ رسنۍ، لیدنۍ رسنۍ، چاپي رسنۍ او کتنۍ یا انټرنټي رسنۍ وې. تنظیمي او حکومتي رسنۍ خو هسې هم د دوی خپلې وې، ځکه چې په همدې شمال ټلوالې کې راټاله تنظیمونه په حکومت کې د اساسي واک خاوندان شول. انجویزې رسنیو خو هسې هم ډېر سیاسي فعالیت نه درلود او که درلود یې هم د خپلو ګټو د خوندیتابه په خاطر یې له تنظیمواکانو سره ټکر نه کاوه، اکثره همغه انجیوګانې فعالې وې چې له همدې تنظیمونو سره یې قومي تړاو درلود، ازادې رسنۍ هم داسې وې چې اکثره په همدې ډلو پورې د فکري تمایلاتو لرونکو اشخاصو له خوا رامنځته شوې وې. دا مهال داسې یوه فضا حاکمه وه چې یوازې همدې ډلو او اشخاصو ته زمینه برابره وه، یو کم شمېر واقعي رسنۍ هم رامنځته شوې چې ځینې حقیقتونه یې بیانول، خو د حاکم جبر د افشا جرئت یې نه کاوه، نورو ازادو رسنیو د ټولو شیانو د بیان صلاحیت درلود، خو د حاکمو ډلو د مصنوعي اتلانو، د هغو د ظلمونو او غداریو، نه یوازې دا چې غندنه یې نه کوله، بلکې د تنظیمي رسنیو ترڅنګ یې اوږه په اوږه د هغو ستاینه هم کوله.

بله ډله رسنۍ بیا هغه وې چې د ازادو رسنیو په نامه خپرېدلې او یا یې په دې نامه جواز ترلاسه کړی و، خو په واقعیت او حقیقت کې همغه تنظیمي رسنۍ وې چې ځینو تنظیمي اشخاصو نه غوښتل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیمي نامه فعالیت وکړي او یا یې په دې نامه فعالیت موثر نه ګڼله، نو د ازادو رسنیو په نامه رامنځته شوې. په ټولیز ډول په تېرو اتو نهو کلونو کې رسنۍ دولتي وې که ازادې او یا د ازادو په نامه نا ازادې، اکثره یې د څو تنظیمونو، په تېره بیا د جمعیت او په جمعیت کې هم د نظار شورا په انحصار کې وې. ددې رسنیو مالي ملاتړ بیا بله موضوع ده چې دلته یې ټول بیان ممکن نه دی. په عمومي ډول ددې رسنیو مالي لګښت د ایران او د امریکا متحده ایالتونو له خوا ورکول شوی، نورې سرچینې یې هم وې، خو په لویه کې دا دوه هېوادونه وو، ټول پوهېږو چې له سیاسي او کلتوري پلوه دا دوه هېوادونه د چا تر شا ولاړ وو. دا په تېرو اته نهو کلونو کې د رسنیو یو عمومي تصویر و. په لنډیز سره ویلای شو په دې تېر بهیر کې اکثرو رسنیو؛ ازادې وې که تړلې، د دې جرئت ونه کړ چې په کابل کې د نظار شورا، اسلامي جمعیت او اسلامي وحدت ډلو د اوسنیو او تېرو ظلمونو لږ تر لږه یو داستان بیان کړي، خو همدې رسنیو بیا ددې توان درلود چې د ښاغلي کرزي په شمول د بل هر چا د مچ وزر قدر ته عیب د غر په شان غټ کړي. یوه ډله وغندي او بله ډله د اتلانو په څېر وستایي، دې سره سره بیا هم یو شمېر رسنیو خپل ټولنیز مسولیت او رسالت ترسره کړی، خو ددې رسنیو شمېر خورا کم دی.

دلته نه شو کولای د رسنیو ټول حالت په یوه لیکنه کې بیان کړو. ما د خپلې ماسترۍ دورې تېزس د همدې رسنیو په اړه لیکلی دی. درانه لوستونکي کولای شي د زیاتو معلوماتو لپاره (د افغانستان اوسنۍ رسنۍ (۱۳۸۰-۱۳۸۷) ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوښتنه: څرنګه کېدی شي رسنۍ له دغه فاشیست او متعصب تنظیمي انحصار څخه ووځي، څوک او څه ډول فعالیتونه ددغه فاشیست خوځښت مخه نیولای شي؟**

ځواب: ددې انحصار د ماتېدو لارې چارې شته. سره له دې چې له محتوایي او فکري پلوه زموږ زیاتې رسنۍ لا هم په انحصار کې دي، خو یو شمېر رسنۍ داسې هم شته چې خپل مسولیت یې ترسره کړی دی. لکه څنګه چې د مخه مې وویل؛ ددې رسنیو شمېر زیات نه دی خو اوس ورځ پر ورځ په زیاتېدو دی.

پر رسنیو د تنظیمي انحصار د ماتېدو لپاره یو اخلاقي، سیاسي او علمي جرئت په کار دی، د تېرو څو کلونو پرمهال په بېلابېلو برخو کې ځینو اشخاصو دا جرئت وکړ، یو څه ازادي رامنځته شوه، هغه کسان چې د انتقاد وړ وو، خو له انتقاده معاف وو، پر هغوی هم نیوکې وشوې، د معافیت کلتور تر یوه حده مخ په ړنګېدو شو. زه کولای شم دلته له ټولو هغو اشخاصو مننه وکړم چې ددې انحصار د ماتېدو لپاره یې په یو نه یو ډول هڅه کړې، خو زه خپله تجربه دلته بیانوم: {د تېرو څو کلونو په بهیر کې د اسلامي جمعیت او نظار شورا او یا په مجموع کې د شمال ټلوالې سیاسي، فرهنګي او ټولنیز مبصرین او «مفکرین» کابل کې پر میډیا حاکم وو. هېڅوک داسې نه و چې د دوی خبره ورتاوه کړي او دوی ته مستقیم ځواب ورکړي، دې خلا دوی دومره زړور کړي وو چې هر څه یې خپل حق ګڼه او د خبرې د منطق وړاندې وروسته حالت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم نه کتل، لومړی سړی چې ما يې خبره ورتاوه کړه، هغه ښاغلی صالح محمد ريګستاني و، چې د طلوع ټلويزيون په يوه ګرم سياسي بحث کې ورسره برابر شوم. ښاغلی ريګستاني نه حق په جانب و او نه يې هم منطق قوي و، په داسې يو مرحله کې چې ته د حق پلوی يې او د منطق وسله هم درسره وي، د مقابل لوري ماتول يا قانع کول اسانه خبره ده. هغه بحث (يو د څلورو په مقابل کې) و، بحث د حقيقت په ګټه پايته ورسېد. کله چې بحث خلاص شو، نو زه پوه شوم چې دوی نه غواړي دا بحث نشر شي. ما (طلوعوالو) ته وويل چې بحث بايد حتمي نشر شي، هغوی وعده راکړه. د (ګفتمان) دا پروګرام د اوونۍ پر ټاکلې نېټه نشرېږي. ماته پته ولګېده چې ښاغلی ريګستاني نه غواړي دا بحث نشر شي، د کابل طلوعوالو ته مې بيا وويل، هغوی وويل: ((موږ تر سياسي فشار لاندې يو، زموږ مشر، محسني صيب په دوبۍ کې دی، هغه سره تماس ونيسه)) هغه ته مې ټلېفون وکړ، هغه دا مهال استراليا ته روان و، خو په پای کې مې ورسره اړيکي ټينګ کړل، هغه وعده راکړه چې بحث به نشرېږي، خپل پرسونل ته يې برېښناليک وليکه چې بحث نشر کړي. بيا دا وېره راسره وه چې له بحث څخه زما اساسي خبرې غوڅې نه کړي، زما په ډېر ټينګار په خبرو کې کمی رانغی، بحث دوه اوونۍ وروسته نشر شو، خلکو به خپل قضاوت کړی وي، له هغې راهيسې ښاغلی ريګستاني بيا ددې څو کلونو په بهير کې ما سره په بحث کې ناست نه دی او يا سره برابر شوي نه يو. هغه بحث چې (يو د څلورو په مقابل کې) وي او بيا هم دوی د بحث د سانسور غوښتنه کوي، د رسنيو واقعي تصوير له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه څرګندېږي. د څو کلونو په بهیر کې زه همېشه په یوه ناانډوله بحث کې د تنظیمیانو پر وړاندې ودرېدلی یم. هغه څوک چې ډېر زیات په همدې رسنیو کې مطرح دي له هغو اکثرو سره زه مخامخ شوی یم. ما له (ښاغلي رېګستاني، بېژن، فهیم دشتي، حفیظ منصور، واقف حکیمي، سردارمحمد رحمان اوغلي، انجنیر عاصم، جارالله منصوري، احمد بهزاد، رهنورد زریاب، پرتو نادري، احمدضیا رفعت، صدیق چکري، منیژه باختري) او ځینو نورو سره په بحثونو کې ګډون کړی، دا چې ما څه ویلي او دوی څه ویلي دا قضاوت خلکو ته پرېږدم او خلکو به هم خپل قضاوت کړی وي، خو یو شی چې درنو لوستونکو ته وایم هغه دادی چې ما د دوی خبره بې ځوابه نه ده پرې ایښې. همدې حرکتونو پر رسنیو د تنظیمي انحصار د ماتېدلو لړۍ پیل کړه، خو د تنظیمي انحصار ماتېدا د یو تن او یا څو تنو کار نه دی، دا ډېر کار، ډېر وخت او داسې ډله ییز کار ته ضرورت لري چې د فکر او امکاناتو له دواړو وسایلو برخمن وي، د متبادلو رښتینو ازادو رسنیو رامنځته کول، د زیاتو کدرونو روزل، د اخلاقي او سیاسي جرئت کارول، د دولتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونو قانع کول، ټول هغه عوامل دي چې کولای شي زموږ رسنۍ رښتیا هم د ازادو رسنیو لور ته سوق کړي. تراوسه چې کومه مبارزه شوې د دې زیاته برخه بیا هم په شعوري ډول، د همغو رسنیو له لارې شوې چې اکثره تنظیم پلوه وې، تنظیم پلوه رسنیو په دې خاطر چې د ازادو رسنیو تمثیل وکړي د څو تنظیمپالو اشخاصو ترڅنګ به یې یوه ازاد شخص ته هم بلنه ورکوله چې راشي او بحث کې ګډون وکړي. پر ما څو ځله د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاصو له خوا نیوکه وشوه چې نه خپله کار کوي او نه بل کار ته پرېږدي، د هغوی انتقاد دا و چې (طلوع) او د بېته ورته نورې رسنۍ افغانستان کې ملي نفاق ته لمن وهي، هغوی بحث هسې هم په خپله ګټه جوړوي، ستاسو ګډون هلته پرته له دې چې هغوی ته مشروعیت ورکړي، نوره ګټه نه لري؟ زما ځواب ورته دا و: ((تر هغه چې رښتینې ازادې رسنۍ رامنځته کېږي، دا هم یوه وسیله ده چې خپل پیغام خلکو ته ولېږدو، دا چې (یو د څلورو په مقابل کې) په بحث کې ګډون وي، خلک خپله پرې پوهېږي، که زموږ پیغام کې حقانیت وي، نو خلک به سم قضاوت وکړي. زموږ وظیفه د حقیقت بیان دی او قضاوت د خلکو کار دی)) } اوس وایم موږ باید د سیاسي، علمي او کلتوري کدرونو یو نسل وروزو چې هغوی د افغانستان د ملي ګټو او ملي ارزښتونو ټینګ ملاتړ وکړي، دا اشخاص باید فوق العاده علمي او اخلاقي جرئت ولري، د رښتینو ازادو رسنیو شمېر باید زیات شي او دوی باید د هغو رسنیو هر اړخیزه مقابله وکړي چې ازادې نه دي، خو د ازادو رسنیو په نامه فعالیت کوي. د ازادو رسنیو یو عنصر د هغو د مالي سرچینو شفافیت دی، د ساري په توګه که د رسنیو مالي سرچینې څرګندې شي، نو د ښاغلي شیخ محسني (تمدن) ټلویزیون به په څو ورځو کې له فعالیته وغورځي، همداسې ځینې نور یې هم دراخله.

**پوښتنه: تاسو په حکومت کې د تنظیمي برخې یادونه کړې، کېدی شي وواياست دغه ډله تر ټولو ډېره د حکومت پر کومو برخو واکمنه ده او څوک دي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته په یو ځایي ډول د شمالټلوالې وسلوال او ناوسلوال پر کابل راخواره کړای شول. د دولت له واره ماموریته بیا تر جمهوري ریاسته ټول د دوی لاس ته ورغلل، ښاغلی برهان الدین رباني چې نږدې پنځه کاله یې د کابل مخ نه و لیدلی، یو ځل بیاد ((جمهور رئیس)) په توګه راڅرګند شو، د یوه فرمان په ترڅ کې یې هغو کسانو ته چې د دوی په اصطلاح یې په ((مقاومت)) کې ګډون کړی و، د غیابت پنځه کلن امتیازات وروبښل، دا داسې یوه مرحله وه چې رباني باید همدا سبا په اصطلاح واک نوي موقت رئیس ته لیږدولای وای. کله چې د بن د توافقاتو پر اساس موقت حکومت جوړ شو، بیا هم په کې نظار شورا ته مطلق واک ورکړل شو، د کورنیو، بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو، د ملي امنیت ریاست او جمهوري ریاست معاونیت او نور مهم پوستونه نظار شورا او یا هم پنجشېر درې ته ورکړل شول. په موقته اداره کې یوازې (۱۲-۱۷) تنه مسلکي او دیموکرات افغانان له حکومت سره یو ځای شول، دوی یوازې د افرادو په توګه مطرح وو، نه د یوه سیستم او د ټولنې د کوم قشر د استازو په توګه. په دې ډول که دوی د کومې ادارې په راس کې هم وو، لاندې نورې چلوونکې او اساسي ادارې د همدې اسلامي جمعیت تنظیم په لاس کې وې. د همدې موقتې ادارې په بهیر کې د ملګرو ملتو د یوه کارکوونکي وینا (هیلې مجلې) همغه وخت رانقل کړې او د هغه له خولې یې لیکلي وو چې یوازې په کابل کې د حکومت د (۱۱۰۰) حساسو پوستونو له جملې (۸۳۲) یې د نظار شورا یا د پنجشېر ولسوالۍ د وګړو په لاس کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېړنۍ لويه جرګه کې يو شمېر هېوادپالو افغانانو هڅه وکړه چې دا تنظيمي انحصار ختم کړي، يو څه پرمختګ وشو، خو د قناعت وړ نه و، تر هغه وروسته په انتقالي دوره کې يو شمېر روښنفکران په حکومت کې داخل شول، خو بيا هم د عدالت د تامين لپاره لاډېر واټن پاتې و. په انتخابي اداره کې ټولو فکر کاوه چې د تنظيمي انحصار د ختمېدو وخت راغلی، خو د خلکو د هيلو خلاف د دولت مشرتابه بيا هم د مضر مصلحت عنصر ته ترجيح ورکړه، بيا هم تنظيمي او قومي انحصار په حکومت کې په قوت پاتې شو. د جمهوري رياست د دويمې دورې تر ټاکنو وروسته بيا هم د دې تنظيمي عنصر پر وړاندې هر اړخيزه مبارزه ونه شوه، که څه هم د پخوا په انډول تنظيمي انحصار يو څه کمزوری شو، خو ختم شوی لا نه دی، اوس هم په حکومت کې د بل هر قومي او سياسي ګروپ په پرتله د خپل نفوس او سياسي اغېز په انډول، د اسلامي جمعيت ونډه زياته ده.

**پوښتنه: په افغانستان کې د اسلامي جمعيت يا نظار شورا يو شمېر غړي همېشه وايي موږ د حکومت سياسي اپوزېشن يو، دا اپوزېشن څه مانا او څومره واقعيت لري؟**

ځواب: په افغانستان کې اپوزېشن په مروجه مانا او عملي ډول نه شته. د دولت هر مخالف د سياسي او حقوقي مخالف په توګه نه شي انګېرل کېدلای. په نورو ټولنو کې اپوزېشن د حکومت په مقابل کې يو فعال سياسي جريان ته ويل کېږي، چې د دولت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړتیاوو نیوکه کوي او د سمون لاره ورښيي، خو په خپله د حاکمیت برخه نه وي او نه له حاکمیت څخه د انتقاد په مقابل کې د واک امتیاز اخلي، کله چې بیا اپوزیشن واک ترلاسه کړي، نو حاکمیت بیا د اپوزیشن دریځ ته راځي، خو په افغانستان کې هغه ډوک چې د اپوزیشن په نامه ځانونه مطرح کوي، هغه د اپوزیشن رول نه اجرا کوي. دلته حکومت څو ډوله مخالفین لري: یو هغه وسلوال ګروپونه دي چې د حکومت وسلوال مخالفین دي او په حکومت کې څه خاص امتیاز نه لري، لکه طالبان، د حکمتیار د اسلامي حزب وسلواله برخه او ځینې نور. بله هغه ډول مخالفین دي چې هم پټې او ښکاره وسلې لري، هم په حکومت کې دي او هم یې یوه برخه تر حکومته بهر ده. اسلامي جمعیت، وحدت حزب او یو شمېر نور ګروپونه شته چې هم له حکومتي امتیازاتو تر هر چا زیاته ګټه اخلي او هم په میډیا کې د همدې ګروپونو یوه برخه تر هر چا زیات د دولت مخالفت کوي، دا په حقیقت کې د حکومت حکومتي مخالفین دي دې ډول اپوزیشن ته زه حکومتي اپوزیشن وایم. دا ډلې یا اشخاص تر یوه وخته د حکومت توند مخالفت کوي، خو کله چې بیا ورته کوم مقام ورکړل شي، له مخالفته لاس اخلي، بیا د همدې ډلې بل ګروپ یا نور اشخاص مخالفت ته رادانګي، یانې دا ډلې ډبل رول اجرا کوي؛ نه حکومت پرېږدي او نه مخالفت. دا یو ډول امتیاز غوښتونکی اپوزیشن دی، چې اکثره د دولت په دننه او یا د هغه ترڅنګ فعالیت لري. په خواشینۍ سره باید ووایو دې ډول اپوزیشن چې رسنیز ځواک هم ورسره دی، د اصلي سمونپال اپوزیشن مخه ډب کړې، دوی د خلکو او نړیوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې په سترګو کې خاورې شيندي او په دې ډول د کاذب دريځ له لارې له نړيوالې ټولنې څخه سياسي امتياز هم ترلاسه کوي. د نظار شورا غټې غړي ددې اپوزيشن ښکاره بېلګې دي. ما په يوه مناظره کې چې ښاغلي ډاکتر اشرف غني، ډاکتر احدي، ډاکتر سپنتا او ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله ټولو په کې ګډون کړی و، ښاغلي ډاکتر عبدالله ته ددې امتياز غوښتونکي اپوزيشن څرنګوالی تشريح کړ، زما خبرې پر هغه ښې ونه لګېدې. ما ورته وويل: ((هغه څوک چې په دولت کې د ولسمشر مرستيال ولري، وزيران ولري، پارلمان کې مشرتوب ولري، د امنيتي سکتور غټه برخه يې هم په لاس کې وي، واليان، ولسوالان، قومندانان، سفيران او نور مهم پوستونه ولري، نو هلته اپوزيشن څه مانا؟))

ښاغلي ډاکتر عبدالله په داسې حال کې چې ددې کار ټوله پړه پر کرزي اچوله، د اپوزيشن ټول حق يې ځانته خوندي وباله. د ښاغلي عبدالله د ظاهري دليل له مخې سره له دې چې ښاغلی کرزی په مسوليت کې پوره شريک ګڼل کېږي، خو اصلي محتوا چې عملي واقعيت لري، په هغې کې هم کرزی خپل خپل مسوليت لري او هم دا په اصطلاح اوسنی اپوزيشن د اپوزيشن په دريځ کې خپله مانا له لاسه ورکوي. د نظار شورا ظاهري مهارت په دې کې دی چې غواړي هم په حکومت کې خپل حضور وساتي او هم د مخالفت له لارې نور امتيازات راخپل کړي. له کرزي سره د دوی ډاګيز مخالفت له هغه ډاډ او قوت څخه الهام اخلي، چې دوی يې په حکومت کې لري. د برياليتوب او ناکامۍ په دواړو حالتونو کې دوی ځانونه خوندي ګڼي. که چېرې په هر ډول ټاکنو کې ناکام شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا هم د دولت دویمه څوکۍ د دوی په لاس کې ده، بیا دوی اکثره د همغه مقام پر محور راټولیږي، هغوی یې بیا په اصطلاح د خپل سهم له لارې په حکومت کې په حساسو ځایونو کې ځایوي او یو څو تنه بیا د اپوزیشن چیغې پورته کوي او که چیرې احتمالي بریالیتوب یې په نصیب شو هغه خو نو بیا نور اعلی نور، بیا نو هغه څوک چې حکومت یا کرزي سره ظاهراً ملګري وو، هغوی به بیا نو د دستوري اشخاصو په توګه په اتومات ډول په اصطلاح له همدې اپوزیشن سره یوځای کیږي. ما شخصاً د یوه افغان په توګه د تیرو اتو کلونو په بهیر کې هم د میډیا او هم د حکومت د ولسواکۍ برخې له لارې، د اسلامي جمعیت او ځینو نورو تنظیمونو او اشخاصو د دغه ډول رول د رسواکولو او ختمولو لپاره تر وروستي بریده مبارزه کړې، یو څه نتیجه یې هم ورکړې ده. په همدې خاطر په یوه مناظره کې ښاغلي ډاکتر عبدالله عبدالله د اپوزیشن ددې ډول رول په هکله زما د نظر د تردید په هکله شدیده لهجه وکاروله: ((خبر داریم این ګپها را هر روز در ګوش اقای کرزی پوف میکنی)). د ښاغلي کرزي کتنې ته خو هر وخت زموږ لاسرسی نه شته، خو کله چې مو ورسره کتلي، نو رښتیا هم چې همدا خبره مې ورته کړې ده. د ښاغلي کرزي په تیره دوره کې زما د یوې مرکې پر وړاندې چې د جمهور رئیس پر لومړي او دویم مرستیال نیوکه شوې وه، د جمهور رئیس دواړو مرستیالانو شدید غبرګون وښود. سهار وختي جمهور رئیس خپل دفتر ته وغوښتلم، په تونده لهجه یې وویل: ((ته د دولت مامور یې، ته حق نه لرې چې زما د معاونانو پر ضد انتقادونه وکړې، د دولت یو مامور حق نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري د بل مامور په ضد دا ډول نيوکې وکړي.)) ما وويل: ((رئيس صاحب که دا فورمول رښتيا وي، نو ستا مرستيالان خو هم د دولت لوړ رتبه مامورين دي، دوی ولې يو په مخالفه جبهه کې ناست دی او بل هم وخت پر وخت ستاسو پر وړاندې نيوکې کوي؟)) همدې سره هغه بحث پايته ورسېد. لنډه دا چې ددې ډول کاذب اپوزېشن پر وړاندې چې د يوه تنظيم غړي دې ډبل ډول رول کاروي او په دواړو لوريو کې دې امتياز اخلي، ما د يوه افغان په توګه خپل غږ پورته کړی او لا به دې لړۍ ته دوام ورکوم.

**پوښتنه: لکه څنګه چې ويل کېږي، کېدی شي نړېوال يا امريکايي ځواکونه له افغانستانه ووځي، که دا کار وشي، عواقب به يې څه وي؟**

ځواب: پر افغانستان د يرغل پر مهال هم امريکايانو له ډېرې بيړې کار واخيست، دا د دوی د هغه وخت غټه اشتباه وه. مخکې تر دې چې د طالبانو نظام د سقوط لپاره يوه عادلانه سياسي بديل جوړ کړي، دوی عجله وکړه او پر همغو جنګي جنګسالارانو يې ډډه ولګوله، چې طالبانو تر کولا به رسولي وو او د افغانانو ورسره تر وروستي بريده نفرت درلود. د همدې جنايتکارانو بيا واک ته رسول، په افغانستان کې د عدالت او ښې حکومتوالۍ پروسه په پوره ډول زيانمنه کړه او دا لړۍ لا تراوسه روانه ده. که په داسې ترينګلو حالاتو کې امريکايي يا په مجموع کې نړيوال ځواکونه افغانستان پرېږدي، نو دلته به د نويمو کلونو جګړې يو ځل بيا تکرار شي. کومه ابادي او پرمختګ چې د تېرو څو کلونو په بهير

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې رامنځته شوي، ټول به له خاورو سره برابر شي. افغانستان به په لومړي ګام کې د پاکستان او ایران د سیالیو ډګر شي او نور نړېدې او لرې هېوادونه به هم د خپلو اجنیسو له لارې په یو نه یو ډول بیا په جګړه کې راټاله شي. مذهبي افراط به بیا اوج ته ورسي، نه یوازې افغاني جغرافیه به راونغاړي، بلکې تر دې حده به هم واوړي، د متمدنې اروپا او امریکا وزرونه به هم وسېزي. اوس نړۍ د یوه کلي حیثیت لري، چې اور لګېدنه په کې له یو ګوټه بل ته په اسانۍ سره سرایت کولای شي. لکه څنګه چې افغانستان ته د امریکایانو په بېړه راتګ یوه ستره اشتباه وه، دغسې یې په بېړه تګ هم یوه لویه اشتباه ده. تر هغه پورې چې په افغانستان کې یو واقعي عادلانه، مستحکم مرکزي او قوي حکومت نه وي رامنځته شوی او د افغانستان د ګاونډیو د مداخلو ټول ډولونه نه وي کنټرول شوي، له افغانستانه د نړیوالې ټولنې وتل داسې یوه اشتباه ده چې افغانستان او نړیواله ټولنه به ټول په کې پوره پوره زیانمن شي.

**پوښتنه: ستاسو په وینا، ستاسو د حقیقتونو د لټون او بیان یوه لړۍ پیل کړې ده. لطفاً په دې هکله معلومات راکړئ چې د حقیقتونو د لټون او بیان لړۍ یانې څه؟ فردي که ډله ییز کار دی؟ موخه یې په دقیقه توګه څه ده؟ د کومې کړنلارې پر بنسټ پرمخ ځي؟**

ځواب: پر خپل وخت د حقیقتونو بیان اسانه خبره نه ده، قرباني غواړي، د طالبانو تر سقوط وروسته پر افغاني میډیا د جنګسالارانو او د هغو د اړوندو ویندویانو د وهم سیوری خور و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاذبو فاتحینو د کاذب منطق ماتول یوه افغاني او انساني جرئت ته اړتیا لرله، څو تنو ملتپالو افغانانو دا جرئت وکړ، ما هم تر خپله وسه خپله ونډه په کې واخیسته، اوس د هغو د تکبر د بو په ګونډو شوی، یو نوی نسل په زرغونېدو دی، چې د حقیقت له لټون او بیان سره مینه لري. موږ هیله لرو چې دا نسل د منطق او جرئت په وسله سمبال شي. د دې کار د سمبالښت لپاره یو فعال رسنیز مرکز ته اړتیا ده، داسې رسنیز مرکز چې د میډیا له اوسنیو عصري امکاناتو برخمن وي. له ورځپاڼې نیولې، تر راډیو، ټلویزیون، وېبسایټ، اژانس او نورو پورې ټول په کې شامل وي. دا مرکز کولای شي، په بېلابېلو ډګرونو کې په زرګونو افغان کدرونه وروزي. د داسې یو مرکز له لارې موږ کولای شو خپل ملتپال پیغامونه په څو دقیقو کې خپل ملت ته ورسوو. میډیا اوس یو موثر قوت دی، بېلابېل تنظیم سالاران او جنګسالاران اوس له دې قوت څخه د خپل ځان د بقا او د ملت د کمزورۍ لپاره کار اخلي، خو ملتپال افغانان لاتراوسه پورې له داسې یو موثر قوت څخه برخمن نه دي. موږ په ډله ییز ډول د داسې یو موثر رسنیز مرکز د جوړولو نیت کړی، که لوی رب یې پر جوړولو بریالي کړو، نو بیا به د حقیقتونو په لټون پسې لاځراغونه بلوو او حقیقتونه به روښانوو.

**پوښتنه: د افغانستان دښمنان او دوستان څوک دي؟ د دښمنانو د دسیسو د مخنیوي په خاطر باید څه وشي؟**

ځواب: افغانستان په سیمه او نړۍ کې ډېر دښمنان لري، خو خواخوږي هم لري. د ټولو سپړل او یادول یې ډېر وخت غواړي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډیو هېوادونو کې د پاکستان او ایران د پراختیا غوښتنې ستراتیژۍ افغانستان ته ډېرې خطرناکې دي. ددې هېوادونو پټې اجنسۍ روغ رمټ افغان ملت او سوکال افغانستان نه شي زغملای، ددې ترڅنګ پخواني شوروي اتحاد افغانستان کې ډېرې قومي تفرقې ته لمن ووهله، ایران او پاکستان هم همغه لړۍ په بېلابېلو رنګونو تعقیب کړه، ددې لړۍ کورني تعقیبوونکي او پالونکي د افغانستان کورني دښمنان دي، دوی په ډېره سپین سترګۍ سره په رسنیو کې د افغانستان پر ملي وحدت، جوړښت او ملي هویت په زغرده ملنډې وهي، دا کورنۍ ډلې او اشخاص له بهره الهام اخلي. زه هیله لرم چې رښتیني افغانان به ان شاالله د وخت په تېرېدو سره ددې وس پیدا کړي چې خپلو نړیوالو خواخوږو سره د تفاهم له لارې خپل دوستان نور هم زیات او د یوې ملي ستراتیژۍ له لارې خپل مغرض ګاونډیان مهار کړي. کورني تالي‌څټي کېدی شي د اصولي منطق او یا هم په نړۍ کې د یوه هېواد د کورنیو مخالفینو د مهارولو د دودیز منطق له لارې اصلاح او کنټرول شي.

**پوښتنه: د خپلو فرهنګي فعالیتونو په باب لږه رڼا واچوه؟**

ځواب: خپلو فرهنګي کارونو ته مې ډېر پام دی، په داسې یو دفتر کې کار کوم چې خپله ډېره پاملرنه مې همدې برخې ته ده، په سیاسي مسایلو کې خو ځکه په اصطلاح ډېر مطرح او رابښکېل شوی یم، چې زه د یو محسوس او نامحسوس سیاسي ظلم پر وړاندې ژر غبرګون ښیم، سیاسي مرکې او د حقیقت بیان د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ضرورت او د خپل مظلوم ولس يو حق ګڼم. دا غبرګون کله کله د يو سياسي فعاليت په توګه انګېرل کېږي، که نه نو نور نه په کوم سياسي ګوند کې وم او نه اوس يم، د ملي ګټو پالونکي سياسي ګوندونه ډېر فعال نه دي، نو ځکه د هغوی د مسوليت پېټی هم د ازادو ملتپالو افغانانو پر اوږو بار دی. دا ډول سياسي- فرهنګي فعاليت د خپل هېواد د هويت د خونديتابه او د فرهنګ د بډاينې په خاطر ترسره کوم، غوارم سياست د فرهنګ په خدمت کې شي، نه فرهنګ د سياست په چوپړ کې. کله چې مو په شعوري ډول په ارګ کې وظيفه واخيسته، نو يو شمېر تنګنظرو او لنډ فکرو په ماپسې پټ او ښکار تبليغ پيل کړ، ځينو به د زيار صيب په اصطلاح ((سوی تبسم)) هم وکړ: همدا به يې ويل: (( والله نو خلک خو درباريان شول، موږ خو سياست نه کوو فرهنګ ته کار کوو...))

خو ما د فرهنګي کار لپاره ځان سره پټ پلان جوړ کړی و. د نږدې درې کلونو په ترڅ کې مې شلکلن فرهنګي کار او ثمر سره منظم کړ؛ (۳۳) عنوانه کتابونه مې يوځل چاپ کړل. نږدې (۳۵) زره مخه ايډېټ مې وکړ، پر دې ټولو کتابونو نږدې (پينځه مليونه افغانۍ) لګښت راغی، چې اکثره زما د فرهنګي او فرهنګپالو دوستانو له خوا ورکړل شو او يوه برخه يې زما د څو کلونو معاشونو زېرمه کړې پيسې وې چې سختې ورځې ته مې ساتلې وې، په دې ټولو د کتابونو لګښت پرې شو. دا ټول کتابونه مې د افغانستان ګوټ ګوټ ته، د روزنځيو، ښوونځيو، پوهنځيو او نورو علمي مرکزونو کتابتونونو ته په وړيا ډول ورکړل، سي ډيانې مې هم ترې جوړې کړې او انټرنېټ ته مې هم پورته کړل، دا کار د هغو کسانو پرمخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه درنه څپېړه وه چې پښتانه يې نالوستي او بې کلتوره ګڼل او هم د هغو تنګنظرانو پر وړاندې چې هېڅ کار يې له واکه نه کېږي او خپله ټوله انرژي د نورو پر تخريب لګوي؛ په اصطلاح شفاهي ليکوال دي. اوس هم د خپلو او نورو دوستانو د فرهنګي کارونو لپاره يو پلان لرم خو افشا کوم يې نه، کله چې دا پلان ثمر ته ورسېد، دوستان به خپله ترې خبر شي.

**پوښتنه: د وروستۍ پوښتنې په توګه خپلې لويې او کوچنۍ هيلې راته بيان کړه!**

ځواب: لويې هيلې خو لويې وي، هغه ايډيالونه وي، مهمه نه ده چې پر يوه ورځ، کال، لسيزه او يا سليزه کې دې پوره شي. لويې هيلې مې دا دي چې افغاني واکمنۍ خپلو طبيعي سرحدونو (له امو څخه تر اټکه) ته ورسېږي، دې سره به د (اقليت) او (اکثريت) مقولې خپل اوسنی کرېدونکی مفهوم له لاسه ورکړي. بله هيله مې داده چې طبيعي اکثريت پر طبيعي کيفيت بدل شي. تر هغه چې په اوسني او راتلونکي هيله من لوی افغانستان کې طبيعي اکثريت پر طبيعي کيفيت بدل نه شي، په ټولنه کې ماهر اقليت کولای شي ټولنه اخلال او د اکثريت حقوق ولوټي.

د يو داسې لوی، مستحکم، غښتلي او پرمختللي افغانستان جوړېدنه مې لويه هيله ده، چې عدالت په کې واکمن وي، فردي خپلواکي په کې تضمين وي، سړيتوب او لياقت د ژوندانه معيار وي، نړۍ سره سيال وي، نه د چا په چارو کې مداخله وکړي او نه بل چاته په خپلو چارو کې د مداخلې حق ورکړي. کوچنۍ هيله مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داده چې خپلې مېرمنې او څلورو ګلالیو ماشومانو او خپلې مور سره په مینه او صمیمیت ژوند وکړم، کور کې دې خدای کوم غم نه راکوي چې د ملت او هېواد کارونو ته وخت او ځواک پیدا کړم.

**یون صیب ستاسو له دې اوږدې او هر اړخیزې مرکې ډېره مننه.**

د افغان جرمن انلاین له وېبپاڼې هم ډېره مننه چې د واقعیتونو په بیان کې یې وخت پر وخت خپل مخکښ رول ادا کړی، ټولو کارکوونکو ته یې کور ودانی وایم. مننه

ستاسو ټولو یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلو هېوادوالو ته یو ډاډ

## (د حقیقت په لټه)

| |
|---|
| دا لیکنه د کابل کنفرانس د جوړېدو پر مهال (۱۳۸۹ل) کال شوې او د یوې ټلوېزیوني مرکې په پای کې د یوې پېښې انځورنه کوي. |

د ټلویزیوني بحثونو په لړ کې څو موده دمخه (اریانا) خصوصي ټلویزیون د کابل کنفرانس په اړه یو ګردی مېز جوړ کړی و. زه له نږدې څلورو پنځه میاشتو راهیسې ټلویزیوني بحثونو ته نه وم تللی. که څه هم په دې موده کې په لسګونو ځله او په ډېر ټینګار سره بېلابېلو خصوصي ټلویزیونونو بللی یم، خو نه مې غوښتل په ټلویزیونونو کې ډېر څرګند شم. اریانا ټلویزیون په دې ترڅ کې څو څو ځله بلنه راکړې وه، خو ما خپل عذر وړاندې کړی و. دا ځل د اریانا ټلویزیون یو ویاند ښاغلي (لطیف محمود) په ډېر ټینګار راته وویل او د ښاغلي احسان الله ارینزي سپارښتنه یې هم راته وکړه، راته یې وویل چې ښاغلی (فاضل سانچارکی) د ((اپوزېشن)) او ښاغلی (وحید عمر) د دولت په استازۍ او تاسې د پوهنتون د یوه استاد په توګه په دې ګردي مېز کې ګډون کوئ. که څه هم ما ښاغلي لطیف محمود ته وویل چې زه جلال اباد ته په سفر یم خو هغه ډېر ټینګار وکړ او هیله یې څرګنده کړه. لنډه دا چې اریانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټلويزيون ته لاړم، زه (يون) او ښاغلی سانچارکی تر ټاکلي وخت لږ دمخه ورسېدو. تر بحث وړاندې مو پر فرهنګي مسايلو يو څه شخصي بحث وکړ، ګردي مېز ته لالږ وخت پاتې و چې ښاغلی (عبدالحفيظ منصور) هم ستوډيو ته راننوت، که څه هم ښاغلي محمود ماته د منصور په اړه نه وو ويلي، خو ما ځکه په بحث کې ګډون وکړ چې بيا دا ښاغلي فکر ونه کړي چې دی (يون) ګنې زموږ د ځواب نه دی. تر دې دمخه ما له ښاغلي منصور سره دوه بحثونه يو په (اريانا) او بل په (طلوع) ټلويزيون کې تېر کړي وو، هلته ماته د ښاغلي منصور د منطق وزن معلوم و چې په کومه کچه دی. هغه دواړه بحثونه د منطق، زغم، استدلال او سياسي پرنسيپ له مخې دې ښاغلي بايلولي وو. هغه وخت ماته د منصور منطق او اوسېله ښه معلوم شوي وو؛ هر ځل چې بحث پای ته رسېدلی، نو ده له خدای پامانۍ پرته يو څو ترخې خبرې خوشې کړي او بيا همداسې په منډه له ستوډيو څخه وتلی دی. يو ځل يې په اريانا ټلويزيون کې تر بحث وروسته په ډېره ترخه او مسخره ييزه لهجه وويل: ((او يک کتاب شما را خواندم)). ما ورته وويل: ((ما هم او دوکتاب تانرا خوانديم)) ده وويل: (( ما خو هشت کتاب نوشته کردم، تو کدام اش خوانده ايد؟)) ما ورته وويل: (( ما سی و سه عنوان کتاب نوشته کرديم تو کدام اش خواندی؟)) همدې سره په ډېره بيړه له ستوډيو څخه ووت.

په طلوع ټلويزيون کې د (صد روز نخست) پروګرام کې هم له سختې ماتې سره مخامخ شو، هلته هم کله چې بحث خلاص شو له خدای پامانۍ پرته له ستوډيو څخه ووت، په تلو تلو کې همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره ګړېږده. خدای حاضر دی چې دا دواړه ځله زه تصادفاً له ده سره مخامخ شوی یم، کېدی شي دی دمخه خبر و، خو زه خبر نه وم، دا درېيم ځل هم همداسې و.

کله چې د بحث وخت نږدې شو، نو د پروګرام چلوونکي ښاغلي (نصير احمد فياض) ښاغلي لطيف محمود ته وويل: ((ځنګه شو د دولت نماينده؟)) هغه وويل: ((راروان دی)) څو دقيقې وروسته ښاغلی (رفيع فردوس) چې د حکومت د رسنيو مشاور دی، رانوت، بحث پيل شو، دا بحث کېدی شي اکثرو ليدونکو ليدلی وي، قضاوت به يې هم پرې کړی وي، زه نه غواړم هغه خپرې شوې خبرې بيا تکرار کړم، خو زه غواړم هغه څه چې سانسور شول او نشر نه شول او دا چې تر بحث وروسته څه پېښ شول؟ پر هغو لنډه رڼا واچوم:

## لومړی سانسور شوې برخې ته راځم:

ما د خپلو خبرو په ترڅ کې وويل: ((حکومت په عمومي ډول له دوو کتهګوريو خلکو جوړ دی: يوه تنظيمي برخه ده او بله د روښنفکرانو برخه، تنظيمي برخه د تنظيمي ملاحظاتو او روښنفکره برخه د خپل ظرفيت او کفايت له مخې په حکومت کې ونډه لري.)) کله چې ښاغلي منصور ته بل ځل نوبت ورسېد، نو ويې ويل: (( اگر جامعه جهانی در افغانستان حکومت درست ميخواست چرا يک شخص (کرزی) بيسواد سر مردم تحميل کرد)) و اينها (يون) که از روشنفکران نام ميبرد، اين روشنفکران را ما (دزدان کمپيوتری) ميگويم)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده نورې هم ډېرې خبرې وکړې چې اکثره هغه نشر شوي، خو دا پورته دوه غټې خبرې يې نشر نه شوې، زما هم ډېرې خبرې نشر شوي، خو دده د دې پورته دوو خبرو ((بيسواد)) او ((دزدان کمپيوتری)) ځواب يې نشر کړ. ددې دوو سپوره الفاظو په باب زما ځواب داسې و: ((سواد په دوه ډوله دی: يوه ته رسمي سواد وايي او بل ته نارسمي، رسمي هغه ته وايي چې يو څوک له لومړي ټولګي څخه بيا تر فاکولتې پورې پروسه طی کړي او نا رسمي هغه ته وايي چې يو څوک له خپلې ټولنې څخه سم برداشت ولري او هغه سمه تحليل کړي، مهمه نه ده چې دی دې رسمي سواد ولري. اوس خو ټوله دنيا پوهېږي چې کرزی د سواد دا دواړه ډولونه لري، دا چې ته يو باسواده سړي ته بېسواده وايې، زما ستا پر سواد شک پيدا شو چې ته سواد لرې که نه؟ هو کرزی دا سواد نه لري چې کعبه کې قسم وخوري او بيا يې تر پښو لاندې کړي، که دا د سواد برخه وي نو تاسې بيا په دې کې اول ياستئ. دا چې ته د هېواد روښنفکرانو ته، چې خپل فکر او ټول توان د هېواد د ابادۍ لپاره لګوي ((دزدان کمپيوتری) وايې دا نو ستا د اخلاقو نمايندګي کوي. پاتې شوه اصلي موضوع، نننۍ موضوع کابل کنفرانس ته ځانګړې شوې ده، حاشيې ته بايد لاړ نه شو، پر اصلي موضوع بايد بحث وکړو...))

کله چې مې د شپې (اريانا) ټلويزيون تعقيب کړ، زما د خبرو پر پورتنۍ برخې سربېره يې زما د خبرو يوه بله اساسي برخه هم سانسور کړې وه. د شپې مې لطيف محمود، نصيراحمد فياض، حاجي صيب اسمعيل (د اريانا ټلويزيون سرپرست) او احسان الله ارينزي صيب ته چې دا مهال په هالنډ کې وو، ټليفونونه وکړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي صيب اسمعيل وويل: ((موږ ته ټليفون وشو چې دا بحث بايد قطع کړو.)) دا چې چا ټليفون کړی و، معلوم نه شو، زما په ډېر ټينګار يې بحث سهار لس بجې بيا کېښود، زما د ځوابونو يوه برخه يې ورسره کېښودله، خو هغه برخه چې پورته مې ورته اشاره وکړه او ځيني نورې بيا هم ترې کټ شوې وې.

اريانا ټلويزيون بيا د بهر لپاره دا مرکه نوره هم کټ کړې وه او هغه برخه چې اوس (You Tube) ته پورته شوې، هغه هم نيمګړې ده. د اريانا ټلويزيون سرپرست ښاغلي حاجي اسمعيل په دې پلمه چې هغه (منصور) جمهور رئيس ته سپکې سپورې کړې وې او دا زموږ پاليسي نه ده چې دا ډول کنځلې نشر کړو. د مرکې د مهمې برخې د قطع کېدو علت وګاڼه. ما ورته وويل: ((تر دې دمخه هم همدې ښاغلي منصور د همدې اريانا ټلويزيون له لارې تر دې ډېرې سپوره کلمې، هم ښاغلي کرزي او هم خپلو نورو مخالفانو ته کارولي، هغه تاسې نشر کړي، خو دا ځل يې چې منطقي ځواب ويل شوی، هغه نه نشروئ؟.

زما دلايل که هر څومره پرځای وو، خو د سانسور مخه يې ونه شوه نيولای.

## اوس راځم دويمې برخې ته!

کله چې بحث خلاص شو، ما له خپلې کورتۍ څخه ميک خلاصوه، زه پر څوکۍ ناست وم، دا وخت منصور ودرېد، په ډېره قهرجنه لهجه يې وويل: ((تو وجدان داری؟)) ما وويل: ((مشکل دې څه دی؟)) دی نور هم ګرم شو (( به خدا می کشم ات)) ما وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«اعصاب دې پرځای دي که نه؟» بیا یې ما ته وویل: « تو انسان هستی؟» ما ورته وویل: « زموږ او ستاسې اختلاف تر دې مېزه پورې و، ته چې بحث ته راځې باید د بحث اوسپله ولرې، د یوه افغان په شان، د یوه انسان په شان او د یوه مسلمان په شان باید خبرې وکړې!» دی نور هم ګرم شو، له خولې یې لاړې باد پدلې، ویې ویل: « ګوش کو! من افغان نیستم، کسی که مرا افغان میګوید، بد میکند.» ما وویل: «خیر که افغان نیستی ما همرایت هیچ مشکل ندارم ما خو همرای پاکستانی و ایرانی ګپ نمیزنم، تو که افغان نیستی خیر چرا یکبار خود را به ریاست جمهوری انتخاب کردی و دوبار هم به پارلمان؟ قانون اساسی افغانستان میګوید کسی که افغان باشد حق دارد رایه بګیرد و رایه بدهد، به خارجی ها این حق را نداده». دې سره نور هم په جوش شو، رابرګ شو، زما کورتۍ ته یې لاس راوړ، ما ورته وویل: «چې منطق درسره نه وي او د بحث اوسپله نه لرې هېڅ بحث ته مه راځه، اول خپل کور کې مشوره وکړه بیا بحث ته راشه او که ته رښتیا هم د منطق خاوند یې له اریانا ټلویزیون څخه به لایف وخت واخلو، دواړه به ازاد بحث وکړو.» ده نور هم خپل کنټرول له لاسه ورکړ، غوښتل یې زما غاړې ته لاس راوړي، ما یې لاس ونیو، دا مهال په ستوډیو کې ولاړ کسان (فیاض، سانچارکی، محمود، فردوس او څو تنه نور ترمنځه شول، سره جلا یې کړو، دی د دېوال خواته دوو تنو له لاسونو نیولی و او زه هم دوه تنو نیولی وم. دی که څه هم دوه تنو نیولی و خو خوله یې تړلې نه وه، د یوه کوڅه ډب شخص په توګه یې چې څه خولې ته ورتلل، هغه یې بادول، هغه کنځلې چې ده کولې د کاغذ پرمخ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاتراوسه د لیکلو کلتور نه شته، یو ځل یې بیا کنځلې تکرار کړې او غوښتل یې پر ما ګوزار وکړي، دې کې نو زه هم پرځان پوه شوی نه یم چې څنګه مې ځان له دې دوو تنو خلاص کړی، زما یوه لغته خدای پاک دده پر سینه ور برابره کړه، جک یې نارې کړې او دی دېوال سره وموښت.

ګوره حمزه خوله په خوله چې نه شې لـه رقیب سره
تـاتـه دي ښـکاره چـې د سړو خبرې نورې دي.

دې کې خلکو سره خلاص کړو، دی له ستهوډیو څخه په وتو شو، خو تر اخره یې کنځلې کولې، ما ورتـه وویـل: ((ستا کرکتر ستا لـه دې خولې څخه معلومېږي)) ښاغلي سانچارکي ته مې وویـل: ((دغـه دي ستاسې د جبهه یانو اخلاق، کله چې د بحث اوسپله نه لرئ ولې بحث ته راځئ؟)) ستهوډیو کې ټول اته نهه کسان وو، پر ټولو مې غږ کړ: ((وګورئ اخلاقو ته یې، په دې به هم سبا څوک ملامت وي چې خوله یې ورسموي، تاسې ټول د دې شاهدان یاست چې نن ده دلتـه کوم الفاظ استعمال کړل؟)) لطیف محمود تـه مې وویـل: ((زه دوه غوښتنې لرم: یو دا چې دا شوی بحث بـه کټ مټ نشروئ او بـل تـر بحث وروسته چې ده کوم حرکت کړی ددې فلم بـه ماتـه راکوئ!)) هغه وویل: ((بحث خو کټ مټ نشروو، خو تـر بحث وروسته جریان نـه دی ثبت شوی، ځکه چې مونږ خپلې کمرې ګل کړې وې.)) ما ورته بیا وویل: ((هسې نه چې سبا خپله دا ملامتـي پـر بـل چا وانـه چوي؛ دوی همداسې دي.))

په دې کې ده نورې هم ځینې سپوره ترخې خبرې باد کړې خو غټ ټکي یې همدا وو. دا چې ولې ښاغلی منصور د انفجار دې مرحلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورسېد ، اوس راځم دې خبرې ته: د دې کار يو علت شايد دا وي چې کېدی شي د هغه کرکټر او اخلاق همداسې وي؛ د يوه منطقي دوه اړخيز بحث اوسېله نه لري، بل علت دا دی چې د اوو اتو کلونو په بهير کې د نظار شورا او اسلامي جمعيت،ويندويانو ، خبرلوڅو او ((مفکرينو)) د ازادې ميډيا تر چتر لاندې د رسنيو يوه تنظيمي امپراتوري جوړه کړې وه، يوازې دوی د خبرو فاتحين وو، په هر بحث کې به هم ځانته او هم جوړه جوړه راڅرګندېدل او چا يې خبره ورتاوه کړې نه وه.

د تېرو درې څلورو کلونو په ترخ کې څو تنو ملتپالو افغانانو خپل هېواد او ملت سره د مينې او پر لوی الله(ج) د توکل په قوت د دوی دا امپراتوري ونړوله، دا چې د دې نامشروع رسنيزې امپراتورۍ په نړولو کې چا اساسي نقش درلود ، دا قضاوت لوستونکو ته پرېږدم؛ کاغذي فيلان او کاغذي اتلان نور د حقيقت د ويندويانو پر وړاندې د منطقي بحث د تداوم جوګه نه دي، نو ځکه دوی دې ډول عمل ته لاس اچوي. هر کله چې ته يو څوک د منطق په توره مات کړې، نو د ماتې خوړلي لومړی حرکت به بې ځايه احساسات وي، دويمه مرحله به يې کنځاوې او سپوره خبرې وي او درېيم حالت يې همدا فزيکي لاس اچونه ده. پر ښاغلي منصور او د نظار شورا پر نورو ((بلبلانو)) دا درې پړاوونه اوس اوس د تېرېدو په حال کې دي، د دوی غټه وسله چې نور به يې پرې په اصطلاح لاځوابه کول هغه (جهاد) و، ما له ده سره په يوه ټلويزيوني بحث کې د جهاد له اصلي او فرعي، حقيقي او جعلي يا پروتوکولي څېرو څخه پرده پورته کړه، نور دوی هغه وسله د دې مجاهد ولس پر ضد نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعمالولای، همداسې د «مقاومت»، «اپوزېشن»، «دیموکراسي» او نورو اصطلاحاتو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې تولې لارې مې پرې وتړلې، نو کله چې پر دوی د منطق ټولې لارې بندې شوې، نو ځکه یې دې ډول عمل ته لاس واچوه.

ښاغلي منصور هلته په سپکو سپورو بسنه ونه کړه، تر هغه وروسته بیا د ښاغلي رفیع فردوس په وینا، هغه ته یې هم سپکې سپورې وکړې، تر هغه وروسته یې بیا خپلو تنظیمي انډیوالانو ته هم ځان ور رسولای و، غوښتي یې وو، دې پېښې ته بله بڼه ور کړي. دې ښاغلي د جمهوري ریاست او په تېرو پارلماني انتخاباتو کې تر ناکامۍ وروسته یو ځل بیا له کابل څخه ځان ولسي جرګې ته کاندید کړی دی، غواړي په دې ډول یوه ماجرا پیدا کړي او خپل ځان په کې د پخوا په څېر کاذب شهرت ته ورسوي. ما نه غوښتل د وړو اشخاصو دا ډول چلندونه د رسنیو مخ ته راوباسم، خو څرنګه چې دوی له دې حالت څخه هم ناوړه ګټه پورته کوي او پېښې ته بل ډول رنګ ورکوي، نو ځکه مې دا لیک ولیکه. اکثره ملتپال افغانان هم د وخت د نزاکت په پام کې نیولو سره د سیاسي چارو د کارپوهانو په بڼه د ځینو جنګسالارانو چلندونو ته په ژوره توګه متوجه دي، هغوی ته د وضاحت او ډاډ په خاطر مې هم دا کار غوره وباله.

واقعیت دادی چې افغانستان کې د اوسنیو ازادو رسنیو اکثره برخه په مستقیم او نامستقیم ډول د یوه فاشیست او متعصب تنظیمي انحصار په منګولو کې راګیر ده. دوی غواړي خپل دې ډول انحصار ته دوام ورکړي، نو که یو څوک له یوې وړې کړکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه هم ددې نامعقول تنظیمي انحصار د ختمولو او د هېواد د ملي ګټو د خوندیتابه لپاره کار کوي، د دوی له خوا به له ډول ډول ګواښونو سره مخامخېږي، ان په مستقیم او نامستقیم ډول به د ځینو رسنیو له خوا هم ټکول کېږي. زه خپلو مظلومو هېوادوالو ته ډاډ ورکوم چې نور نو د منطق په ډګر کې د افغانستان د ملي هویت د مخالفینو زور اوبه شوی، یوازې د پردیو تر سیوري لاندې یې خپل څه ناڅه جنګسالاریز قوت او خصلت ساتلی، هغه به هم د لوی رب په فضل یو وخت د باد ښکه شي. مونږ د حقیقتونو د لټون او بیان لړۍ پیل کړې، هیله ده دا حقیقتونه یو وخت پر واقعیتونو بدل شي. د افغانستان د لاسرلوړۍ او د هغه د دښمنانو د لا سرټیټۍ په هیله.

ستاسو ټولو

یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان او پاکستان پارلمانونه او ګډه غونډه

پـه کابل کې د افغانستان او پاکستان د امن تړون جوړېدو (۱۳۹۱ل) ل کال نږدې دوه کاله وروسته د هېواد ملي شورا ځينو وکيلانو د مدني ټولنو او ازادو رسنيو استازو د يوه هيئت پـه ترکيب کې د پاکستان اسلام اباد ته سفر وکړ او هلتـه يې پـه يو علمي کنفرانس کې ګډون وکړ، ما په دغه کنفرانس کې لنډه وينا وکړه، چې ليکلی متن يې دا دی دلته وړاندې کوم.

تر هر څه دمخه د افغانستان او پاکستان د پارلمانونو د غړو، مدني ټولنو او د رسنيو د استازو ددې مهم کنفرانس برخوالو ته سلامونه او احترامونه وړاندې کوم. هيله لرم، دا کنفرانس او علمي او مشورتي غونډه د نورو دا ډول غونډو ښه پيلامه شي. دا ډول غونډې د دواړو هېوادونو د مخورو، سياستوالو او قلموالو د خلوص ښکارندوی کوي، نن چې اسلام اباد ددې پرتمينې غونډې کوربه دی، موږ هيله من يو چې بل وخت کابل او د افغانستان نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی ښارونه د دا ډول غونډو کوربه شي. دا راشه درشه طبعاً د زیاتې مینې او خلوص سبب کېږي. زموږ د ادبیاتو یوه بېلګه ده وایي: مینه په تلو راتلو زیاتېږي --- کله راځه کله به زه درځم مینه له نن څخه نږدې دوه کاله د مخه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د امن ګډه جرګه جوړه شوه، د دواړو ولسونو تاریخ کې یې د وروری یو نوی باب پرانیست، ولسونو ثابته کړه چې که د حکومتونو ترمنځ وخت ناوخت سیاسي اختلافونه هم وي، خو هغه ولسونه چې د ګډ دین، مذهب خاوندان دي او تر ډېره حده کلتوري مشترکات لري، سیاسي اختلافات او د نظریاتو توپیر د ولسونو طبیعي پیوستون او وروري له منځه نه شي وړلای ولسونه چې کوم پیوستون وکړي، نو حکومتونه هم مجبور دي چې هغو پرېکړو ته غاړه کېږدي. خوشال بابا فرمایي:

**ولسونه چې سند یو بله وکا بادشاهان ورله سجود کاندي افتاد**

د افغانستان او پاکستان د امن ګډۀ جرګه هم د دواړو ولسونو د نظریاتو د پیوستون او توافق ښکاردنوی وه، د یادې جرګې په پرېکړه لیک کې ګڼې پرېکړې هم راغستلي چې هر یوه یې د دواړو هېوادونو د ولسونو لپاره د سوکالۍ زېری لري. ددغو پرېکړو په جمله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ پارلماني روابط، په بېلابېلو کلتوري، علمي، اقتصادي، تجارتي، صحي او نورو ډګرونو کې د هئیتونو تبادله شامله ده. نننۍ غونډه د همغې لویې غونډې د هیلې او پرېکړې د عملي تطبیق یوه بېلګه ده، خو په خواشینۍ سره باید وویل شي چې د امن ګډې جرګې ډېرې پرېکړې لا تراوسه پورې عملي شوې نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د افغانستان خوا د امن ګډې جرګې د پرېکړو تطبیق ته تیاره ده او په دې برخه کې یې د دې جرګې د پرېکړو مطابق د جرګه ګۍ لپاره کمیسیون هم جوړ کړي، خو په پاکستان کې حالات داسې راغلل چې دا خوا د دې جرګې د پرکړو د تطبیق په لار کې ستونزې لري. که څه هم دې خوا د جرګه ګۍ لپاره خپل کسان معرفي کړي، خو په پاکستان کې لا هم د دویمې جرګې د جوړېدو پر وړاندې لپاره ستونزې شته.

موږ هیله من یو چې افغانستان او پاکستان دواړه په دې هېوادونو کې پر پرتو جګړه ییزو ستونزو او نورو ډول مشکلاتو لاسبری پیدا کړي.

نه یوازې په پاکستان کې د افغانستان او پاکستان د امن جرګه جوړه شي، بلکې د دا ډول نورو کنفرانسونو، علمي او مشترکو غونډو جوګه هم شي.

د همدې ورځې په ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امریکایان او پښتانه

# تقابل او تفاهم

دا تحلیل پر (۱۳۹۲ل = ۲۰۱۳م) کال لیکل شوی و، ځینو سیاستوالو ته مې هم ورکړ او همدارنګه مې ځینو هغو افغانانو ته چې امریکایي تابعیت یې درلود، هدف مې دا و چې که امریکایي مقاماتو ته یې ور ورسولای شي. دا چې چا به دا نظرونه اړوندو مسولینو ته وررسولي وي که نه، په درک یې پوه نه شوم.

امریکا په نړۍ کې د یو ستر ځواک او پښتانه په سیمه کې د یو لوی قوم په توګه ډېرې ګډې ګټې لري، یو بل ته زیات ضرورتونه او یو له بل سره د همکارۍ او ملګرتیا ښه فرصتونه، خو په تېرو لسو کلونو کې نه یوازې له دغو ګډو فرصتونو، ضروروتونو څخه مثبته او لازمه ګټه نه ده پورته شوې، بلکې د امریکا د متحده ایالتونو او پښتنو د نړیوالو او سیمه ییزو غلیمانو له خوا، په پټه او ښکاره، قصدي او شعوري توګه له هر ډول توطیو څخه کار اخیستل شوی، چې د نړۍ او سیمې دا ستر پوتنسیال او ځواک یو د بل په مقابل کې وکاروي. په نتیجه کې دواړو ته زیان واړوي، دواړه کمزوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، امریکا له سیمې څخه وتلو ته اړه کړي او د پښتنو د کمزوري کېدو له وجې دوی په سیمه کې خپله واکمني ټینګه او خپل ستراتیژیک هدفونه تعقیب کړي.

د پورته سریزې هدف دادی چې د یوه نړیوال قوت او یو سیمه ییز بشري ځواک ترمنځ باید مفاهمه، همکاري او همغږي رامنځته شي. دا همکاري باید د دواړو خواوو ترمنځ د دوه اړخیزو ګټو پر بنسټ وي او یو بل په دقیقه او سالمه توګه درک کړي. زموږ په نظر پښتانه په سیمه کې د امریکا متحده ایالتونو طبیعي دوستان دي او دواړه په سیمه کې مشترک رقیبان او سیالان لري. دلته کېدی شي د پښتنو او امریکایانو د ګډو سیالانو او نورو مشترکاتو په باب یو څو مهمو ټکو ته اشاره وکړو:

## الف- د سیمې هېوادونه:

۱ - **روسیه:** روسیه یا پخوانی شوروي په نړۍ کې د امریکا پخوانی او اوسنی سیال دی. د روسیې په استخباراتو، دولتي کړیو او سیاسي ډلو ټپلو کې اوس هم داسې اشخاص شته چې غواړي امریکا په افغانستان کې ماته شي او په دې ډول په افغانستان کې له امریکا څخه خپل غچ واخلي. روسان پر دې پوهېږي چې په افغانستان کې د دوی د ماتې ستر علت، د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرسختانه مقاومت او د امریکا او غربي هېوادونو بې دریغه مرستې وې. سره له دې چې د روسانو په ماتې کې ټولو افغانانو خپله ونډه اخیستې، خو د پښتنو افغانانو ونډه په کې تر ټولو زیاته او ټاکونکې وه. روسان غواړي په یوه نه یو ډول پښتانه له سیاسي صحنې څخه ګوښه کړي او خپلو پلویانو ته، چې د منځنۍ اسیا له قومیتونو سره قومي اړیکي لري او له څو لسیزو راهیسې په افغانستان کې د دوی د ګټو پلوي کوي، د واک زمینه برابره کړي. په سیاسي او اقتصادي صحنه کې د پښتنو حذف، په افغانستان کې د بې ثباتۍ سبب ګرځي، دا بې ثباتي امریکا او افغانستان دواړو ته ستونزې راولاړوي.

**۲ - چین**: په سیمه کې بل ځواکمن هېواد دی، سره له دې چې په افغانستان کې یې سیاسي لاسوهنه ډېره پراخه نه ده، خو په افغانستان کې یې د امریکا حضور په هېڅ وجه پر زړه نه اوارېږي. چین په تېرو لسیزو کې له هغو سیاسي ډلو ټپلو سره اړیکي درلودل چې اکثره ناپښتانه وو او چپي افکار یې درلودل. چین د پاکستان د ګټو په پام کې نیولو سره نه غواړي له پښتنو سره ډېر نږدې اړیکي وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- ایران**: ایران په سیمه کې یو بل ځواکمن او امریکا دښمنه هېواد دی. لکه څنګه چې د ایران رژیم په تېرو دوه د پرشو کلونو کې له امریکا سره خپله دښمني نه ده پټه کړې، دغسې یې د پښتنو پر وړاندې هم هر وخت خپله دښمني په ډاګه ثابته کړې ده. له امریکا سره د ایران د دښمنۍ تاریخ ایله دوه د پرشو کلونو ته رسېږي، خو له افغانستان او په تېره بیا له سني مذهبه پښتنو سره یې دښمني سوونو کلونو ته رسېږي. له پښتنو څخه کرکه او د تاریخ په اوږدو کې له هغوی سره متواتره دښمني اوس د ایران د تاریخ او تفکر یوه برخه ګرځېدلې ده. ایران په هېڅ وجه په افغانستان کې یو سني مذهبه او ملي افغاني حکومت نه شي زغملی، په همدې خاطر په افغانستان کې هغو قومي، مذهبي او ژبنیو ګروپونو ته وده ورکوي، چې د ایران پلویان دي. ایران اوس غواړي، د افغانستان د دولت او امریکایانو مخالف ځواکونه وسلوال کړي، جګړه د پښتنو سیمې کې جاري وساتي، په دې ډول که یو سني مذهبه پښتون افغان وژل کېږي هم د ایران په ګټه ده، که پښتون مېشته سیمې ورانېږي نو هم د ایران په ګټه ده او که امریکایي عسکر وژل کېږي نو هم د ایران په ګټه ده، په افغانستان کې اوسنۍ روانه جګړه په واقعیت کې د ایران لپاره یو طلایي مثلث دی چې ایران یې له هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضلعې ګټه او خوند اخلي او زيات زيان يې پښتنو او امريکايانو ته دی.

**۴- پاکستان:** کله چې پخوانی شوروي ژوندی و او په تېره بيا د افغانستان د اشغال پر وخت، هغه وخت پاکستان، امريکا او غربي نړۍ ته خاص ارزښت درلود، په همدې خاطر يې پاکستان سره ډېرې زياتې مرستې وکړې. د پخواني شوروي له خوا د افغانستان د اشغال پر وخت، پاکستان ته ددې لاره اواره شوه چې د امريکا او غربي نړۍ له پراخو مرستو څخه ګټه پورته کړي او افغانستان کې خپل ستراتيژيک اهداف تعقيب کړي. د پاکستان د پوځيانو په ذهن کې د استعمار نشه وګرځېده او افغانستان کې يې پراخه لاسوهنه پيل کړه. د سپتمبر تر (۱۱) نېټې وروسته حالات بدل شول، امريکايان خپله افغانستان ته راغلل، نور نو پاکستان هغه پخوانی ارزښت او رول نه لري، چې امريکا او غربي نړۍ ته يې پخوا درلود. پاکستان لکه څنګه چې د پخواني شوروي پرضد يې په افغانستان کې د جګړې پخه تجربه ترلاسه کړې وه، د همغې تجربې په رڼا کې يې د امريکايانو پر ضد هم په مهارت سره جګړه پيل کړه. طالبان يې په بېلابېلو پلمو وسلوال کړل، دا جګړه يې ټوله په پښتون مېشتو سيمو کې متمرکزه کړه، له دې څخه د پاکستان هدف دا دی چې يو خو نړيوالو ته وښيي چې پښتانه (د طالبانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لباس کې) د نړۍ د پوځي حضور مخالف دي او له بلې خوا یې اصلي هدف دادی چې د دې سیمې خلک دومره کمزوري شي چې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته، د ځان د انسجام او عصري دولتمندۍ ټول ځواک له لاسه ورکړي، نو یو ځل بیا به د دوی تر مستقیم او نامستقیم واک لاندې راشي. د پاکستان د پراختیا غوښتنې سیاستوال او نظامیان فکر کوي چې که په افغانستان کې پښتانه سوکاله وي او د سیاسي واک خاوندان وي، نو په افغانستان کې ثبات د افغاني ټولنې د سوکالۍ او پرمختیا سبب کېږي، کله چې د ډیورنډ تر کرښې اخوا، د پاکستان تر واک لاندې سیمو کې پښتون مېشتې سیمې د افغانستان د پښتنو سوکالي وګوري، نو په اتومات ډول په هغو کې له افغانستان سره د پیوستون انګېزه پیاوړې کېږي او یا هم د پښتونستان داعیه بیا راژوندۍ کېږي، نو پاکستان غواړي د پښتونستان د داعیې د له منځه وړلو لپاره همېشه په افغانستان کې پښتانه کمزوري وساتي. دوی نه یوازې په افغانستان کې د پښتنو کمزوري غواړي، بلکې د پاکستان تر چتر لاندې پښتانه یې هم نه خوښېږي، هغوی په پاکستان کې د لاس د اضافي ګوتې په توګه ګڼي. هلته یې هم د تروریزم په نامه جګړه د پښتنو په سیمو کې ګرمه ساتلې، علت یې دادی چې دوی غواړي په دایمي ډول پښتانه د ژوند له اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساتتیاوو بې برخې وي. دا څه تصادفي خبره نه ده چې په پاکستان کې د ټولو مذهبي ګوندونو مشران له قومي پلوه پښتانه دي، د سیکولرو او نورو ګوندونو مشران ناپښتانه، د پاکستان استخبارات غواړي، په پښتنو کې مذهبي افراط تر وروستي حده پورته کړي، داسې افراط چې د ژوند د هر ډول پرمختګ مخه ونیسي، پښتانه د مذهب د دفاع په نامه په جنګ اخته کړي او د دوی د ژوند لاره خپله کړي. پښتانه لر دي او که بر په مجموعي ډول د پاکستان له پنجابي واکمنو او استخباراتي کړیو سره مشکل لري. د پاکستان همدا استخباراتي کړۍ دي چې امریکا او ټولې نړۍ ته یې سردرد پیدا کړی دی.

## تېروتنې:

دلته غواړم ځینو هغو نیمګړتیاوو، تېروتنو او ناسم پوهاوي ته هم اشاره وکړم چې په دې تېرو دریو لسیزو او په تېره بیا په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې پېښې شوي دي.

**لومړۍ تېروتنه:** د غربي نړۍ او په تېره بیا د امریکایانو لویه تېروتنه دا وه چې د پخواني شوروي تر ماتې وروسته یې افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې پرېښود او دا کار د سیمې هېوادونو په تېره بیا ایران او پاکستان ته لار اواره کړه چې افغانستان کې پراخه مداخله وکړي.

**دویمه تېروتنه:** مخکې تر دې چې پر طالبانو برید وکړي، بدیل حکومت یې جوړ نه کړ او په ډېره عاجله توګه یې د طالبانو نظام رنګ کړ، دې کار ددې زمینه برابره کړه چې د طالبانو پخواني وسلوال مخالفان (شمال ټلواله) چې تر طالبانو یې هم د افغانستان خلکو ته بدرنګه ماضي درلوده، یو ځل بیا واک ته ورسېږي، شمال ټلواله اساساً د روسیې او ایران طبیعي دوستان وو او د امریکا له واک و ځواک څخه یې د خپل واک لپاره ناوړه ګټه پورته کړه. په دې ډول مخکې تر دې چې د (بن لومړی نړیوال کنفرانس) جوړ شي، شمال ټلواله عملاً په واک وه، په دې مانا چې د افغانستان واک په نامستقیم ډول د روسیې او ایران لاس ته لوېدلی و. امریکایانو ته د سپټمبر د یوولسمې نېټې د پېښې له امله سخت درد ور رسېدلی و، نو له هرې هغې ډلې ملاتړ یې کاوه چې د طالبانو مخالف وو، که څه هم دا ډله جنایتکاره وه، یا یې له روسیې او ایران سره نږدې اړیکې درلودل. په دې ډول نظامي پروسه تر سیاسي هغې نږدې دوه میاشتې دمخه شوه او دې کار افغانستان کې سیاسي عدالت سخت زیانمن کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریيمه تېروتنه**: دریيمه تېروتنه بن کنفرانس کې وشوه؛ هغه دا چې واک په کې په عادلانه ډول ونه وېشل شو، هغه نظامي ډلې چې يوازې په سلو کې پر پينځه برخې خاورې يې واک درلود، د واک اکثره برخه ورکړه شوه، دا هغه ډلې تېلې وې چې د افغانستان په کورنيو جګړو کې يې لاس درلود او د بشر حقونو ناقضين ګڼل کېدل، خو فقط په دې خاطر نامعقول امتياز ورکړای شو چې د طالبانو پر ضد يې جنګ کې برخه اخيستې وه. د ساري په توګه د پنجشېر ولسوالۍ زورواکانو ته هغه وخت د جمهوري رياست مرستيالي، کورنيو، دفاع، بهرنيو چارو وزارتونه، د ملي امنيت رياست او نور مهم پوستونه ورکړای شول، دا په داسې حال کې وه چې په مرکز کابل کې ددې ولسوالۍ کسانو (۸۳۲) نور مهم رياستونه هم نيولي وو. ددې ولسوالۍ وګړي د ټول هېواد په کچه (۳،۰) سلنه کېږي، خو په بن کنفرانس کې د دوی واک په ناکنټروله ډول زيات شو او په عملي ډګر کې يې د واک کچه تر (۸۵) سلنې هم زياته وه.

**څلورمه تېروتنه**: څلورمه تېروتنه دا وه چې کله موقت حکومت پايته ورسېد، بايد انتقالي حکومت ته جنګسالارانو لاره نه وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړی، خو دوی بیا هم لاره پیدا کړه، دا کار په حکومت کې د فساد سبب شو.

**پینځمه تېروتنه:** پینځمه تېروتنه، چې هم د افغانستان د حکومت، په تېره بیا د جمهور رئیس له خوا او هم تر یوه حده نړیوالې ټولنې له خوا ترسره شوه، هغه دا وه چې په تېر لس کلن بهیر کې یې په حکومت کې د پښتنو متناسبه استازي تضمین نه کړای شوه. اوس د افغانستان په ټول حکومت کې د پښتنو ونډه په مهمو پوستونو کې په سلو کې (۲۵،۳) ده، د تاجکو (۲۲،۲) او د هزاره ګانو (۴،۴) ده، په ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت کې د پښتنو ونډه تر دې هم کمه ده، یو شمېر هغه پښتانه چې د دولت په حساسو پوستونو کې کار کوي، هغوی هم له سیاسي پلوه له شمال ټلوالې سره تړلي دي او یا د هغو له خوا یې د تقرر اجازه ورکړی شوې ده. په دې ډول په اوسني حکومت کې د جمهور رئیس په شمول پښتانه سمبولیکه ونډه لري.

**حل لارې:** پورته مو یو شمېر سیمه ییزو، کورنیو او نړیوالو ستونزو او تېروتنو ته اشاره وکړه، خو اوس راځو دېته چې څنګه د پخوانیو تېروتنو د تکرار مخنیوی وکړو او څنګه مثبت پرمختګ وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مفاهمه**: پښتانه د جرګې او مرکې خلک دي، هره پېچلې مسئله دوی په جرګه او مرکه حلوي، جرګه، مفاهمه او مذاکره په حقیقت کې په افغاني- پښتني ټولنه کې د ستونزو او ټولنیزو لانجو د حل اجتماعي فورمول دی، خو څوک چې غواړي له پښتنو سره د مفاهمې لاره خلاصه کړي، باید د مفاهمې په ژبه پوه شي. هر څومره چې څوک دې قوم سره په نرمه او ملایمه ژبه وړاندې لاړ شي، همغومره زیات امتیاز ترلاسه کوي او څومره چې د زور خبره مطرح کېږي، همغومره مسله ستونزمنېږي. امریکایان چې له څومره زور او طاقت څخه کار اخلي، که د همغې انرژۍ په سلو کې (دوه) برخې پر سوله ییزو لارو چارو ولګوي، نو ډېره ګټه به یې ترلاسه کړې وي. له دې خبرې څخه هدف دادی چې که امریکایان له پښتنو سره د تقابل لاره ونیسي، نو دا کار د روسانو په شان دوی هم له سترې ماتې سره مخامخ شي.

**طالبان**: طالبان په افغاني ټولنه کې د ټولنیز موقف له مخې په لومړۍ کټه ګورۍ کې نه راځي، یوازې په تېرو (۳۰) کلنو جنګونو او په تېره بیا په تېرو (۲۰) کلنو جګړو کې د یو سیاسي او نظامي قوت په توګه مطرح شول. طالبانو د پښتنو اجتماعي جوړښت ته زیان ورساوه، د پښتنو په سوونو قومي مشران یې ووژل، نږدې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملیونه پښتانه ماشومان یې د زده کړې له نعمت څخه بې برخې کړل او پښتانه یې د تمدن له کاروانه شاته پرېښودل. ځینو نړیوالو سره داسې یو تصور دی چې پښتانه مانا طالبان او طالبان مانا پښتانه. پر اکثرو پښتنو دا تعبیر ډېر بد لګېږي او وایي هغه څوک چې د پښتنو ماشومان ښوونځي ته نه پرېږدي، ښوونکي یې وژني، پر نجونو یې تېزاب شیندي؛ هغه د پښتنو د استازو په توګه یادوي، دا نو له پښتنو سره غټه بې انصافي ده. طالبان یو مذهبي قشر دی او په کار ده چې په خپله د طالبانو په نامه یاد شي.

که امریکایان غواړي له پښتنو سره د تقابل مخه ونیسي او یا ورسره د دایمي ملګرتیا نیت ولري، نو مذهبي او نظامي ډلې باید له پښتنو څخه بېلې کړي او په جلا جلا ډول یې مطالعه کړي.

**اوسني واکمن سیاسي مشران:** په اوسني حکومت کې اکثره سیاسي مشران د پښتنو استازولي نه شي کولای، د دوی یو شمېر هغه کسان دي چې خپلو سیمو ته هم نه شي تللی، د اوسني حکومت په مهمو پوستونو کې د پښتنو ونډه په سلو کې (۳۰،۲۵) د تاجکو (۶۲،۲) د هزاره (۴،۴) او پاتې د نورو قومونو ده. د پوځ په درېواړو ارګانونو کې د پښتنو ونډه تر دې حده هم کمه ده، کوم پښتانه چې د حکومت په مهمو پوستونو کې کار کوي، هغوی هم له سیاسي پلوه له شمال ټلوالې سره تړلي؛ تر څو چې د شمال ټلوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تائید نه وي، دوی پر هغو پوستونو نه شي مقرریدلای. دې کار ددې زمینه برابره کړه چې د اکثره پښتون مېشتو سیمو رابطه له مرکزي حکومت سره کمزورې شي، دې کار په سیمه کې د قدرت خلا رامنځته کړه او طالبانو یو ځل بیا له دې خلا څخه ګټه پورته کړه. طالبان د پاکستان په لمسون او شمال ټلواله په کابل کې د خپل زیات واک د بقا په خاطر دواړه غواړي، پښتون مېشته سیمې نارامه او پښتانه د پرمختګ له کاروانه شاته پاتې شي. نو که امریکا غواړي، په سیمه کې ثبات ټینګ شي، باید د مرکزي حکومت په امنیتي سکتور کې د عدالت پر بنسټ فوق العاده مثبت تغیرات راشي، د افغانستان پوځ په بشپړ ډول ناتنظیمي او له سیاسي عناصرو خلاص شي، د پښتون مېشتو سیمو په ګډون په ټول افغانستان کې د متوازنې ترقۍ لپاره کار وشي.

**رسنۍ**: له پښتنو سره د تفاهم یوه لاره داده چې پښتنې ازادې رسنۍ باید پیاوړې شي. رسنۍ دي چې هم د حکومت او هم نړیوالې ټولنې مثبت پیغام پښتون مېشتو سیمو ته رسوي او هم د پښتون مېشتو سیمو له مشکلاتو څخه حکومت خبروي. د افغانستان اوسنۍ ازاده(!) میډیا اکثره د ایران په کنټرول کې ده. دا میډیا اکثره په فارسي ژبه ده، دا رسنۍ نه یوازې په پښتون مېشته سیمو کې ګټورې نه دي، بلکې زیان رسوونکې هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو ته په خپله ژبه د رسنيزو خدمتونو وړاندې کول د خلکو د ذهنيت په روښانتيا کې ډېره مرسته کولای شي، که امريکا غواړي د ايران پالې ميډيا د تبليغاتو مخه ونيسي، بايد پښتني ازاده ميډيا او په مجموعي ډول ټوله ازاده ميډيا پياوړې کړي.

**د پښتنو مشرانو سراسري جرګه**: امريکايان کولای شي له پښتنو سره د ښه تفاهم په خاطر د پښتنو د رښتينو مشرانو؛ هغو مشرانو چې په ولس کې يې خبره وزن لري، يوه سراسري جرګه راوبولي، که د داسې يوې جرګې جوړېدل ممکن نه وي، کېدی شي له بېلابېلو مطرح قومي مشرانو او هغو روښنفکرانو سره، چې د افغانستان حالات ورته په ښه ډول معلوم دي؛ په جلا جلا ډول په انفرادي توګه وګوري، د هغوی نظريات او وړانديزونه واخلي. دا کار هم کېدی شي د سولې او ثبات په راوستو کې مرستندوی شي.
داسې نورې ډېرې لارې او وړانديزونه شته چې د دوو لوريو (امريکايانو او پښتنو) ترمنځ مناسبات ښه کولای او اوږدې مودې لپاره د يو بل ګټې تضمينولای شي، خو موږ يې يوازې څوو ته اشاره وکړه.
که حالات همداسې روان او د تفاهم پرځای د تقابل تله درنه وي، نو دا کار امريکايانو ته هم په درانه زيان تمامېږي او پښتنو ته هم.
پښتانه په نړيواله کچه يو ځواکمن ملګري ته اړتيا لري، د داسې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري په شتوالي کې پښتانه کولای شي له سيمه ييزو مارانو او لړمانو څخه ځان وژغوري او امريکا هم په سيمه کې يو باثباته او ځواکمن سيمه ييز پارټنر ته. که په دې دوو قومونو پورې اړوند سياستوال له سياسي ځيرکۍ څخه کار واخلي، نو کولای شي د يوه بل ځواک څخه د ځان په ګټه کار واخلي او له هغې پرته د حالاتو اوسنی بهير دواړو لوريو ته ګټور نه برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان او د ایران لاسوهنه

دا یو لنډ تحلیل دی چې پر (۱۳۸۸) ل کال لیکلی شوی او په افغانستان کې د ایران د ډول ډول لاسوهنو یو انځور وړاندې کوي.

ایران په افغانستان کې اوږده او ستراتیژیک هدفونه لري، دې هدفونو ته د لاسرسي لپاره دوی ډول ډول پلانونه لري او مختلفې ډلې ، ګوندونه او اشخاص یې د هغو د تطبیق لپاره ګومارلي او هر ډول ملاتړ یې کوي. دلته به په لنډیز سره د دوی د ځینو پلانونو او لاسوهنو یادونه وکړو:

۱- **په سیاسي برخه کې** : د جهاد په کلونو کې د ایران رژیم ته ښه موقع په لاس ورغله چې په ایران کې افغاني شیعه ګوندونه وروزي او ملاتړ یې وکړي، افغانستان ته یې راولیږلي او تر خپل کنټرول او تاثیر لاندې یې راولي. نو ځکه خو یې لومړی په ایران کې ((اته ګوني)) شیعه ګوند جوړ کړل او وروسته یې بیا دوی د عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې د ((حزب وحدت اسلامی افغانستان)) په نامه یوه واحد شیعه ګوند کې راټول کړل. په نوییمو کلونو کې دې ګوندونو د کابل په ورانۍ ،تنظیمي جنګونو، ائتلافونو او لوټمارۍ کې غټه ونډه لرله.

۲- **مذهبي برخه کې** : ایران غواړي د شیعه مذهب د تبلیغ او افغاني شیعه ګانو د تقویې او انسجام له لارې افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د یوه شیعه هېواد رنګ ورکړي، یا لږ تر لږه په افغانستان کې د شیعه ګانو رول او اغېز دومره زیات کړي چې د ایران ګټې او غوښتنې د دوی له لارې په افغانستان کې خوندي شي. له همدې کبله دوی د جعلي احصائیو له مخې غواړي په افغانستان کې د شیعه ګانو شمېر پورته وښيي، په ایران کې د ځینو چاپ شویو کتابونو او اثارو له مخې يې په افغانستان کې د شیعه ګانو شمېر تر ۳۵٪فیصدو پورې پورته کړ، خو د نورو رښتینو سرشمېرنو له مخې په افغانستان کې دشیعه مذهب د پلویانو شمېر تر ۸٪ نه پورته کېږي. ایران غواړي په افغانستان کې د حنیفي مذهب او احنافو دودیز واک کمزوری او د شیعه مذهب اوشیعه ګانو رول غښتلی کړي، له همدې کبله هڅه کوي چې په تعلیمي نصاب او یا هم د افغانستان په قضایي سیستم کې د جعفري فقهې د ځایونې له لارې دې هدف ته ورسېږي. سربېره پر دې دوی د بېلابېلو مدرسو له لارې چې مستقیماً د ایران له خوا جوړې شوي او جوړېږي غواړي د شیعه مذهب لمن پراخه کړي، غوره بېلګه يې د شیخ محمد اصف محسني تر چتر لاندې د ((حوزه علمیه خاتم النبین)) په نامه د یوې مدرسې جوړېدل دي چې په یوه وخت کې به تر لس زرو زیات زده کوونکي په کې د شیعه مذهب او جعفري فقهې زده کړه کوي، مدرسین به يې اکثره افغاني شیعه ګان او لارښوونکي یا مشاورین به يې ایراني شیعه ګان وي. پر دې مدرسې د ایران له خوا تر پنځوس میلونو ډالرو زیات لګښت راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- کلتوري او ژبني برخه کې**: پر مذهبي او سياسي لاسوهنو سربېره ايران په افغانستان کې ډېره کلتوري او ژبني مداخله کوي. دوی په مذهبي او ژبني برخه کې د افغانستان د شيعه ګانو ملاتړ کوي خو په کلتوري برخه کې دوی د افغانستان د نورو فارسي ژبو لکه ځينو تاجکو، قزلباشو او ايماقو ملاتړ هم کوي، هغه ګوندونه لکه جمعيت اسلامي او نور چې له ژبني او کلتوري پلوه د فارسي ژبې او کلتور سخت پلويان دي د هغوی ملاتړ هم کوي. دوی د افغانستان د تاجکانو يا فارسي ژبو له لارې غواړي تاجکستان او د منځنۍ اسيا نورو ورو فارسي ژبو سيمو ته لاره پيدا کړي، لومړی هلته خپله ژبه او کلتور عام کړي او تر څنګ يې د شيعه مذهب د تبليغ لپاره لاره اواره کړي. په همدې خاطر دوی د ((فارسي ژبو تلويزيون)) په نامه يو تلويزيوني چينل جوړوي چې تاجکستان، افغانستان او ايران به يې په ګډه چلوي خو د لګښت او واک اصلي چارې به د ايران له خوا سمباليږي. که څه هم افغانستان اساساً فارسي ژبی هېواد نه دی خو د افغانستان د بهرنيو چارو مخلوع وزير له ايران سره د خپل ژبني پيوستون او تمايلاتو له امله دا تړون لاسليک کړی او د افغانستان نور قانوني مراجعو لکه وزيرانو شورا، ملي شورا او سترې محکمې لا دا تړون نه دی تائيد کړی، دغه راز تر لسو زيات داسې تلويزوني چينلونه او تر (۴۰) زياتې داسې چاپي خپرونې شته چې په مستقيم او نا مستقيم ډول د ايران له خوا ورسره مرسته کيږي. له هغې جملې څخه يې د ((تمدن)) په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ محمد اصف تلویزیون ټول لګښت د ایران له خوا ورکړل شوی او نږدې سل کسان یې د ایران له خوا روزل شوي دي.

**۴- په اقتصادي برخه کې:** ایراني شرکتونه د افغانستان په دولت کې د خپلو پلوي افرادو په مرسته غوارې په افغانستان کې پر تجارتي مارکیټ خپل کنټرول حاصل کړي، له ښاروالیو سره د اعلاناتو له قراردادونو نیولي بیا د ځینو ساختماني چارو په برخه کې پانګه لګوي، ایران د خپلې پانګې لپاره د زمینې برابرولو ترڅنګ غوارې د افغاني سوداګرو ، پانګوالو او د نورې نړۍ د پانګې اچونې مخه هم ونیسي. څو موده وړاندې د ایران ځینو پټو شبکو له خوا په هرات کې ځینو افغان پانګوالو ته وړاندیز وشو چې په هرات کې خپلې جوړې شوې فابریکې بندې او د اسلام‌کلا تر بندر اخوا د پنځه شپېتو کیلومترو په واټن یې د ایران په خاوره کې جوړې کړي او ایران به د دوی د لګښتونو په سلو کې د (۲۵) برخې سبسایډي ومني. که چېرې دا کار عملي شي نو په هرات کې به پر یوه وخت تر سلو زیاتې فابریکې سقوط شي، دغه راز ایران هڅه کوي د نفتو او ګاز نلیکې هغه لویه پروژه له ناکامۍ سره مخ کړي چې ټاکل شوې له ترکمنستان څخه د هغه هېواد نفت او ګاز د افغانستان له لارې پاکستان ، هند او نورې نړۍ ته ولېږدوي. ددې پروژې له لارې افغانستان ته ډېره اقتصادي ګټه رسېږي خو ایران د افغانستان دا ګټه نه شي زغملای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵- په نظامي برخه کې:** په نظامي برخه کې د ایران پالیسي دا ده چې په افغانستان کې وضعه بې ثباته کړي، یو وخت یې له شیعه ګوندونو سره زیاته او مستقیمه مرسته کوله، بیا کله چې طالبان واک ته ورسېدل نو دوی ټولو طالب مخالفو ډلو په تېره بیا شیعه ګوندونو او اسلامي جمعیت سره زیاته مرسته کوله، خو اوس چې طالبان له واکه غورځېدلي، دوی له طالبانو سره پوځي مرسته کوي. د دې مرستې هدف دادی چې له یوې خوا امریکایانو ته زیانونه واړوي او غربي نړۍ دلته مصروفه کړي، له بلې خوا که طالبان هم زیان ګوري، د دوی په ګټه تمامېږي او که سیمه هم ورانېږي دوی ترې ګټه پورته کوي. دا سیمې په مطلق ډول سني مذهبه پښتون مېشتې سیمې دي چې له مذهبي پلوه او هم له قومي پلوه د ایران له ستراتیژۍ او پراختیا غوښتنې سره مخالفې دي، نو ایران په دې سیمو کې د جنګ دوام د خپلو ګټو د تضمین لپاره یوه ښه طلایي چانس ګڼي نو ځکه غواړي په مستقیم او نامستقیم ډول دولت مخالفو وسلوالو ډلو ته پوځي امکانات ورلېږي. هرات، نیمروز، فراه او دایکنډي کې دایران پوځي لاسوهنو څرګندې بېلګې لیدل شوي.د ایران پوځي کړۍ په تېره بیا ((سپاه پاسداران)) په دې ساحه کې زیات فعال دي.

**۶- د ملکیتونو د رانیولو په برخه کې** : د ایران یوه بله پالیسي دا ده چې خپلو پلوي مذهبي اوسیاسي ډلو ته پیسې او مالي امکانات برابر کړي چې د افغانستان د ځینو مهمو ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزونه او حساسې ستراتیژیکې جغرافیایي سیمې ونیسي، د ایران په مالي امکاناتو او سیاسي ملاتړ د تېرو پنځه لسو کلونو په بهیر کې په لسګونو زره شیعه مذهبي له بامیانو او نورو هزاره مېشتو سیمو څخه مزار شریف ښار ته راوړل شول او هلته میشته کړای شول، مزار شریف چې تر دې دمخه یو سني مذهبه ښار ګڼل کېده که په همدې حالت روان وي نو یو وخت به پر یو شیعه مذهبه ښار بدل شي. د داسې لویو پروژو پلي کول د ایران له مستقیم مالي ، نظامي او سیاسي ملاتړ پرته ممکن نه دي، دغه راز ایران غواړي د بامیانو، غور له لارې تر هراته یوه مذهبي او قومي لیکه وغځوي او بیا یې په هرات کې له شیعه مذهبو لړکیو سره وصل او وروسته بیا دا لیکه د ایران تر پولې وغځوي، دغه راز دوی غواړي دلته بیا دا لیکه د بامیانو له لارې له میدان وردګو او بیا له کابل سره وصل کړي، په دې ډول به ایران له خپلې پولې بیا د افغانستان تر مرکزه یو مصئون مذهبي، کلتوري او قومي تونل ځان ته خلاص کړی وي. ایران دغه راز غواړي د افغانستان له هرات څخه نه تر شمال غرب او بیا له شمال غرب نه شمال شرق ته د یوه کلتوري او ژبني تونل له لارې د افغانستان له شمال شرق سره وصل شي او بیا له هغه ځایه سني مذهبي خو فارسي ژبي تاجکستان سره وصل شي، په دې ډول به دوی دا سیمې د مذهبي او ژبنیو عناصرو په کارولو سره تر خپل اغیز لاندې راولي. سید حسین انوري په هرات کې ددې پروژې یوه برخه عملاً پیل کړې او د نویو ښارګوټو د وېش او نورو ځمکو د رانیولو له لارې په لسګونوزره شیعه ګان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرات کې مېشت کړي. حاجي محمد محقق او نورو لا دمخه په مزار شريف کې ددې پروژې  يوه برخه عملي کړې او کريم خليلي په کابل کې  د خپلو ورونو او نورو له لارې  د نويو ښارګوټو د جوړولو له لارې  غواړي دا پروژه عملي کړي. کريم خليلي د خپل ورور حاجي نبي تر چتر لاندې  د کابل په غرب کې د يو نوي شيعه ميشتې ښارګوټي د جوړونې کار پيل کړی چې لږ تر لږه د پنځه لس زره کورونو د جوړونې  ظرفيت لري او همدا اوس پرې کار روان دی. کريم خليلي او دهغه ورور (حاجي‌نبي)  غواړي  ددې ښار ګوټي نورې شا او خوا سيمې هم را خپلې  کړي. دا ښار ګوټی د کابل د لويديځ په داسې يو ځای کې موقعيت لري چې نيم کابل يې تر سينې لاندې دی، د سولې پر وخت د سوکالۍ ځای او د جنګ پر مهال د مصئونيت او نور ښار ته د تهديد ظرفيت لري.

ايران په کابل کې د (کميته امداد خمينی) په نامه يو بنسټ هم لري چې له دې لارې خپلو پلويانو سره ډول ډول مرستې کوي.

**۷- د دولتي پوستونو د اشغال په برخه کې** : د ايران د پاليسۍ يوه برخه دا ده چې  د افغانستان د حکومت په مهمو پوستونو کې خپل پلوي مذهبي او سياسي اشخاص پر ځای کړي، ځوک د ژبې او ځوک د مذهبي اړيکو پر بنسټ د افغانستان په اساسي قانون کې د شيعه مذهب ځايول، له رايو پرته د جمهو رئيس د دويم مرستيال ځوکۍ  نيول، د عدليې د وزارت او ځينو نورو مهمو وزارتو د پوستونو تر لاسه کول، د ايران پلوه ډلو لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بری دی. دا بری د هغه مقیاس په تناسب چې سونې مذهبي مسلمانان يې په ايران کې لري، رښتيا هم د ايران لپاره لویه لاسته راوړنه ده. پر دې هم ټول پوهېږي که د ايران مستقيم ملاتړ نه وي نو دې ډول ډلو او اشخاصو هېڅکله هم تر خپل استحقاقه پورته دومره امتیاز نه شو اخیستلای. د دولت په وړو پوستونو کې حالت نور هم خراب دی. ايراني غواړي يو شمېر خلک له ژبني پلوه او يو شمېر خلک له مذهبي پلوه په حکومت کې ځای پر ځای کړي، په حکومت کې د ايران پلوه اشخاصو شمېر زرګونو څه چې لسګونو زرو کسانو ته رسېږي، همدا وجه ده چې تر اوسه پورې دولتي او نا دولتي میډیا د ايران د مداخلو يادونه نه ده کړې.

رسنيزه برخه کې:

لکه څنګه چې د مخه مو يادونه وکړه ايران افغانستان کې په رسنيز ډګر کې تر هر چا زيات فعال دی.

ځينې رسنۍ يې په بشپړ ډول ستر واک لاندې او ځينې په نيمه ډول او ځينې نورې تر يوه بريده تر کنټرول لاندې دي. تمدن ټلوېزيون په مستقيم ډول د دوی له خوا جوړ شوی، راه فردا سره يې هم تخنيکي او مالي مرستې کړې دي، خبر ګذاری فارس، پريس ټلوېزيون، صدا و ليما جمهوري اسلامي ايران او د ايران نورې رسنيزې ادارې په افغانستان کې فعاليت لري او له دې لارې به د افغانستان خپلې پلوې رسنۍ تقويه کوي. ګڼ شمېر چاپي رسنيو سره هم مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تراژیدۍ کې ژوندی قوم

دا د هغې وینا لیکنۍ بڼه ده چې (پښتون په تراژیدۍ کې) تر نامه لاندې په هغه نړیوال علمي سیمینار کې اورول شوې وه چې د افغانستان د ملي تحریک له خوا پر (۱۳۹۲ل) کال په کابل کې جوړ شوی و.

## بسم الله الرحمن الرحیم

درنو او قدرمنو حاضرینو، د سیمینار قدرمنو ګډونوالو، د هېواد له بېلابېلو سیمو او له هېواده بهر راغلو مېلمنو، درنو پښتنو، ښاغلو او اغلو ټولو ته تر هر څه دمخه د افغانستان ملي تحریک په استازۍ سلامونه، درناوی او احترامونه وړاندې کوم.

هر کله راشئ، په خیر راغلئ!

درنو مشرانو، لیکوالو، پوهانو او ددې پرتمین او فکري سیمینار ګډونوالو!

تاسو تر هر چا زیات پوهېږئ، پوره درې نیمې لسیزې کېږي، چې افغان ملت په تېره بیا پښتون ولس په یوه لویه تراژیدۍ کې راګیر دی. دې غمیزې کې د پښتون ولس ایسار بدل، څه تصادفي، او ناقصدي خبره نه ده. په دې تراژیدۍ کې په سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نړۍ کې د پښتنو لرې او نږدې ټول دښمنان او رقیبان شامل دي. دا داسې لویه تراژیدي ده چې نه یوازې پښتون په کې د رقیبانو له خوا ټکول کېږي، بلکې خپله پښتون یې هم د خپل ځان دښمن کړی دی. قاتل او مقتول دواړه له یوه قوم څخه دي. د پښتنو هغه متل دی چې هم مړ یم هم پړ یم.

پر پښتنو دا راغلې غمیزه دومره خواړخیزه ده چې څوک په کې پښتنو ته د زګېروي او فریاد ایستلو مجال هم نه ورکوي. که هر شعوري، بادرده او با احساسه پښتون افغان له دې غمیزې څخه د راوتلو فریاد پورته کوي، نو نه یوازې د پښتنو د شعوري دښمنانو او سیالانو له خوا ګواښل کېږي، د نشنلستانو او فاشیستانو ټاپې پرې لګول کېږي، بلکې په خپله د یو شمېر ځانپلورو، ورځچارو، ځانساتو، ځان خوښو او ځانګټو پښتنو له خوا هم پرې په دې پلمه تورونه پورې کېږي چې دا خلک حساسیتونه راپاروي او د دوی په اصطلاح ملي تفرقې ته لمن وهي. دا ډول پښتانه د بې غیرتۍ او مضر احتیاط په وروستي حالت کې ژوند کوي او د پښتنو د ناپښتنو مخالفینو تبر ته لاستي جوړوي.

په هر حالت! همدغو نا انډوله کارونو پښتون قام دې غمیزې ته ټېلوهلی او په دې تراژیدۍ کې یې دا دومره موده ساتلی دی.

د افغانستان ملي تحریک چې له ډېرو شعوري، هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو او سمونپالو افغانانو څخه رغېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر پښتون ولس او ټول افغان ملت که لر دی او که بر، هېڅ ډول ښکاره او نا ښکاره ظلم که له خپل لوري وي که د بل، نه شي زغملای او تر دې زیاته ورته ددې تراژیدۍ غځېدل په هېڅ ډول د زغم وړ نه دي. په همدې خاطر یې (پښتون په تراژیدۍ کې او د ژغورنې لار) دا علمي سیمینار جوړ کړ، ددې سیمینار هدف همدا دی چې په علمي ډول له دې اوږدې غمیزې څخه د ژغورنې لارې چارې په ګوته او بیا یې د یوې تګلارې په توګه پښتنو سیاستوالو او واکوالو ته په لاس کې ورکړي. که چېرې پښتانه سیاستوال ددې تګلارې د پلي کېدو لپاره هڅې وکړي، نو کېدی شی له دې غمیزې څخه ددې قوم د ژغورنې هیله پیدا شي.

د افغانستان ملي تحریک څو موده وړاندې ددې سیمینار د جوړونې وعده کړې وه، دا دی نن یې خپله دا وعده پوره کړه، ملي تحریک په ډېره کمه موده کې د هېواد په کچه ډېر مهم پاموړ کارونه ترسره کړي دي. په سروبي ولسوالۍ کې سېلابځپلو ته د مرستو رسول او نورو مرستو ته د خلکو هڅول، د پښتونستان واټ د نوم تازه کول، بېوزلو او اړمنو هېوادوالو ته د وینې ډالۍ، د زمري د (۲۸) جشن نمانځل او ځینې نور کارونه، چې نه غواړم د ټولو تفصیل دلته وړاندې کړم. د افغانستان ملي تحریک د یوه منظم سیستماتیک او شعوري حرکت په توګه خپل میاشتنې، درې میاشتنې، شپږ میاشتنې او کلنې پلانونه لري، چې د همغو په رڼا کې حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. د افغانستان ملي تحریک په پام کې لري د سنبلې پر (۹) مه نېټه له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ یا د پښتونستان جشن هم په شاندارو مراسمو سره ونمانځي او یو ځل بیا لرې او نږدې رقیبانو او سیالانو ته دا په ډاګه کړي چې دا قوم په تراژیدۍ کې هم ژوندی دی او لا هم خپل ارزښتونه پالي او د مرګ له ګوابښه نه وېرېږي.

نور مو ډېر وخت نه نیسم، د لوی، اباد او سوکاله افغانستان د جوړېدو په هیله

په درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډیورنډ مړ دی، کرښه یې مړه ده
# (ابۍ مړه تبه شلېدلې)

| |
|---|
| دا د هغې وینا لیکنۍ بڼه ده چې ما د ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون له خوا پر (۱۳۹۲ل) کال له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون د ورځې په ویاړ په جوړه شوې غونډه کې اورولې وه. |

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول عمر درنه ده سپکېدو ته یې چې پرې نه ږدئ
خاوره پښتنه ده او پردو ته یې چې پرې نه ږدئ
بیا مې د خوشال توره چې تاو هوس د شرنګ لري
تاوه په شرنګ ښه ده چوپېدو ته یې چې پرې نه ږدئ

(اسحق ننګیال)

قدرمنو مشرانو، پوهانو، لیکوالو، ځوانانو، د مدني او سیاسي ټولنو غړو او ددې پرتیمنې غونډې ټولو ګډونوالو ته تر هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانـدې سـلامونه، درنـاوی، نېکـې هیلـې او د زړه لـه تلـه خپلـې پېرزوینې وړاندې کوم، هر کله راشئ !

الله(ج) مو په ټول ژوند کې اباد، سوکال او ښاد لره.

درنو حاضرینو ! نننۍ غونډه د یوه لوی مقصد لپاره رابلل شوې. دا مقصد زموږ د ملي ارزښتونو پالل، ساتل او ځلول دي.

دا د هر باشعوره، باخبره او بادرده افغان دنده ده چې پر خپلو ملي ویاړونو وویاړي او هغه وپالي، کـه څه هم (۳۵) کلنې غمیزې، د هغې بهرنیو عواملو او کورنیو رزایلو زموږ ټولو ټولنیزو، ولسي، مدني او ملي ارزښتونو ته پوره زیانونه اړولي او لا یې هم لور په لاس کې دی او مثمر ښاخونه یې ربړي، خو دې سره سره لا هم په هېواد کې داسې افغانان شته چې غرونو سره سر جنګوي، خپل تندي ماتوي، خو چا ته یې ټیټوي نه:

دا سر ربه مات شوی دی ټيټ شوی چاته نه دی
خـو تـاته یـې پنـځه وخته محراب کې راولم.

داسې سرونه لا ډېر ژوندي دي او داسې سرونه به لا نور هم را وټوکېږي. دې وطن کې لا اوس هم هغه ځلي ولاړ دي، چې نه پرې د سکندر زور ورسېد، نه هم د کروش، نه هم د انګرېز، نـه هم د روس، نه هم د پنجابیانو او نه هم د صفویانو !

هر کله چې پردیو په مستقیم ډول د دې هېواد پر ځلو او نرخونو زور نه دی رسېدلی، نو بیا یې د یو شمېر کورنیو تالیخټو په زور، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامستقیم ډول له دې ملته خپل غچ اخیستی دی. د غچ اخیستنې دا لړۍ لا تر دې دمه روانه ده.

خو پښتون ولس او په ټولیز ډول ټول افغان ملت د لویې او سپېڅلې خاوند دی که څوک پرې بلوسپېڅلی هم دی، نو ده ورته او سپېله کړې، دا ځکه چې پښتون د یوه مستحکم تهذیب او کلتور خاوند دی، پښتون د شرم او حیا پرتوګ او د شرم پوزه لري.

ورځ دوه مخکې د هند د کشمیر د پښتنو یو خان، (ثنا الله خان لالا ) له ژوندون سره په یوه مرکه کې وویل: ((د پښتون د کلتور یوه غټه نښه داده، چې پښتون د شرم پرتوګ لري، هغه څوک چې د پښتنو پخواني او اوسني مخالفین دي، تاسې ورته وګورئ، هغوی اکثره پرتوګونه نه لري او یا یې ناغوندي.)) ددې خبرې محتوا او فزیکي واقعیت رښتیا هم حیرانوونکی دی. هغه قومونه چې د پښتنو په شان او یا د پښتنو په پیروۍ پرتوګ لري، هغوی هم له حیا څخه ډک دي او د پښتنو په کلتوري محتوا کې خوندي شوي دي.

باچا خان، فخر افغان ته یو ماشوم وویل: ((بابا ، پوزه دې ډېره غټه او جګه ده !)) بابا ورته موسکی شو، ویې ویل: ((بچیه ولې به غټه او جګه نه وي، دا د ټول پښتانه پوزه ده.))

خو نن په پښتنو پسې هغه څوک ډېرې سپکې سپورې وايي او دا طبیعي سوله ییز قوم د ((ترهګر او وحشي)) په نامه یادوي چې نه د شرم پرتوګ لري او نه هم د شرم پوزه. نن چې مونږ کومه غونډه جوړه کړې ده یو پیغام یې همدا دی، چې ځینو کسانو ته د شرم د جوهر ځلا ور انتقال کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بې شمېره پښتون ضد او افغان ضد کړیو له جملې څخه یوه ډله هم (ډیورنډ خپل) دي، دا هغه ډله او اشخاص دي چې د ډیورنډ د مسلې په باب له انګرېزه او پنجابه دوی زیات ګرم دي او لکه راساً چې ډیورنډ سره جنسي اړیکي لري، تر د پګه څمڅی ډېره ګرمه ده. دوی دا څو کاله په رسنیو کې داسې اوتې بوتې ولي، چې ژر تر ژره باید دا کرښه رسمي شي. دوی غواړي، پاکستان او انګرېزان خوشاله شي. دوی وايي دا مهمه نه ده چې موږ ازاد یو، خو دا مهمه ده چې موږ اباد یو. د ډیورنډ خپلو مثالونه ډېر دي، خو زه به یې دلته یوازې د یوه تن نوم واخلم. (ښاغلی حاجي محمد محقق)، ده څو موده وړاندې اسلام اباد ته په جلا جلا سفرونو کې د تور پنجاب سپینې پی، ورودلې، کله چې مستی، واخیست، نو په واز کومي یې وویل: ((موږ له پاکستان سره د ډیورنډ د کرښې پر سر څه مشکل نه لرو، موږ حق نه لرو چې دا مسایل یاد کړو او یا د هغې دعوه وکړو.

دا ډول ښاغلي خو له هېڅ خارجي سره مشکل نه لري، اکثرو ته یې لبیک او مرحبا ویلي، مشکل خو زموږ دی، ډیورنډ واحد پښتون بدن پر دوو ټوټو وېشلې، د ظلم ددې قمچینې داغونه د پښتون پر ملا لګېدلي، نه پر محقق، محقق خپلو او ډیورنډ خپلو. ښاغلي محقق ته باید وویل شي چې که ښاغلی کریم خلیلي، ډاکتر صیب صادق مدبر، حاجي صیب عبده، فاطمه نظري، ډاکتر صیب مهدوي او نور درنه څوک په زوره او د برچې په زور جلا کړي، یا هم د بامیانو او دایکندی، ترمنځ پوله راکاږي او تا ورته له وېزې او اجازې پرته پرې نه ږدي، بیا به هم ورسره مشکل ونه لرې که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که دا تاته مشکل نه ښکاري، نو راځه دا عملیه پرځان تطبیق کړه. بیا به د دوو ورونو د جبري بېلتون پته درته ولګي !

نو مور وایو چې نه ډیورنډ شته او نه یې کرښه، ډیورنډ یو انګرېز و، لاړ مړ شو او خړ شو، کرښه یې هم مړه شوه. (ابی مړه تبه یې شلېدلې) او که احیاناً څوک ځان ته د ډیورنډ وارثان، لمسیان او یا ډیورنډ خېل وایي، د هغه لاره تعقیبوي، نو د هغه د وارثت سند دې راوړي، چې مور ورسره خپل نور حسابونه هم تصفیه کړو.

اوس راځم دویمې مسئلې ته !

## هغه د افغانستان د جهاد مسئله ده.

پر دې خبره ټول افغان ملت متفق دی، چې د افغانستان جهاد د ټولې نړۍ په کچه یو بې سارې حماسه وه، چې په شلمه پېړۍ کې د مسلمان افغان ولس له خوا رامنځته شوه او ټول ملت په دې حماسه کې شریک و، خو دا چې دا جهاد چا کړی؟ کوم شخص، کوم تنظیم او کومې سیمې؟ او چا زیات کړی چا کم؟ په دې کې د نظر اختلاف موجود دی؟ خو دا په دې مانا نه دی چې د رښتینو مجاهدینو د تثبیت لپاره هېڅ فورمول نه شته !

زمور او زمور په شان د نورو افغانانو په نظر هغه څوک مجاهد دی، چې د روس د یرغل له پیله بیا تر پایه یې له روسانو سره هېڅ ډول پټه معامله او اوربند ونه کړ او تر اخره پورې په نره وجنګېدل. دا رښتیني مجاهدین دي او هغوی چې اوربند وکړ او روسان یې خوشاله کړل، دا نه مجاهدین دي او نه هم رښتیني افغانان، دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روس ګوډاګیان دي او د جهاد بربادوونکي. د دې فرضیې دویمه برخه دا ده چې د روسانو تر وتلو وروسته چې چا وسله پر ځمکه کېښوده او خپل نفس یې تذکیه کړ، نه یې په کورنیو جګړو کې ونډه واخیسته او نه هم په فساد کې دا هم واقعي مجاهدین دي او هغوی چې پر تنظیمي جګړو او فساد اخته شول، هغوی بیا هم د جهاد بدناموونکي او د هېواد بربادوونکي دي.

خو اوس د افسوس خبره داده، هغه څوک د جهاد د وراثت چغې وهي، چې د جهاد په وخت کې یا ماشومان وو او یا هم تر جهاد وروسته د پخوانیو مجاهدینو له کوم ټولګي سره یوځای شول. هغه د چا خبره (جنګ سوړ شو، میړی تود شو).

یوازې دوه کسان به د بېلګې په توګه یاد کړم:

ښاغلی امرالله صالح: دا ښاغلی د جهاد په شپو او ورځو کې ماشوم و، د روسانو تر راتګ وروسته (۳۵) کاله او تر وتلو وروسته یې (۲۵) کال تېرېږي. د نوموړي سن وارزوئ چې هغه وخت کې څو کلن راته؟

خو په سیاسي غونډو او میتنګونو کې دا او د پېته ورته ښاغلي د جهاد د وراثت دعوه کوي.

ښاغلی ډاکتر عبدالله عبدالله: پر (۱۳۶۷ل) کال له پوهنتون څخه فارغ شو، همدا کال و چې روسان له افغانستانه وایستل شول، دې ښاغلي لکه چې تر جهاد وروسته جهاد پیل کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا او د ډېر ته ورته خبرې هغه کسان دي چې د يو نيم مليون شهيدانو پر حماسې يې خېټه اچولې ده.

زموږ په نظر جهاد حکمتيار کړی، جهاد مولوي محمد نبي کړی، جهاد حاجی عبدالقدير کړی، جهاد حاجي عبدالحق کړی، جهاد اسمعيل خان کړی، جهاد تورن امان الله کړی، جهاد کريم کره باغ کړی، جهاد انور خان هردم شهيد کړی، جهاد عبدالسلام راکټي کړی، جهاد شيخ محمد اصف محسني کړی، جهاد عبدالرب رسول سياف کړی، جهاد ملا نسيم اخوندزاده کړی، جهاد کشمير خان کړی، جهاد بشير بغلاني کړی، جهاد احمد شاه احمدزي کړی، جهاد جمعه خان همدرد کړی او جهاد ټول مظلوم افغان ولس کړی، نه دې څو غوږ سرو او ښوی سرو.

اوس چې د څلو ښنتو نامسلمانو هېوادونو لښکرې دلته پرتې دي او څوک ځانته مجاهد وايي، دې ډول اشخاصو ته که څوک احمق ونه وايي، نو ساده ګان خو به ورته ضرور وايي:

## دريمه مسئله د ټلوالو ملوالو او چلوالو يادوم:

پرون راته يو بادرکه افغان وويل: موږ تېره شلکلنه دوره پر څلورو برخو وېشلې ده:

۱- د شر او فساد دوره، دا هغه دوره ده چې د استاد رباني ګرځنده حکومت په کې راځي.

۲- د رنځ و عذاب دوره، چې د طالبانو د واکمنۍ دوره رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- لوټ او تالان دوره، چې د حامد کرزي (۱۲) کلنه دوره په کې راځي.

۴- د حساب او کتاب دوره، چې تر دې وروسته ورته سترګې په لار یو.

زه هم د همدې وروستۍ هیله منتیا له مخې له دې ټلوالو ملوالو سره غواړم یو څه حساب کتاب وکړم.

ددې او سنیو ائتلافونو اصلي زړی، د پنجشېر په دره کې د نظار شورا پخوانۍ ډله ده، چې په تېرو (۱۲) کلونو کې یې تر (۱۲) زیاتو عنوانو لاندې کار کړی، خو ماهیت کې یې کوم تغیر نه دی راغلی، ملي جبهه، تغیر و امید، جریان سبز، افغانستان نوین، نهضت ملي، ائتلاف ملي، شورای متحد ملي او نور نومونه.

پنجشېر دره کې ټول وګړي د افغانستان د ټول نفوس (۳،۰) سلنه جوړوي او جغرافیایي حدود یې تر دې هم کم وي، خو په حکومت کې مطلق واک لري او د تصنعي ابوزېشن سرلیکونه هم د همدې درې له وګړو څخه دي.

تر (۱۸۰۰) زیات جنرالان، (۱۷) معینیتونه، (۳) وزارتونه، تر (۱۰۰۰) زیات مهم ریاستونه، د جمهوري ریاست مرستیالي، مارشالي، (۸) اداري واحدونه، په بهر کې د افغانستان ګڼ شمېر سفارتونه او په زرګونو واړه ریاستونه او مدیریتونه. له همدې (۳،۰) سلنه خلکو څخه د همدې شمېر ښاغلو په لاس کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ په هېڅ هېواد او هېڅ حکومت کې د واک داسې نا انډولـه او ناقانونـه وېش نـه دی رامنځتـه شـوی، خـو پـه اصـطلاح سیاسـي اپوزېشن هم له همدوی سره دی، ښاغلی قانوني، عبدالله، امرالله، منصور، احمدضیا مسعود ، احمدولي مسعود ، عتیق الله بریالی او نور په اصطلاح اپوزېشن کې دي. فهیم خان، بسم الله خان، دین محمد جرئت، حسام الدین خان، شریفي او نور پـه سلګونو بیا پـه پوزېشن کې، اپوزېشن او پوزېشن دواړو په یوه محدوده جغرافیي دایره کې، یونس قانوني په اپوزېشـن کې، ورور یې شریفي صیب په پوزېشن کې، یو وخت یې خسر پـه اپوزېشـن کې و ، زوم یې پـه حکومت کې، بیا یې خسر حکومت ته لاړ، زوم یې اپوزېشن ته !

د نا انډولـه واک پـه دې دایـره کې بیا هم نـورې وړې دایـرې دي، پـه دایره کې بله دایره ده.

له دغسې یو وړې ذهني، جغرافیـایي، تنظیمي، سمتي، قـومي او له تعصبي چلنده چې هر څه راوټوکېږي، نـه د ملت پـه خیـر دي او نـه هم دوام مومي.

د ((انتخاباتي اتحاد )) په نامه چې کوم نوی ائتلاف جوړ شـوی، دا هم هغه او مغلن ماشوم ته ورتـه دی، چې اول خو دا ژوندی نـه پـاتې کېږي او که پاتې هم شي تر اخره به معیوب وي.

دا هغه ډول اپوزېشـنونه دي، چې امتیـازاتو تـه منتظر دي، یـوازې دوړې ولـي او کـوم واقعـي قـوت نـه دی، دوی د ولسمشـر کـرزي د ضعف پر ټکي تر هر څا ښه پوهېږي، کله چې خپلې سینې وډبوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چغې او نارې سورې پورته کړي، نو کرزی صیب پرې پې پرېږدي، سملاسي څوکۍ ورکړي، دا ډله بیا غلي شي، بیا بله ډله پیدا شي.

هغوی هم د خپلې درې همغه خلک راپورته کړي، بیا بل امتیاز واخلي، بیا بل مخالف شي، همدا دوړې کوي، کرزي صیب ته لاس وروړي او ګوړې راباسي، خو کرزی او د هغه په شان نور چارواکي لا په (۱۲) کلونو کې د دې ټلوالې پر اصلي ماهیت او قوت خبر نه شول، چې څوک څوک دي، څومره دي او څه کوي؟

کله کله سړی مجبورېږي دې خلکو ته ځینې داسې مثالونه وړاندې کړي چې دوی سره مناسب دي، خو په پرده کې نه دي. د ډاکتر صیب اشرف غني په اصطلاح چارچوب یې ډېر ښه نه دی، خو د هغو اشخاصو لپاره چې خپله هم چوکاټونه ماتوي، د دې ډول مثالونو راوړل یوه مجبوري وي.

دوی یو ډول خلک تیار ساتلي کله یو له حکومته خفه شي، همغه خلک راوباسي، بیا چې پرې امتیاز واخلي بل بیا همدا خلک راوباسي، دا چې تغذیه شي، بیا بل همدا خلک راوباسي، خو هېڅوک پیدا نه شول چې ورته ووایي په یوه دره کې د (۱۰) جبهو او (۱۰) ګوندونو مشرانو ! مهرباني وکړئ پر یوه ورځ غونډه جوړه کړئ، چې د هر چا خپل خلک معلوم شي، چې کوم یو څومره خلک لري او څومره درباندې رسېږي؟ یو سړی (۱۲) ځله مه خرڅوئ !

تصنعي او کاغذي زمریان هېڅکله د اصلي هغو په شان نه دي، که دوی هر څومره ائتلافونه او د اوسپنې کلاګانې ځانته تاوې کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا هم وېره يې په زړه کې ده او د حامد کرزي په شان طلايي مرغه بیا په لاس نه ورځي.

دا ائتلافونه هغه د چرسي او ملا کيسې ته ورته دي چې ملا هر تازه اودس د اوسپنې یوه کلا ګڼله، خو چرسي بیا ویل چې دا ټولې کلاګانې په یوه باد الوزي. نو د دوی ائتلافونه هم په یوه باد ختمېدی شي.

اوس به راشو ددې نوي ائتلاف یوازې (۳) څېرو ته:

۱- **ښاغلی حاجي محمد محقق:** په (۱۲) کلونو کې تر (۱۲) ځله زیات خپل موقف بدل کړی، پوزیشن او اپوزیشن دواړه يې خوړلي، محقق (۸۰) باډیګاردان لري، په تېرو (۱۲) کلونو کې يې لږ تر لږه (۱۴۴) ملیونه افغانۍ یوازې د باډیګاردانو معاش شوی، خو اپوزیشن کې هم دی.

۲- **ښاغلی جنرال دوستم:** د ټول وسلوال پوځ درستیزوال یا رئیس ارکان دی، په تېرو لسو کلونو کې یې یوه ورځ هم حاضري نه ده ورکړې، (۳۵۲۰) ورځې غیرحاضر دی، خو معاش یې هم حواله دی او هره میاشت د (۱۴۰۰) ساتونکو په نامه معاش هم ترلاسه کوي. له قانوني پلوه د سیاسي فعالیت حق نه لري، خو هغه ځان نه پېژني نو قانون به څنګه وپېژني.

۳- **ښاغلی احمد ضیاء مسعود:** د (۳۳۷) رایو په مقابل کې (۵) کاله د جمهور رئیس مرستیال و. د لوی خدای په فضل دده په پنځه کلنه موده کې په حکومت کې هېڅ ډول فساد او تالان نه و، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې دمخه دوه کاله ډاکتر عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو، یونس قانوني د کورنیو چارو، پوهنې وزیران، انجنیر عارف سروري او امرالله صالح د امنیت رئیسان وو.

دې دوره کې هم حکومت د زمزم د اوبو په شان پاک و او هیڅ غلا او درغلي په کې نه وه. اوس چې د (۵) کلونو لپاره ښاغلی فهیم خان مرستیال دی، بیا هم د لوی خدای په فضل او د پرښتو په برکت په حکومت کې هیڅ غلا نه شته.

ښاغلی ضیا مسعود چې د احمد شاه مسعود پر مسند ناست دی او د هغه په نوم چلیږي، تر ټولو لومړی یې د خپل ورور د نظریاتو خلاف ګامونه پورته کړل. قومندان احمد شاه مسعود به د جنګونو پر مهال ویل، عبدالعلي مزاري له ایران او دوستم له ازبکستان سره تړلي او له همغو ځایونو څروبیږي او ددې دواړو ښاغلو پر ضد تر وروستي حده وجنګیده، خو ښاغلی ضیا مسعود، بیا مزاري یو اتل او جنرال دوستم خپل پوخ انډیوال ګڼي، نو په دې ډول تر هر چا لومړی ده خپله د خپل ورور د نظریاتو پر وړاندې ګامونه پورته کړل.

دا هغه ډول اپوزیشنونه دي، چې په ټاکنو کې مخالفت او تر ټاکنو وروسته په حاکمیت کې خپل واک ته دوام ورکوي. ښاغلی عطامحمد نور یې بله نمونه ده.

هغه یوه مشهوره کیسه ده چې بارانونه چا ودرول او غوبلونه په کې څوک کوي؟ انتخابات چا وګټل او واک په کې څوک چلوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورمه او وروستۍ برخه:

د ملي شخصیتونو یادونه باید تازه وساتل شي.

د څو محدودو اشخاصو د نمانځلو لپاره دې د ملت بودجه نه مصرفېږي.

په تېرو (۱۲) کلونو کې تر (۱۵) ملیونو ډالرو زیاتې پیسې د یو څو محدودو کسانو په نمانځلو مصرف شوي او لا هم مصرفېږي، که دا د چا شخصي پیسې وي، هېڅوک د اعتراض حق نه لري، خو که د بیت المال په پیسو تنظیمي اشخاص نمانځل کېږي دا له دې ملت سره لویه جفا ده.

د نظار شورا، ستمي ډلو او یو شمېر نورو په اصطلاح کارپوهانو له خوا مو په سلګونو ځله په راډیو ټلوېزیونونو کې اورېدلي چې (ما یک ملت نیستم) نو کله چې موږ کوم ملت نه یو، نو بیا خو ملي قهرمان څه مانا؟

ملت نه شته او قهرمان یې شته؟ امت نه شته او پیغمبر یې شته؟

نو موږ له ټولو هېوادوالو غواړو چې د خپل ملت ملي ګټې وپالي، څو سرزورو جګړه مارو ته تسلیم نه شي او (۳۰) ملیونه وګړي د یو نیم زر ټوپکوالو، جنګسالارانو له منګولو وژغورئ.

پر دې هم پوهېږو چې د ملت چوپتیا د بې تفاوتۍ مانا نه لري، د ملت مجبوریت د زورواکو او غلو لپاره یو امتحان دی. که موږ نن د یوه ملت په توګه غلي یو، نو غلي نه یو. ځینې بهرنۍ جبري مجبوریتونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې يې ولیدم مجبور په لار کې پروت
له ځپلو سره مې هر يو پر سر خوت
ما په لار کې و ځان دې ته غورځولی
په دې چل مې د يارانو ايمان کوت

په درنښت
د لوی افغانستان د جوړېدو په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شل دلایل

کله چې پر (۱۳۹۲ل) کال یو شمېر چارواکو په چل او فرېب په ملي شورا کې د هویت په تذکرو کې د ملت او دین ستون د لیکلو مخه ونیوله، نو همغه وخت ملتپالو افغانانو غبرګون وښود، ما هغوی ته د ملت او افغان د کلمو لیکلو لپاره دا لاندې شل دلایل ولیکل.

۱. **ملي شورا:** کله چې ملت نه وي نو ملي څه مانا؟ ملي شورا بیا څه مانا؟ د کوم ملت شورا؟

۲. **د ملت کور:** شورا خپل مقر ته د ملت کور وایي. د کوم ملت کور؟ د ایراني، پاکستاني، عرب، روس، هندو کوم یو؟ دا د کوم ملت کور دی؟ که د افغان وي، نو ولې یې نوم نه لیکئ!

۳. **د ملت نوم:** که دا ښاغلي د ملت له نوم سره حساسیت لري، نو بیا یې په شورا کې ولې ناست دي؟

۴ - **دین:** د دین، جهاد او اسلام په نامه راغلو اشخاصو، اوس (دین) هم له تذکرې لرې کړ، اوس به موږ (بې دینه) تذکرې په جیب کې ګرځوو.

۵- **ملت:** تذکره د یوه شخص د عقیدې او ملي هویت څرګندویه ده، کله چې د یو چا دین او ملیت نه وي څرګند، نو تر دې لوړ ارزښتونه او ځانګړتیاوې کومې دي چې یو څوک پرې تشخیص شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶- تخلص:** د یوه شخص فردي تشخص د همغې ټولنې له ورته بل شخص څخه پر همدې تخلص سره کېږي، نو چې تخلص دې هم ختم کړ، ملت او دین هم، نو بیا یې یوازې خپل نوم پاتې شو، درې مشخصې له منځه لاړې یوه پاتې شوه.

**۷- ملي:** کله چې د ملت له مفهوم سره حساسیت ښودل کېږي، نو بیا خو (ملي) کلمه چې ملت ته یې نسبت دی، هم باید له منځه لاړه شي، ځکه چې اصلي ریښه یې نه شته، نو بیا خو ملي دفاع، ملي امنیت، ملي اردو او په ټوله کې امنیتي سکتور ته هېڅ اړتیا نه شته.

**۸- دفاع:** کله چې په یوه هېواد کې ملت نه وي، نو د نورو ملتونو له یرغل څخه یې دفاع ته څه اړتیا ده؟ خلاصه دروازه ده هر څوک چې ځي او راځي، دروازه ورته خلاصه ده، مدافع یې هم معلوم نه دی، نو بیا د ملي دفاع وزارت څه مانا؟

**۹- د ملت استازی:** د کوم ملت استازی؟ د همغه ملت چې دی یې په مقابل کې ولاړ دی؟ هم یې استازیتوب کوي، هم یې هویت ختموي؟ عجیبه استازیتوب، ایا که یو بل څوک د همدې استازو همداشان استازیتوب وکړي، نو دوی به یې ومني؟

**۱۰- هویت:** یوه شخص ته تذکره ددې لپاره ورکول کېږي چې هویت یې مشخص شي، نو کله چې په تذکره کې د یو چا اعتقادي او ملي هویت پټېږي، نو بیا تذکرې ته څه اړتیا ده؟ هر څوک دې همداسې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۱- قوميت**: (مليت) د قوميت قرباني شو، ايا همدا قومونه نه دي چې ملت ترې جوړېږي؟ يو شمېر سمتپالو او قومپالو چې د پرديو په اشاره يې دې مسلې ته لمن وهله، د فکر دايره يې څومره وړه ده. په خپلو خبرو کې د لويو ملتونو يادونه کوي، خو په عمل کې د قوم دايره د ملت پر دايرې لوړه ګڼي. ښه خو دا وه چې دوی د لويو خلکو په شان لوی فکر کړی وای:

څو دې توان رسي په لوی درياب ګرځه
په ويالـه کـې دې زوال وينـم نهنګـه

**۱۲- افغانستان:** افغانستان له (افغان) څخه رغېدلی نوم دی، د افغان مکان نوم (افغانستان) دی. کله چې يو څوک د (افغان) له کلمې سره حساسيت لري، په حقيقت کې له افغانستان سره هم حساسيت لري، نن يې د پرديو په مرسته او د يو شمېر کورنيو نافکرانو په ملګرتيا د افغان د کلمې پر ضد هڅه وکړه، ډېر ژر به د (افغانستان) کلمې ته هم پورته شي.

**۱۳- اسلامي:** د (اسلامي) کلمې نسبت (اسلام) ته دی. (ي) ته نسبتي (ي) وايي چې له ماقبل سره د يو مابعد شي نسبت ښيي، خو کله چې ماقبل نفې شوی وي، مابعد څه مانا؟ دې ښاغلو چې له تذکرې څخه د دين کلمه حذف کړه، د دين توضيح لپاره به ضرور په سلو کې نهه نوي اعشاريه نهه نوي (اسلام) ليکل کېده، نو (اسلامي) بيا چاته نسبت کېږي؟ دا دا مانا لري چې يو څوک وو ايي: زه مسلمان نه يم، خو اسلامي که راته وويل شي پروا نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۴- یو نیم ملیون شهیدان:** موږ هره ورځ وایو چې زموږ ملت د اسلام او افغانستان لپاره یو نیم ملیون شهیدان ورکړي، ایا دا شهادتونه د همدې لپاره وو چې د شهیدانو په ارمان؛ اسلامیت او افغانیت دې ملنډې ووهل شي او دا دواړه ستر معنوي ارزښتونه دې حتی د هغوی په پېژند پاڼه کې رانه شي.

**۱۵- لوری:** تش په نامه د ملت استازو(؟) نه یوازې له مظلوم او هر دم شهید ملت څخه لوری او تګلوری ورک کړی، بلکې د هویت په تذکره کې هم یې له خلکو لوری ورک کړ. په نړیوالو تړونونو کې به راتلل: افغان لوری، جرمن لوری، قزاق یا ازبک لوری، افغان لوری، پاکستانی، هندي یا امریکایي لوری. اوس چې له (افغان) کلمې سره حساسیت ښودل کېږي، افغان لوري ته به څه استعمالېږي؟ افغاني او یا د دوی په اصطلاح (افغانستاني) کلمې خو هم له همدې ریښې سره تړلې دي. بیا به څه کېږي؟

**۱۶- جنجـال ختمــوو:** یـو شمېر ډارن، ورځچاري او ځانساتي وکیلان او یا هم دولتي چارواکي وايي، موږ جنجال ختموو. د دوی په نظر جنجال په (افغان) کلمه کې دی، نه په هغو خلکو کې چې جنجال راټوکوي، دوی جنجال په (هویت) کې ګڼي نه په بې (هویتۍ) کې.

**۱۷- ملي وحدت:** یو شمېر ډارن او مضر احتیاط کاري بیا وايي: موږ باید د (ملي وحدت) لپاره له ډېرو شیانو تېر شو، او سپله وکړو. دې ښاغلو ته باید وویل شي، چې تاسو د (ملي غفلت) او (ملي وحدت) ترمنځ فرق نه شئ کولای. ملي وحدت دې ته وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د یو هېواد ټول وګړي، په عادلانه او مساویانه توګه د خپل هېواد په برخلیک کې شامل شي، نه دا چې ډېر تر لږو قرباني شي او یا د کمو، خو سپین سترګو او جنجالي اشخاصو خبره و منل شي. زموږ په نظر د نامعقولو جنجالونو او نامشروع غوښتنو د ختمولو له لارې ملي وحدت تامینېږي، نه د ناروا امتیازاتو د ورکړې له لارې.

**۱۸- قوانین که جنجال:** د ملي شورا دنده داده چې قوانین تصویب کړي او د ولس ګټې خوندي کړي، د اساسي قانون په یو اتیایمه ماده کې راغلي: ((د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت ملي شورا د ستر تقنیني اورګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندګي کوي. د شورا هر غړی د رایې د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه او سترې ګټې د خپل قضاوت محور ګڼي.)) اوس ګورو چې د خلکو کومه اراده دوی تمثیل کړې؟ همدا د ولس اراده ده چې ملي او اسلامي ارزښتونه یې تر پښو لاندې شي؟ او شورا ولس ته نوي جنجالونه پیدا کړي؟

**۱۹- خدمات که تخریبات:** د قوانینو د تصویب او اسانۍ ترڅنګ د شورا بله دنده داده چې حکومت اړ کړي، ولس ته خدمات ورسوي، د شورا پریپالي غړي اوس پر دې مصروف دي چې په ملت کې د نفاق نوي تخمونه وکري، کله چې اساسي قانون حکم کوي: د (افغان) کلمه د دې ملت پر هر فرد اطلاقېږي، نو بیا پر دې خبره بحث په کار نه دی، خو د شورا پردیپالي غړي نه یوازې دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قانون او ملت طبيعي مسير او هويت نه مني، بلکې ملت ته لا زياتې ستونزې ټوکوي.

**۲۰- له خيره مو توبه شر مه رسوه:** ملي شورا ددې پرځای چې د ملت د يووالي او استحکام لپاره هڅه وکړي، پخواني ارزښتونه او هڅونه لا پسې کوشېر کړي، ملت ته نوې ګټې ورسوي، هېواد ته د تجزيې احتمالي خطرونه رفع او دفع کړي، سرکښه زورواکي چاروا کي مهار او د فساد جرړې وباسي، د ګاونډيو پټې او ښکاره توطيې خنثی کړي، د جګړې ختمولو لپاره لاره چاره پيدا کړي، دې هېواد او ملت ته نوي غمونه ټوکوي او له ګاونډيو څخه نوي رالېږل شوي تعريفونه وړاندې کوي.

په ملي شورا کې د ملتپالو، هېوادپالو او اسلامپالو استازو شمېر هم کم نه دی او رښتيا هم ددې مظلوم ولس رښتيني استازي دي، خو څرنګه چې ملت مظلوم دی دا استازي هم مظلومين دي، دوی هم د ملت په شان نه زر لري او نه زور چې په شورا کې يې وکاروي او د تقلبي، ايرانپالو او پاکستانپالو په اصطلاح وکيلانو د غرضونو او مرضونو مخه ډب کړي.

موږ اوس په شورا کې له همدغو مظلومو خو باغروره او باعزته وکيلانو څخه هيله کوو چې خپل تيت و پرک حالت ته د پای ټکی کېږدي. د محدودو، خو منظمو، زورواکو او پرديپالو تش په نامه وکيلانو پر ضد يو ګډ حرکت، تګلاره او انسجام رامنځته کړي، په شورا کې راټوکېدلي زهر په خپله له منځه يوسي او د پرديپالو او هېوادپالو وکيلانو ليکه يوه له بله جلا کړي. له اسکېرلي باغيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت څخه مو هیله ده لکه څنګه چې مو له چنګېزه تر هلاکو ، له هلاکو تر انګرېزه او له انګرېزه بیا تر روسه او له روسه بیا تر دې نورو ډول ډول انګرېزانو پورې، د هر بهرني پرضد ښکاره مبارزه او جهاد کړی ، دغسې یو ځل بیا خپل ملي غرور، عزت او وحدت لا پسې غښتلی کړئ، د هر ګاونډي په تېره بیا د ایران او پاکستان د ښکاره او پټو توطیو او د هغوی د کورنیو تالي څټو پرضد خپله شعوري، ملي او اسلامي مبارزه او جهاد ترسره کړئ ! په پای کې کې وایم، دې ډول کورنیو او بهرنیو خاینونو ته د دې خبرې یادول هم په کار دي چې:

لا تر اوسه یې ماغزه په کرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په څنګ دی

OOO

ټیټ مې مه بوله غور ځنګ را باندې مه کړه
زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندون ټلوېزيون او لويه څارنوالي

د(۱۳۹۲ل) کال د ليندۍ مياشتې په دويمه اوونۍ کې خبر شوم چې د اطلاعاتو او کلتور وزير (سيد مخدوم رهين) له لويې څارنوالۍ څخه د ژوندون ټلوېزيون د بندولو امر يا هم د نشراتو د تعليق غوښتنه کړې ده. ما هم لوی څارنوال سره کتنه وکړه او خپلې غوښتنې مې مطرح کړې.

ددې کتنې جزيات به په لاندې ليکنې متن کې وګورئ!

کله چې زه لوی څارنوال سره کېناستم، نو هغه هېڅ داسې دلايل نه درلودل چې ماته يې وړاندې کړي، زه يې حق په جانب ګڼلم، بيا هغه زه خپلو مرستيالانو ته ورمعرفي کړم، مرستيالانو يې يو هيئت جوړ کړی و، هغوی سره مې تفصيلي بحث وکړ، هغوی هم زما د دلايلو پر وړاندې څه خاص دليل نه درلود، زموږ دلايل يې مقنع وګڼل، زه بېرته ټلوېزيون ته راغلم، خو ورځ وروسته لويې څارنوالۍ د سياسي فشارونو له امله د (سيد مخدوم رهين) غوښتنې منلې وې او په ناقانونه ډول يې د ژوندون د تعليق حکم کړی و، دلته غواړم درانه لوستونکي لومړی همدا متن او بيا وروسته د ژوندون په څپو زما د وينا ليکنی متن ولولي او بيا تر هغه وروسته د ملت د حماسې له امله له ملت څخه د مننې متن په څېر تيا سره ولولي.

ژوندون راډيو تلوېزيون لويې څارنوالۍ ته دافغانيت، اسلاميت، افغان او افغانستان ضد اشخاصو، رسنيو او کړيو د توطيې پر وړاندې خپل غوښتنليک وړاندې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه کتنه کې چې نن سهار ما (یون) له لوی څارنوال ښاغلي (محمد اسحاق الکو) سره درلودله، له لوی څارنوال څخه وغوښتل هغــه ملــي حرکت چې د افغان، افغانیت، اسلام او اسلامیت د خوندیتابه لپــاره د مدني ټولنو، افغانپالو او اسلامپالو خوځښتونو له خوا پیل شوی، قانوني او حقوقي ملاتړ وکړي او یو شمېر ایرانپالې کړۍ او رسنۍ پرې نه ږدي چې د هېواد ملي هویت مسخه کړي.

ما له لوی ځارنوال څخه وغوښتل چې ملتپالو افغانــانو دغــه عادلانــه غوښتنې د قانون په چوکاټ کې وڅېړي. لوی څارنوال زمــا غوښــتنې هغه موظف هیئت ته راجع کړې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر (سید مخدوم رهین) او د یو شمېر نورو کړیو د غوښتنې له امله جــوړ شوی دی. دا کمیسون د سید مخدوم رهین په غوښتنه چې پــه هغــه کې د ژوندون ټلویزیون او یوې بلې چاپي رســنۍ د تعلیــق غوښــتنه شوې وه، غور کوي. ما دې موظف کمیسون ته خپل وضــاحت وکــړ او ددې یادونه مې وکړه چې ښاغلی رهین، د مشرانو جرګې مرستیال او د فرهنګي او دیني چارو د کمېسون مشر له ژوندون ټلویزیون ســره سیاسي ستونزې لــري او د سیاســي انګېــزي لــه مخــې د ژونــدون ټلویزیون پر وړاندې دا حرکت کوي. د رسنیو د سرغړونو کمیســیون هم د ښاغلي رهین تر فشار لاندې دی او ان د عطا محمد نور فشــار هم په دې برخه کې احساسېږي.

نو ځکه خو دا مکتوب او نظرونه او دا ډول اشــخاص سیاســي انګېــزه لري، ژوندون ټلویزیون ته ددې ډول اشخاصو نظر د منلو وړ نــه دی او نه هم قانوني بنه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لوی څارنوال څخه مې د (ضمير) د قاضي کولو غوښتنه هـم وکـړه، ومې ویل مخکې تر دې چې مور پر یو چا باندې د کاغـذي او فزیکـي اسنادو خبره وړاندې کړو، ضـمير بایـد قاضـي کـړو. زه هـم پـر دې پوهېږم، ته هم، ولسمشر هم او ټول افغانان هم چې د محسني صـيب مدرسه او تمدن ټلویزیون له ایرانه خړوبېږي،ددې په مقابل کې چوپ پاتې کېدل له ستر افغان او مسلمان ولس سره ستره جفا ده.

مالوی‌څارنوال ته وویل چې د ښاغلي رهين پرېکړه شخصي، سیاسـي او له قومي تعصبه ډکه ده او هېڅ ډول قانوني بنسټ نه لري، د رسنيو د سرغړونو د کميسيون په نامه يې خپله ذهني پرېکړه رالېږلـې ده او یوه بله کوچنی چاپي رسنۍ يې ځکه له دې مسلې سره یو ځای کـړې چې له ژوندون ټلویزیون سره خپل پخوانی او اوسنی تعصب پټ کړي. هغه غوښتنلیک چې مـا د ژونـدو ن ټلوېزیـون پـه اسـتازۍ لـویې څارنوالۍ ته وسپاره، په دې ډول دی:

د افغانستان اسلامي جمهوریت د لویې څارنوالۍ محترم مقام ته!

په دې ورځو کې د یو شمېر پردیپالو، ایرانپالو، افغان ضد، اسلام ضد او هېواد ضد کړیو له خوا د افغان، افغانیت، اسلام او ا سلامیت پـر ضـد پټې او ښکاره هڅې زیاتې شوي، یو شمېر پردیپالې رسنۍ هم پـه دې ناوړه هڅو کې شاملې دي.

ژوندون داسې یو ټلوېزیون دی چې د افغانانو په مالي پانګه، بسپنو او مرستو جوړ شوی او د خپل فعالیت له پیله یې بیا تردې دمه د افغـان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او هېواد د ملـي ګټـو لپـاره تـر خپـل وروستي وسه کار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون راډیو تلویزیون په دې وروستیو کې د یـو شـمېر ایرانپـالو او پنجابپالو کړیو او رسنیو تر پـراخ یرغـل لانـدې دی. دوی غـواړي د هېواد ددې ملي او رسنیز مرکز پر وړاندې خندونـه پیـدا کـړي، پـه حکومت کې له تنظیمي کړیو، تنګنظرو او هغو اشخاصو څخه هم کـار اخلي چې نه غواړي افغان ملت د ځلانده هویت او قوت خاوند شي، نو ځکه خو د ټولو د فشار تمرکز پر ژوندون راډیو ټلویزیون بانـدې دی. ژوندون راډیو ټلویزیون د هغو هېواد پالو، اسلامپالو او ملتپالو افغانـانو غږ په ښه ډول منعکس کړ چې غوښتل یـې د هویـت د تـذکرې پـر لومړي مخ د اساسي قانون له حکم سره سم د اسلام او افغان کلیمـې ولیکل شي، دې خبرې د یو شمېر ایرانپالو، پنجابپالو او نورو پردیپالو حساسیتونه راوپارول، نو ځکه خو یې له هغو دولتي ارګانونو څخه چې په یو نه ډول یې ځینې اشخاص د افغان ملت لـه ملـي هویـت سـره حساسیت لري، ناوړه ګټه پورته کړه او د ژوندون ټلویزیون پر ضد یې عرایض وړاندې کړل. دا ډلې غواړي له دې ملي موضوع څخه د خلکـو پام قومي موضوعګانو ته واړوي.

موږ د افغانستان له لویې څارنوالۍ څخه دغه لاندې غوښتنې لرو:

۱ -له لسو کلونو راهیسې دې ټولې رسنۍ وارزول شـي چـې څـومره نشرات یې د هېواد د ملي ګټو لپاره کړي او څـومره نـوریې د ملـت، اسلام او افغانیت پر ضد دي.

۲ -د ټولو رسنیو د تمویل سرچینې او پرسونل دې په هر اړخیز ډول وارزول شي، هره نا مشروع سرچینه دې رښه شي او هغو رسنیو چې له ایران، پاکستان او یا نورو نا مشروع سرچینو څخه پیسـې تـر ګوتـو کړي، باید عدلیي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ -د ملي او قومي رسنيو تر منځ دې سره کرښه راکاږل شي: څوک، افغان، افغانستان، اسلام او د هېواد ملي ګټې غواړي او څوک قومي مسايل خپروي. قومپالي اوس دومره سپين سترګي دي چې هم قومي تفرقه اچوي او هم يې پړه پر بل باروي.

۴ -څوک چې په ټلوېزيونونو کې د افغانستان ملي سرود او ملي بيرغ پر ځای نور سرودونه خپروي او نور بيرغونه خپروي، له هغوی سره دې قانوني چلند وشي.

۵ -پر ځانګړې ډول د ژوندون، تمدن او يو شمېر نورو ټلوېزيونونو په اړه يادونه کوو چې لويه څارنوالي دې يو بشپړ، ناپيېلی، مسلکي هيئت وټاکي، په دې هيئت کې دې د تمدن ټلوېزيون او ژوندون غړي هم شامل وي. د دواړو ټلوېزيونو او همدارنګه د ښاغلي محسني د مدرسې مالي سرچينې دې وپلټي، هره مالي سرچينه چې ايراني او پاکستانی وه، قانوني چلند دې ورسره وشي.

۶ -لويه څارنوالي دې هغه اشخاص چې په ډاګه د افغان ، افغانستان پر ضد شعار ورکوي او د افغان ملي هويت پر ځای پر قومي هويت ټينګار کوي، هغوی دې هم محاکمې ته راکاږي، که هغه په دې دولت کې په هره کچه وي، که وکيل وي، که وزير، که والي او که بل هر څوک.

۷ -لويه څارنوالي دې هغه ګوندونه او ډلې هم تر څار لاندې ونيسي چې د اساسي قانون د روحيې خلاف يې ټول کړه وړه د قوم، سيمې او ژبې پر محور راڅرخي.

ژوندون ټلوېزيون ټول افغان ملت او ددې هېواد رښتينو بچيانو ته ډاډ ورکوي چې دخپل فعاليت او ژوند تر وروستی سلګی به اسلاميت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانیت او انسانیت پالي، د ایرانپالو، سمتپالو، پنجابپالو، فساد ګرو، ناقانونه زورواکو، هر ډول پردیپالو او نورو مکروبونو پر ضد به خپل رسنیز جهاد ته دوام ورکوي او په دې لاره کې به د هر ډول خنډ، مشکل او زور په مقابل کې په نره ودریږي.

ژوندی او پیاوړی دې وي افغان ملت

مړه او سپېره دې وي د افغانستان دښمنان

رپانده او ځلانده دې وي په سیمه او نړۍ کې

د افغانستان او اسلام بیرغ

په درناوي

پوهنوال محمد اسمعیل یون

د ژوندون راډیو تلویزیون د امتیاز خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه ناقانونه پر ېکړه او زموږ مدني غبرګون

| |
|---|
| د (۱۳۹۲)ل کال د لیندۍ میاشتې په نیمایي کې د اطلاعاتو او کلتـور وزیر (سید محدوم رهین) او لوی څـارنوال (محمـد اسـحق الکـو) د ژوندون ټلوېزیون د نشراتو د تعلیق په هکله ناقانونه پر ېکړه وکړه، ما (یون) د ژوندون ټلوېزیون په استازۍ د یادو اشخاصو ددې پر ېکړې پر وړاندې غبرګون وښود، هغه مې په کلکو ټکو وغندله، زما دا وینا همغه مهال د ژوندون ټلوېزیون پر څپو خپره شوه چې دادی دلته یې لیکنۍ بڼه وړاندې کېږي. |

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی، مهربانه، لورووونکي او ښونکي څښتن تعالی په نامه

هغه ځوان چې د وطن په درد سوځېږي
که سل ځـله پـرمخ لوېږي پورته کېږي
ماتـرې سـل ځله قربان او صدقه کړې
چې د مرګ په پوله ناست وي لا خوځېږي

خپل نجیب، ویاړمن، پرتمین، غښتلي، پیاوړي او سرلوړي ملت ته تـر هرڅه وړاندې د زړه له کومې سلامونه او احترامونه وړاندې کوم.

غواړم د ظلم او استبداد، جبر او اختناق د عواملو، د ایران د شنه او د پنجاب د تور استعمار د پټو او ښکاره افغان ضـد عملونـو او د هغـو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنیو تالیخئو د وروستیو توطیو په باب ستاسو پاملرنه څو مهمو ټکو ته راواړوم:**

**۱ -له هغې ورځې چې په افغانستان کې ژوندون ټلویزیون خپل نشرات پیل کړي او په هېواد کې نویو، شعوري او ځوانو مدني خوځښتونو سر راپورته کړی، له همغه وخته راهیسې د ژوندون ټلویزیون پر ضد توطیې روانې دي. هېڅ بل ټلویزیون ته پردیپالي، ایرانپالي او پنجابپالي دومره د خطر په سترګه نه ګوري، لکه ژوندون ته چې ګوري.**

**۲ -کله چې ژوندون ټلویزیون د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت د لارویانو او رښتینو افغانانو غږ پورته کړ او د هویت د تذکرو پر لومړي مخ یې ددې سترو ارزښتونو د تثبیت غوښتنه وکړه، نو پردیپالو عناصرو ددې داعیې پر وړاندې دومره تېز غبرګون وښود چې د هېواد په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی.**

**۳ -روس پلوه او ایرانپلوه ډلې چې له پخوا څخه د حکومت په داخل او بهر کې فعالې دي، په ژوندون ټلویزیون کې د افغانیت او اسلامیت د خوندیتابه بحث، له قومي تعصبونو سره غوټه کړ او د یوه شخص یوه کلیمه یې دهېواد ځینو وګړو ته په ناسم ډلو تعبیر کړه.**

**۴ -ایرانپالو او پردیپالو رسنیو د ژوندون ټلویزیون د ژورلیدونو خپرونې یو بحث چې د (اسلام)، (افغان) او (اسلامیت) او (افغانیت) د خوندیتابه لپاره ځانګړی شوی و، کاپي او په هغه کې یې ځینې جملې وړاندې وروسته کړې، مانا یې ورته کږه کړه او بیا یې له خپلو رسنیو څخه خپور کړ او هڅه یې وکړه له دې لارې قومي حساسیتونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوپاروي او تر شا يې خپل شوم افغان ضد هدفونه پر ملي او اسلامي داعيې واكمن كړي.

۵ -دې ايرانپلوه تنظيمي كړيو په مشرانو جرګه كې يو شخص چې تـر دې وړاندې يې د هويت په تذكرو كې د افغان او اسلام كليمو د ليكنې پر ضد كارت پورته كړی و، د يوې همفكره وسيلې په توګـه وكـاروه، هغه له اطلاعاتو او كلتور وزارت څخه د ژوندون ټلويزيون د نشـراتو د تعليق غوښتنه وكړه، اطلاعاتو او كلتور وزير ښـاغلی (سـيد مخـدوم رهين) هم چې له پخوا څخه د همدې ډلو ټپلو تر اغېز لانـدې دی، ژر تر ژره يې لويې څارنوالۍ ته مكتوب وليكه، له ژوندون ټلويزيون سره يې د خپل تعصب د پټونې په خـاطر د يـوې بلـې نومـوركې چـاپي خپرونې د تعليق غوښتنه هم وكـړه. حقيقـت دادی چـې د ژونـدون ټلويزيون مقابل طرف تمدن ټلويزيـون، محسـني مدرسـه او نـورې ايرانپلوه رسنۍ دي، نه يوه لاسپانه او نوموركې چاپي خپرونه.

۶ -د اطلاعاتو كلتور وزارت په تېر لس كلن تاريخ كې هېڅكله داسې پرېكړه نه ده كړې چې پر يوه ورځ، په يوه ګړۍ كې دې هر څه فيصله كړي. رهين صيب ددې پرځای چې د رسنيو د سـرغړونې كمېسـيون خبر كړي او يا د هغه كمېسيون غونډه جوړه كړي چې هغوی خپل نظر وركړي او يا مقابل لوری خبر كړي، په ډېرې چټكۍ سره څارنوالۍ تـه مكتوب ورولېږه. ښاغلي وزير په ډېـر خرګنـد ډول پـه خپلـه هغـه كمېسيون چې دوی به له خلكو غوښتل، هغه ته شكايتونه وكړي، پـه خپل دې عمل، لغوه، پيكه او بې ارزښته كړ.

۷ -لوی څارنوال، ښاغلي (اسحق الكو) هم ددې پرځای چـې د خپـل ټاكلي هئيت خبرو ته منتظر شي، لكه قرطاسيه چې حوالـه كـوې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي رهین پر وړاندیز ولیکل: ((متن پیشنهاد منظور اســت.)) پــه افغانستان کې پــه زرګونــو خلــک وژل شــوي، افغــان ملــي هویــت، افغانستان، اسلامي مقدساتو، ملي اتلانو، اکثریــت هېوادوالــو او ټولــو بشري ارزښتونو ته سپکې سپورې ویل شوي، خو نه (رهین صاحب) او نه هم (الکو صیب) سر څه چې غوړ پرې هم نه دی ګرولی، خو څرنګه چې ژوندون ټلوېزیون د ټولو هېوادپالو افغانانو یوه رښتینې رسنۍ ده، ددې پرضد دومره چټک غبرګون او له دولتي امکانــاتو څخــه د ملــي رسنۍ د خپه کولو هڅه څه مانا لري؟

ددې لپاره چې خبرې ډېرې اوږدې نه شي، موږ غواړو په دې برخه کې خپل نظر او خپل عقلي، منطقي اصــولي، حقــوقي او دفــاعي دلایــل وړاندې کړو:

۱ -در سنیو په قانون کې له رســنیو څخــه د ســرغړونې کمېســیون تثبیت شوی، ولسي جرګې هم دا کمېسیون تائید کړی، لــه ژونــدون سره د پردیپالو عناصرو په دې قضیه کې اصلاً دا کمېسیون چــا خبــر کړی هم نه دی. کوم وزیر او یا هم کوم شخص ددې صلاحیت لري چې ددې کمېسیون له پرېکړې او مصوبې پرته د یوې رسنۍ په باب داسې حکم وکړي؟ که چېرې دا د یو اصل په توګه ومنل شي، نــو ښــه داده چې د رسنیو دا کمېسیون ژر ختم شي او ټول صلاحیتونه یې ځانګړو اشخاصو ته حواله شي.

۲ -دولت چې کوم ارګان تاسیس کړی وي، ولسي جرګــې هــم تائیــد کړی وي، ایا کوم شخص دا حق لري چې تر قانون پورته عمل وکړي او هغه ارګان ته ورکــړل شــوي صــلاحیتونه ځــان تــه مختــص کــړي؟

۳ -پر کومه ورځ چې ښاغلي رهین خپــل دا غوښــتنلیک لاســلیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی، پر همغه ورځ یې ځان پر یو بهرني سفر مصروف کړی، ځکه چې ځان له دې قانوني تېروتنې وژغوري.

۴ -د اطلاعاتو او کلتور وزارت پرته له دې چې د قضیې ادعا شوی لوری خبر کړي، د یو تنظیمي شخص مکتوب ته یې هرکلی ویلی او څارنوالۍ هم مخکې تر دې چې له ژوندون تلویزیون څخه وضاحت وغواړي، یوه اړخیزه پرېکړه کړې ده.

۵ -د رسنیو تعلیق د شخص د وظیفې تعلیق نه دی، چې بېرته جبران او معاش یې ور حواله شي. رسنۍ په هره ثانیه کې خپل لګښتونه او خپلې مادي او معنوي ګټې لري، که یوه رسنۍ د محکمې له حکم پرته زیانمنه شي او تر تعلیق وروسته بېرته اصلي حالت ته وګرځي، برائت هم واخلي، نو کوم اورګان د خسارې د جبران تضمین کولای شي؟ د زیان کچه به څوک تثبیتوي؟ د ادعاوو او واقعیت ترمنځ به عدالت او انصاف څنګه په ګوته کېږي؟

۶ -ایا قوانین ددې اجازه ورکوي چې یوه حقوقي، رسنیزه او یا اعتراضي موضوع دې ژر تر ژره سیاسي شي او چارواکي دې په کې ناقانونه مداخله وکړي؟ په دې پرېکړه کې مونږ د ولسمشر د مرستیالانو سیاسي فشار او په خپله د ولسمشر همېشنی مضر مصلحت او ځینې خاصو کړیو ته د تېرو سیاسي امتیازاتو د ورکړې په تعقیب، د نورو امتیازاتو او خوړلنیو د ورکړې عنصر دخیل ګڼو.

۷ -هغه ډلې چې مستقیماً له ایرانه خړوبېږي، پر حکومت او په خپله پر ولسمشر خاص اغېز لري، د هغو ټولو اغېزې په دې ناقانونه بېړنۍ پرېکړه کې دخیلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ -ايا تر دې دمخه د داسې پر بکړو ببلګې شته چې ددې پر بکـړې د عملي کېدو لپاره لاره پرانيزي؟ که د يوه کارپوه يوه خبـره چـې پـه خپله کارپوه يې د پـوره وضـاحت ورکولـو جوګـه دی ايـا ددې ډول پر بکړې ايجاب کوي؟

۹ -که د يو چا يوه خبره د يـوې رسـنۍ پـر وړانـدې دومـره چټـک غبرګون ته دلايل برابروي، نو بيا خـو پـه افغانسـتان کـې بېلابېلـو اشخاصو او رسنيو په دې برخه کې دومره څه استعمال کـړي، چـې د ژوندون پر څپو يې د (جنرال طاقت) خبره په خروار کې د مثقال تـر مثاله هم وړه ده. د هغوی پر وړاندې په دې تېرو لسو کلونو کې هـم د لويې څارنوالۍ او هم د اطلاعاتو کلتور وزارت د چارواکو چوپـه خولـه پاتې کېدل کومې ماناوې لري؟ ايا له هغوی سره د همغږۍ، همفکـرۍ، يا بې تفاوتۍ په مانا ده او که نورې مانا لري؟ ښه بـه وي چـې پـه دې برخه کې د يو شمېر اشخاصو او رسنيو نومونـه هـم واخلـو: دولتـي ښاغلي دې پر حافظې فشار راوړي، د ښاغلي لطيف پدرام، عطامحمد نور، عبدالحفيظ منصور، انور سادات، حاجي محمـد محقـق او نـورو څرګندونې دې هم را په ياد کړي. د طلـوع ټلويزيـون، نـور، نـورين، تمدن، راه فردا، ائينه او همدارنګه د نورو ګڼو چاپي رسنيو نشرات دې هم له نظره تېر کړي.

۱۰ -هغه پر بکړه چې له دولتي چارواکو پر ته، نه په کې نه عارض معلوم وي، نه په کې مقابل طرف او نه هـم د قضـيې تـولې خـواوې، خپلـه غوښتنليک والا هم پېښې له ميدانه سپکې کړې وي، ايا لـه قانونـه او منطقه د تېښتې په مانا نه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱ -خپله لوی ځارنوال، د اطلاعاتو او کلتور وزیر او نور ټول اشــخاص پر دې پوهېږي، چې پرېکړه يې قانوني اساس نه لري. د لوی ځــارنوال تر حکم وروسته ما له لوی ځارنوال سره تر (۵۰) څلو زيــات ټلېفــوني تماس ونيو، خو زه چې ددوی په نظر د قضيې يو اړخ ګڼل کېږم، له مــا څخه ځان پټونه کوم حقيقت پټوي؟

۱۲ -لويې ځارنوالۍ او بل هيڅ اورګان د ژوندون له خوا د جنرال طاقت د خبرو اصلي سي ډې (CD) له هغو سي ډي ګانو سره پرتله نــه کــړه چې د ژوندون د مخالفينو لخوا برابره شوې وه. جملې په کې ورانــدې وروسته شوې وې او مانا په کې بدله شوې وه.

۱۳ -کله چې له يوې رسنۍ څخه د يوه شخص يوه خبره چې هغه هــم يوه بل شخص په ځانګړي ډول (لطيف پدرام) چې غازي امان الله خان ته ې کنځلې کړې وې، راجع وه، خو پرديپالي بيا دا د پلمې پــه توګــه قوم ته منسوبوي او د ځينو ناسم تعبير راپاروي او بيا هغه شخص پــه همغه رسنۍ کې د خپلې خبرې وضاحت کوي، نو د دې ډول رسنۍ په اړه چې د پرديپالو پخوانی ذهنيت له کينې ډک نه وي، نو ددې رسنۍ په باب بيا چټک غبرګون له ايرانپالنې او پرديپالنې بله څه مانا لري؟

۱۴ -پر دې هم پوهېږو چــې کــه ټــول افغــان ولــس يــوه خــوا وي، جنګسالاران او تنظيمسالاران په تېره بيا ايران پورې تړلي اخونــدان بله خوا، نو ولسمشر ته دا دوه وروستي عناصر ډېــر محتــرم دي، لــه ولس سره د ولسمشر ددې جفا په مقابل کې بــه د قيامــت پــر ورځ د ولس لاس او د ولسمشر کرزي ګرېوان وي او دا به هغه وخت وي چــې د جبران لپاره به هېڅ مجال پاتې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۵ -د هېواد د ټولو عدلي قضايي اورګانونو، دولتي چارواکو، ځانساتو او څوکی پالو اشخاصو پر وړانـدې دا پوښـتنه هـم ږدم چـې د (۱۴۰) افغانانو قاتل (حکیم شجاعي) او د ملي اردو او ملي پولیسـو وژونکـي (امیر ګل) او (کمین) چېرته دي او ولې تر قانونه پورته ګرځي او لا هم تر عدالت لرې خوندي ژوند تېروي.**

**۱۶ -ایا د (۶۵) زره کابل ښاریانو قاتلان په همدې نظام کـې تـر ټولـو محترم، مقدم او واکمن نه دي؟**

**۱۷ -کله چې د ملي شورا مخې ته د افغان ضد کړیو له خوا لـه قـومي تعصب ډکه مظاهره وشوه او ځینو یې د ایرانپلوه ډلـو پـه لمسـون د افغانستان پر ضد او (ما افغان نیستم) شـعارونه ورکـړل، دا ښـاغلي چېرته وو؟ ددې پرځای چې دې ډول اشخاصو او محرکینو ته یې سـزا ورکړي. اوس یې خارنوال صیب او وزیرصیب غوښتنو ته هرکلی وایي.**

**اوس راځم خپل مسلمان با ایمانه، باوجدانه غیرتي افغان ملت ته!**

**زه د یوه افغان او مسلمان په توګه د لوی خـدای (ج) پـر نصـرت او د خپل ملت پر غیرت پوره ډاډه یم. په دې پوره باوري یم چـې د واحـد افغان ملت ټولې څانګې او ګلونه چې د هېواد له هرې سیمې، هر قوم، هر ټبر او هرې ژبې سره تړاو لري او له ملي او اسلامي هویت، اسلام او افغان سره مینه لري، په نره د ژوندون ټلوېزیون ملاتـړ کـوي او هـر ایرانپالي، پنجابپالي او پردیپالي ته مناسب ځواب ورکوي.**

**خو زه د یوه متمدن انسان، افغان او مسلمان په توګه د خپلې ملـي او اسلامي برحقې داعیې د ترلاسه کولو لپاره له تشدد، خشـونت او زور څخه کار اخیسـتل نـه تائیـدوم او نـه یـې پلـوي کـوم. زمـوږ او د جنګسالارانو او ناقانونه ایرانپالو کړیو تر منځ د توپیر سره کرښه همدا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې موږ اسلامیت، افغانیت او انسانیت غواړو او د افغانستان کورني او بهرني مخالفین، وحشت، خشونت او لا قانونیت.

پر دې خبرې بیا ټینګار کوم چې د هویت په تذکرو کې لـه اسـلام او افغانه تېر بدونکي نه یو او دا اوسنۍ قرباني هم د همغو ارزښتونو لپاره ده.

د ژوندون ټلوېزیون په ملیونونو هېوادپـالو مینوالـو څخـه پـه ډېـر درنښت هیله کوم، چې په پوره زغم، اوسېلې او سـړې سـینې خپلـو مشروعو او قانوني داعیو ته دوام ورکړي. د ژوندون ټلوېزیون د ملاتـړ لپاره د سړیتوب داسې یوه بېلګـه وړانـدې کـړي چـې هېوادپلـورو، کلتورپلورو، او پردیپالو ته یو بې سارې سبق شي.

موږ د لویې څارنوالۍ په ګډون د هیواد هرې قانوني سرچینې تـه تـر هغه وخته د قدر په سترګه ګورو چې د قانون د تطبیق لپاره عادلانـه پرېکړې وکړي. دا چې په ځینو عدلي، تقنیني او قضایي اورګانونو کې ځینې اشخاص د سیاسي اغېز تر فشار لاندې قانون تر پښـو لانـدې کوي، ددې کفاره او جبیره به خپله ورکوي.

زه د یوه افغان په توګه ځانته دا حق ورکوم چې د یوه مدني انسان په حیث د پردیپالو پر ضد خپله ملي او انساني مبارزه جاري وساتم، هـر کلي، هر مسجد، هرې بانډې او هـرې تپـې تـه لاړ شـم او د ظلـم او استبداد په مقابل کې خپل غږ پورته کړم.

زه حق لرم د ایرانپالو ډلو د سیاسي فشارونو له امله د لویې څـارنوالۍ ددې پرېکړې پر وړاندې سترې محکمې ته خپل غوښتنلیک وړانـدې او ژوندون ته د رسېدونکي زیان د جبران غوښتنه وکړم. کـه احیانـاً ستره محکمه هم د لـویې څـارنوالۍ پـه شـان د مضـر او نامشـروع

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصلحت پر رنځ اخته شي، نو د خپل ملت عــدالت او د نــړۍ هــر بــل عدلي اورګان ته به عريضه کوم او د دې ظلم په مقابل کې به ودرېږم.

د خدای نصرت او د ملت همت مې همېشنی ملګری دی او په دې لاره کې د څو ټنګه سرو، ځان پلورو، ضمير پلورو پروا نــه لــرم، لــه خپــل ولسه د ژوندون د تېر ملاتړ له امله هم منندوی يــم او پــر راتلــونکي ملاتړ يې هم پوره ډاډه يم.

زه له هغو زرګونو او لکونو افغانانو هــم منننــه کــوم يــم چــې د لــويې څارنوالۍ د ناقانونه حکم د تطبيق په حالت کې يې موږ ته ډاډ راکــړی چې د دوی له رسنيو، راډيوګانو، ټلويزيونونــو، ټــولنيزو خپرونــو او د تبليغ له نورو زرايعو څخه پوره پوره ګټه پورته کولای شو.

خپل ملت ته د يو څو نورو راتلونکو احتمالي خطرونو وړاندوينــه هــم کوم. د افغان کلمې تر حذف وروســته، د پرديپــالو دويــم يرغــل پــر (افغانی) دی، چې زموږ د پولي او ملي هويت ښکارندويي کــوي او تــر هغه وروسته وروستی يرغل او جګړه د خوږ افغانستان د نامه د بدلولو لپاره ده. هېوادپال افغانان دې ټول خبر وي. ځانساتي، ورځچاري بــه بيا هغه وخت لکه د مچانو په څېر لاسونه مروړي، خو اوبه به له ورخــه تېرې وي، ملت به د مملکت د نامه پرسر پــر جنجــال اختــه وي او د ولس د سوکالۍ لپاره به د خدماتو رسولو ته د چا پام نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې وایم چې:

نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلي دي
نه مې چاته ورک شه یا ګم شو کله ویلي دي
نوره ګناه نه لرم په دې ګناه مې مه نیسه
زړه کې چې مې پټ ظالم ته بد غوندې کتلي دي
وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وایمه
نه یمه منکر په مظلومانو مې ژړلي دي
نه ومه خبر پرده مې لرې ځنې پورته کړه
نه دي د ویلو هغه څه چې ما لیدلي دي
رسي لوړ مقام ته چې بوټونه پاکوي د بل
دېر په دغه شغل ریاست ته رسېدلي دي

ژوندی او سرلوړی، متحد او غښتلی دې وي افغانستان
سوکاله، ارام او بریالی دې وي افغان ملت
مړه دې وي د افغانستان پټ او ښکاره دښمنان

ومن الله التوفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ملت حماسه

د (۱۳۹۲)ل کال د لیندۍ پـر (۲۳)مـه نېټـه د ژونـدون ټلوېزیـون د بندولو په اړه د لويې څارنوالۍ او اطلاعـاتو کلتـور وزارت د پرېکـړې خلاف ولس لويې مظاهرې ته راووت او د سـترې محکمــې مخــې تــه راټول شو، خپل مدني اعتراض يې وکړ، سترې محکمــې هــم د ولــس غوښتنه ومنله او د ژوندون ټلوېزیـون د تعلیـق پـه اړه يـې د لـويې څارنوالۍ ناقانونه پرېکړه ملغی کړه. ما پر همغه ماښام د ولس د پـراخ ملاتړ له امله له خپـل ولـس څخـه مننــه وکـړه، دا وینـا د ژونـدون ټلوېزیون پر څپو خپره شوه چې دلته يې ليکنی متن وړاندې کوم.

### بسم الله الرحمن الرحیم

**د کايناتو د هغه لوی څښتن تعالی په نامه**

**چې د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی**

## خپل ولس ته د مننې پیغام

## د ملت حماسې ته درناوی

مرګ زما پـه پوهـه ښـه تـر دا ژونـدون دی
له عـزت سـره چـې نـه وي زیسـت روزګـار
ولســونه چـــې ســند يــو بلــه وکــا
پادشــاهان ورتــه ســجود کانــدي اختيــار

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې يو حالت کې چې ملت د وياړ او پرتم، توري او قلم، جنګ او فرهنګ يوه ستره تاريخي او مدني حماسه وټوکوي، سړی نه پوهېږي چې له کومې جملې يې پيل کړي، له چا څخه لو مړی مننه وکړي؟ چا ته د ستاينې ګلونه او د مننې او ښکې ډالۍ کړي؟ خو ښه به وي چې د مننو او ستاينو د معمول خلاف، زه د ټولو ژوندونو الو، ټولو اسلامپالو او ټولو هېوادپالو افغانانو په استازۍ له هغو ميندو د مننې لړۍ پيل کړم چې مورېته يې په پنځه وخته لمانځه کې د دعا لاسونه لپه کړل، مورېته يې د دعا لښکرې راولېږلې، له هغو خويندو به يې پيل کړم چې نه يې په دعاګانو کې هېر کړو، نه يې په عملي ملاتړ کې، د همدې اسکېرلو خو غيرتي خويندو له خوا په سوونو ټلېفونونه راغلل، د مظلوميت د څپو، په ژړغوني، خو له ډېر عزت، عفت او همت نه په ډک اواز يې زمونږ ملاتړ وکړ او همدا به يې ويل: که له زلمو نه پوره نه شوه... له هغو سپين ږيرو مشرانو او مخورو به يې پيل کړم چې د عمر اوږده برخه يې ددې وطن په غم او درد کې تېره کړې، خو لا هم په سپېرو او دود وهلو خونو کې اوسي او هر يو به همدا ويل:

**پام چې وار دې خطا نه شي**

**ما منلي غرغرې دي**

له هغو ماشومانو به يې پيل کړم چې له تندي يې سپينې ټوټې تاوې کړې وې او پرې ليکل شوي وو: اسلاميت غواړو، افغانيت غواړو او ژوندون غواړو، ښکلو ماشومانو، لکه د پغمان د سرو منو په شان پر خپلو ښکلو اننګيو د افغانستان ښکلی درې رنګه بيرغ رسم کړی و او مخونه يې دومره ښکلي ښکاريدل، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـوډۍ ټـال. د رنګونـو پـه شـان. دې امتيـازاج او ښـکلا تـه هـېڅ بـا احساسه افغان د خپلو اوښکو سېلاب نه شي ټينګولای.

لـه هغـو مسـافرو افغانـانو بـه يـې پيـل کـړم چـې د نـړۍ پـه (پنځوسو ) هېوادونو کـې مېشت دي او هره ورځ د وطن د ليدو پـه هيلـه اوښـکې تويـوي، د هغـو افغانـانو د دعاګـانو برکـت و چـې پـه مکه معظمه، د خدای په کور کې يې مور ته د دعا لاسونه لپه کړل.

له هغو ځوانانو به يې پيل کړم چې له سرونو يې سپين کفنونه تړلي وو او د خپلو سترو ايډيالونو اسلاميت او افغانيت د ملاتړ لپاره يې د ظلم او استبداد په مقابل کې سر په لاس کې نيولی و.

له هغو ميندو او پلرونو به يې پيل کړم چې د خپل ځيګر ټوټې يې، سره له دې چې د ظلم او استبداد لـه خوا هر ډول خطرونه ورتـه متوجه وو، خو بيا يې هم د عدالت د تـامين لپاره د مبارزې لـومړۍ کرښې ته راولېږلې. په نړۍ کې به د قربانۍ داسې بېلګه څوک پيدا کړي چې خپل منصور اولادونه پـه داسې حال کې د جګړې ډګـر تـه ولېـږي، چـې نـه تـوپ لـري او نـه ټوپـک او پـه تـش لاس د ظلـم او استبداد په مقابل کې ودرېږي؟

له خپلو قدرمنو علمای کرامو به يې پيل کړم چې پـه نره يې د شريعت د منطق په ژبه د اسلاميت او افغانيت ملاتړ ته راودانګل.

د هغو ولايتونو له ځوانانو به يې پيل کړم چې په کابل کې يې تر لويې مظاهرې ځان د مخه کړ، خپله لاس په کار شول، پرته له دې چې د چا منفي نظر، فرمايش او يا زور تـه سر ټيـټ کـړي، پـه خپـل تفکر يې پر لويو لاريونونو لاس پورې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغو زنداني ورونو به يې پیل کړم چې د زندان د تورو تمبو تر شا يې موږ ته د ملاتړ پيغامونه راولېږل. زندانيانو خپل ملاتړ د غذايي اعتصاب له ګواښ سره وصل کړ او ويې ويل چې که چېرې د ژوندون د تعليق پرېکړه بېرته وانخيستل شي، نو دوی به پر لوی غذايي اعتصاب لاس پورې کړي.

له هغو ځوانو خوځښتونو، مدني ټولنو، سياسي ګوندونو، حرکتونو، صنفي اتحاديو او قومي شوراګانو به يې په پیل کړم چې په پوره يووالي يې په لاريون کې ګډون وکړ.

له هغو ټولو هېواد والو به يې پیل کړم چې په پراخه او سېله يې په مظاهره کې ګډون وکړ، له سهاره تر مازيګره يې له خوراک او څښاک پرته د خپلې برحقې داعيې لپاره چغه پورته کړه.

له هغو ځوانو څارندويانو او د مظاهرې له منتظمينو به يې پیل کړم چې په ډېره سړه سينه يې د مظاهرې نظم خوندي کړ، ډېر فشارونه پرې راغلل، خو خپله او سېله يې په هېڅ ډول له لاسه ورنه کړه.

د مظاهرې له ټولو ګډونوالو څخه به يې پیل کړم چې له ډېرو لوړو کلتوري اخلاقو، سړې سينې او پوره زغم څخه يې کار واخيست او يو ځل بيا يې د يوه متمدن، با کلتوره او غيور ملت په توګه نړۍ ته ځان ثابت کړ.

د سترې محکمې له عالي شورا به يې پیل کړم چې د ژوندون ټلويزيون د تعليق په اړه يې د لوی څارنوال او اطلاعاتو کلتور وزير ناقانونه پرېکړه ژر تر ژره ملغی کړه او د لاريونوالو د نورو غوښتنو د څېړنو ژمنه يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپلو ملي پوليسو ‌به يې پيل کړم چې په پوره نظم، دقت او عزت يې د امنيت په خونديتابه کې خپله مرسته او همکاري وکړه.

د هېواد له دريو نسلونو څخه به يې پيل کړم چې هم په کې کشر شامل و، هم په کې ځوان او هم په کې د نوي کلونو د عمر خاوندان. د هېواد د سپين ږيرو، مخورو، ځوانانو او تنکيو ځوانانو د دريواړو نسلونو يووالی زموږ د هېواد والو د اوچت ملي شعور ښکارندوی کوي.

له خپلو ټولو هغو هېوادوالو، خويندو، ميندو، پلرونو، ځوانانو، مساپرو او نورو څخه به يې پيل کړم چې د مظاهرې تر بريا او کتنې وروسته يې له ډېرې خوشالۍ په سترګو کې اوښکې ګرځېدلې او په سلګو سلګو يې د بريا مبارکي وويله.

د ژوندون ټلويزيون له ټولو کارکوونکو به يې پيل کړم چې دا څو پر له پسې اوونۍ يې شپه ورځ پر ځان يوه کړې او د خپل مظلوم ولس په خدمت کې دي.

له ټولو پورتنيو ښاغلو او اغلو څخه تر مننې او ستاينې وروسته غواړم، له ټول افغان ملت څخه مننه وکړم چې په خپله لمن کې يې دا سې ګلالي غمي او سرې روزلي چې د غره په شان خويونه لري؛ هر څه يې په لاس کې دي، خو څوک نه ازاروي، هر څوک ويشلی شي، خو څوک نه ولي:

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوک نه پرې ولم
په عادتونو کې دا يو عادت د غره لرمه

زما ملت يو ځل بيا پرديپالو او نورو رقيبانو ته په ډاګه کړه چې د څومره لويې او سپېلې خاوند دی، د تاترې په شان، د سپين

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـره او شمشـاد پـه شـان او د پـامير او هنـدوكش پـه شـان زغـم او اوسـېله لـري، كـه خپـل نـاهلـه زامـن يـې پـر سـپينې لمـن داغونـه هـم ږدي، نو تـر يوه وخته ورته اوسـېله كوي، خـو يـو مهـال بيـا سبق هـم وركوي.

زما قدرمن او غيرتي ملته !

پـرديپـالو او ځينـو تـاليخـو غوښـتل، يـو ځـل بيـا د دې ولـس تـولنيز، ملي، اسلامي او هېوادني شعور امتحان كړي. زمـوږ ولـس چې د سختو ازموينو له ډگره تل بريمن او پتمن وتـى، يـو ځـل بيـا لـه دې ستر ازمېښته پتمن او بريمن راووت. پـه دې وطن كـې خـو ځينـې مظاهرې د قدرت پر سر وي، د څوكيو پـر سـر وي، د غـوړو او چربـو پر سر وي، خو زموږ د ملت مظاهره، د معنـوي ارزښـتونو پـر سـر وه او د دې ارزښـتونو د ښـكلا او ځـلا پـه خـاطر وه، د اسـلاميت او افغانيت پر سر وه د ژوندون پـر سـر وه. زمـا ملـت شـعار وركـړ چـې اسلاميت غواړو، افغانيت غواړو، ژوندون غواړو او قانون غواړو. پـه مقابل كې يې ايرانپالو شعار وركړى و، چې نه افغانيت غـواړو، نـه اسـلاميت غـواړو نـه قـانون او نـه ژونـدون: وگـورئ د دې دوو شعارونو د څرنگوالي تر منځ څومره توپير دى، څوك څه كوي؟

ډېر تفاوت شته په انسان كې د مانا په لحاظ
واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

د دې مظـاهرې پيغـام دا و چـې سـيمې او نـړۍ تـه پـه ډاگـه كـړي چې افغان ولس يو متمـدن، فرهنگپـالى او توريـالى ملـت دى، هغـه ډلـې او اشـخاص چـې د دې هېـواد پـر مظلـوم اكثريـت كلـه كلـه د بـې كلتـورۍ تـور داغ پـورې كـوي، اوس دې راشـي او و دې گـوري چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک د لوړو کلتوري او معنوي ارزښتونو لرونکی دی؟ او څوک د نورو د کلتور د سمالونه پر غاړه ګرځوي؟

دښمنانو غوښتل چې زموږ د ملت چغه خپه کړي، فریاد یې وچ کړي او ژبه یې غوڅه کړي، خو هغوی په دې کار کې لاندې راغلل:

که ظالم مې ژبه غوڅه کړه تېره شوه
توره څومره چې تېره شوه لا خوږه شوه
اوس که نر یې نو غوږونه دې خپل پرې کا
چې زما نغمه سره نه شوله سره شوه

ددې لاریون بل پیغام دا و چې افغان ضد ډلو ته دا وښیي چې دا مظلوم خو غیرتي ولس له ګڼو ناخوالو او ستونزو سره سره لا هم د خپلو سترو معنویاتو د حفاظت په خاطر په خپل منځ کې وحدت، یووالی او پیوستون لري او که چېرې وغواړي هر پټ او ښکاره پردیپالی د نابودۍ په سیند کې ډوبولای شي.

د مظاهرې بل پیغام دا و چې مخالفین او نور مذبذب اشخاص که غواړي په اینده کې سوله ییز لاریون وکړي او د سرېتوب لاره خپله کړي، نو له دغسې مظاهرې دې عبرت او پند واخلي.

ددې ستر بریمن لاریون بل پیغام دا و چې ځانساتو، ورځچارو، دولتي او نادولتي مامورینو او مامورګیو ته دا په ډاګه کړي چې ستاسو له مرستې، همغږۍ، فکر، نظر او ملګرتیا پرته او ان له مخالفت سره سره بیا هم دا ولس ددې زور او ځواک لري چې خپل برخلیک او د خپل ژوند تګلوری په خپله وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې مظاهرې بل ستر پيغام دا و چې اسلاميت او افغانيت داسې سره غاړه غړۍ شول او داسې سره واوبدل شول چې د هېواد په تاريخ کې يې سارى نه دى ليدل شوى، همدا دوه ستر مشالونه دي چې موږ له تيارو څخه ژغوري، د لومړي ځل لپاره مسجد او هوجره، ملا او معلم، ښوونځى او مدرسه، کشر او مشر پر يوه لاره روان وو او يو بل ته يې د ورورۍ لاسونه سره ورکړي وو، دا په هېواد کې د ملي يووالي تر ټولو ښه سمبول و.

نو اوس د خپل ولس دغه درايت، کفايت، ايمان، هوډ، تکل، فکر او لرليد ته په کتو او له هغو څخه په الهام اخيستو سره، راتلونکي ته ډېره هيله لرلاى شو. د همدغه قوت موثريت ته په پام سره موږ په دې ډاډه يو چې ګام پر ګام به خپلو ملي او اسلامي هدفونو ته رسېږو، د هويت د تذکرې پر لومړي مخ به سل په سلو کې د اسلام او افغان کليمو د تثبيت په خاطر د (دين) او (ملت) ستون ليکل کېږي، ددې هدف د عملي تطبيق لپاره به لومړى د مشرانو جرګې او ولسې جرګې د ګډ کميسيون پرېکړې ته انتظار باسو، که بيا هم دا دوه ايډيالونه پکې ونه ليکل شول او يا يې له دې څخه يو وليکه، يو يې حذف کړ، نو بيا هم ملت ته د منلو وړ نه دي، په دې حالت کې به مظلوم اکثريت، دا ځل د (پښتونستان واټ) ته راټولېږي او مخکې تر دې چې ولسمشر د ملي شورا دا ناقانونه مصوبه لاسليک او توشيح کړي. په ياد واټ کې به د يوې لويې مظاهرې په ترڅ کې له ولسمشره وغواړي چې هېڅکله بايد زموږ پر ملي او اسلامي هويت خاورې وانه ړوي. ولسمشر بايد دا قانون رد او د سمون لپاره يې کورنيو چارو وزارت ته ولېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی باید د افغان او اسلام د تثبیت په خاطر له سره، نوی کارت ډیزاین او د تصویب لپاره یې قانوني مراجعو ته واستوي.

ولس له ولسمشره غواړي چې د څو محدود فسادګرو، غلو، داړه مارو او جنګسالارانو د لوټ او تالان له امله د افغانستان نوم په نړۍ کې د فساد په لومړۍ لیکه کې راغئي، حقیقت خو دا دی چې افغانستان یو سپیڅلی نوم دی چې له فساد سره هیڅ اړیکه نه لري، دا خو فسادګر دي چې فساد یې کړی، نه افغانستان، نو په کار خو دادي، هغه کسان چې د افغانستان سپیڅلی او نیک نوم یې بد کړی، د هغوی نومونه دې د رسنیو له لارې افشا شي چې زموږ د سپیڅلي هېواد نوم له فساد ګرو جلا شي.

له ولسمشر څخه غوارو په تېرو (۱۲) کلونو کې ټول دولتي تشکیلات د رسنیو پر مخ خواره کړي، چې ولس ته پته ولګي، څوک په کې څومره دي؟ چا د کوم لیاقت پر اساس کومې څوکۍ اخیستي، چا قومي او سیمه ییزو مسایلو ته لمن وهلې؟ د ساري په توګه دې ژر تر ژره یوازې د هغې ولسوالۍ لست خپور کړي چې د (پوزېشن) او (اپوزېشن) دواړه پوستونه یې اشغال کړي، هم ورسره حاکمیت دی او هم تر ټولو زیات د مظلومیت چغې وهي.

له ولسمشر څخه، دده له دفتره نیولې بیا تر وروستۍ دولتي اداري پورې، په ټولو کې، د اساسي قانون له محتویاتو سره سم د بشپړ ژبني عدالت تامینول غواړو.

ولسمشر څخه دا هم غواړو چې د یوه ناپېیلي هئیت د توظیف له لارې دې د تمدن ټلویزیون او شیخ محمد اصف محسني مرکز په ګډون ټولې هغه رسنۍ چې په تېره یوه لسیزه کې یې رسنیز فعالیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرلی دی. ددې ټولو رسنیو مالي سرچینې او د پرسونل څرنګوالی باید وڅېړل شي او نتیجه یې ولس ته اعلان شي.

د اساسي قانون د ساتندوی او پالندوی په توګه له ولسمشر څخه دا هم غواړو، هغه ټلوېزیونونه چې د هېواد د ملي بیرغ پرځای، نور بیرغونه رپوي او د ملي سرود پرځای نور سرودونه خپروي او همدارنګه د اساسي قانون د (۲۰، ۱۹، ۱۲، ۴، ۳، ۲۲، ۳۴) او نورو مادو د محتویاتو خلاف نشرات کوي، له قانون سره سم سزا ورته ورکړي.

موږ ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې زموږ مبارزه د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او په هېواد کې د ټولو افغانانو د ملي وحدت او برابرۍ لپاره ده، موږ د قومونو د تساوي شعار نه ورکوو، ځکه چې دلته د تساوي د کلیمې په عملي تطبیق کې اصلاً تساوي نه ښکاري، موږ د ټولو افغانانو ترمنځ تساوي غواړو او دې رښتیني بشري اصل ته د زړه له کومي کار کوو.

موږ په افغانستان کې هر ټبر، هر قوم او هر ټولنیز ټولي ته ډاډ ورکوو چې د قومي او جنګي ټوپکوالو له اسارت څخه د دوی د خلاصون لپاره هم په ټینګه مبارزه کوو. موږ خپلو هزاره افغان ورونو ته ډاډ ورکوو چې د څو جنګسالارانو له اسارته مو ژغورو، موږ تاجک افغان ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یوې محدودې درې د جنګسالارانو له منګولو څخه ددې قوم د ژغورنې لپاره هلې ځلې کوو.

موږ ازبکو ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یو یا څو محدودو جنګسالارانو له ظلمه مو ژغورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د هېواد د هر ټبر هر قوم، هر خېل او هرې ژبې افغان وګړي ته وایو چې له مظلومیت څخه د خلاصون لپاره مو هلې ځلې کوو.

موږ د هغې ورځې په ارمان یو، هغه زورواکي چې د قوم، ژبې، سمت، مذهب او نورو شعارونو تر چتر لاندې یې ناکنټروله او بې شمېره نامشروع پانګه پیدا کړې، داسې ورځ به راشي چې له مشروع او قانوني لارې به ددې پانګې رڼاوی کېږي.

موږ له ولسمشر څخه هیله کوو چې په تېرو لسو کلونو کې د هغو لسو ملیاردرانو پانګه ملي اعلان کړي او د بیت المال برخه یې وګرځوي چې له نامشروع لارې یې پیدا کړې ده.

موږ له خپل مومن، مسلمان او مجاهد ملت څخه هیله کوو لکه څنګه چې د جهاد پر مهال، په ملیونونو افغانانو له اسلامیت او افغانیت څخه خپل سرونه قربان کړل، اوس دې یو ځل بیا د خپل ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره په ټینګه راودانګي.

## د رنو او قدرمنو هېوادوالو !

په تېرو څو اوونیو کې په زرګونو، په لکونو او ملیونونو هېوادوالو د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او ژوندون ټلوېزیون پراخ ملاتړ وکړ، په دې کې په لسګونو مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو، قومي شوراګانو، سیاسي ګوندونو، د علماوو شوراګانو، فرهنګي ټولنو او زرګونو مخورو شخصیتونو ډېر مخکښ رول درلود، داسې شخصیتونه هم وو چې د نوم له یادونې پرته یې په نوموړکي ډول په دې ملي مبارزه کې ډېره فعاله ونډه واخیسته، موږ کوښښ کاوه چې په ترتیب سره ددې ټولو بنسټونو او ښاغلو نومونه واخلو، مننه ورڅخه وکړو، خو څرنګه چې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو نومونو او بنسټونو څخه داسې اوږد لست جوړېده چې بيان يې پوره ورځ غوښته او ددې خطر احتمال هم و چې هم د ځينو مستحقو قدرمنو نومونه به بيا هم له يادونې پاتې شي، نو ځکه مو له ټولو څخه په يوځايي ډول مننه غوره وبلله.

ګران او قدرمن ولسه ! په تېرو څو اوونيو کې په مليونونو افغانانو که هغو د بهرنيو مساپرو افغانانو په بڼه وو، يا په ولايتونو کې د بېلابېلو لاريونونو په بڼه، يا هم په ژوندون کې د لسګونو غونډو په شکل، يا هم د لوی لاريون په ترڅ کې او يا هم د بېلابېلو لويو شخصيتونو له خوا، ماته بېلابېل القاب: لکه خالد بن وليد، سلطان محمود غزنوي، ميرويس نيکه، لوی احمدشاه بابا، خوشال بابا، افغان بابا، اسلاميون، افغان يون او نور راکړل شول، زه ددې تر څنګ چې ځان د خپل ولس د احسان پور وړی ګڼم، د خپل ولس ددې پراخه او بې کچې مينې، لوريينې، پېرزوينې او ستاينې مننه کوم، خو ددې خبرې يادول هم ضروري ګڼم چې زه په هېڅ ډول ددې ډول القابو او ستاينو مستحق نه يم. زه ددې ټولنې داسې يو وروستی فرد يم چې تر هغه زيات پر کوچنې واحد نه تجزيه کېږي، زه د هېواد د يادو سترو او نورو اتلانو د پښنو ګرد ته هم نه شم رسېدلای.

زه درې کاله مخکې د هندوستان (پاني پت) ته په دې خاطر لاړم چې د لوی احمد شاه بابا د مېړانې، توري او سرېتوب ځلی وګورم او تر هغې ونې لاندې ودرېدم چې (۲۴۷) کاله وړاندې ترې احمد شاه بابا لاندې ولاړ و او تر همدې ونې لاندې يې د جنګ قومنده ورکړې وه. هلته ماته داسې يو ارمان راغی چې کاشکې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د هغه وخت افغان او د احمد شاه بابا د لښکرو يو قلموال واى، چې ما د بابا د تورې، مېړانې او سرېتوب كيسې ټكي په ټكي ليكلې واى او د تاريخ حافظې ته مې سپارلې واى.

زموږ د اتلانو كيسې نورو موږ ته ليكلي او هغه يې اكثره تر يوه مضر فلتر وروسته موږ ته رارسولي دي. احمد شاه بابا د نړۍ په (۷) امپراتورانو كې هغه شخصيت دى چې هم يې توره وهلې، هم يې قلم چلولى او هم يې په مفتوحو سيمو كې خپل رايت او عزت ساتلى دى، دا خصلتونه بيا په دې نورو اوو امپراتورانو كې نه وو.

زه نه غواړم چې د شهرت په داسې ځپو كې ډوب شم چې ور نه يې يم، كارونه رانه پاتې شي او دا كار په ما كې د ځانپالنې، ځان غوښتنې غريزه وټوكوي او نورو ته د تنګنظرۍ پلمه په لاس وركړم. له خپل ولس څخه مې هيله ده چې زما او د خپلو ارمانونو ملاتړ وكړي، زه كه د پورته ياد شويو او نورو اتلانو د لارې په لارويانو كې حساب شم نو دا به زما لپاره د لوى وياړ ځاى وي، زه ځان د هېڅ ډول القابو او وياړنو مستحق نه ګڼم.

خو د خپل ولس د يوه خدمتګار په توګه د تل لپاره د خپل مظلوم ملت خدمت ته چمتو يم، د خپلو مشرانو له خوا به امر وي او زموږ له خوا به چټك ګامونه.

## درنو هېوادوالو او د رسنيو د بيان پلويانو !

زموږ په اوسنۍ مبارزه كې دا په ډاګه شوه چې كومې رسنۍ هېوادپالې دي، كومې پرديپالې او كومې تنظيم پالې؟ پرديپالو رسنيو د ملت ددې سترې حماسې پر وړاندې تبليغات وكړل، خو له شرمه يې تصويرونه نشر نه كړاى شول. ان ملي ټلوېزيون چې په كار

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه د ټول ملت ټلوېزيون واى، يوازې د اسلامي جمعيت او په هغه کې هم د نظار شورا د ډلگۍ د يوې انحصاري رسنۍ په ګوته يې خپله څېره څرګنده کړه. د ژوندون ټلوېزيون پر ضد يې ډېرې ورې مظاهرې هم نشر کړې، خو د ژوندون، اسلاميت او افغانيت په ملاتړ يې د ډېرو لويو مظاهرو خبر هم خپور نه کړ. د خپل مظلوم ولس په استازۍ له ملتپالو رسنيو مننه کوو او د تنظيمپالو او پرديپالو رسنيو غندنه کوو، د هغو پر وړاندې به زموږ مبارزه دوام لري.

د رنو هېوادوالو !

يو ځل بيا له خپل ټول مظلوم، غيرتي، بااحساسه، بادرکه، بادرده، بانظمه، مفکر، مدبر، اوسېله ناک، صابر، باکلتوره، باشهامته ملت څخه د زړه له کومې مننه کوو، مننه مننه مننه او بيا هم مننه، د خپلو ميندو، خويندو، علماى کرامو، مساپرو، کورمېشتو او بهرمېشتو افغانانو د دعاګانو او ملاتړ په هيله.

ژوندى دې وي افغانستان

سر لوړى دې وي افغان ملت

رپانده دې وي د افغانستان درې رنګه ملي بيرغ

تل دې وي اسلاميت او افغانيت

مړه او سپېره دې وي د افغان او افغانيت

اسلام او اسلاميت پټ او ښکاره دښمنان

مړه دې وي پرديپال

ژوندي دې وي هېوادپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا هم افغانیت او ملي هویت

دا لیکنه په واقعیت کې یوه وینا ده او تر هغه یوازې یوه شپه وروسته د ژوندون تلویزیون پر څپو خپره شوه چې ښاغلي ډاکټر اشرف غني تر خپل حاکمیت وروسته په پټو سترګو په رسمي جریده کې د نفوسو د احوالو ناقانونه مصوبې د خپرېدو امر ورکړ. په دې کې د بې هویته تذکرې مسئله هم راغلې وه.

د کایناتو د هغه ستر رب په نامه چې د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی، نه له چا پیدا دی او نه ترې څوک پیدا دي، خو لکه څنګه چې یې دا ټول موجودات پیدا کړي د سترګو په رپ کې یې فنا کولای شي، له امیر څخه فقیر، له فقیر څخه امیر، له غریب څخه غني او له غني څخه غریب جوړولای شي، هغه چې د غرور په نیلي سپور وي او د پاچاهۍ نشې یې د عقل وزرونه تړلي وي، خو دی د دې توان لري چې:

په یوه ګردښت یې پرېباسي له برمه
نه یې غشی نه لښندۍ وي نه یې سپار

ګرانو هېوادوالو ! زه نن نه د کومې ډلې، نه د کوم ګوند، نه د کوم تنظیم، نه د کوم ولایت، نه د کوم سمت، نه د کوم رسنیز مرکز او نه هم د کوم زور او کومو زرو له ادرسه او نه هم د کوم چا په استازۍ تاسې ته مخاطب یم، زه یو عادي افغان یم او پر دې ویاړم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل عمر په نږدې (۴۷) کلن بهير کې مې نه د چا مال خوړلای او نه مې څوک وژلي دي، نه مې چاته ورک شه يا ګم شو کله ويلي دي، خو وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وايمه، نه يمه منکر په مظلومانو مې ژړلي دي.

ګرانو او خوږو افغانانو !له هغې ورځې چې د پخواني شوروي اتحاد لښکرو زموږ پر هېواد يرغل وکړ، نو نو له هغې ورځې راهيسې هېڅ افغان ښه ورځ نه ده ليدلې، د روسانو په يرغل کې نه يوازې زموږ هېواد ته درانه زيانونه ورسېدل، بلکې ستر معنوي او کلتوري زيانونه يې هم واړول. د کلتوري او ملي زيانونو په لړ کې زموږ ملي هويت ته هم سخت زيان ورسول شو. روسانو او د هغو کورنيو تاليخڅو د ملي هويت او واحد افغان ملت لپاره نوي، متضاد او بېلابېل تعريفونه وړاندې کړل، خو هغه هېواد پال افغانان چې د روسانو پر غرضو او مرضونونو پوهېدل، پر خپل وخت يې د روس پلوه ډلو د شومو حرکتونو پر وړاندې مبارزه وکړه، کله چې شوروي لښکرې ماتې شوې، نو بيا يې ځای د فارس او پنجاب نويو راڅوکېدلو قوتونو او عربي شېخانو ونيو او روس غېچ اخيستونکي ورسره يو ځل بيا ملګري شول او بيا هم زموږ پر ملي هويت او ملي وحدت له څو خواوو يرغلونه پيل شول. ددې مثلث او مربع لمبې لا سړې شوې نه وې چې د طالبانو د ترخه نظام او نړيوالو اړيکي د اور ليکې ته ورسېدل او يو ځل بيا هېوادوال د اور پر تبۍ کېنول شول، د بن په کنفرانس کې يوې محدودې سيمې، يوې ولسوالۍ او يوه روس پلوه او ايران پلوه متعصب ګروپ ته سياسي واک وسپارل شو، د ولسواکۍ انګازې او اوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې خواته خپرې شوې، خو په نظام کې د واکمنو جنګسالارانو پر خلاف چا د نیو کې چغه نه شوه پورته کولای، یو تن د ولس په اصلي رایو نږدې درې ځله ولسمشر شو، خو (ولس) شاته پاتې شو او (مشر) د ارګ د دېوالونو دننه د جنګسالارانو په ډول ډول ناقانونه معاملو پوره دیارلس کاله تېر کړل، هر ملتپال او هېوادپال شخص چې په دې بهیر کې د عدالت چغه پورته کوله او په نظام کې د واکمن فساد او سیکتاریزم پر وړاندې به ودرېده، هغه به په بېلابېلو فاشیستي او نشنیلستي تورونو تورنېده او د فعالیت ساحه به یې محدودېدله. په (۱۳) کلونو کې د پخواني فارس او اوسني ایران، فاشیستي مکروب دومره د دولت په رګونو کې ننوت چې نږدې هر رګ یې د ایران د هیلو تمثیل کاوه، له هرې خوا پر افغاني هویت بلوسې روانې وې، د پنجاب فاشیستي کړیو چې لا له نیمې پېړۍ راهیسې یې له افغاني هویت او ملي وحدت سره اساسي کینه لرله، د ایران له خاینو کړیو سره هماهنګ عمل ته راودانګل. ایرانپالې رسنۍ په حکومت کې دومره فعالې وې چې معاش او مادي امتیازات یې له نړیوالو ټولنې په تېره بیا له غربي نړۍ څخه ترلاسه کول، خو فکر، انګېزه او عقیده یې د ایران اخوندانو پالله. د هېواد اکثریت چې د طالبانو د افراط قرباني شوی و، په قصدي ډول حاشیې ته راکاږل شو او په هېواد کې د ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي هویت د حفاظت لپاره دوراثت خلا رامنځته شوه، له دې خلا څخه ایرانپالو او پنجابپالو کړیو په سرعت سره ګټه پورته کړه او د یادو شویو کړیو د نفوذ لپاره یې پراخه زمینه برابره کړه، پر ملي ترمینالوژي او نومونو د ایران د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارس ژبنی یرغل پیل شو او په زره بین یې هغه کلمه یا لغت څارل چې له کلونو کلونو دلته دود وو او د افغانیت رنګ یې لاره، نو اتومات به یې ورته ایرانی لغت د متبادل په توګه غوره کړ او ایرانپالو رسنیو به یې پر تبلیغ لاس پورې کړ. په تېرو دیارلسو کلونو کې تر (۵) زیات ټلوېزیوني چینلونه او تر (۲۰) زیاتې چاپي رسنۍ په مستقیم ډول د ایران له خوا وچلېدل او لا هم چلېږي، د دغسې یو حالت په مقابل کې چې هر مسلمان او هېوادپال افغان سرپورته کړي، نو هغه ته د سرتر وېښتانو زیات دښمنان راټوکول شوي دي. زه د هغو افغانانو له جملې څخه یم چې له تېرو (۳۰) کلونو او په تېره بیا د تېرو (۱۳) کلونو په بهیر کې د روس، ایران او پاکستان دې شیطان مثلث ته ښه په ځېر سره متوجه وم او څه چې مې له واکه شوي، هغه مې د هېواد د ملي ګټو او ملي هویت د خوندیتابه لپاره کارولي دي.

کله کله داسې هم شوي چې زموږ د ملي، اسلامي او انساني مبارزې پر وړاندې موږ ته خپل خلک لمسول شوي، تطمیع شوي، سپکې او سپورې یې راته ویلي، په سلو نومونو یې یاد کړي یو، خو موږ خپله او سبله او زغم له لاسه نه دي ورکړي.

له هغې ورځې چې په افغانستان کې د هویت د تذکرو یا الکترونیکي تذکرو د جوړښت او وېش خبره مطرح شوې، نو له همغې ورځې ایران او ایرانپالې کړۍ په هڅه کې دي چې هم د هویت د تذکرو په بڼه او ژبه کې تغیر راوړي او هم یې په محتوا کې، د دوی د شومو هڅو پر وړاندې له همغه پیله ما او موږ هم خپلې ملتپالې هڅې پیل کړي، هره دروازه، هر ور مو ټکولی، د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملتپال، هېوادپال چارواکي، زورواکي، کمواکي، کورواکي، ډېرواکي، مفکر او نا مفکر زنې او لاسونه مو نيولي، عذر ونه مو ورته کړي چې د خداى لپاره لږ متوجه شئ، د ملت پر هويت يو سېلاب راروان دی. پخواني ولسمشر حامد کرزي ته شپږ مياشتې منتظر شوم چې د هويت د تذکرو په باب ورته خپل نظر ووايم، سره له دې چې دده د دفتر په لس متري کې مې دفترو، خو وخت يې را نه کړ، بيا مې ورته ليک وليکه، ويل يې هېڅکله به داسې نه کېږي چې هويت ته زيان ورسېږي، خو اخر يې هغه څه وکړل چې هيله ترې نه کېده، د نفوس د احوال ثبت قانون په داسې يوه بڼه ملي شورا ته لاړ چې د وزيرانو شورا او عدليې وزارت تر منځ هم په متنونو کې توپير و ! وزيرانو شورا يو متن تصويب کړی و او عدليې وزارت بل څه لېږلي وو، ملي شورا کې ايرانپالي او پرديپالي ګروپونه له بېلابېلو لارو، چل، فريب، مهارت، توطيې، تطميع او دولتي زور څخه په ګټې اخيستنې د (دين) او (ملت) د دواړو کلمو په مخنيوي کې بريالي شول، دې خبرې نو هغه وخت زور واخيست چې په شمال کې يو ميليارډر زورواکي چارواکي پښې ودربولې چې د هويت په تذکرو کې دې د (افغان) پر ځای د هر چا (قوميت) وليکل شي، نو په کابل کې د سمبوليک ولسمشر زړه هم سست شو. کله چې په ولسي جرګه کې يو شمېر ماهرو پرديپالو منافقينو په چل او فرېب د ملي شورا اکثريت هېواد پال، خو کم کفايته او بې کفايته وکيلان غافلګير کړل او د هويت له تذکرې يې د (دين) او (ملت) دواړه ارزښتونه حذف کړل او د يوې (بې دينه) او (بې ملته) تذکرې د وړاندې کولو هڅه يې وکړه، نو يو زيات شمېر هېوادپالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ملتپالو، اسلامپالو افغانانو د هغوی پر وړاندې لاریون وکړ.
کله چې ایرانپالو کړیو د ولس د غبرګون زور ولید، نو بیا یې
ژوندون ټلویزیون ته پلمې جوړې کړې او په دې کړۍ کې ټولې
ایرانپالې او پنجابپالې کړۍ سره راټاله شوې، خو د لوی خدای
(ج) په فضل او د خپل ولس په ملاتړ ژوندون لکه څنګه چې ازاد
و، هماغسې ازاد پاتې شو، ستري محکمې لاریونوالو سره ژمنه
وکړه چې کله هم حکومت دا قانون ستري محکمې ته محول کړي،
نو د هېوادوالو دې قانوني غوښتنو ته به قانوني جامه ور
واغوندي. کله چې ملي شورا د هېوادوالو غبرګون ولید، نو په
خپل ګډ کمیسیون کې یې پرېکړه وکړه چې د (دین) ستون دې
ولیکل شي او په مقابل کې دې ټولو ته (اسلام) ولیکل شي خو پر
(ملت) یانې (افغان) یې بیا خاورې واړولې. موږ بیا ستري
محکمې ته لاړو، قاضي القضات وویل جې ستاسو داعیه قانوني
ده، خو ولسمشر باید موږ ته دا قانون راولېږي چې له اساسي
قانون سره یې تطابق وڅېړو، ټولې هڅې مو وکارولې چې ولسمشر
کرزي سره باید وګورو، خو هغه، هغه مهال موږ ته وخت راکړ چې
ولسمشر ته ددې قانون د مصوبې پنځه لسمه ورځ وه، دا چې پر دې
ورځ څه تېر شول او څوک په دې مجلس کې شامل وو، دلته یې کټ
مټ د ټولې ناستې راپور وړاندې کوم. دا ناسته د ۱۳۹۲ ل کال، د
دلوې میاشتې پر (۶)مه نېټه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي هویت او ولسمشر
# (له ولسمشر حامد کرزي سره د اسلامیت او افغانیت په باب د ځانګړې کتنې جزیات)

((مخکې تر دې چې ولسمشر حامد کرزي سره د افغانیت او اسلامیت په باب د ځانګړې کتنې جزئیاتو ته راشم، مجبور یم، لږ لنډې تېرې ماضي ته ورستون شم.
له تېرو څو میاشتو راهیسې د ملي هویت یا د تابعیت د تذکرو پر سر جنجال روان دی. خبره ان تر مظاهرو، خوابدیو او ډېرو زړه بداویو پورې هم ورسېده. په دې بهیر کې رښتیني، اسلامپال، هېوادپال او ملتپال افغانان هم معلوم شول. ورځچاري، ځانساتي، ځان ګټي او افغان ضد اشخاص او ډلګۍ هم ټول په ډاګه شول. خبره له شف شف څخه شفتالو ته راووته!
د افغانستان ملي تحریک په ګډون ګڼ شمېر مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو او مدني حرکتونو یوځل د ملي شورا او بیا د سترې محکمې مخې ته لویې مظاهرې وکړې. دا مظاهرې که څه هم پر ځینو پردیپالو او ځانساتو ښې ونه لګېدې، خو د ولس روحیه یې تر دې حده پیاوړې کړه چې سرې ورته یو نسبي، فرهنګي، مدني او حقوقي وړوکي اوښتون ویلای شي. دې مظاهرو د ټولو هېوادوالو په تېره بیا د مظلوم اکثریت ولوله راوپاروله او روحیه یې ورته دومره قوي کړه چې هېوادوال یې د لا لویو مظاهرو لپاره جوګه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاریونوالو غټ هدفونه همدا وو چې د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) ستون ولیکل شي او په دې ډول دې د اسلام او افغان د تثبیت لپاره له اساسي قانون او ټولو بشري او مدني قوانینو سره سم اقدام وشي. ددې دوو ارزښتونو پټو او ځینو څرګندو مخالفینو هڅه وکړه پر (ژوندون ټلویزیون) او شخصاً پر ما (محمد اسمعیل یون) فشار راوړي چې له دې سترو ارزښتونو او ایډیالونو څخه لاس په سر شم، چې د ملي داعیې دا خبره همداسې ګونګه پاتې شي. پر ژوندون ټلویزیون له فشار راوړلو څخه هدف همدا و چې ددې رسنۍ له لارې د خلکو پیغام رسول کېږي او د ولس غږ پورته کېږي، که دا رسنۍ ټکنۍ او یا وتړل شي، نو پر اوسني وخت دا کار د افغانیت او اسلامیت د داعیې د تړلو او یا هم ددې ایډیالونو د ټکني کولو په مانا ګڼل کېږي. د دوی بل هدف دا و چې د خلکو ذهنیت له اصلي موضوع (اسلامیت او افغانیت) څخه څنګزني موضوع (ژوندون ټلویزیون) او د هغه تعلیق ته راواړوي. خو زموږ باغیرته ملت د شعوري هڅو او لاریونونو په ترڅ کې هم د ژوندون د تعلیق او تړلو خطر ډېر ژر دفع کړ او هم د خپلو ایډیالونو د بریا په لټه کې شو. د ولس رښتینو بچیانو د مشرانو او ولسي جرګې له مشرانو او بېلابېلو غړو سره د خپلو کتنو په ترڅ کې هغو ته په ډاګه کړې او دا خبره یې تعقیب کړې وه چې دوی له دې دوو ارزښتونو څخه تېرېدونکي نه دي. سترې محکمې ته یې د خپل (۱۳) ماده یې پر بکره لیک په ترڅ کې هم دا په ډاګه کړې وه چې د اساسي قانون د دریمې او څلورمې او نورو مادو له محتویاتو سره سم دوی سل په سلو کې د (اسلام) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

(افغان) د کلیمو لیکل غواړي. د ګرانو هېوادوالو د ګڼو فشارونو له امله د مشرانو او ولسي جرګې ګډه کمېسیون پرېکړه وکړه چې د هویت په تذکرو کې دې د نوم ترڅنګ (تخلص) او د (دین) ستون زیات شي، خو د ملت په نامه راغلو په اصطلاح استازو یوځل بیا د (ملت) ستون ته شا واړوله، خو زموږ ګرانو هېوادوالو، تحریکوالو، ژوندونوالو، لیکوالو او نورو مخورو پر دې فشاري پرمختګ بسنه ونه کړه، دوی وویل که څه هم دا یو پرمختتګ دی خو لا هم په سلو کې پنځوس برخې مزل پاتې دی، موږ نه غواړو د یوه ارزښت په لیکلو سره بل له منځه یوسو؛ اسلام ولیکو، ملت هېر او نفې کړو او یا ملت ولیکو اسلام له سره تېر کړو، موږ دا دواړو ایډیالونه غواړو او دواړه د تذکرې پر لومړي مخ غواړو.

تحریکوالو، ژوندونوالو، مدني او فرهنګي ټولنو او ځوانو خوځښتونو یوځل بیا د بېلابېلو غونډو او متواترو اعلامیو له لارې له ولسمشر، سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون څخه وغوښتل چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون دا نیمګړې او ناقانونه پرېکړه رد او د تعدیل لپاره یې پرېکړه وکړي.

زه (یون) په خپله د افغانستان ملي تحریک او ګڼو فرهنګي ټولنو په استازۍ سترې محکمې ته عارض شوم او د بېلابېلو ټولنو ګډه اعلامیه او غوښتنه مې د سترې محکمې سرپرست (قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي) ته ورسوله له هغه سره مې په دې اړه رسمي ملاقات وکړ او د ټولو هېوادوالو غوښتنه او اندېښنه مې ورسره شریکه کړه، ما له قاضي القضات صیب څخه وغوښتل څرنګه چې د ملي شورا وروستۍ پرېکړه د اساسي قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځلورمې مادې له پنځمې فقرې سره په تضاد کې ده، ستره محکمه باید د نفوسو د احوالو د ثبت دا مصوبه د اساسي قانون له محتویاتو سره وڅېړي چې سمون ورسره لري که په ټکر کې ده؟ او په دې باب خپله پرېکړه ولسمشر ته صادره کړي. قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي ماته وویل ((ستاسو خبره سمه ده د ملي شورا پرېکړه د اساسي قانون د محتویاتو او په تېره بیا له ځلورمې مادې سره سمون نه لري موږ له اساسي قانون سره د نورو قوانینو مطابقت څېړو، په دې شرط چې حکومت یې له موږ څخه وغواړي، نه په خپل سر د قوانینو مطابقت څېړو او نه هم له دولت یا حکومت پرته د نورو نادولتي، سیاسي، ټولنیزو او نورو ټولنو په غوښتنه د قوانینو مطابقت مطالعه کوو))، پوهاند عظیمي چې د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون غړی هم و، دا هم وویل: ((کله چې اساسي قانون جوړېده، نو فکر وشو چې که د هر چا په غوښتنه له نورو قوانینو سره د اساسي قانون د تطابق څېړنه مطرح شي، نو له سترې محکمې څخه به خپل ټول اساسي کارونه پاتې وي، همدا قوانین به څېړي، نو ځکه د دې غوښتنې اعمال حکومت ته محول شو.)) پوهاند عظیمي بیا قانون ته لاس کړ په دې باب یې یوه ماده ولوستله چې ستره محکمه د حکومت په غوښتنه له اساسي قانون سره د نورو قوانینو مطابقت څېړي. پوهاند عظیمي وویل: ((که تاسې غواړئ چې د ملي شورا دا پرېکړه له اساسي قانون سره په مطابقت کې وڅېړل شي، باید حکومت ته خپل عرایض وړاندې کړئ چې هغه یې موږ ته راولېږي او موږ به بیا دا موضوع د سترې محکمې د عالي شورا په غونډه کې مطرح کړو.)) کله چې زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي القضات له دفتره راوتلم، نو پر همغه ورځ مو جمهوري ریاست ته د همغې اعلامیې د متن یوه کاپي ورولېږله: یوه کاپي مې د ولسمشر فرهنګي چارو مشاور ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) او بله مې هم د ولسمشر د دفتر رئیس ښاغلي (کریم خرم) ته، چې دوی یې ولسمشر ته ورسوي ددې اعلامیې په متن کې راغلي وو: ((تر هغه پورې چې جمهور رئیس له سترې محکمې، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون او نور حقوقپوهانو سره سلا مشوره نه وي کړې، باید د ملي شورا ناقانونه مصوبه توشیح نه کړي)) له نېکه مرغه چې اعلامیه ولسمشر ته رسېدلې وه، یوه ورځ وروسته ورته د توشیح لپاره د ملي شورا مصوبه هم راغله، ولسمشر د اعلامیې د متن منطق ته په کتو سره د ملي شورا مصوبه معطل او له توشیح څخه یې ډډه وکړه. خو د هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو بنسټونو اعلامیه ساعت په ساعت د (ژوندون ټلوېزیون) پر څپو خپرېدله او هېڅ وقفه په کې نه راتلله. دې سره موږ جوخت له بېلابېلو لارو او اشخاصو، لکه ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل)، (کریم خرم)، (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا)، (ډاکتر صادق مدبر) او نورو اشخاصو له لارې هره شېبه او پرله پسې ډول هڅه کوله چې له ولسمشر سره لیدنه وکړو او د بې هویتۍ ددې سترې غمیزې په باب ورته خپل دلایل وړاندې کړو، خو په خواشینۍ سره چې بریالي نه شو، یوه اوونۍ وروسته ولسمشر د عدلي او قضایي چارو کمېسیون په غونډه کې دا موضوع مطرح کړه. په دې غونډه کې قاضي القضات (عبدالسلام عظیمي)، د عدلي او قضایي چارو د کمېسیون غړي نصرالله ستانیکزی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدليې وزير (حبيب الله غالب)، د ملي امنيت شورا سلاکار (ډاکټر رنګين دادفر سپنتا)، د جمهور رييس دفتر رئيس (کريم خرم)، د اساسي قانون پر تطبيق د څار کمېسيون رئيس (ګل رحمن قاضي) او ځينې نور اشخاص شامل وو. په دې غونډه کې هم د هويت پر تذکرو بحث وشو، داکتر سپنتا او نصرالله ستانيکزي د هويت په تذکرو کې د (افغان) کليمې پر ليکلو ټينګار کړی و او په دې برخه کې يې ګڼ شمېر دلايل راوړي وو، خو غونډې کومه پايله نه لرله، يوه خبره په کې دا شوې وه چې د (سردار محمد داودخان) د وخت تذکره دې په بام کې ونيول شي، همغه تذکره يې غونډې ته راوړې وه. څرنګه چې هغه وخت (ملت) نه و ليکل شوی، نو د (ملت) د کلمې مخالفينو ته دا يو غټه پلمه په لاس ورغله، د غونډې عمومي په تېره بيا د ولسمشر روحيه دا وه چې همدا تذکره ښه ده. کله چې موږ خبر شو نو بيا له کريم خرم، ډاکتر سپنتا او هېوادمل صيب سره په تماس کې شو او ورته ومو ويل چې په هېڅ وجه دا خبره د منلو وړ نه ده، تاسې د داودخان د وخت په تذکره کې يوازې همدا د (ملت) د يوې کلمې نه ليکل معيار نيسئ او که ټوله تذکره؟ ما له ښاغلي کريم خرم او هېوادمل صيب سره ډېر تېزې خو له ډاکټر سپنتا سره په تول تللې خبرې وکړې:

کريم خرم راته وويل: ((د داودخان د وخت تذکره څنګه ده؟ هلته خو ملت نه شته؟)) ما ورته وويل: ((د داودخان د وخت په تذکره کې خو نورې ژبې هم نه شته، هغه کاغذي وه، دا الکترونيکي، هغه ټوله پښتو وه، دا په څو ژبو ده؟ ايا دا حکومت هم د داودخان د حکومت په معيارونو برابر دی؟ د داودخان په وخت کې کوم والي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانیته انکار کولای شو؟ شورا ددې جرئت درلود چې افغان ضد او اسلام ضد حرکت وکړي، داود خان خو قومي او سیمه ییز تخلصونه هم په همدې خاطر لغوه کړي وو چې واحد ملت جوړ او قوي شي، اوس خو ټول حکومت پر سیمو او قومي ډلو وېشل شوی، کوم کار مو د داودخان د حکومت پر معیار برابر دی، چې یوازې هلته د (ملت) کلمې له نشتوالي څخه ناوړه ګټه اخیستل کېږي، که د داودخان تذکره معیار وي، نو بیا ټوله تذکره معیار کړئ، نه یوازې یوه کلمه. په هغه تذکره کې خو (دین) هم ذکر و، خو د اوسني حکومت په طرحه کې خو نه (دین) و او نه (ملت).
له ښاغلي هېوادمل سره مې همدا خبرې وکړې، ډاکتر سپنتا راته په ټلېفون کې د قضایي کمېسیون د غونډې په باب وویل چې زما نظر له پخوا څخه په دې باب معلوم دی، زه د افغان د کلیمې پلوی یم (افغان) زموږ ملي او سیاسي هویت دی، تاسې کولای شئ له ښاغلي کریم خرم څخه چې په هغه جلسه کې ناست و، خو په جلسه کې یې هېڅ خبرې ونه کړې، زما د نظر په باب وپوښتئ. سپنتا وویل: ((باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، مسله قوم برایم مطرح نیست اما باید یک هویت داشته باشیم ان هویت ملي افغان است، صرف نظر از اینکه بعضی ها از کلمه افغان تعبیر دوګانه دارد، بعضی ها افغان به معنی پشتون تلقی میکند، اما ما افغان نه به معنی پشتون، بلکه به معنی هویت ملی و سیاسی ومدرن ان تلقی مینمایم. ما درجلسه قضایی به رئیس جمهور ګفتم که در فرانسه (۳۵) درصد (فرانس) زندګی میکند اما همه باشنده ګان فرانسه (فرانس) را به حیث هویت ملی خویش قبول کردند، در

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان هم کدام مشکلی وجود ندارد که افغان را به حیث هویت ملی خود قبول نمایم.)) سپنتا زیاته کړه: ((په دې مسله کې زه تا سره هم نظره یم، سره له دې چې په ډېرو برخو کې زما او ستا د نظرونو ترمنځ اختلاف و او شته. خو په دې مسله کې زه ستا د نظر پلوی یم)) البته ډاکتر سپنتا د (دین) په انډول د (ملت) پر عنصر زیاته تبصره وکړه او پر همدې توکي یې ټینګار کاوه، ځکه بحث هم د (ملت) پر کلیمې و.

له ډاکتر سپنتا، سرمحقق زلمي هېوادمل او کریم خرم سره زما ټلېفوني ارتباطات له دې امله وو چې همدا کسان جمهور رئیس ته لاسرسی لري.

د دې خبرې یادول هم ضروري دي چې نصرالله ستانیکزي هم ډېر زیات معقول حقوقي دلایل وړاندې کړي وو، خو چا ورته څه خاص ارزښت نه و ورکړی. موږ چې د جمهوري ریاست دې حالت ته پام وکړ؛ نو خواشیني شو، د ملي تحریک په ګډون مو د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ځوانو خوځښتونو او فرهنګي ټولنو مطرح اشخاصو ته بلنه ورکړه، له هغوی سره مو مشوره وکړه او د یوې بلې لویې مظاهرې په لټه کې شو، یو شمېر ولایتونو کې هم له مطرح شخصیتونو سره په تماس کې شو او پر یوه وخت مو په ګڼو ولایتونو کې د لویو مظاهرو د جوړولو تکل وکړ. د مظاهرې لپاره مو د تدارک کمېسیون هم په پام کې ونیو، خو یو شمېر ملګرو وویل: ((یوځل بیا به له ولسمشر سره تماس ونیسو، که نتیجه یې ورنه کړه، نو بیا به خپل وروستی زور په مظاهرو کې راټولوو او ځرګندوو)) بیا بیا مو کوښښ وکړ، خو زموږ د څو ځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پرله پسې هځو سره سره له ولسمشر سره پر ملاقات بریالي نه شو. یوه اوونۍ وړاندې راته هېواد مل صیب زنګ وواهه چې رئیس صیب وایي تاسې د ملاقات لپاره خپل لېست راولېږئ، رئیس صیب ماته ویلي چې ملاقات برابر کړه. ما ویل څومره کسان؟ هغه ویل، لس پنځلس متخصص او پوه کسان چې له هر قومه وي، ما د (۲۲) کسانو لېست وربرابر کړ، چې د بېلابېلو سیمو او بېلابېلو قومونو مخور شخصیتونه پکې وو، لېست مې ورولېږه، دوه ورځې وروسته له جمهوري ریاسته رنګ راغی، ستاسو لېست ډېر اوږد دی، رئیس صیب وایي، د (یون) په شمول یوازې پنځه تنه. بیا مې په لېست کې کمښت راوړ: یو (شېرعلم املهوال) چې په قوم پشه یي او ښه لیکوال دی، بل (جنرال غلام حسین هزاره)، د سیاسي چارو کارپوه، بل (عبدالحکیم تورسن)، په قوم تاجک او د سیاسي چارو کارپوه دی، څلورم شخص (چرند سنګ) د خوست د افغان سکانو له جملې څخه دی، او پنځم زه خپله وم، دا لست مې ورکړ، د دلوې پر (شپږمه) د یکشنبې پر ورځ مازیګر څلورنیمې بجې ملاقات برابر شو. کله چې په ګلخانې ماڼۍ کې د ملاقات ځای ته ورسېدو، نو لوی څارنوال (اسحاق الکو)، قاضي القضات (پوهاند عظیمي)، ډاکتر مدبر، ډاکتر سپنتا، کریم خرم، او نور هم راغلي وو، پوه شو چې دوی هم دې غونډې ته راغلي دي، ولسمشر هم تشریف راوړ، تر سترې مشې وروسته یې ټول د کابینې د غونډو خونې ته دعوت کړو.

ولسمشر پر خپله څوکۍ او نورو په مشترک ډول دواړو خواوو ته کېناستو، د غونډې ټول ترکیب په دې ډول و:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ولسمشر حامد کرزی
۲- قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي
۳- لوی څارنوال محمد اسحق الکو
۴- عبدلیې وزیر حبیب الله غالب
۵- د علماوو شورا رئیس مولانا قیام الدین کشاف
۶- د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر رنګین دادفر سپنتا
۷- د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رئیس ګل رحمن قاضي
۸- د چارو د اداري لوی رئیس ډاکتر صادق مدبر
۹- د ولسمشر د دفتر رئیس کریم خرم
۱۰- پوهنوال محمد اسمعیل یون
۱۱- جنرال غلام حسین هزاره
۱۲- شېرعلم امله وال
۱۳- عبدالحکیم تورسن
۱۴- چرند سنګ

غونډه ولسمشر په دې ډول پیل کړه: ((بسم الله الرحمن الرحیم)).
ورونو دا غونډه یوه غیر رسمي مشورتي غونډه ده، چې د یوې خاصې موضوع یانې د تذکرو په باب جوړه شوې ده.
یو شمېر ورونه چې د بېلابېلو فرهنګي، مدني ټولنو نمایندګي کوي (همداسې ده که نه؟ (ماته یې وویل، ما وویل هو) ماته عارض شوي وو او خپلې پانې یې راالېږلې وې، په هغو کې یې له ما غوښتي وو چې په تذکره کې دې د (دین) او (ملت) یا (اسلام) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

(افغان) کلمې ولیکل شي، دا ورونه اوس راغلي د دوی دلایل به واورو چې دوی څه وايي، بیا به په دې موضوع غور وکړو)).
ماته یې وویل: ((شروع یې کړه، !)) ما وویل: ((زه یې پیل کړم؟ ده وویل: ((هو !)) ما خپلې خبرې په دې ډول پیل کړې: ((بسم الله الرحمن الرحیم. د قدرمن ولسمشر، قاضي القضات صیب او نورو ټولو قدرمنو مشرانو او د غونډې د برخوالو په اجازه !... ما سره د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو لپاره ډېر زیات دلایل شته، خو نه غواړم دلته ټول بیان کړم، نه وخت ددې ایجاب کوي او نه دلته داسې خلک ناست دي چې هغوی پر دې موضوع او یا ددې موضوع پر باریکۍ نه پوهېږي، بلکې دلته ټول داسې خلک دي چې پر دې موضوع او د دې موضوع پر حساسیت، نزاکت او ضرورت ډېر زیات او ښه پوهېږي، نو ضرورت نه شته چې ډېر زیات توضیحات ورکړل شي. خو غتهو ټکو ته مجبور یم اشاره وکړم: زموږ لرې ماضي، نږدې تېرې ماضي او حال ته په کتو سره (افغان) او (اسلام) داسې ارزښتونه دي چې دا ملت ورڅخه په هېڅ وجه تېرېدونکی نه دی، دې ملت پرې قرباني ورکړې، دا دواړه ارزښتونه نه د رایګیرۍ موضوع ده، نه په رایګیرۍ راغلي، نه پرې بحث او نظر غوښتنه کېدی شي. او نه څوک ددې حق لري چې پر هغو بحث وکړي. ټول بشري او زموږ انساني قانون ددې حق راکوي چې دا ارزښتونه خوندي وساتو، د افغانستان اساسي قانون (قانون مې وروښود) د څلورمې مادې پنځمه فقره او نورې مادې واضح کوي چې ددې ملت پر هر وګړي د (افغان) کلیمه اطلاقېږي او تذکره موږ فرد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوو ، د هر فرد هویت (افغان) دی، هېڅ قانون، هېڅ شخص حق نه لري چې له ماشخه په چل او فرېب او یا د قوانینو د دوران لـه لارې دا حق سلب کړي. افغانستان کې هېڅ قانون د اساسي قانون لـه محتویاتو سره په ټکر کې وضع کېدی نه شي. کوم قانون چې اوس ملي شورا لـه بېلابېلو لارو او یـا هـم د ځو اشخاصو او کړیـو د چالاکۍ او فرېب لـه لارې تاسو تـه رالېږلی، دا د همدغـه اساسي قانون د محتویاتو مخالف دی، نو ځکه مردود دی. د افغانستان نورو تېرو تذکرو تـه پـه پام سره چې هلتـه پـه اکثرو کې (دیـن) او (ملت) راغلي، د اسلام او افغان کلیمې یې تسجیل کړي دي، د همدې او سني حکومت په تذکره کې هم د (دیـن) او (ملت) کلیمې لیکل شوي، ریس صیب ! تاسو پـه خپلـه غالباً پـر ۱۳۸۲ ل کـال یـو فرمان صادر کړ چې د هویت پـه تذکرو کې دې د ټولو لپاره افغان کلیمه ولیکل شي ) )، پر دې مهال ولسمشر وویل ((بې شکه، ما پـه همدې خاطر دا کار وکړ چې ملي وحدت تامین شي ) ) مـا ورتـه وویل: ((نو دا څوک و چې هم یې (دیـن) لـه تذکرې څخه وویست او هم (ملت) ؟) ) ما ورتـه ټولې تېرې تذکرې وربښکاره کړې. ((بلـه خبره داده چې د نړۍ نـورو مطـرح هېوادونـو د هویـت تـذکرې کـه هـم وګـورئ، اکثـرو پـه کـې خپـل ملـي هویـت درج کـړی دی ) )، د لسـو هېوادونو لکه قطر، کویټ، نایجریا ، المان، برېتانیا او ځینو نـورو هېوادونو تذکرې مې هم ورتـه ښکاره کړې، مخکې تر دې چې زه تـذکرې وښـیم، ولسمشـر وویـل، ((نـور هېوادونـه څنګـه دي؟) ) مـا ورته وویل ((د اکثرو هېوادونو پـه تذکرو کې نشنیلټي ذکـر ده ) ) ده وویـل: ((پاسـپورت مـه یادونـه، تـذکره راښـیه، مـا ورتـه د لسـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو تذکرې راوړې وې، هغه مې ورته لاس په لاس مخې ته کېښودې، د المان هم په کې وه په نشنیلتي کې یې لیکل شوي وو (ډوچ) او د نورو هېوادونو هم، ولسمشر وویل: (سپنتا ته یې ورښکاره کړه) ډاکټر سپنتا د ولسمشر ښي لاس ته په وروستۍ لیکه کې ناست و. هغه ته یې لاس په لاس ورکړې. هغه چې تذکرې وکتلې، د تائید سر یې وخوځوه.

جمهور رئیس د داود خان د وخت تذکره په لاس کې ونیوه، ویې ویل: ((دادی دلته خو یې ملت نه دی لیکلی؟ ځو ورځې مخکې موږ په جلسه کې همدا د داود خان د وخت تذکره معیار ونیوله، څرنګه چې هلته ملت نه و، نو موږ وویل چې دلته هم ورته ضرورت نه شته)).

ما ورته وویل: ((رئیس صیب د داود خان په تذکره کې مو همدا یو معیار په پام کې نیولی، چې ملت په کې نه شته که څنګه؟ هلته خو (دین) هم شته، تاسو ولې دین کښلی و، ایا د اوسنۍ تذکرې ښه هم د هغې تذکرې په شان ده؟ شکل، ژبه او محتوا یې ټول په همغه شان دي؟ بله خبره داده چې د داود خان په وخت کې خو ملت ته هېڅ خطر نه و او نه چا ددې جرئت کولای شو چې د ملت پر وړاندې ودرېږي، د داود خان په تذکره کې (دین) معیار نه نیسئ، خو (ملت) چې په کې نه شته بیا همغه راټینګوئ؟)) دې وخت کې یو ځل عدلیې وزیر غالب صیب غږ کړ، ((در تذکره ما دین بود)) ما ورته وویل: ((نه و، چېرته؟ نه دین و، نه ملت، دین بیا دویم ځل د مولوي صیب تره خېل په وړاندیز ولسي جرګې تصویب او په تذکره کې یې ځای کړ، د مشرانو جرګې په مصوبه کې نه دین شته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت)) غالب صیب بیا ټینګار وکړ، ما وویل: ((زه دوه ځله نورو ملګرو سره شورا ته په همدې خاطر لاړو چې تذکره کې نه (دین) و نه (ملت)، )) غالب صیب بیا ټینګار وکړ: ((دین بود تو خبر نداری)) ما وویل: ((لاړ به شو د ولسي او مشرانو جرګې لومړیو بحثونو او تائید شویو طرحو ته)) دې وخت کې پوهاند صیب عظیمي د غالب صیب د نظر په باب وویل: (دین و، خو په ارشیف کې پاتې شوی)) دا چې د ارشیف مانا دلته څه ده؟ په دې پوه نه شوم، خو څه ناڅه پته ولګېده، هغه طرحه چې وزیرانو شورا پاس کړې وه، په هغې کې د (دین) کلیمه وه، خو کومه طرحه چې د عدلیې وزارت له خوا شورا ته لېږل شوې، په هغې کې د (دین) کلیمه نه شته او یا هم د دې خبرې یادونه نه ده شوې چې د تذکرې پر لومړي مخ دې (دین) ولیکل شي.

دې وخت کې ولسمشر بیا وویل: ((نو چې پورته لیکل شوي د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، نو بیا خو دواړه په کې راغلل، افغانستان او اسلامي، نو بیا (ملت) او (دین) ته څه اړتیا ده؟)) ما وویل: ((رئیس صیب د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت عنوان او رسمي نوم دی، نه د (ملت) نوم دی، نه د (دین). دا عنوان وخت پر وخت بدلېږي، خو زموږ (دین) او (ملت) نه بدلېږي، (اسلام) او (افغان) نه بدلېږي. یو وخت دلته د افغانستان شاهي دولت و، بیا جمهوریت، شو، بیا دموکراتیک جمهوریت شو، بیا اسلامي دولت، بیا اسلامي امارت، بیا موقته اداره، انتقالي اداره او دادی اوس اسلامي جمهوریت دی، یو څو فیصده د دې احتمال هم شته چې سبا ته بیا اسلامي امارت شي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتونو عنوانونه بدلېږي، خو (ملت) او (دين) نه بدلېږي. زموږ (دين) اسلام او (ملت) مو (افغان) دی، دا د دولت په عنوانونو پورې نه تړل کېږي. بله خبره داده چې دې ته د ملي هويت تذکره هم وايي، نو چې زما ملي هويت په کې معلوم نه وي نو د څه شي تذکره ده؟ هغه تذکره چې ستا ملي او عقيده يي هويت نه شي څرګندولای، هغه نو د څه شي تذکره ده؟ څه ارزښت لري؟ لنډه دا چې موږ (بې دينه) او (بې ملته) تذکره نه غواړو او نه يې زغملای شو. دلته يو دولت په دې پلمه سقوط شو چې په تذکره کې يې د (دين) ستون نه و ليکل شوی، اوس به يو حکومت په دې پلمه سقوط کېږي چې په تذکره کې يې د (ملت) ستون نه دی ليکل شوی، نن چې يې د (افغان) کليمه له تذکرې وويستله سبا ته به يې له پاسپورته باسي، بل سبا بيا د افغانستان کلمه هم نه مني، پر هغې به هم راسره بحث کوي. بل په دې کې تاوان څه دی، که وليکل شي؟)) جمهور رئيس وويل: ((هېڅ تاوان نه لري، بلکې ګټه لري، اته نوي فيصده ګټه لري.)) دې وخت کې يې عدليې وزير ته مخ وروارړوه، ويې وويل: ((شما بګويد !)) هغه وويل: ((او جا ګفته شد که جمهوری اسلامی افغانستان امده، ديګر ضرورت نيست، همين افغانستان ملت ما است ديګر ضرورت نيست که ملت نوشته شود يا نه شود، همانجا همين فيصله شد.)) دا چې چا چېرې او څنګه دا فيصله وکړه موږ ته پته و نه لګېده، خو دومره اخيستنه مو وکړه چې د کابينې تر غونډې وروسته نور خلک هم شته چې ځانګړې پرېکړې کولای شي او (ملت) د خصوصي اشخاصو کار دی چې راوړي يې او که نه، دا خلک معلومېږي نه خو کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شي. ما سملاسي وزیر صیب ته وویل: ((افغانستان زموږ د هېواد نوم دی، د ملت نوم مو (افغان) دی، موږ باید د ملت او هېواد ترمنځ فرق وکړو. افغانستان رغېدلی له افغانه دی، نو څوک چې (افغان) نه مني (افغانستان) خو اتومات نه مني)).

ما وویل: ((زه نور دلایل هم لرم که وخت و، وروسته به یې ووایم، خو اوس خپلو ملګرو ته نوبت ورکوم.)) جمهور رئیس، (حکیم تورسن) ته اشاره وکړه چې خبرې پیل کړي! تورسن صیب وویل: ((به اجازه رئیس صاحب جمهور و تمام حاضرین محترم در این مجلس، ما میخواهم گفته های خود را در چند کلمه مختصر عرض بدارم، تنها در مورد همین موضوع، شخص سری تذکره تابعیت بحث میکنم گرچه موضوعات دیگر نیز وجود دارد که فعلاً وقت اش نیست، اکثر رئیس صاحب لازم دید، در یک فرصت مناسب دیگر باز بحث میکنم، رئیس صاحب محترم! باید عرض شود که در طول سی، سی و پنج سال بسیاری ارزشهای مهم به این و ان عنوان از ما گرفته شد، تنها افتخار که مانده، همین افغان و افغانیت ما و شما است، که تمام ملت را وصل کرده، کلمه افغان به همه اقوام، خورد و کلان و هر فرد این مملکت اطلاق میشود، این مشخص به یک قوم نیست، افغان افتخار ماست، این افتخار از ما گرفته شود، دیگر خو چیز نه مانده، که گرفته شود، همین هویت ملی ما (افغان) و (افغانیت) مانده اگر این هم گرفته شود، دیگر چیزی نمی ماند، حالا که خارج میروم، همه ما به افغان یاد میشویم، اگر تاجک و ازبک، پښتون و اینها نوشته شود در خارج برای ما چه بگوید، تاجک کجا استی؟، تاجکستان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازبک ازبکستان، پشتون پاکستان، ما قرغیز هم داریم، تاتار هم دارم، اینها را چه بگوید؟ قرغیز قرغزستان یا قرغیز افغانستان، تاتار روسیه یا تاتار افغانستان، در روسیه چندین قوم زندگی میکند ولی همه انها را روس میگوید، در تذکره هویت شان برای همه شان روس گفته میشود. همین هندو های افغان ما، اینقدر وطنپرست هستند، که ما هندوستان رفته بودیم، یک هندو افغان مارا تابعیت هندوستان میداد، یک شرط برایش مانده بود، که فقط جای تولد تانرا افغانستان نوشته نکو، هندو افغان ما برایش گفت، ما در افغانستان تولد شدم، ما افغان هستم، افغان و افغانستان افتخار ما ست، به خدا قسم که او هندو ما خاص از خاطر نام افغان و افغانستان تابعیت هندوستان را قبول نکرد، این وطن خانه مشترک ما است ما به هیچ وجه از افغان و افغانیت تیر شدنی نیستم و این افتخار باید از ما گرفته نه شود ونه ما به کسی به شمول شخص خود شما را حق میدهم، که هویت ملی ما از ما سلب شود، یک مورد دیگر را نیز میخواهم جناب رئیس جمهور به شما بگویم، که شما همیشه در مبارزه جاری تان به خارجیها ازدید کوچه اهنگری انتقاد مینماید، خوب است که از کوچه اهنگری به کوچه زرگری هم قدم بزنید از زرگران هم مشوره بگیرید، زرگران مشوره بسیار باریک و ظریفانه را میدهد، خوب است، کارشناسان و افراد چیز هم را نیز وقت به وقت دعوت نماید و از انها نیز مشوره بگیرید!)) د تورسن صیب په خبرو کې د (کوچه اهنگری) کلیمې جمهور رئیس ته ډیر خوند ورکړ، ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل: (( چون جنگ جنگ اهنگری است، از این خاطر از کوچه اهنگری داخل میشم ))

تورسن صیب و ویل: ((ما گپهای دیگر را نیز دارم خو فعلاً وقتش نیست که همه شان را بیان کنیم، فعلاً به همین گپهای خود اکتفا مینمایم، تشکر از توجه شما !))

د تورسن صیب په خبرو پسې بیا جمهور رئیس خبرې پیل کړې: ((گپهای تورسن صیب راست است، ما یک وقت در (شمله) بودیم، در شمله هندوستان، یک روز در یک کوچه بازار پیاده میرفتم، یک دو سه تا طفل پشت ما می امد، خیرات میخواست، ما به یکی از انها یک چند روپیه دادم، فکر کردم که هر سه اش از یک فامیل است، چند قدم دیگر که رفتم از همین سه طفل یک دختر پشت ما میدوه، به اواز بلند میگوید که به او پیسه دادی برای ما هم بدهید، ما پیسه ندادم، در اخر به اواز بلند دوزدن شروع کرد، عجیب این که دشنام زدنش به پشتو بود، داسې ترخې کنځلې یې کولې چې ای ستا پلان او مدان چې هېڅ د یادولو نه دي، زه حیران شوم چې دا جلۍ څنګه پښتو وایي، دلته دا جلۍ او پښتو؟ بیا مې ورپسې ورمنډه کړه چې ویې نیسم، پیسې ورته ورکړم، دې راڅخه منډه کړه، ما هم دویدم اینا هم، خو گیرش نه کردم، طفل دیگر که همرایش بود و از او کرده کمی خورد بود او را گیر کردم، همداسې رپېده له ډاره، ما ویل مه ډارېږه، وهم دې نه، دا راته ووایه چې تاسې دلته څه کوئ او دا پښتو دې څنګه زده کړې؟ ده راته وویل چې موږ خو پښتانه یو، دلته اوسېږو موږ کور کې پښتو وایو، هغه بله مې خور وه، ټول کور کې پښتو وایو، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې د هلک پر سرلاس تېر کړ. این ها پشتونهای بودند که سابق از پاکستان به هندوستان رفته بودند و در شمله در نزدیک کوه های همالیه زندگی میکرد ، پشتو را یاد داشت اما کلی انها خود را هندی میگفتند ، و در تذکره شان (انډین) نوشته بود ، به همه هندی ها انډین (اطلاق) میشود ، همین (سلمان خورشید ) که فعلاً وزیر خارجه هندوستان است از لحاظ قومی پشتون است و در پشتون اپریدی است، در اپریدی هم کوکخیل است، مگر فعلاً نمیگه که پشتون هستم، اپریدی هستم یا کوکخیل هستم، بلکی میگه که هندی یا انډین هستم. در هندوستان صدها قوم و صدها مذهب هستند ، به همه شان انډین اطلاق میشود ، حتی مسلمانان هندوستان هم نشنليتي خود را (انډين) میگوید. پس گپ های تورسن صیب راست که هندوهای افغان ما ، در هر جای دنیا که باشد ، خود را افغان میگوید و به افغان بودن خود افتخار میکند.))

ولسمشر بیا جنرال غلام حسین هزاره ته نوبت ورکړ، جنرال هزاره خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((به اجازه رئیس صاحب جمهور و همه محترمین حاضر در این جلسه ما کمکی ملا هستم ملایی صحبت میکنیم، الله(ج) در قران عظیم الشان می فرماید: بسم الله الرحمن الرحیم، يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ...
هدف ما ازین ایه کریمه اینبود که خداوند(ج) ما را شعبه شعبه افریده، برای تعارف یکدیگر مگر به نزد خداوند(ج) مکرم کسی است که تقوا داشته باشد. وقتیکه ما برای تعارف خویش یک

(c) ketabton.com: The Digital Library

هویت نداشته باشیم، مردم ما را به نام چی و از کجا میشناسد ؟ افغان و افغانستان افتخار ماست، ما سر افغان بودن خویش افتخار میکنم، یک تعداد اشخاص که انها نه نمایندگی از کدام قوم میکند. نه از کدام زبان و سمت گپ انها جدا است، هیچکس حق ندارد افغانیت ما را از پیش ما بگیرد ، از این خاطر ما تائید میکنم، اسلامیت و افغانیت باید در تذکره ذکر گردد. ما از گپهای برادر خود اقای یون پشتیبانی میکنم و طرفدار این هستم که (دین) و (ملت) (اسلام) و (افغان) در تذکره ذکر گردد که هویت ملی ما مستحکم گردد.

گپ دیگر من به رئیس جمهور این است که ما خو این طرف و ان طرف در تلویزیونهای گپ میزنم، دولت را گوشتزد میکنم، کاستیها ، نواقص و کامیابیها را برجسته میسازیم، خوب است که رئیس صاحب وقت ناوقت این کارشناسان، اهل خبره و دیگران را دعوت نماید ، از اینها در مورد مسایل کلان مملکت مشوره بگیرد ، تنها سر چند نفرکه این طرف و ان طرف رئیس جمهور حلقه زده به اینها مملکت جور نه میشود ، به هر حال در بعضی مسایل از عملکردها و نظر رئیس جمهور به خصوص در مورد عقد قرارداد امنیتی پشتیبانی مینمایم و در بعضی مسایل گیله ها و انتقاد های رانیز دارم. در اخر یک بار دیگر گپهای برادران خود را تائید مینمایم، و خواهان ذکر کلیمه (اسلام) و (افغان) در تذکره هستم.))

جمهور رئیس د جنرال هزاره تر خبرو وروسته وویل: (( جنرال صیب گپهای ته در تلویزیونها میشنویم از همه چیز خبر دارم.)) بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېرعلم املهوال ته د خبرو نوبت ورکړ ! شېرعلم املهوال وويل: ((د جمهور رئيس او ټولو قدرمنو مشرانو په اجازه، زما نوم شېرعلم املهوال دی، په قوم پشه يي يم، په پشه يي، پښتو او دري ژبو درېواړو ښې خبرې کولای شم او په همدې درېواړو ژبو ليکنې کوم. تراوسه مې څو عنوانه کتابونه چاپ شوي چې دلته مې راوړي هم دي، رئيس صاحب تاسو ته به يې وروسته درکړم، په پوهنتون کې استاد يم، د حقوقو او سياسي علومو مضمون تدريسوم، لکه څنګه چې مې مخکې په خبرو کې يادونه وکړه، زه په قوم پشه يي يم، خو ملت مې افغان دی او پر افغان وياړم، افغان زما ملي هويت دی او د ټولو افغانانو ملي هويت دی، دا وياړ تقريباً زر کاله وړاندې مونږ ته راکړل شوی په دې جغرافيه کې ټول اوسېدونکي افغانان دي. مونږ هېڅ‌ چا ته، حتی رئيس صيب تاسو ته هم اجازه نه درکوو، چې زمونږ د ملي هويت پر وړاندې ودرېږئ. رئيس صاحب تاسو چې له امريکا سره د امنيتي تړون په باب دا دومره جنجالونه جوړ کړي او دومره ناندرۍ وهئ، دا په دې خاطر چې افغان ملت ته ګټه ورسوئ، دا ولس سوکاله کړئ، که دا هدف نه وي، نو دومره جنجالونو ته څه اړتيا ده؟ رئيس صاحب تاسو په دې تېرو دولسو کلونو کې د ملي وحدت د ټينګښت لپاره ډېر کارونه کړي دي، د خپلې واکمنۍ په دې وروستيو شپو ورځو کې دا بل ګام هم پوره کړه، دا قانوني کار دی، تاسې د اساسي قانون ساتونکي او عملي کوونکی ياست که چېرې تاسو دا کار ونه کړئ نو اينده کې به پر تاسو سخت تور پورې شي او ګټلی نوم به مو له خاورو سره خاورې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زموږ غوښتنه ده چې قانون تعديل او د اساسي قانون له روحيې سره سم د افغان او اسلام کلمه د هويت په تذکرو کې راوړئ، تر اسلاميت او افغانيت نور پورته ارزښتونه موږ نه لرو ، هېڅوک حق نه لري چې له موږ څخه دا ارزښتونه واخلي. موږ هر ډول قرباني ته حاضر يو ، که د ويني تويېدنې تر بريده هم ورسېږي، له تاسې څخه د يو روشنفکره افغان په توګه هيله کوم، چې اساسي قانون تطبيق کړئ، ستاسې اساسي دنده هم د اساسي قانون تطبيق او ساتنه ده.)).

د شېرعلم امله وال تر خبرو وروسته ولسمشر (چرند سنګ) ته چې د افغان سکانو له جملې څخه دی، نوبت ورکړ. ولسمشر وويل: ((چرن سنګ اوس ستا نوبت دی وايه)) چرند سنګ وويل: د ريس صاحب او ټولو په اجازه، زه افغان يم او پر افغانيت وياړم، البته (دين) مې له نورو افغانانو جلا دی، خو افغانيت کې ټولو سره شريک يم او ملت مې افغان دی، موږ پخوا هم په تذکره کې د (دين) او (ملت) د ليکلو غوښتنه کړې وه، اوس چې دين په کې ذکر شو ، ښه شوه ، څوک چې مسلمانان دي، هغه ته به د (دين) ستون په مقابل کې (اسلام) ليکي او څوک چې هندو وي، هغه ته به هندو ليکي، هندو خو زموږ مذهب يا دين شو ، نو دا ملت مې څه شو؟ که زه يو بل ملک ته لاړ شم، نو هغه به ما ته څه ووايي؟ د کوم ځای هندو يې؟ د هندوستان هندو يې که د بل ځای؟ ملت دې څه شی دی، نو زه به ورته څه ووايم؟ څه موده وړاندې د (قاضي نذير حنيفي) په نامه يو وکيل په ولسي جرګه کې وويل: هندوان او سکان دې موږ ته دا ثابته کړي چې دوی څه وخت له هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه افغانستان ته راغلي دي؟ دې ښاغلي ته باید وویل شي چې هندوان او سکان له هندوستانه افغانستان ته نه دي راغلي، بلکې دوی له دې ځایه هندوستان ته تللي دوی د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي)).
دې وخت کې جمهور ریس وویل: ((بې شکه، بې شکه چې د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي، ښه یې نه دي کړي چې ویلي یې دي، دوی له هندوستانه راغلي دي، دوی د دې وطن اوسېدونکي دي.))
چرند سنګ زیاته کړه: ((دا زه افغان یم، د دې وطن ټول هندوان او سکان ځان افغانان بولي، پر افغانیت ویاړو، موږ چې د دنیا هر ملک ته لاړ شو، ځان ته افغان وایو، په هندوستان کې هم موږ ځان ته افغانان وایو، پر افغان ویاړو، هلته زموږ عزت هم په همدې کېږي چې افغانان یو، موږ غواړو چې دا افتخار له موږ څخه څوک وانخلي، زموږ او د هندوستان د هندوانو او سکانو خو فرق په همدې افغانیت کېږي، که نه مذهب خو مو له هغو سره یو شان دی، خو ملت مو توپیر لري، اوس چې څوک موږ څخه دا ملي هویت اخلي، دا د هېچا حق نه دی، نو رئیس صاحب په پای کې بیا وایم چې په تذکره کې د (ملت) او (دین) کلیمې لیکل حتمي او ضروري دي، د ملت په مقابل کې دې ټولو ته افغان ولیکل شي او د (دین) په مقابل کې څوک چې مسلمان وي، هغه ته (اسلام) او څوک چې هندو مذهبی وي، هغه ته دې (هندو) ولیکل شي، دا زما نظر و چې تاسې ته مې وړاندې کړ.))
د چرند سنګ په خبرو پسې ولسمشر د امنیتي چارو سلاکار (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا) ته نوبت ورکړ، چې خپلې خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر سپنتا وویل: (( به اجازه همه دوستان ! اول باید ما متذکر شویم که ما در بسیاری مورد با همکار سابق خویش اقای یون اختلاف نظر داشتم و دارم ولی در این مورد ما نظر اینها راتائید مینمایم.

باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، قومم معلوم نیست که از کدام قوم هستم، ونه خود ما به قوم متعقد هستم، مادر ما مربوط قوم طاهری است و در خانه ما اخرین کسیکه پشتو حرف میزد پدرم بود ، ما به قوم عقیده ندارم، ولی فارسی زبان هستم و زبان فارسی ما بعد از استاد واصف باختری خوب است، جناب رئیس صاحب من در این مورد بار ها به شما صحبت کردم و در جلسه اخری نیز سر موقف خود دوباره تاکید کردم. در این جلسه یک بار دیگر یاد اور می شوم که من یک افغان هستم، و افغان یک هویت ملی و سیاسي ما ست، صرف نظر از ان که بعضی ها افغان را تعبیر دوگانه میدهد ، برای ما افغان بودن هویت ملی است، در هر مملکت چندین قوم زندگی مینماید ، ما نمیتوانیم، به هر قوم خورد و کلان یک هویت علیحده ملی بدهیم ما این مثال را چند بار یاد اور شدم، یک بار دیگر تکرار میکنم که یک جامعه یا ملت مانند یک کور یا پوش پیاز است، که پرده اخری یا پوش کلان تمام پرده های انرا پوشانده، حالا ما نمیتوانیم که به هر پرده ان نام علیحده بدهم، کلش به نام پیاز یاد میگردد ، افغانستان هم کشوری است که در ان اقوام گوناگون زندگی میکند ولی همه اینها در پوش افغان گنجانیده میشود ، و پرده افغان همه اینها را افاده میکند. تمام جوامع بشری، کشورهای پیشرفته این مشکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

را حل نموده، بطور مثال فرانسه، در فرانسه سی و پنج درصد (فرانس) هستند، ولی همه باشندگان ان کشور (فرانس) را به حیث هویت ملی خود قبول کرده.)) ډاکتر سپنتا د المان په باب وویل: ((در المان به همه المانیها (دوچ) نوشته میکند، هفت سال پیش ما پاسپورت المان داشتم، شما خبر داشتید که ما او را پس تسلیم دادم، فعلاً پاسپورت ندارم، ولی اولادهای ما پاسپورت المانی دارد، در پاسپورت انها (دوچ- افغان) نوشته است. مثال های زیادی وجود دارد، رئیس صاحب ما از روز اول برای تان گفتم، که افغان هویت ملی ماست و حالا نیز ما نظریات برادرها را درین مورد تائید مینمایم. اگر ستون (ملیت) ذکر گردد و در مقابل اش به همه (افغان) نوشته شود کاری درستی است.))

تر ډاکتر سپنتا وروسته (استاد نصرالله ستانیکزي) ته نوبت ورسېد. هغه خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((د محترم رئیس صاحب او ټولو دوستانو په اجازه، زه نه غواړم ډېرې خبرې وکړم، اکثرو دوستانو خبرې وکړې، زه د دوستانو خبرې تائیدوم، منتهـا د داودخان د وخت د تذکرو په باب یوه یادونه کوم، په تېره جلسه کې هم دا تذکره یاده شوه چې (ملت) په کې نه دی یاد شوی، هلته هم ما خپل دلایل درلودل، اوس یو ځل بیا د هغې تذکرې په باب خپل دلایل وایم. د داودخان تذکره د ۱۳۵۳ ل کال په بهیر کې وویشل شوه، دا هغه وخت و چې د مدني حقوقو قانون نه و تصویب شوی، پر ۱۳۵۵ ل کال د مدني حقوقو قانون تصویب شو. په دې قانون کې راغلي چې فردي او ملي هویت د یوه هېواد د هر تبع حق دی او دا قانون هم د داودخان په وخت کې تصویب شوی، که داودخان دویم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل تذکرې وېشلې نو ضرور يې په کې د ملت ستون زياتوه، ځکه چې د هويت يا تابعيت تذکرې له دې قانون سره په مخالفت کې نه شوې تقسيمېدلای، خو داود خان وخت پيدا نه کړ او نور مشکلات تاسې خپله وليدل چې رامنځته شول. ددې لپاره چې دا مشکل حل شي ډاکتر صيب سپنتا د افغان د تثبيت لپاره د (مليت) کلمه پيشنهاد کړه، خو زه د (مليت) پر ځای (ملت) د کليمې وړاندیز کوم، ځکه چې له (مليت) کليمې څخه روسانو خلکو ته بل ډول ذهنيت ورکړی، هغوی (مليت) د (قوميت) لپاره کاراوه، نه د نشنيلتهِ يا (ملت) د تعبير په مانا.)) دې وخت کې ډاکتر سپنتا وويل: ((منظور ما همان نشنيلتي است نه قوميت)) ستانيکزي زياته کړه، ددې په خاطر چې له يوې واحدې کليمې څخه دغه دوه ګونی تعبير له منځه لاړ شي نو ښه ده چې د (ملت) ستون زيات شي او په مقابل کې يې ټولو ته (افغان) کليمه وليکل شي.)) ولسمشر هم د (مليت) د کليمې د دوو ګوني تعبير په باب سر وخوځوه او ويې ويل: ((دا د روسانو تعبير و، مليت همدا نشنيلتي ده)). دې وخت کې ما (يون) وويل ددې لپاره چې ټول ناسم تعبيرونه له منځه لاړ شي همدا د (ملت) کليمه سمه ده، اوسنۍ تذکره کې چې همدا اوس تقسيمېږي هم همدا د (ملت) کليمه ليکل کېږي او په مقابل کې يې ټولو ته افغان.

تر دې وروسته د علماوو شورا رئيس مولانا قيام الدين کشاف خبرې پيل کړې، هغه وويل: ((اسلاميت) او (افغانيت) او (اسلام) او (افغان) داسې حقيقتونه دي چې د لمر په شان روښانه دي، دا داسې دي چې يو څوک ووايي زه شپه ورځ، تور او سپين نه منم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغو څخه انکار کوم. زه افسوس کوم د هغو خلکو په حال چې ځانته نه مسلمان وايي، نه افغان، ماته يو زيات شمېر علما راغلل راته يې وويل، چې موږ بايد په دې برخه کې يوه فتوا صادره کړو، چې ولې د هويت په تذکرو کې (دين) نه دی راغلی، ما څو ځله دا خبره کړې چې افغانستان له اسلام پرته تش کالبد دی، داسې چې په تن کې روح نه وي، ما علماوو ته وويل چې دې برخه کې صبر کوو، نو اوس زه وايم، رئيس صاحب چې دا دواړه کليمې (دين) او (ملت) دې په تذکرو کې راشي، که نه له دې څخه غټ جنجال جوړېږي، دا څه مانا ورکوي چې تذکره کې دې نه (دين) وي نه (ملت) نو دا تذکره د څه لپاره ده؟ افغانستان يو اسلامي هېواد دی، دلته بايد دې مسلې ته ډېر پام وشي، د خلکو احساسات و نه پارول شي.))

دې وخت کې عدليې وزير وويل: ((دين است چرا نيست!)) ما بيا وويل: رئيس صيب د حکومت په طرحه کې نه دين شته نه ملت، دا چې د حکومت کومو مامورينو له کومې لارې او څنګه دا کار کړی، دا بېله خبره ده، خو حقيقت دادی، چې حکومت کومه طرحه لېږلې وه په هغه کې نه (دين) شته نه (ملت).)) ولسمشر وويل: ((ولې نه شته؟ موږ خو دا مسله لېږلې وه.)) دلته عدليې وزير بيا وويل: ((دين است))، دې وخت کې بيا پوهاند صيب عظيمي وويل: ((دا په ارشيف کې شته)). د ارشيف مانا همغه مانا ده چې ما ورته مخکې اشاره وکړه. ياني دا چې که دلته په وزيرانو شورا يا هم عدلي او قضايي کمېسيون کې پرې بحث هم شوی، هلته نه ده لېږل شوې. ما وويل: ((دا خو د ولس زور و چې (دين) يې د ښامار له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستوني راوويست او د تذکرې پر لومړي مخ يې ځای کړ، اوس بايد ملت هم ددې بنامار له ستوني راوځي.))
ما وويل: ((رئيس صاحب اصلي خبره داده چې په ملي شورا کې خلکو داسې فکر وکړ چې ځه دين او ملت خو حکومت په تذکره کې راوړي، يو شمېر خلکو د تذکرې پر لومړي مخ د قوميت د ليکلو غوښتنه کوله، د ولسي جرګې اکثرو غړو پرېکړه وکړه چې د تذکرې پر لومړي مخ د قوميت ذکر ته اړتيا نه شته، دا کار واحد ملت پر قومونو وېشي، نو ټولو ته (افغان) ليکل سم دي. قوميت لکه څنګه چې په ډېتابېس کې و، ډېټا بېس کې پاتې شو، خو ملت نه په ډېټابېس کې و نه د حکومت په وړانديز کې، نو ځکه هم له ډېټا ووت هم د تذکرې له لومړي مخه او کومو وکيلانو چې په شفاهي ډول د ملت يا افغان پر ليکلو ټينګار کاوه، د هغوی تصور دا و چې په متن کې شته، نو قوميت چې پر لومړي مخ رد شو نو خپله يوازې ملت پاتې کېږي، خو ويل کېږي چې د (ملت) په باب د وکيلانو شفاهي تصويب هم له ارشيف څخه ايستل شوی، نو په ليکلي متن کې خو غير له هغې هم نه و، نو ځکه (ملت) هم د تذکرې له لومړي مخ او هم له ډېټا څخه ووت، ولسي جرګه وروسته متوجه شوه، چې (دين) هم پاتې شو، وروسته يې په بله غونډه کې د مولوي صيب تره خېل په وړانديز هغه پاس او بيا يې مشرانو جرګې ته ولېږه. مشرانو جرګې د (تخلص) په زياتولو د حکومت طرح تائيد او ولسي جرګې د (دين) د ستون په زياتولو سره قانون مشترک کمېسيون ته حواله کړ، ګډ کمېسيون پر اختلافي مسايلو بحث وکړ (ملت) د توطيو، دسيسيو او ابهاماتو قرباني شو.)) پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي وخت عدلي وزير يوځل بيا وويل: ((کلمه افغان در ديتا است))
ما ورته وويل: ((نه شته، ريس صاحب نه په ډېټا کې شته نه د
تذکرې پر لومړي مخ.))
ولسمشر ما ته مخ راواړوه: ((دا کار خو مونږ کاوه، څه ضرورت و
مظاهرو ته، دومره غالمغال او ټلويزيوني بحثونو ته!)) ما ورته
وويل: ((ريس صيب اجازه راکړه، يو دوه درې معترضې جملې
ووايم!)) هغه وويل: ((ووايه! ما وويل: ((يو نيم کال د مخه مې
احوال درولېږه چې ماته وخت راکړه د هويت د تذکرو په باب درسره
ګورم، دا حساسه مسئله ده، يو شمېر کړۍ شته چې غواړي ملي
هويت ته زيان ورسوي، ما ته چا وخت رانه کړ، تا وويل چې هېواد
مل صاحب سره تماس ونيسه، ما هغه ته وحت پر وخت خپل
نظريات ورکړي، کېدی شي هغه تا سره شريک کړي وي، خو د يو
نيم کال په بهير کې مونږ پردې بريالي نه شو چې تاسو وګورو، کله
چې ما استعفی ورکړه، دنده مې پرېښودله او تاسو سره مې
ملاقات درلود، بيا مې يادونه وکړه چې که چېرې د ولسي جرګې
انتخابات عادلانه شوي وای نو نن به په ولسي جرګه کې افغان ضد
عناصرو د ملي هويت پر ضد کارتونه نه پورته کول، د افغان له
کليمې سره به يې حساسيت نه ښود، تا وويل چې دا څو محدود
کسان دي، هغه ده بايې لوله، تاسې سره دا تصور و چې اکثرو د
(ملت) کليمه تاييد او تصويب کړه، خو نتيجه دا وه چې هرڅه د
ملت ضد عناصرو په ګټه پای ته ورسېدل.
کله چې له حکومته اشتباه وشوه يا مامورينو درغلي وکړه، افغان
او اسلام يې حذف کړل، ولسي جرګې هم اسلام او افغان ذکر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل، مشرانو جرګه هم له اسلام او افغانه لاس پر سر شوه، نو خبره نوره خلاصه وه ، یوازې خبره توشیح ته پاتې وه، دا خو د ولس د مظاهرو برکت و چې ولسي جرګه او مشرانو جرګه یې خپلو نیمګړتیاو ته متوجه کړې، په نتیجه کې اسلام بېرته ځای پر ځای شو ، نو چې نه دې حکومت عرض اوري، نه مشرانو ، نه ولسي جرګه او نه هم کوم بل اورګان، له مظاهرې او هغه هم له اصولي مظاهرې پرته بله کومه لاره پاتې ده؟)) ولسمشر وویل: ((ما خو توشیح نه کړ دا دی پر مېز راته پروت دی)) قانون یې ښکاره کړ، ما وویل: ((ریس صیب دا د همغو مظاهرو برکت دی چې تاسو دا قانون توشیح نه کړ، موږ نه یوازې دا غواړو چې دا قانون باید توشیح نه شي، بلکې غواړو چې په دې کې تعدیل راشي، که تاسو یې توشیح هم نه کړئ، هغه خپله پر قانون بدلېږي، موږ خو ډېره هڅه وکړه چې ددې قانون د توشیح د معیاد تر پوره کېدو د مخه تاسو سره وګورو ، خو چا زموږ غوښتنو ته غوږ ونه نیوه، که موږ مظاهرې نه وای کړې، نو دا خبره هم له حکومته او هم له شورا څخه تېره وه (اسلام) او (افغان) دواړه قرباني شوي وو)) ولسمشر بیا وویل:(( نه تاسې نور حساس کړل)) ما وویل: ((ولې حساس شي؟ موږ خو اسلامیت او افغانیت غوښتی، ددې په مقابل کې ولې ځینې اشخاص حساس شي؟ بیا چې حساس شي، شي دې، ((نو پر دې وخت ډاکټر سپنتا وویل: ((حساسیت طرف مقابل را هم باید در نظر ګیرم)) هغو کسانو ته یې اشاره وه چې ویل یې (افغان نیستم)، ما وویل: په سلو کې (۹۹) افغانان افغانیت او اسلامیت غواړي یو کم شمېر اشخاص او کړي، چې له افغانیت او اسلامیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره دښمني لري، د هغوی خبرو ته اوس ترجیح ورکول کېږي او (۹۹) په سلو کې خلک له نظره لوېږي؟ ددې لوی اکثریت حساسیت ته پام نه کېږي خو د محدودو اشخاصو حساسیت ته پاملرنه کېږي.

بله خبره دا ده چې اوس د هویت په تذکرو کې د افغان کلیمې پر نه لیکلو ټینګار او پر لیکلو يې بې تفاوتۍ، له (ملت) او (دین) سره د مخالفت په مانا ده او بله وروستۍ خبره دا کوم چې که (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) په تذکره کې ذکر شي، ددې تاوان څه دی؟ تذکره پرې سېزل کېږي؟ مصارف پرې زیاتېږي؟ د چا پر اوږو بار پرېوزي که څنګه؟ ګټه يې ډېره ده که زیان؟)) ولسمشر بیا وویل: ((نه ګټه يې ډېره ده)) ما وویل: ((چې ګټه يې ډېره ده نو ويې لیکه، فرمان ورکړه)) ده وویل: ((جوړوم يې خو تاسو موږ خپل کار ته پرېږدئ))

تر دې وروسته جمهور رئیس د نتیجې او جمع بندۍ په توګه وویل: ((ورونو موږ دلته شورا هم لرو، د هغوی نظر ته به هم ګورو، ښه پوره بحث وشو اکثریت په دې نظر دي چې په قانون کې باید تعدیل راشي)) (ډاکټر مدبر) ته يې غږ کړ د قانون د توشیح وخت تېر شوی که پاتې؟ ډاکټر مدبر او نصرالله ستانکزي ورته وویل: ((پنځلس ورځې يې پوره شوي، تېره سه شنبه يې وخت پوره شو، هغه اوس د قانون بڼه خپله کړې. دې وخت کې ولسمشر وویل: ((خیر نو حل لاره د قانون تعدیل دی؟)) نصرالله ستانکزي ورته وویل: ((هو د حل لاره يې همدا ده)) بیا ولسمشر وویل: ((ښه ده په دې به غور وکړو)) ما بیا وویل: ((ریس صیب موږ ته دې مشخص

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه ویل څه وخت به دا کار تر سره شي؟ بیا خبره مبهمه پاتې شوه، هسې نه چې د تېر په شان بیا پاتې شي؟ موږ غواړو وخت رافکس کړې چې موږ ملت ته ډاډ ورکړو)) ده بیا وویل: ((درجوړوو یې نور نو ستاسو کار نه دی دا د حکومت کار دی، موږ خپل کار ته پرېږدئ، کوو یې خو تاسې به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوئ)) ما بیا وویل: ((ریس صیب مو به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوو خو تاسو به موږ ته د دې کار د عملي کولو تضمین راکوئ او وخت به راته ټاکئ چې تر دغه وخته دا مشکل حلېږي؟)) ده بیا وویل: ((دا بس کوو په دې ورځو کې به یې خلاص کړو، نور ډېرو بحثونو او جنجالونو ته حاجت نه شته، حکومت خپل کار ته پرېږدئ!)).

په همدې جملو جلسه ختمه شوه ولسمشر بلې خونې ته د بل ملاقات لپاره لاړ.

په دې جلسه کې لوی څارنوال محمد اسحق الکو هم ناست و، زموږ خبرو ته یې د تائید سر خوځاوه، خو خپله یې څه ونه ویل. (کریم خرم) او (ډاکتر صادق مدبر) هم خبرې ونه کړې. د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون مشر (ګل رحمن قاضي) چې د دې غونډې بل برخوال و او لازمه وه چې خبرې یې کړې وې، تر اخره غلی و، هېڅ خبره یې ونه کړه.

تر ملاقات وروسته ما ته ډاکتر صیب صادق مدبر وویل: ((کلمه افغان در دیتا وجود ندارد)) هغه د قانون هغې مصوبې ته لاس ونیو چې ده سره وه او ملي شورا ورته رالېږلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې دومره جزياتو له يادونې او د غونډې د (مينوټ) له ليکلو څخه مې هدف دا و چې د ملي او عقيده يي هويت مسله يوه ډېره حساسه مسله ده، زه اوس هم د ولسمشر پر ژمنې سل په سلو کې باوري نه يم، موږ له جمهور رئيس سره ژمنه وکړه چې ددې قانون تر تعديل پورې به نه ټلويزيوني بحثونه کوو او نه مظاهرې، خو که چيرې په يو معين وخت کې د ملت دا قانوني غوښتنې ونه منل شوې، نو بيا خو مجبور يو، هم به لاريون کوو هم به ټلويزيوني بحثونه او هم به ټولې هغه قانوني لارې کاروو چې ددې برحقې داعيې لپاره په کار دي.

ددې تفصيلي ليکنې بل هدف او پيغام دادی چې راتلونکی پښت ته دا په ډاګه کړو چې تاسو چا د هويت له بحرانه ژغورلي یاست او چا درته د هويت پر ضد توطيې جوړې کړې دي؟

ولسمشر حامد کرزي نږدې يو کال پر موږ په صبر او انتظار کې تېر کړ، همدا يې ويل نن د سمون فرمان ورکوم او سبا يې ورکوم، په دې کې د ولسمشرۍ ټاکنې راورسېدې، خو ولسمشر د مضر احتياط له دايرې راونه ووت، خو بيا يې هم (نه) ونه ويلې، کله چې د ولسمشرۍ نوماندانو د ملاتړ خبره راغله، نو موږ له ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي څخه د ملاتړ پرېکړه وکړه، خو له يو لړ وړاندېزونو او شرايطو سره، په دې کې يو ويشت وړانديزونه او شرايط شامل وو، چې له نورو څخه تېرېږو يوازې (دولسمه) ماده يا برخه يې راخلم:

**ملي هويت:** په تېرو (۳۵) کلونو کې د افغانستان او افغان ولس د ملي هويت او ملي وحدت پر ضد زياتې هڅې شوې. ځينې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـواړي پـه افغانسـتان کـې د ملـي وحـدت او هـويـت لپـاره نـوي او تصنعي تعريفونه وړاندې کړي، ان د (افغان) کلمه هم مسخه کوي او شکلي بدلون په کې راولي.

که چېرې او سني دولـت د هويت پـه تـذکرو کـې د (ديـن) او (ملت) ستونونه ونه ليکل او د دين د ستون پـه مقابـل کـې يـې هـر مسلمان افغان ته د (اسلام) او د دې هېواد د هر وګړي لپـاره د (افغـان) کلمـه ونه ليکله، نو له راتلونکي دولته غواړو چې هم د هويت پـه تـذکرو کـې د اساسـي قـانون لـه محتويـاتو او احکـامو سره سم ضرور د (اسـلام) او (افغـان) د تثبيـت لپـاره د (ديـن) او (ملـت) سـتونونه وليکي او په دې ډول خپل اسلامي او ملي مسـوليت ادا کـړي او هـم د افغان ضد او ملت ضد ډلو ټپلو او اشخاصـو پـر وړانـدې ټينـګ ګامونه پورته کړي).

ډاکټـر اشـرف غنـي دا او نـورې شـل مـادې راسـره ومنلـې او د برياليتوب په حالت کې يې راسره دهغو د تطبيق ژمنه وکړه.

موږ په دې زغرده کمپاين وکـړ چـې سـاری يـې د ده پـر شـاوخوا د ټولو راټولو شويو اشخاصو ګونـدونو، ډلـو او نـورو غـوړه مـالانو د کمپـاين پـه ټـول بهيـر کـې نـه و ليـدل شـوی، منطقـي، اصـولي او شعوري کمپاين. کله چې د ده د برياليتوب څرکونـه ولګېـدل، نـو پـه سازشـونو، نـاوړه احتيـاط او نـورو معـاملو يـې لاس پـورې کـړ، هـر څومره چې دا ناقانونـه معـاملې غځېـدلې، زمـوږ او ډاکټـر صـيب اشـرف غنـي احمـدزي تـر مـنځ د اصـولو پـر بنسـټ غځېـدلی تـار سسـتېده، نـه نـور هغـه ډاکتـر اشـرف غنـي احمـدزی و، نـه يـې هغـه پخوانی تفکر او نه هم ولس ته اړ مجبوريتونـه، پـه نامـه کـې يـې هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تغیر راغی، په چلند کې هم، د ماضي خبرې هېرې او تېرې شوې او د وخت د تقاضا مطابق نوي یاران او نوي ماران راپیدا شول، پخوانیو مخالفینو د موافقینو او موافقینو د مخالفینو رنګ واخیست. زموږ توافق چې له سره د اصولو پر منطق ولاړ و، نو د حکومت د جوړښت پر څرنګوالي مو چندان سر نه ګراوه چې احمد راځي که محمود، خو دا راته پته وه چې له څو تنو پاکو انسانانو پرته به نور همغه د بنګالي ټګان وي، همغه ښاماران، ټوپکسالاران، جنګسالاران او یا هم د هغوی دویم او درېیم نسل، خو د معنوي ارزښتونو د ساتلو لپاره مو لا هم هیله وه، د دې ارزښتونو له جملې څخه یو ارزښت هم په کې همدغه د (افغانیت) او بل هم (اسلامیت) د خوندیتابه ارزښت و، چې له تېر ولسمشر څخه زخمي او ټکنی او سني دولت مشر ته راورسېد او هیله وه چې دی پرې د مرحم پټۍ ولګوي، نه دا چې مالګې پرې ودوړوي. د حج په مراسمو کې وم، د لوی خدای (ج) دربار ته مې په لسګونو ځله دعا لاسونه پورته کړي چې یا ربه دغه دوه ستر ارزښتونه (اسلامیت) او (افغانیت) راته خوندي وساتي. په همدې خاطر مې پر یوه ورځ نهه طوافونه وکړل او (۶۳) ځله د لوی ښتن له کوره راوګرځېدم، پر همغه وخت مې د لس دقیقه یي دمې پر مهال کابل کې بېلابېلو وزیرانو ته زنګونه ووهل، چې ډاکټر صیب ته ووایي د هویت په تذکره کې یې د دوو ارزښتونو ځایونې ته جدي پام وکړي او هغه غبن چې د یو شمېر پردیپالو کړیو له خوا شوی، هغه ته متوجه شي او د ملي شورا په اصطلاح مصوبه لاسلیک نه کړي، پخواني ولسمشر چې له خپلو ګڼو مضرو مصلحتونو سره هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسلیک نه کړه، نو دی خو یو مفکر سړی ګڼل کېږي، دی خو باید په هېڅ وجه دا کار ونه کړي.
کله چې کابل ته راغلم، نو په سلګونو څه چې په زرګونو ځله مو د نوي ولسمشر حقیقي او تصنعي یارانو ته زنګونه ووهل چې یا موږ ته وخت راکړي چې ډاکتر صیب ته دا موضوع تشریح کړو، یا دې خپله فکر وکړي او یا دې حقوقي مشاورین راوغواړي، ساړه دېوالونه هم تر دوی ښه وو. له دېوال څخه خو د سوال د ځواب انګازې راځي، خو د ارګ له نویو بې روحو واکمنو څخه د (هو) او (نه) ځواب رانغی، د ارګ له چېړاسي څخه نیولې، تر مشاور، اعلی او ادنا وزیرانو ټولو پورې مې خپل غږ ورسوه او شپه هم په شپه مې موضوع تعقیبلوه، خو د غرور او تکبر په نشه مست، له خپل ولسه لرې نویو لویو او وړو چارواکو د دې ملي غږ د اورېدو او سېله نه لرله، د پټو پردو شاته بیا پټه معامله وشوه او د شپې د ټلوېزیون پر رڼه پرده توره امضا راڅرګنده شوه، د ملي شورا یو کلنه رنځېدلې مکروبي مصوبه په ناقانونه ډول لاسلیک شوه، عیناً لکه چا چې د ګندمک او یا هم ډیورنډ معاهده په پټو سترګو لاسلیک کړې وي، په هغو معاهدو کې خو د افغانستان یوه فزیکي برخه او شتمني بل ته پرېښودل شوه، خو په دې تور لاسلیک پر ملي هویت خاورې واړول شوې، یو توري لیکې د افغان سپینه کلمه د برېښنایي تذکرو له مخه لرې کړه.
ښاغلي (غني) د خپلې (غنا) له خزانې څخه د افغان هویت مخالفینو ته دومره نا مشروع امتیاز ورکړ چې نه یوازې یې د هغوی هغې غوښتنې ته لبیک ووایه چې ځان افغان نه بولي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ټوله شیره زبېښي، بلکې ملتپال افغانان یې هم له خپله حق محروم کړل چې تاسې هم حق نه لرئ چې ځان ته د هویت په تذکره کې افغان ولیکئ ! دې ته وایي د ملي وحدت ! د حکومت مشر، د هویت په تذکره کې د (ملت) کلمه له منځه وړي خو د ملي وحدت حکومت جوړوي؟

نن کېدی شي د قدرت د هوسونو په دریاب کې مست نهنګان د دې کار راتلونکي خطرناک عواقب سم حس نه شي کړای، خو کاشکې د دوی بل نسل یا درېیم پښت په خپل هېواد کې اوسېدلای چې بیا یې راتلونکي بحرانونه کتلي وای او د خپلو نیکونو پر قبرونو یې لاړې تو کړې وای او که نه مخ خو به یې ضرور ترې اړولی وای.

اوس نو ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي ته زه د یوه افغان په حیث د افغانانو ولسمشر خطاب نه شم کولای، ځکه چې د ده ناقانونه لاسلیک یو ناقانونه بهیر ته د قانوني بڼې ورکولو لپاره استعمال شو، یوازې مشر به ورته وایو، ځکه چې ولس له ارګه بهر پاتې شو او مشر یې په ارګ کې او یا هم کېدی شي د یو سپین ږیري خطاب ورته وکړو.

دا چې یو جمهور رییس او حکومت د افغان کلمه، چې هېڅ لګښت پرې نه راځي او هېڅ خوله پرې نه تويېږي، هغه په هویت پاڼه کې نه شي لیکلی، نو که افغان ولس او افغان خاوره د ایران او پاکستان تر برید ه لاندې راشي او هلته خو طبعاً ګڼو قربانیو ته اړتیا ده، هلته به دا جمهور رییس او دا ګډوله حکومت څه توره وکړي؟

یو حکومت مشر چې د خپلې کابینې ټاکنه (۹۰) ورځو ته غځوي، نو هغه به د هېواد نور چارې څنګه سمبال کړي؟ خیر په هر ډول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې برخه کې لا قضاوت تر وخته د مخه دی، خو کوم څه چې اوس ثرګند دي، هغه د افغانيت پر ستوني د پرديو په لاس د هغې تېرې چړې تېرول دي. چې جوړه شوې بله چېرته وه، خو لاستی ورته دې اوسني دولتمشر ورکړ.

وېره خو لا داده چې ښاغلی غني به تر دې هم وړاندې لاړ شي، د يو شمېر تنظيمي عناصرو د فشار له امله به په افغاني بانکونو کې هم د هغو غوښتنې ومني يا به د هغو د مشرانو عکسونه او يا يې د قبرونو عکسونه پر پيسو چاپ کړي، د پيسو ژبه او بڼه به هم بدله شي.

ګرانو هېوادوالو او قدرمن افغان ولسه ! ضرور به ستاسو په ذهن کې دا خبره راګرځي چې خير نو اوس به څه چل کېږي؟ مظاهرې به کېږي؟ لارې به بندېږي؟ ګډوډي به جوړېږي؟ تذکرې به اخيستل کېږي او که نه نور څه به کېږي؟ غواړم دې هرې پوښتنې او تشويش ته لږ تم شم.

دا حکومت هسې هم چينجن او وروست حکومت دی، جوړښت يې د اضدادو مجموعه ده، په خپله د بحران زېږنده ده او په خپله يې بحران ټوکولی، نه د ولس زور لري، نه د وسلوالو مخالفينو او نه هم د مدني حرکتونو، مظاهرو او لاريونونو !

نو که هر ډول مظاهرې او مدني حرکتونه وشي او بيا وضعه د بحران خواته لاړه شي، نو بيا خو به دا دواړه حکومت مشران؛ ډاکټر صاحبان وايي، چې موږ خو له دې وطن څخه ګلشن جوړوه ! خو چا پرې نه ښودو، دا دی دوی په يوه تذکره باندې مظاهرې پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، ملک یې بحران ته بوته ! په دې خاطر چې د واک د مجنونانو دا پلمه ختمه شي او د دوی اصلي جوهر ولس ته څرګند شي، تر هغه پورې چې د دې نوي حکومت، سترې محکمې او دولت نورې اجزاوې بشپړېږي، مظاهرو ته باید انتظار وباسو او په دې باب هر اړخیزه مشوره وکړو او بله خبره داده چې مظاهرې چاته وشي، هغه چاته چې باید عرض وړاندې شي هغه خپله د شخړې یو عنصر دی، نو ځکه خو وایو چې درې څلورو میاشتو کې د ولس له مظاهرو څخه د افغان ضد اشخاصو دناوړه ګټې او چټولو امکان شته، نو ځکه خو د مظاهرو پر ځای په لومړي ګام کې د نورو تدبیرونو دلټون هڅه په کار ده. ولس سره پراخه مشوره او تر مشورې وروسته مظاهرې او یا هم بل کوم غوځ عمل.

له حل لارو څخه یوه لاره دا هم ده مخکې تر دې چې خبره بحران ته لاړه شي ښاغلی غني دې خپل فرمان بېرته مسترد کړي او دا مسله دې سترې محکمې ته محول کړي.

لارې بندول هم اصلي لار ځکه نه ده چې خپله حکومت په سلګونو ځایه لارې بندې کړي، نو که په لارې بندولو اصلاح راتلای، نو په دوی به راغلې وای، هره ګډوډي هم دولس په زیان ده او دهمغو چاروا کو په ګټه یې ګڼو چې له ګډوډۍ څخه یې ګټه اخیستې او ځان یې واک ته رسولی دی.

تذکرې سره بایکاټ او نه اخیستل هم حل لاره نه ده او دا کار تر ټولو زیات خطرناک دی، اصلاً د افغانستان دښمنان غواړي، اکثریت افغانان مایوسه او نهیلي کړي چې تذکرې وانه خلي او یوازې د دوی لاسپوخي تنظیمونه او د هغو پلویان بربښنایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تذکرې ترلاسه کړي، دې سره به هغوی په راتلونکو ډول ډول ټاکنو کې د خپلې خوښې اشخاص بریالي کړي او بیا به خدای مه کړه د افغانستان د نوم د ورکولو لپاره هم له همدغه (دام) څخه کار واخلي چې د ولسمشر کرزي په واکمنۍ کې یې غوړولی و او د دولت مشر اشرف غني نږدې شپېته ورځنۍ نیم واکه واکمنۍ کې یې ترې هدف ترلاسه کړ، نو که موږ غواړو د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو توطیې شنډې کړو، نو باید زوړ، ځوان، صغیر او کبیر، ښځه او نر د تذکرو د اخیستلو هڅه وکړو، که څه هم په دې تذکرو کې واکمن ښامار زموږ ګران او ملي هویت (افغان) تر ستوني تېر کړ، خو هر افغان زلمی باید مومن خان شي او د هر ښامار له ستوني د خپل هویت جوهر بېرته راوباسي او دا کار هله کېدلای شي چې موږ همدا بې هویته تذکرې واخلو؟ د جبري زهرو د یو ګوټ په شان یې تر ستوني تېر کړو. او بیا وروسته د منطق پر ژبه همدا بې هویته تذکرې د ملي هویت پر تذکرو بدلې کړو. کله چې مو راتلونکو ټاکنو کې د ولسوالۍ له شورا نیولې تر ولسمشرۍ پورې خپل ربښتیني استازي وټاکل، نو بیا به له قانوني لارو څخه له عادي لاسپوځي وکیله نیولې، تر دولت مشره او حکومت مشره پورې ټولو سره حساب او کتاب کېږي.

زه خپله ولس ته ډاډ ورکوم چې هېڅکله به له خپل ملي او اسلامي هویته تېر نه شم، تر هغه پورې چې زما ملت په دې برخه کې خپلو وروستیو ارمانونو ته رسېږي، نو زه د یوه افغان په توګه د دې داعیې د ژوندۍ ساتلو هڅه کوم، له دولت مشر څخه نیولې تر حکومت مشره پورې او بیا له هغه څخه نیولې د هغوی تر واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنخوا خور پورې، ټولو ته حاضر یم چې علمي مناظره ورسره وکړم او خپله ملي داعیه ثابته کړم. هغوی چې تل به یې نورو ته د مناظرو بلنه ورکوله، ښه ده چې اوس موږ هغو ته د مناظرې او مباحثې بلنه ورکړو، چې ولې دې د ملي هویت دا دومره ستره مسله، لکه په ملي شورا کې د شوي غبن په شان په غبن کې تېره کړه.

تل دې وي ملي یووالی
سر لوړی دې وي افغان ملت

څو چې دا ځمکه اسمان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل به دا افغانستان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اختر نوي کالي دې مبارك!
# ناکامي دې مبارك!
# (د نړۍ ستر مفکر دې په غور ولولي)

[دا ليکنه هغه وخت شوې وه چې د ټاکنو وروستۍ نتيجې پاکې او ناپاکې رايې رامعلومې نه وې، خو ډاکټر اشرف غني احمدزي او ډاکټر اشرف غني احمدزي او ډاکټر عبدالله عبدالله يو بل سره په مساويانه ډول د حکومت د شريکولو پروتوکول وکړ، دا د ټول هېواد په کچه لومړۍ ليکنه يا لومړی غبرګون و چې د اشرف غني ددې عمل پر وړاندې ځرګند شو. نور لوستونکي د ليکنې تر لوستلو وروسته قضاوت کولای شي.]

ښاغلی ډاکټر صيب اشرف غني احمدزی! له سريزې او تصنعي خبرو به تېر شم، پر اصلي مطلب به پيل وکړم، دلته خو دود دی چې ځوك واك ته ورسېږي، خلك يې مبارکۍ ته ورځي او هغوی چې نه شي ورتلای، نو مبارکي ورلېږي، خوشالۍ کوي، اتڼونه کوي، ځنې غوړوي او د بريالي شخص پر وړاندې تبسم او تظاهر کوي، خو زه ستا د بريالیتوب له امله تاسو ته ستا د ماتې مبارکي وايم. د بريالیتوب په لومړيو شېبو کې چې ولس لاتر اوسه د خپل تندي خوله نه ده وچه کړې او ستا د بريالیتوب د شکرانې لمونځ يې نه دی ادا کړی، نو ستا د ماتې ځرك ولګېده.

ستا ماته هغه وخت پيل شوه چې د ملت د دښمنانو او توطيه ګرو پر وړاندې دې د ملت د رايو ملاتړ ونه کړای شو، نه دې خپله دې ملاتړ ته ورودانګل، نه دې مذبذب او نامتجانس ټيم، نه دې د ولس خواخوږي په دې پلمه دفاع ته پرېښودل چې کړکېچ رامنځته کېږي او نه دې هم خپله ولس ته لار خلاصه کړه چې له خپلو رايو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله ملاتړ وکړي. د کړکېچ په پلمه د بحران زامنو، بحران نور هم پسې اوږد کړ او کله چې هم ستاسو پر سياسي جرئت او هېوادني تدبير پوه شول، نو خپلې غوښتنې يې لا پسې وغځولې، ان تر هغه پورې چې د امريکا او نړيوالې ټولنې پښه يې هم په کې داسې دخيله کړه چې تر احتمالي بريالي، احتمالي ناکام ته په کې زيات امتيازات ورکړل شوي دي. له بابا ادمه تر دې دمه چې د ولسواکۍ کومې تجربې په نړۍ کې تکرار شوې، په هغو کې له هېڅ مفکر او هېڅ نا فکره سره داسې لوبه نه ده شوې چې يو چا دې هم ټاکنې ګټلې وي او هم دې ملامت وي، هم دې غلی وي او هم دې نتلی وي، مخالف لوری چې په واقعيت کې ملامت دی، هغه دې سلامت وي. هم دې د اپوزېشن امتياز واخلي او هم دې په پوزېشن کې تر نيمايي زيات واک ولري. صلاحيت دې ولري، خو مسؤليت دې ونه لري، هم دې امتياز اخلي، هم دې انتقاد کوي. افسوس د هغه ملت پر حال چې مشران يې د مضر مصلحت پر نري رنځ اخته وي.

خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو
خرڅويي رهبران په سوداګرو

موږ خبر نه وو چې مشران مو کوم لوري ته بيايي، هسې په اتڼونو او نارو سر وو او نه مو د شاعر دې بيت ته پام و:

څه خبر يې چې په کوم لوري دې بيايي؟
چې روان يې په ګډا او په سندرو!

دا منم چې تاسو به ولسمشر شئ، په نړۍ کې اوس هم ياد ياست، نور به هم ياد او ښاد شئ، خو ولس به لا پسې برباد شي، ته به مخکې لاړ شې خو قافله په شا راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منم رهبر پـه خپـلـه مخکـې لاړو
خـو قـافلـه خو يې په شا راوسته

هـر چـا چـې دې مظلـوم ملـت تـه پـه کمـه سـترګه کتلـي او پـر جنګسـالارانو يـې ډېره لګولې، برخليـك يـې ډېـر ذليـل دی. ډاکټـر نجيـب الله هـم پـر همـدې ډول اشخاصـو ډېره ولګوله، برخليـك يـې هغه شان شو، ولسمشـر کـرزی هـم د ولـس پـه رايـو ولسمشـر شـو، خو خواړه يې جنګسالارانو ته ورکړل او تاسو چې تر هر چا د فسـاد او زورواکـۍ پـر ضـد خبـرې کـولې، تـر ټولـو ژر دې د جنګسـالارانو ګوابنونو ته اوږه ټيټه کړه. تاسو خـو تـر ډېـرو تـاريخ زيـات لوسـتی دی، ايا دا ولس ډېر زور لري که پنځه جنګسالارن؟ او کـه يـو ځـل بيا د ولسمشر کرزي د مضـر احتيـاط د فورمـول او تجربـې تکـرار دی چې د مصلحت او ملي ګټـو تـر نامـه لانـدې يـې هـم ملـي ګټـې زيانمنې کړې او هم يې پر مصلحت ريشخند وواهه. مصلحت خـو هغه مرحله ده چې د عدالت او واقعيت تـر منـځ انـډول برابـر شـي، نه دا چې پر ولس داسې يـو منفـي واقعيـت وتپـل شـي چـې هـر ځـل تجربې يـې ولـس لـه ګڼـو زيـانونو سره مـخ کـړی دی، دا ولـس ډېـر صـابر او صـبور ولـس دی. دې ملـت سـتا تـر ځنـګ جنګسـالاران، فسادګر، غوړه مالان او نور ورځچاري يـوازې پـه دې خـاطر تحمـل کړل چې ستاسو ماضي وينا ته په کتو سره يې پـر تـا بـاور درلـود، خـو دا بـاور تـر (تحـول او تـداوم) د مخـه نـا بـاوره شـو. درد ځپلـي، سـپين زږي پښـتانه او نـور ملتپـال افغانـان ټـول درپسـې ودرېـدل، روښنفکر، ملا، لوستی، نالوستی، پېغله، ځوان، سـپين ږيـری او مخور ټول په دې خاطر په يوه ليکه کې ودرېدل چې د شر او فسـاد د اصلي عواملو له رنځ او عذاب څخه وژغورل شي. خـو اوس چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شر او فساد په خپله له تحول او تداوم سره غاړه غړې شول، نو د ولس قافله مجبوره ده چې په خپله د ځان غم وخوري:

قافله دې هم منزل نه ځان خبر کړي
کله کله رهنما نه لار خطا شي

فکر کوم چې د افغانستان شخړه دومره پېچلې ده چې د ((نړۍ مفکر)) څخه هم لار خطا شوې ده، د لانجې رسۍ لکه چې د بل چا په لاس کې ده، یوازې ممثلین یې افغانان دي، یو شاعر لا پخوا ویلي وو:

څومره چې زه یم خبر له ملکه
د مشورې سر دی بهر له ملکه

زه ډېره ښښنه غواړم که زما (کم فکره) خبرې دې پر (مفکر) ذهن ښې نه لګي، خو زه ځکه ځانته دا حق ورکوم چې تر تا وروسته، تاته ما تر هر چا زیات کمپاین کړی دی، که ستا غوره مالان او یا ځینې دوه روله کمپاینران یې مني که نه، خو مخالفین او عام افغان ولس پر دې واقعیت متعرف دی چې زه (یون)، زما مېرمن (اریون یون)، (ژوندون ټلوېزیون) او (د افغانستان ملي تحریك) په سوونه ځوانان تر هر چا زیات ستا په کمپاین کې ستړي شولو. ان ستاسو پر ضد مظاهره کې هم مخالفینو ستاسو پر ځای د (ژوندون) پر ضد د مرګ شعارونه ورکول، عجیبه وه! د مرګ پلویانو پر (ژوندون) مرګ وایه، دا په دې مانا نه وه چې ګنې ستاسو شخصیت یا ملي حیثیت ته یې د احترام په خاطر ستاسو نوم نه اخیست، هسې خو یې په خپلو نورو تبلیغاتو کې د اسلام له دایرې څخه هم ایستلی وې، خو هغوی د ((ژوندون)) نوم ځکه زیات یاداوه چې همدې ټلوېزیون ورته سرخوږی جوړ کړی و او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولس ته يې يو فکري ليد لوری ورکړی و، خو ستا غوړه مالانو او ځينو کمپاينرانو (ژوندون) ته هم په همغه سترګه کتل، لکه د ((اصلاحاتو او همپالنې)) ټيم چې ورته کتل. خو بيا هم موږ ستا له ملاتړه لاس وانه خيست او نه مو د ((ستر مفکر او ستر جنګسالار)) اوسنۍ ملګرتيا او تېرې ماضي ته د تصوير په ژبه اشاره وکړه. دا په دې خاطر چې د ملي ګټو لپاره د زهرو ګوټ تېرولو ته هم تيار وو. تاسو هم په دې خاطر له ژوندون ټلوېزين او ما څخه واټن ونيوه چې تر ټنګ دې يو شمېر متعصبين، تنګنظره او مخالف ګروپونه، د خپل فاشيزم او تعصب د پټونې په خاطر دربانديې د (فاشيست) او (نيشنلست) ټاپه ونه لګوي، موږ ستا تر ټنګ فسادګر، جنګسالاران او غوړه مالان وزغمل، خو تا زموږ مشروع مبارزې،د حق، عدالت او سرېتوب چغې، افغانيت، اسلاميت او انسانيت ته هېڅکله هم هر کلی ونه وايه.
اوس خلك خبرې نه تلي، عمل تلي:

د عمل د خاوندانو په حضور کې
د وينا خاوند ولاړ لاس په سلام دی

تاسو ته چې خلکو رايه درکړه، په دې خاطر چې فکر يې کاوه د ډاکټر اشرف غني وينا او عمل برابر دي، غوڅ، قاطع او پاك سړی دی، له ناپاکو خلکو يې کرکه ده او له وطن څخه به دا تېره شل کلنه ګندګي ورکه کړي، خلك د حامد کرزي له مضر مصلحت او ناوړه احتياط څخه ستړي شوي وو، خلکو سره يو احساس و، عاطفه وه، خلکو د سياسي سوداګرۍ په باب هېڅ فکر نه کاوه، خبر نه وو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګر خلـك د احسـاس نـزاكــت څه پـېژني
معيار يې وزن دی او تول دی ساه مې بنده شوله

زه د هغــو ميلونونــو افغانــانو لــه جملــې څخــه يــم چــې ســتا د بريالیتوب لپاره مې په سر او مال مبارزه کړې، خو هغه خلك چې په کليو او باندو کې اوسي، ستا مینوال وو، نـه تاتـه لاسرسی لـري او نه هم د ليك او لوست له نعمته برخمن دي، د هغوی پـه زړه کې به څه سرې سکروټې بادېږي، زه خـو ښـه يـم، د زړه غوټـه د قلـم پـه نوکـه خلاصـوم، خـو هغـوی چـې دا وسـيله نـه لـري، څـومره اور بـه زغمي، زه هيله لرم چې زما دا ليك د همغـو ميليونونـو افغانـانو د زړه د داغونـو انځـور هـم وګڼـې، د خلكـو نظـر، رايـو او هيلـو تـه درناوی وکړې، د قـانون حاکميت پلی کـړې، د مصلحت پـر ځـای قانونيت او د سيمه ييز نا مشروع جوړ جاړي پر ځای د افغانيـت د پراخــې مفكــورې حاكميــت تــه لاره اواره كــړې. پاچاهــان ځــي او راځـي، مـري، رنګېـږي، خـو ولسـونه ژونـدي وي، ولـس نـه مـري، تسلسل لري، همدا ولسونه دي چې يو څوك پر تخت كېنوي او يـو څوك له تخته پرېباسي.

ولــســونــه چــې ســنـد يــو بـلــه وکا
پادشاهان ورته سجود کاندي اختيار

تاسو د کمپاين په شپو او ورځو کې ويلي وو، چې زه تاسو تـه د خپل حکومت په سلو (۱۰۰) ورځو کې امتحان درکـوم. کـه پارچـه مې خرابه وه، ناکام مې کـړئ. اوس خـو تاسـو د ګـډې اعلاميـې تـر لاسليك وروسته فيصله کړې چې په امنيتي سـكتور او ځينـو نـورو برخو کې به تر (۹۰) ورځو پورې تغير نه راځي، دا خو دا مانا لـري کوم فساد، بې عدالتي نا سم کارونـه چـې پـه دې ارګـانونو کـې لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخوا څخه موجود دي، هغه به لا پر خپل ځای وي. اوس به نو د امتحان او پارچې خبره وکړو: پوره (۲۳) کاله کېږي چې زه په پوهنتون کې استاد یم او تاسو هم کلونه کلونه په بهر کې استادي کړې، راځه چې د استادۍ یوه محاسبه سره وکړو! اوس نو که تاسو په هرو (سلو ورځو) کې سل په سلو کې کار وکړئ او زه هره ورځ یوه یوه نومره درکړم هغه هم چې ټول سوالونه دې درست وي، نو پوره سل نومرې شوې، خو څرنګه اوس چې تا د امنیتي سکتور د امتحان پارچه کې (۹۰) ورځې ضایع کړې، دا که د ازمویني هر ډول سستم وي، ته مطلق محروم یې، په دې مضمون کې هیڅ د امتحان مستحق نه ګرځې او بل که په امتحان کې شامل هم شې، نو (۹۰) نومرې خو دې له لاسه ورکړې، که په پاتې (لسو ورځو) کې پوره (لس نومرې) هم یوسې، نو ته له سلو څخه په (۱۰) نومرو مطلق ناکام ګڼل کېږې، دا د واقعي امتحان نتیجه ده.

دا چې امنیتي سکتور، پر اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو او نورو ټولو برخو مستقیماً اغېز لري، نو په ټولو مضامینو کې دې نومرې ټیټېږي، نتیجه دا راوځي چې په مجموعي نیمایي (نصف مجموع) کې پاتې راځې او هر شاګرد چې د (نصف مجموعي) له خطر سره مخامخ شي، هغه د حل هیڅ بله لاره نه لري او ناکام ګڼل کېږي.

نو ښاغلیه ډاکټر صیب او راتلونکی احتمالي ولسمشره! دا ولس که غریب دی، خو حساب او کتاب ورسره شته، موږ چې ټولو ستا د ملاتړ لپاره ودانګل، په تا کې مو یو کیفیت او یو ظرفیت لیده، که نه په کمیت او لباس کې خو کېدی شي تر تا ، ستاسو نور رقیبان غښتلی وو، موږ حسابي خلك یو، خبرې په حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو، د الفت صیب په وینا: [(۹) په کیفیت کې تر (۱) غټ دی، خو د عدد له مخې دواړه عددونه دي، که موږ یو (۱) تر نهو (۹) د مخه ولیکو، نولس (۱۹) کېږي خو شل (۲۰) کېږي نه، خو که نهه (۹) تر یوه (۱) د مخه ولیکو نو یو نوي (۹۱) ورڅخه جوړېږي، خبره ان سلو (۱۰۰) ته رسېږي].موږ ځکه ته مخکې کړې چې کیفیت او ظرفیت دواړه درکې وو. په ټاکنو کې چې موږ، ته پنځه (۵) تر ډاکټر عبدالله عبدالله یو (۱) غوره بللې او د مخه کولې مو، د همدې کیفیت له امله و، ځکه په دې حالت کې پنځوس + یو (۱+۵۰) پوره کېدل، خبره قانوني حد ته رسېدله، خو که یو (۱) درڅخه دمخه شوی وای، خبره پنځه لسو (۱۵)ته رسېدله، شل(۲۰) کېدله نه، خو ولس سره اوس اند ښنه ده چې تاسو ډاکټر عبدالله عبدالله په نا مستقیم ډول تر ځان د مخه کړ، نو ځکه خو دې خبره شل نه کړه. اوس یو ځل بیا وایم چې دا کیفیت او ظرفیت د مضر سیاسي مصلحت له امله مه قربانوه، خپله ماضي مه بدرنګوه. ستا تریخ ولسي او تولنیز چلند هم پر ولس ځکه ښه لګېده چې خلکو فکر کاوه، په وطن کې د حاکمې ناپاکۍ د پاکولو لپاره همدغسې یو ترخه شخصیت ته اړتیا ده که نه خو دا ولس د هېچا دومره ترخه او تروه ژبه نه شي زغملای، خو داسې ښکاري چې دا تریخوالی یوازې د هغو کسانو په مقابل کې استعمالېږي چې خپل پلویان دې دي، مخالفینو سره خوږ او موافقینو سره تریخ چلند تر ډېره وخته پورې هېچا ته د زغم وړ نه دی. که د ښاغلي عبدالله عبدالله د ټیم د پرله پسې غوښتنو پر وړاندې ستاسو د ټیم له خوا هم پرله پسې، خو معقولې غوښتنې مطرح شوې وای، نو خبره دې یو طرفه افراطي حد ته نه رسېده او نن به نړیوالو منځګړو د دواړو خواوو په معتدلو او معقولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنو کې منځنی حد ټاکلی و، هم به تاسو او هم به ولس ته په ګټه و، خو څرګنده خبره ده چې ستاسو په استازۍ غالباً هغه کسان په مذاکراتو کې ګډون کوي چې نه قوي ولسي بېز او بنسټ لري، نه قوي سیاسي جرئت او نه هم فرهنګي مهارت، دا ډول اشخاص اکثره د پخوانۍ شمالټلوالې پاتې شوني او د هغو ټپساري دي، داسې څوك ما ونه لیدل چې مقابل ټیم سره د مخالفت پخوانۍ (سره کرښه) ولري چې یو بل تر هغې وانه وړي او هر یو خپل برید وپېژني، ځکه خو یې په اعلامیه کې د ((مقاومت)) اصطلاح هم په خاص مهارت تېره کړې ده. ستاسو له سیاسي تجربې، علمي او سیاسي تفکر څخه دا هیله نه کېده، هغه الفاظ او یا اصطلاحات دې د ارزښتونو او درناوي په توګه ومنل شي چې لا هم ترې د وینو بوی راځي. تاسو پوهېږئ چې د ((مقاومت)) د اصطلاح تر چتر لاندې یوه خاصه ډله، سیمه او یو خاص ګروپ له دې ملت څخه ناوړه باج اخلي او دا د خپلو سیاسي او بشري جنایتونو د پټولو لپاره یوه وسیله ګڼي. کله چې د پنځه (۵) سلنه خلکو ((مقاومت)) د یو اصل په توګه منل کېږي، د پنځه نوي (۹۵) سلنه خلکو ارزښتونه بیا کوم دي؟. د (جهاد) له مقدس نامه څخه هم ځینې روس پلوه پرتوکولیان خپله سیاسي ګټه پورته کوي، جهادچې د ټول افغان ولس حماسه ګڼل کېږي، اوس څو محدودو جنګسالارانو یرغمل کړی او د جهادي ارزښتونو پر ضد ترې ګټه اخلي. کله چې د افغانستان اساسي قانون د ټولو وګړو تر منځ دتساوي اصل او اسلامي ارزښتونه معیار ګڼي، نو بیا هېڅ، اړتیا نه شته چې په دې منځ کې دې هغه تنظیمي اصطلاحات چې د نفرت بوی ورڅخه راځي پر خلکو په زوره تحمیل شي، دا له طالبانو او نورو جمعیت ضد ډلو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخلاينې بهير ته څرګند زيان رسوي او جګړه لاپسې غځوي. د جهاد له مقدس ارزښت پرته چې د ټول ملت مشترکه حماسه ګڼل کېږي، نورو هېڅ ډول تنظيمي اصطلاحاتو ته اړتيا نه وه، ددې ډول اصطلاح کارول ددې څرګندونه کوي چې ستاسو ټيم کې لا هم د نظار شورا د فکري خط پلويان خپل اغېز لري. اوس چې په اوبو ورګډ شوی يې، نو د ډوبېدو احتمال دې زيات دی، هر څوك چې بې ګودره اوبو ته ورګډ ېږي، کښتۍ به يې ضرور ډوبېږي.

ماڼو اخر به دې کښتۍ په سمندر ډوبه شي
چې بې ګودره ورګډ ېږې دا مې ياده لره

په دې خاطر چې ته اوس ماڼو يې او ټول ملت تا سره په دې کښتۍ کې سور دی، نو د ملت د نجات لپاره هڅه وکړه، د ملت د ژغورنې يوه حل لاره دا ده چې کله د ټاکنو نتيجې رڼې او ټولو تائيد کړې او ته سپين باز شوې، بيانو پر لوړ غره کښېنه، خپل ملت او نړيوالو ته خپلو پيغام واوره، ووايه چې ما د څوکۍ او مقام لپاره مبارزه نه وه کړې، ما د ملت د سوکالۍ لپاره دا ټولې هلې ځلې کړي، زما ملت له جنجالي ائتلافي حکومت او د هغه له ماهيت څخه ښه خاطره نه لري، له هغه څخه کرکه کوي، که دا ائتلافي حکومت په هر نامه وي، د (ملي وحدت) د حکومت په نامه، د (اسلامي دولت)، (اسلامي امارت)، (اسلامي جمهوريت) (ديموکراتيك جمهوريت) او يا تر بل کوم نامه لاندې، خو چې ماهيت يې ائتلافي وي، نه دوام کوي او نه يې خلك مني، ښه لاره خو داده چې ډاکتر صيب عبدالله عبدالله دې د ټاکنو له قانون سره سم تاسو د ولسمشر په توګه ومني او خپله دې د (اپوزيشن) مشر شي او ته په مقابل کې خلکو ته ډاډ ورکړه او ژمنه وکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په حکومت کې د افغانانو تر منځ له هر ډول تبعیض پرته د لیاقت پر اساس د ټولو افغانانو استازیتوب تضمینوم او خپل ولس ته مسؤل یم.
که چېرې نړیوالې ټولنې او ډاکټر عبدالله عبدالله بیا هم د (ملي وحدت) د حکومت په نامه پر ګډ حکومت ټینګار کاوه، نو یو اخلاقي جرئت وکړه، ټول حکومت ډاکتر عبدالله ته پرېږده، ته او په ټیم کې چې دې څه وفادار خلك دي، هغه دې اپوزېشن ته لاړشي او ووایه چې د انتخاباتو له ګټلو سره سره زه د څوکۍ شوق نه لرم، عبدالله ته لکه څنګه چې وایې، ووایه زما ورور دی، دا حکومت دې دی وکړي، هغه نو بیا د ډاکټر صیب عبدالله عبدالله کار دی چې څنګه حکومت کوي او د نړیوالې ټولنې کار دی چې څنګه ورته دوام ورکوي. درېیمه لار هم شته چې تاسو او ډاکټر صیب عبدالله دواړه موافقه وکړئ او ووایئ چې موږ په ګډه د ملي وحدت حکومت جوړوو، خو اساسي شرط به یې دا وي چې نه د ډاکټر عبداله عبدالله او نه هم ستاسو د انتخاباتي ټیم یو غړی به هم د حکومت په عادي او لوړ پوړي پوست کې دنده نه اخلي. حکومت دې د ولس د پراخو پرګنو له منځه له داسې باکفایته اشخاصو څخه جوړ شي چې هم لیاقت ولري او هم دې له دې دواړو ټیمونو، یوه سره هم اړیکي ونه لري. د دواړو انتخاباتي ټیمونو اشخاص دې په ګډه د اپوزېشن یوه کمېټه جوړه کړي، بایلونکی نوماند دې په راس کې وي، هر هغه کار چې دې ناپییلي حکومت کاوه او نیمګړتیا په کې وه، پر هغه دې نیوکه کوي او ولسمشر به هغه اصلاح کوي. که دا ټیمونه رښتیا هم هېواد ته وفادار وي او څوکۍ نه غواړي، نوښه لاره یې داده چې څوکۍ نورو هېوادوالو ته د خدماتو لپاره پرېږدي او دوی دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدماتو د سر ته رسولو ځار وکړي او که د څوکۍ خبره نه وي، نور خو هېڅ مشکل نه شته، کله چې د دواړو ټیمونو مکس شوې ټګلاره تطبقېږي، نو نوره په کې څه ستونزه پاتې کېږي؟
زه د یوه افغان او ستاسو د یوه نا رسمي کمپاینر او د هغه چا په توګه چې ستا په کمپاین کې تر ټولو زیات ستړی شوی او متضرر شوی، حاضر یم چې ستاسو په حکومت کې هېڅ ډول دنده وانه خلم او تر ځان بل مستحق ته ځای پرېږدم، نو ستاسو هر کمپاینر باید د هېواد د ګټو لپاره دې حالت ته حاضر وي.
خو له اوسني تصنعي او فشاري جوړ جاړي څخه داسې ښکاري چې دا لاره ډېره اغزنه ده. په دې ترکیب کې د نړۍ یو مفکر څه چې سل مفکران هم راشي، حکومت یې دوام نه کوي، یو (علي بابا) او (څلوېښت) غله نه چلېږي. او بیا خو چې د دواړو ټیمونو غله او فساد ګر سره یو ځای شي، نو بیا به یې ښه جوړه کړې، د اپوزېشن مشر به هم د خپل اجرائیه رییس او نیم حکومت په زور وضعه اخلالوي او ولسمشر به کار ته نه پرېږدي، هم به مسؤلیت نه لري، هم به سپینه کوتره وي، ولسمشر به هم کړېدلی وي، هم به شرمېدلی، د عوامو ښځو په اصطلاح هم به بوره وي، هم بدنامه، مزې به اپوزېشن کوي، کنځلې به په اصطلاح پوزېشن خوري، د ولسمشر کرزي د واکمنۍ دوره به بیا تکرار شي تر هغې څخه هم څو ځله په متبذله بڼه، خلك به ولسمشر کرزي ته د دعا په ارمان شي، او د ((تحول او اصلاحاتو)) او ((تداوم او همګرايي)) له یو ځای کېدو څخه به داسې یو ((شرم)) وزېږي چې پخواني شرمونه به ټول ورته له حیرته ګوته په غاښ شي. د (ملي وحدت) د حکومت تر نامه د سهامي شرکت جوړول همدا اوس عملاً د هېواد قوانین، انتخاباتي بنسټونه او نور اورګانونه پیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نـا اعتبـاره کـړل، پـر ټـاکنو د خلکـو بـاور لـه منځـه لاړ او افغانستان کې د ټاکنو تر چتر لاندې د ائتلافونو یوه نـوې متبذلـه لړۍ پیل شوه. نـو کـه د نړۍ ستر مفکـر صیب دا حالـت همداسې غواړي، مهرباني دې وکړي ورځې دې پرې، حکومت یې غیـر لـه هغې هم په دې حالت کې تر لویې جرګې نه رسېږي، مـوږ ورتـه سر له همدا اوسه د ماتې مبارکي وایو.

وما علینا الاالبلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوځ سړی او پڅ کارونه
# (د ډاکټر غني د واکمنۍ یو کال)

[دا لیکنه د ډاکټر اشرف غني پر مشرۍ د ملي وحدت د حکومت د قانون له مخې د یو کلنۍ په مناسبت شوې وه]

د (۱۳۹۴ل) کال د غبرګولي یا جوزا پر (لومړۍ) نېټه د ډاکټر غني د واکمنۍ یو کال پوره شو. د اساسي قانون د (۶۱)مې مادې د حکم له مخې ((د جمهور رییس وظیفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي.

د جمهور رییس د کار تر پای ته رسېدو د مخه د نوي جمهور رییس د ټاکلو لپاره انتخابات، له دېرشو تر شپېتو ورځو پورې، موده کې کېږي.))

که د اساسي قانون همدا حکم، رڼا او محتوا په پام کې ونیسو، نو د ولسمشر ډاکټر اشرف غني دنده او کاري موده دده د واکمنۍ د پنځم کال د غبرګولي پر لومړۍ نېټه پای ته رسي او د غبرګولي له اوسنۍ لومړۍ نېټې څخه د مخه زمانه یې چې محاسبه کړو، نو دده له واکمنۍ څخه پوره یو کال او یا هم (۳۶۵) ورځې وخت تېر شوی، البته له عملي پلوه دده له واکمنۍ (د ۱۳۹۳ل کال د تلې یا میزان له (۷) نېټې د یا د سوګند یادولو له ورځې څخه اته میاشتې یا (۲۴۳)ورځې تېرې شوي، خو قانون دا وخت نه محاسبه کوي، د قانون حساب قانوني دی او د سیاستوالو مجبوریتونه او سازشونه د هغوی په خپل کفایت پورې اړه لري. قانون چا ته وخت نه ببښي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه هم چا سره خپلوي او دښمني لري اوس نو ډاکټر غني د خپلې واکمنۍ لپاره ټول (۴) کلونه يا (۱،٤٦٠) ورځې نور وخت لري.
اوس ټول ضايع شوی يا تېر شوی وخت دده د ټولې قانوني واکمنۍ شل (۲۰) سلنه مهال جوړوي، ياني دا چې (شل) په سلو کې وخت ضايع شوی، خو (دوه) په سلو کې کارونه نه دي ترسره شوي، که له پاتې يو زرو څلور سوه او شپېتو (۱،٤٦٠) ورځو څخه د جمعې او پنجشنبې ورځې، د متفرقه رخصتيو ورځې، د بهرنيو سفرونو مهال، بېرني وختونه، د ناروغۍ مهال او نور داسې وختونه چې اټکل يې نه کېږي، له ياد وخت څخه وباسو، نو ډاکټر غني ته به ايله (۹۰۰) کاري ورځې پاتې شي او که په دې مهال کې حکومت په همدې سرعت روان وي، نو په سلو کې (شل) سلنه کارونه هم نه شي ترسره کولای.
اوس نو که زه د يوه افغان او مسلمان په توګه، له قانوني پلوه د ډاکټر اشرف غني تېره يوه کلنه دوره ونه ارزوم، حقيقت بيان او واقعيت ځرګند نه کړم، نو د خدای (ج) او د خپل مظلوم ملت پر وړاندې به مې غاړه بنده وي، دلته غواړم تېر يو کال کې شويو او ناشويو کارونو، نيمګړتياوو او ستونزو ته لنډه نغوته وکړم:
**ژمنې**: پخواني نوماند او اوسني ولسمشر (ډاکټر اشرف غني) دوه ډوله ژمنې کړې دي، تر ټاکنو وړاندې او تر ټاکنو وروسته ژمنې، تر ټاکنو وړاندې ژمنې نه يوازې دا چې عملي نه شوې، بلکې تر ډېره حده د هغو خلاف عمل هم وشو. طبيعي خبره ده چې تر ټاکنو وړاندې ژمنې له عملي تطبيق سره پوره سمون نه شي لرلای او په نړۍ کې به د ولسمشرۍ داسې لږ نوماندان پيدا شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ټولې کړې ژمنې ټکی په ټکی او سل په سلو کې عملي کړي، خو داسې مثالونه هم ډېر کم پیدا کېږي چې یو کاندید دې د خپلو کړیو ژمنو مخالف لوری غوره کړي.:((ائیتلافي حکومت نه جوړوم، سهامي شرکت نه جوړوم، زورواکي له منځه وړم، قانون واکمنوم، د فساد جرړې باسم، د خلکو په دسترخوان کې تغیر راوړم، عادلانه نظام جوړوم، خلکو ته شغل ایجادوم، دا کوم او دا... او که چېرې دا کارونه مې ونه کړل، نو امتحان را څخه واخلئ، د سلو ورځو امتحان درکوم، که پارچه مې سپینه وه، ناکام مې کړئ)) او داسې نورې په لسګونو ژمنې.

دا تر ټاکنو د مخه ژمنې وې، تر ټاکنو وروسته ژمنې؛ په دوو اونیو کې کابینه جوړوم، په دوو میاشتو کې یې جوړوم، خبره نیم کال ته ووته، بیا هم پوره نه شوه، ښوونکو ته په شپږو میاشتو کې د کورونو لپاره نومرې ورکوم، دا کار په (۳۰) ورځو کې کوم، دا بل کار په شپېتو ورځو کې کوم، د قاچاق مخه نیسم، ایران ته د هرات د قیمتي ډبرو مخنیوی کوم، نن سرپرستي ختموم، سبا یې ختموم، خبره کال ته نږدې شوه، خو سرپرستي ختمه نه شوه. د طالبانو تر حاکمیت وروسته چې په نامه سرپرست وزیران وو، خو پوره واک یې درلود، د نړۍ په تاریخ کې دا یو بې مثاله اداره ده چې دومره عمر یې په ناقانونه سرپرستۍ کې تېر کړ. ولسمشر داسې یو دریځ کې دی چې چارواکي ګوښه کولای شي، خو مقررولای یې نه شي، د پوځ اعلی سر قوماندان دی، خو د ولسوالۍ امنیه قوماندان نه شي مقررولای، نه یوازې په تقرر کې پوره واک نه لري، بلکې دده په حکم مقرر شوي کسان هم د ((اجراییه رییس)) له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا له کاره ګوښه کېدی شي، ښه بېلګه يې د انتخاباتو د سمون کمېسيون لپاره د(شکريې بارکزۍ) او د سترې محکمې د اجراييه مقام لپاره د ښاغلي (حليمي) تقررو، چې د دندې تر اشغال وړاندې له دندې لرې کړای شول او داسې نور ګڼ مثالونه.

د فساد پر ضد مبارزه کې يو څه پرمختګ شوی، هغه هم د غني تر واکمنۍ وړاندې فساد په برخه کې، لکه د (کابل بانک) د دوسيې بيا سپړنه او دفاع وزارت کې د قراردادونو ارزونه، خو عام فساد چې د دولت په رګونو کې له پخوا راروان دی او اوس يې په دې دوره کې هم د نامسؤليتۍ او سرپرستۍ له امله بېلا بېلې بڼې خپلې کړي، د دې فساد په مخنيوي کې نه يوازې مثبت پرمختګ نه دی شوی، بلکې فساد خپلې ريښې لا پسې غځولې دي.

**قانون**: په افغانستان کې دا يو سياسي دود ګرځېدلی، څوک چې کوم شعار ورکوي، تر ټولو د مخه دی په خپله د همغه شعار پر وړاندې ودرېږي، ډاکټر اشرف غني هم تر هر چا زيات د قانون د حاکميت شعار ورکاوه، خو تر هر چا وړاندې ده د قانون ډډ ته تبر ونيوه. کله چې ډاکټر اشرف غني احمدزي د ولسمشر په توګه سوګند ياداوه، نو د سترې محکمې رييس ورته په اساسي قانون کې د مندرج سوګند له مخې قسم ورکړ، دا لوړه يا سوګند په دې ډول دی: ((د لوی خدای(ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دين پيروي او ساتنه وکړم، د اساسي قانون او نورو قوانينو رعايت او د تطبيق څارنه وکړم. د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، زمکنۍ بشپړتيا ساتنه او افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای(ج) له دربار څخه د مرستې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو پرمختګ او هوسايۍ په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم.)) تر پنځه لسو يا شلو دقيقو وروسته يې خپل دا کړی قسم هېر، اساسي قانون يې تر پښو لاندې او د ډاکټر عبدالله لپاره يې له مخکيني ناقانونه تړون سره سم اجراييه پوست رامنځته کړ. دا ډول پوست په اساسي قانون کې نه شته. ځينې ښاغلي کېدی شي ووايي چې دا خو دده يو مجبوريت و، د مجبوريتونو بحث جلا دی او د قانون بحث جلا. دلته دواړو ډاکټرانو، يو د ځان لپاره د ناقانونه اجراييه پوست په غوښتلو او بل يې په منظورولو سره قانون تر پښو لاندې کړی دی. همدغه اساسي قانون چې څو دقيقې وړاندې پرې دې دواړو ښاغلو قسمونه وخوړل، دواړو په ګډه تر پښو لاندې کړ. په تېرو (۳۶۵) ورځو کې تر (۳۶۵) ځلو زيات اساسي قانون او د هېواد نور قوانين تر پښو لاندې شوي دي. عجيبه خبره خو لا داده چې د همدې قانون ناقضين بيا کله کله طالبانو ته د سولې لپاره د همدې اساسي قانون رعايت د يوې سرې کرښې په توګه يادوي، په داسې حال کې چې دوی تر بل هر شخص او سياسي جريان زيات همدا اساسي قانون تر پښو لاندې کړی او بې باوره کړی دی.

**امنيت:** ولسمشر د خپل حاکميت په پيل کې وويل، چې ډېره پاملرنه يې پر امنيتي چارو راڅرخي، کله چې دده له پاملرنې سره سره امنيت لا پسې خراب شو، نو بيا يې وويل چې په لومړنيو شپږو مياشتو کې مې ټوله پاملرنه بهرنيو اړيکو ته وه. امنيت تر دې بريده خراب شو، چې طالبان او يا په ټوله کې مخالفين له چريکي جګړو څخه منظمو جبهه يي جګړو ته راووتل، د امنيتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونو او ولسي وګړو مرګ ژوبله هم د پخوا په انډول ځو ځله زیاته شوه. اوس لږ تر لږه د هېواد (۴۰) لوی او واړه ښارونه تر شدید تهدید لاندې دي.

**اقتصاد**: د ډاکټر اشرف غني د کمپاین تر ټولو مرکزي ټکی همدا اقتصادي ښېرازي او اقتصادي ستراتیژي وه، سره له دې چې په چاپ شوي منشور کې یې دا برخه نه ښکارېده، خو په خبرو کې یې ډېره یادېدله، خلکو هم ده ته د یوه اقتصاد پوه په توګه کتل او دده له ژمنو سره سم یې فکر کاوه چې رښتیا به یې په دسترخوان کې بدلون راشي. بدلون راغی، خو منفي بدلون، ډاکټر غني تر بریالیتوب وروسته هېڅکله هم نه نظري اقتصادي طرحه وړاندې کړه او نه یې کوم عملي ګټور اقتصادي ګام پورته کړ، د پانګې تېښته لا هم روانه ده، بهرنۍ مرستې ورځ تر بلې کمېږي، یوازې چین او امریکا ته په دوو سفرونو کې د مرستې ژمنې وشوې، خو عملي بڼه یې لا نه ده خپله کړې. اوسنی حکومت په تېر نظام کې د ترسره شویو پروژو له امله هم د ځینو شرکتونو چې نږدې پنځه سوه (۵۰۰) میلیونه ډالر اټکلېږي، پوروړی دی او د بودیجې کسر هم لري. افغانۍ هم د ډالرو په مقابل کې په سلو کې نږدې پنځه (۵) سلنه خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. د افغانستان بانک د داوه اعشاریه پنځه (۷،۵) ملیاردو ډالرو له زېرمې څخه د یوه کال په بهیر کې اته سوه (۸۰۰) ملیونه ډالره د افغانیو د ثبات پر ساتلو لګول شوي، خو دا ثبات لا تراوسه ټینګ شوی نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اشتغال**: د اشتغال په برخه کې هم ډاکټر اشرف غني ژمنه کړې وه چې لږ تر لږه (یو میلیون شغلونه) به رامنځته کړي، نه یوازې دا چې نوي شغلونه رامنځته نه شول، بلکې تر (سلو زرو) زیاتو افغانانو خپل کارونه له لاسه ورکړل. ان دولتي ادارو کې چې تر (ثلورو زرو) زیات پوستونه خالي وو، هغو ته هم د خپلمنځي اختلافاتو له امله څوک جذب نه شول. د بېکارۍ لړۍ په چټکۍ سره مخ په بره روانه ده او دا لړۍ به پر افغاني ټولنې خورا منفي اغېزه ولري.

**نړیوال اړیکي**: سره له دې چې ډاکټر اشرف غني وویل، په شپږو میاشتو کې یې زیات تمرکز پر نړیوالو اړیکو و او تر دې وروسته به کورنیو چارو ته ډېره پاملرنه کوي، خو دا اړیکي هغومره موثر نه وو چې افغانستان ته عملاً اقتصادي ګټه راوړي او یا هم د مرستو بهیر رامات کړي. پاکستان سره ناسنجول شوي او ناباوره اړیکي هم ددې لامل شول چې د افغانستان یو شمېر طبیعي متحدین ځان په حاشیه کې احساس کړي.

**طبیعي متحدین**: د تېر یو کال په تېره بیا د ولسمشر په توګه تر سوګند یادولو وروسته موده کې اشرف غني خپل یو زیات شمېر طبیعي متحدین له لاسه ورکړل، ځای یې یو شمېر غوړه مالو او بېلابېلو تنظیمي اشخاصو ونیو، دا کار ددې سبب شو چې دی د خپل دولتي سیال پر وړاندې خپل پخوانی قوي دریځ له لاسه ورکړي او هغه هم دده پر دې نیمګړتیا او کمزورتیا پوه شي او په حکومت کې خپلې ریښې لا پسې وځغلوي. دا کار ددې سبب هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چې حکومت کې د واک دوه سیاسي سرچینې رامنځته شي. یوه سرچینه په خپله ولسمشر اشرف غني دی چې قانوني واک ورسره دی، خو عملي واک یې کمزوری دی او یا یې دی د تعمیل ورتیا نه لري. بله سرچینه اجراییه رییس (ډاکټر عبدالله) دی چې قانوني واک نه لري، خو عملي واک ورسره دی؛ د ویتو صلاحیت هم لري او د ډاکټر اشرف غني قانوني صلاحیتونه یې فلج کړي دي. په تېره موده کې د دولت او یا حکومت عملي او قانوني سرچینې دواړه په ټکر کې وې، نو ځکه یې ولس ته ځه پاموړ خدمتونه وړاندې نه کړای شول.

**ټولنیز چلند**: ډاکټر اشرف غني خپل یو زیات شمېر طبیعي او نا طبیعي متحدین، کاري مامورین د خپل ترخه ټولنیز چلند له امله هم له لاسه ورکړل، دده ذاتي، ټولنیز او شخصي چلند زموږ په ټولنه کې له واکمنو ټولنیزو، اسلامي ارزښتونو او اخلاقي معیارونو سره سمون نه خوري. ډاکټر اشرف غني یوازې او یوازې د دولتي مقام له مخې تر نورو لوړ رتبه او ټیټ رتبه دولتي چاروا کو او مامورینو قانوني لوړتیا لري، خو د انساني او افغاني معیارونو له مخې او دده د خپل شعار په مصداق ((هېڅ افغان تر بل افغانه برتر نه دی او هېڅ افغان تر بل افغانه کمتر نه دی))، دی هم پر بل هېڅ افغان کومه ځانګړې لوړتیا نه لري. خو دده عملي ورځنی او کاري چلند داسې دی؛ یوازې هغه مامورین به ورسره ګوزاره وکړای شي چې ځوکۍ او مقام ته تر خپل حیثیته زیات اهمیت ورکوي. یو شمېر خلکو ورځخه د همدغه چلند له امله خپله لاره جلا کړې او دا لړۍ به نوره هم پسې دوام پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مایکرو منېجمنټ**: د ولسمشر غني ډېر وخت پر وړو وړو خبرو ضایع کېږي. خپل لومړی فعالیت یا کار یې له خپل اشپز سره له جنجاله پیل کړ، همداسې د ارګ د وړو ماموړینو د سهار د چای تر څرنګوالي او نورو وړو خبرو پورې وغځېد او همداسې تر ولایتي کچې پورې یې وړې وړې خبرې تعقیب کړې، دا کار ددې سبب شو چې ولسمشر د کم ارزښته کاغذونو پر لوستو مصروف شي او د هېواد لوی لوی او مهم کارونه ترې پاتې شي، له ملازم څخه نیولې تر وزیره پورې، له ټولو افرادو څخه امتحان اخیستل د ولسمشر د وخت او کاري منېجمنټ څرنګوالی په ډاګه کوي، چې په نورو هېوادونو کې ساری نه لري او نه هم شونی دی.

**طرحې او ازموینه**: ډاکټر اشرف غني ژمنه کړې وه چې زه د هېواد د پرمختیا لپاره طرحې لرم، ((د عادلانه نظام لار)) راته معلومه ده، د هېواد د پرمختګ ((منشور)) مې برابر کړی او که چېرې دا مې عملي نه کړل، نو په (سلو) ورځو کې را څخه امتحان واخلئ او که پارچه مې خرابه وه، ناکام مې کړئ، خو اشرف غني هېڅکله په (سلو) ورځو او ان په درې سوه پنځه شپېته (۳۶۵) ورځو کې حاضر نه شو چې کوم ناپېیلي ښوونکي ته د امتحان د پارچې لپاره کېني او نه یې هم د هېواد لپاره کومه لیکلې طرحه وړاندې کړه، اوس له نورو خلکو طرحې غواړي، له ملازمه نیولې تر وزیره پورې هر څوک چې مقررېږي، دی ورته وایي طرحه دې راوړه ! له دې څخه معلومېږي چې نه اشرف غني، نه یې اجراییه ریيس او نه هم د اوسنۍ اداري اړوندې متضادې ډلې کومه طرحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري چې وزير، معين، رييس او ملازم ته يې وړاندې کړې چې دغه زموږ پنځه کلن پلان دی، راته عملي يې کړه! نورو هېوادونو کې چې کوم نوماند بريالی شي له خپلې طرحې سره سم ژر د نظام چارې سمبال کړي، دلته د نظام مشران له مامورينو طرحې غواړي او بيا څوک دی چې دومره طرحې ولولي او بېرته يې ليکونکي ته د رد او يا تائيد ځواب ورکړي. دا ډول پلمې لوړ په لوړه اچول او د وخت ضايع کول دي، هېڅوک نه شته چې اوس له ده څخه پوښتنه وکړي او ورته ووايي چې هغه ستا طرحه څه شوه؟ همغه راکړه چې عملي يې کړو!

**سهامي شرکت:** د اشرف غني له خولې د سهامي شرکت خبره زموږ په ولس کې اوس ډېره عامه ده، په تېره ياده موده کې خبره تر سهامي شرکت هم واوښته، سهامي شرکت کې خو خبره د ونډې د څومره والي په مقياس وي، يو څوک په سلو کې لس سلنه پيسې ورکوي، په شرکت کې يې ونډه هم همدومره وي. خو دا سهامي شرکت چې اوسمهال له اوو (٧) ونډه والو جوړ دی، په ټاکنو کې د چا ونډه زياته، د چا کمه او د چا هم په صفر حساب وه، خو اوس يې د واک د څومره والي کچه معلومه نه ده. که احمدضيا مسعود له پنجشېر څخه يوازې څو د ګوتو په شمار رايې راوړي دي، بيا يې هم د خوست، پکتيا، پکتيکا تر ميليونونو رايو په حکومت کې د ونډې وزن زيات دی. پنجشېر دره او پخوانۍ نظار شورا بيا له څو لارو په نظام کې د زيات امتياز څښتنه شوه؛ (د ټولو نيمه نيمه د ابی‌ شوه يوه نيمه) يو زيات شمېر يې له پخوا څخه په حکومت کې پر غوښنو څوکيو ناست وو، يو شمېر نورو يې د احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضیا مسعود له لارې، ځینو نورو یې د ډاکتر عبدالله له لارې او یو شمېر نورو یې د ښاغلي ((مفکر)) د ((ملي تفکر)) له امله په حکومت کې پر تېر امتیاز سربېره نورې ونډې او امتیازات واخیستل. دا ډول بې عدالتي د تېرې بې عدالتۍ تداوم دی، دې کار د سهامي شرکت مفهوم نور هم د خلکو په ذهن کې څرګند کړ. اوس دې حکومت یا سهامي شرکت ته خلک اووه (۷) سری حکومت او ځینې ورته (اوه سری ښامار) وایي چې د مظلوم ولس پر ستوني ناست دی.

**سرپرستي:** د سرپرستۍ په باب مو دمخه هم یادونه وکړه؛ اوږده سرپرستي د دې سبب شوه چې هېڅ دولتي چارواکی په ښه ډول د کارونو اجرا ته زړه ښه نه کړي، ځینو له یوې مخې پر فساد لاس پورې کړ او فکر یې وکړ چې هسې هم له دندې لرې کېږي. له ځینو نورو څخه د مسؤلیت احساس لاړ او ځینو نورو بیا د مخالفو ځواکونو پر ضد له مبارزې لاس واخیست، په ټولیز ډول ټول دولتي سیستم، د بې احساسۍ او بې مسؤلیتۍ پر رنځ اخته شو، په لسګونو زره کارونه معلق پاتې شول او کله چې سرپرستي پسې وغځېدله او حکومتي لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي پوه شول چې ولسمشر په یو اړخیز واټ کې روان دی، یوازې د انفکاک او سرپرستۍ صلاحیت لري او د نوي تقرر لپاره له خنډونو سره مخ دی، نو خبره لا پسې خرابه شوه.

**کرکټرونه:** که ډاکتر اشرف غني او ډاکتر عبدالله هر څومره د ((ملي وحدت حکومت))، د صمیمیت، همغږۍ او یووالي خبرې کوي، واقعیت خو دا دی چې دا له دوو تنو او د هغوی له متضادو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټیمونو څخه جوړ حکومت دی او بیا هر یو ټیم یې په خپل منځ کې هم د اضدادو یوه مجموعه ده. خو د دې ترڅنګه د عبدالله ټیم پر پخوانۍ اډیالوژۍ سربېره د وخت له تقاضا سره سم ځان اعیارولی شي، زړور، ماهر، چالاک، زورواکي او ډول ډول اشخاص په کې شته، له منفي جرئت څخه هم برخمن دي، خو د غني په استازۍ چې څوک مقررېږي اکثره یې مړخولي، پخ خولي، ټپساري، مړاوي، ګوزڼ وهلي او داسې اشخاص دي چې د مقابل طرف د ځواب ویلو جوګه نه دي. دده په شمول دده په ټول ټیم کې داسې څوک نه تر سترګو کېږي چې د قومندان عطا محمد نور د سپوره خبرو پر وړاندې ودرېږي او هغه ته قانوني ځواب ووایي.

**انډول**: دې کې هېڅ شک نه شته چې د اجراییه پوست رامنځته کول د اساسي قانون یو څرګند مخالف عمل و او په حکومت کې مقابل لوري ته د پنځوس سلنې ونډې ورکول هم د قانون خلاف کار و او هم د ملي یووالي پر ضد هڅه وه. دا حکومت که څه هم ((د ملي یووالي حکومت)) په نامه نومول شوی، یانې د (حکومت) کلیمه په کې قید ده، نه د (دولت) خو د ډاکټر غني سیال اوس په ټول دولت کې: په قضا، څارنوالۍ، خپلواکو ادارو او د مشرانو جرګې په انتصابي غړو کې هم همدومره ونډه غواړي. د ډاکټر غني له لوري هېڅوک نه شته چې ورته ووایي د همدې ناقانونه تړون محتویاتو ته دې مراجعه وشي.

کله چې د دواړو سیالانو تر منځ په حکومت کې په سلو کې پنځوس ونډه ومنل شوه، نو هر طرف باید حکومت ته خپل خپل نوي پلویان معرفي کړي وای. دا وېش په داسې حال کې و چې ډاکټر عبدالله لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارد مخه په حکومت کې په سلو کې اویا (۷۰) ونډه لرله. ډاکټر غني نه د هغوی د لرې کولو وس پیدا کړ او نه یې په تېره موده کې د خپلو پلویانو د چټک تقرر امکان. کوم ځای کې چې دا امکان پیدا شو، په هغه کې هم تېروتنې وشوې، د ساري په توګه د دفاع وزیر تقرر د غني صلاحیت و، ده چې هر څوک غوښتل باید راوستی یې وای، دده محاسبه دومره کمزورې وه؛ لوی درستیز چې تیار پر خپلې څوکۍ ناست و، ده د هغه سیټ تش او لوی درستیز یې د دفاع وزیر په توګه ونوماوه، بیا یې په ولسي جرګه کې بریالی هم نه کړای شو، هم دفاع وزارت او هم د لوی درستیز څوکۍ ترې لاړې، د درانه پوځي کرکتر ښاغلي شېر محمد کریمي شخصیت ته یې هم زیان واړاوه، په دویم تفاهم کې عبدالله د لوی درستیز څوکۍ ونیوله او دفاع وزیر بېرته غني ته پاتې شو، دا چې بریالی کولای یې شي که نه دا به وروسته څرګنده شي. په حکومت کې د غني سهم بیا هم پر (دانش)، (دوستم)، (احمد ضیا مسعود) او نورو اشخاصو وېشل کېږي او په وروستۍ نتیجه کې ده ته ډېر څه نه پاتې کېږي، د عبدالله ونډه هم د ښته ورته ده، خو دده په اندول په خپل منځ کې همغږي لري او په حکومت کې پخوانی شتوالی یې خولا سرباری دی، نو اوس د حکومت په داخل کې پوره بحران دی، عدالت او انډول دواړه په کې نه لیدل کېږي. د ډاکټر اشرف غني همدا پرله پسې تېروتنې وې چې له یوه غوځ او قاطع سړي څخه یې یو سست او پڅ شخص جوړ کړ، داسې یو شخص چې ورځ په ورځ په ټولنه کې خپل حیثیت او باور له لاسه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راځم دېته که موږ هر ډول حکومت پر نیمګړتیاوو وغږېږو، بیا به هم د بري نیمګړتیاوې همدا سې ناسپړلې پاتې شي، هر ځای کې یوه نیمګړتیا شته، د عوامو په اصطلاح ((ابې ټوله بې ده))، خو راځو حل لارو ته!

**څو حل لارې او څو وړاندیزونه:** دې کې هېڅ شک نه شته چې دا حکومت خورا متزلزل او کمزوری دی، د ګڼو اعتراضونو او درنو مظاهرو او نورو ولسي پاڅونونو تاب نه لري، هڅه باید وشي چې دې حکومت ته لاس ورکړل شي چې له دې لړزانده حالته ووځي. دا مهال بل بنه بدیل هم نه لیدل کېږي، تر یوه (نه) حکومته، کمزوری او نیمګړی حکومت هم غنیمت دی، موږ د بې حکومتۍ تجربه هم لیدلې، هغه تجربه باید بیا تکرار نه شي، هڅه باید وشي چې له ټولو ممکنو لارو همدا متزلزل او کمزوری حکومت پر ټینګ او غښتلي حکومت بدل کړو.

ولسمشر غني او اجراییه رییس که څه هم تر دې دمه ډېر ناقانونه کارونه کړي، باید دواړه دې ته ژمن شي چې تر دې زیات ناقانونه کارونه ونه کړي، دواړه باید د ناپېیلو او مسلکي اشخاصو پر ګومارنې، په تېره بیا په امنیتي، قضایي، انتخاباتي او عدلي ارګانونو کې له یو بل سره توافق وکړي.

ولسمشر باید خپل ټولنیز او شخصي چلند له افغاني کلتور، اسلامي اخلاقي معیارونو، او زموږ د ټولنې له ټولنیز جوړښت سره اعیار کړي، خپل ولس او خپل کاري متحدین په غېږ کې ونیسي، د قانون حاکمیت له ځانه نیولې تر واړه ماموره پورې، پر ټولو باندې یو شان عملي کړي، په حکومت او نورو سیاسي چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ولس موثر شخصیتونه شامل کړي، دولت ته انجیوي بڼه ورنه کړي. انجیوي جوړښت له حکومته بهر وساتي، خپل وخت پر وړو خبرو او جزیاتو ونه لګوي. له خپل اجراییه ریيس سره یو ځای د بهرنیو مرستو د راجلبولو په لټه کې شي، د نظام د بدلولو پر ځای د نظام استحکام ته پاملرنه وکړي. د سولې شورا کې بشپړ اصلاحات راولي، د ټاکنو کمیسیون او امنیتي سکتور په واقعي مانا ناپییلی کړي او له تنظیمي مکروبه یې وژغوري، د جنګسالارانو د هرډول ګواښونو مخه ونیسي، د هغو د دویم نسل په ګومارنه کې پوره احتیاط وکړي، په حکومت کې د حکومتي زورواکۍ مخه ونیسي.

دا او د بېته ورته نور وړاندیزونونه کولای شي د اوسني سست ائتلافي، سهامي او اوه سري حکومت له سمون او بیا وروسته له تداوم سره مرسته وکړي او که چېرې اوسنی حکومت په همدې بڼه او همدې محتوا روان وي، نو ډېر کم امکان دی چې دا حکومت دې خپل عمر پوره کړي.

وما علینا الاالبلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوډ، تکل او خپلواکي

دا د هغې وینا لیکنۍ بڼه ده چې ما (یون) په ژوندون ټلوېزیون کې د (۱۳۹۴ل) کال د اسد پر (۲۸ )مه نېټه د هېواد د خپلواکۍ د (۹۶ )مې کالیزې په ویاړ جوړه شوې غونډه کې اورولې وه.

د لوی څښتن تعالی په نامه
چې د ټولو کائیناتو د زرې زرې حساب او کتاب ورسره دی

قدرمنو مشرانو، مخورو، د ملت د بېلابېلو انتخابي بنسټونو استازو، ځوانانو، دیني عالمانو، پوهانو او ددې پرتمینې غونډې ټولو ګډونوالو ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وایم، هر کله راشئ، په خیر راشئ، شپې او ورځې مو نېکمرغه، خدای مو د غمونو له سیورې لرې لره.
نن د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ګټلو (۹۶ )یمه کلیزه ده، زه د افغانستان ملي تحریک او ژوندون ټلوېزیون په استازۍ ددې پرتمینې غونډې برخوالو، ټولو هېوادمېشتو او بهر مېشتو افغانانو ته ددې ویاړلې، پرتمینې او مبارکې ورځې له امله د زړه له تله مبارکي وایم او هغو مېړنیو افغانانو ته د زړه له تله د دعا لاسونه لپه کوم چې د خپلو سرونو په نذرانه یې موږ ته خپلواکۍ راګټلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درنو هېوادوالو ! د زماني په تېرېدو سره يو شمېر ارزښتونه خپل رنګ او ماهيت بدلوي او يو شمېر ارزښتونه بيا داسې دي چې د زمانې د توپانونو زور پرې نه رسېږي، ملي او عقيده يي ارزښتونه د همدې تلپاتې ارزښتونو لـه جملـې ځخـه دي. خو پـه تېـرو دري څلورو لسيزو او په تېره بيا په تېره يوه نيمه لسيزه کې چې هېواد د مثبتو او منفي ارزښتونو د ټکر پر يوه ډګر بدل شوی و، بهرنيو سرچينو او د هغوی د کورنيو تاليځتو له خوا هڅه وشوه چې زموږ ملي او عقيده يي ارزښتونه هم تر ګواښ لاندې راولي. د ملي ورځو پر ځای تنظيمي ورځې او د ملي شخصيتونو پر ځای د تنظيمي اشخاصو، قومندانانو او جنګسالارانو د نمانځلو لړۍ پيل شوه، دولتي امکانات هم د تصنعي اتلانو د ځلا لپاره وکارول شول، دولتي رسنيو د تنظيمي رسنيو بڼه خپله کړه او تنظيمي رسنۍ چې د تعصب او کينې بوی يې لـه ورايـه محسوسېده د ملي رسنيو پـه نامـه ډګـر تـه راووتـې، د بيت المـال پـه پيسـو چلېـدونکو دولتـي رسنيو او ټلويزيونونو د خپلواکۍ ورځې ته په کال کې دوه ساعته وخت هم نه ورکاوه، خو داسې وخت هم راغلی چې د متنازعـه تنظيمـي شخصـيتونو لپـاره يـې د يـوې مياشـتې (۲۷) ورځـې هـم ځانګړې کړې وې.

دې ډول هڅو نو د ملت پر زخمونو د مالګې دوړولو مانا درلوده. پـه داسـې حـال کـې چـې تېـرو (پنځـه لسـو) کلونـو کـې ټولـه دولتـي دستګاه په سلو کې (۸۵) سلنه د يوې مشخصې ډلې او سيمې پـه لاس کې وه، د خپل مظلوميت مظاهره يې هم کوله او د اپوزېشـن د تمساح اوښکې يې هم تويولې، دې ډلو له دولتي امکاناتو څخه پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوړه ګټه اخيستنې هم ملي شخصيتونه او هم ملي ارزښتونه ګواښل او هم يې د هغوی پر ځلا خاورې وراړولې، دوی له همدې امکاناتو څخه د خپلو کاذبو شخصيتونو د جبري لوړاوي لپاره هم کار اخيسته.

همدې ډلو ټپلو دا مهال زموږ پر پخوانيو ملي ارزښتونو او ملي شخصيتونو پسې ډول ډول منفي کمپاينونه پيل کړل، په رسمي او نا رسمي غونډو کې به يې په قصدي او نا قصدي ډول ويل چې ((دې پخوانيو نو موږ ته څه کړي، کوم اورګاډی يې راته جوړ کړی؟ ټليفون يې راته جوړ کړی؟ کمپيوټر او نور څه؟ تر دې خو همغه انګريز او روس ښه وو، يو شی خو يې راکول، زموږ نيکونو غير له جنګونو څه کړي؟ تر دې خو يې چې هغوی ته پرې ايښې وای، هالا زندګی ارام ميداشتم، مرا به ازادی چی)) او داسې نورې پټې او ښکاره قصدي او نا قصدي هڅې. د دوی د قضاوت له مخې دوی له ميرويس نيکه څخه د اورګاړي د پټلۍ د تېرولو هيله کوله او له احمد شاه بابا څخه د موبايل ټليفون د جوړولو طمع. دوی په اوسنيو معيارونو او پرمختګونو دوه نيم سوه کاله وړاندې دوره ارزوله، خو دا يې نه ويل چې افغانستان هغه وخت کې تر کومه سياله کم و؟ هم يې ازادي لرله، هم ژوند، نه يوازې يې د دښمن مقابله کوله، بلکې پر دښمن برلاسی هم و. دا خو د وروستيو نسلونو دنده وه چې تېرې برياوې وساتي او د زمانې له پرمختياوو سره ځانونه همغاړي کړي، لکه اوس چې موږ څه نه شو کولای او ټوله پړه پر تېر پښت وراچوو. د روحي، رواني، رسنيز، تنظيمي، کورني او بهرني تبليغاتي جنګ او د ارزښتونو د ټکر پر داسې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهال ډېره سخته وه، چې يو څوک دې راولاړ شي او د حاکم منفي جريان په مقابل کې دې خپل سر پورته او خپله سينه دې د منطق په زغرو هغوی ته سپر کړي. له هغې ورځې چې ژوندون ټلوېزيون جوړ شو او ورپسې د افغانستان ملي تحريک، لومړی کار تکل او هوډ يې دا و چې د غسې سختې مبارزې ته بايد په شعوري ډول ورودانګي چې تر دې دمه هېڅا د هغو پر وړاندې بغاوت نه و کړی، سرټيټو، ځانساتو او ورځچارو ورته لا خپل سرونه ټيټ کړي وو. ژوندون ټلوېزيون تر هر څه وړاندې د جنګسالارانو د خپل سيرت او صورت، خپلې وينا او عمل له مخې (تصوير خبرې کوي) پروګرام کې له کومې تبصرې پرته د هغوی واقعي څېره د هېوادوالو مخې ته کېښوده، دې کار د جنګسالارانو او د هغوی د غوړه مالانو غوصه راوپاروله او ان خبره پر ژوندون د بريد تر کچې ورسېده، ولس له خپل ژوندونه ملاتړ وکړ او ژوندون د رښتيا ويلو لړۍ لا پسې وغځوله، کله چې ملي تحريک جوړ شو، نو د ملي شخصيتونو، ملي ورځو او ملي ارزښتونو د نمانځنې لړۍ پيل شوه، ژوندون ټلوېزيون، ملي تحريک او نورو کلتوري، مدني ټولنو او ملي خوځښتونو په ګډه هڅه پيل کړه چې د ملي ورځو او ملي شخصيتونو د نمانځنې لړۍ دې پيل شي. درې کاله مخکې مو پر همدې ورځ، په همدغه ځای کې د خپلواکۍ د نمانځنې غونډه جوړه کړه، دا داسې مهال و چې د تېر ائتلافي حکومت مشرتابه په ټوله حکومتي کچه ددې جرئت نه درلود چې د خپلواکۍ ورځ په شاندارو مراسمو سره ونمانځي. يو کال وروسته د حکومت په ځانساتو چارواکو او ځينو نورو رسنيو کې هم لړ ساه وغوړېده او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواکۍ ورځې ته يې يو څه پام وکړ، خو بله ملي ورځ د سنبلې (۹ )مه نېټه (له پښتنو او بلوڅو سره د پيوستون ورځ) لکه څنګه چې په کار وه، نه نمانځل کېده، نه حکومت او نه هم نورو رسنيو په دې برخه کې کوم با جرئته ګام اوچت کړ، ملي تحريک تر پنځوس کلن څنډ وروسته (پښتونستان واټ) کې د هغه له استحقاق سره سم د هغه لپاره لوحې جوړې او پر خپل ځای يې نصب کړې او همدارنګه د هېواد په يو شمېر نورو سيمو کې يې د هغو له قانوني او رسمي نومونو سره سم يې د هغو لپاره سرلوحې جوړې کړې. دا مهال نو که تنګنظرو، پرديپالو، ملت ضد عناصرو، ځانساتو او د مېړې پر مزله روانو احتياط کارو هر څومره پر موږ پسې بدو رد وويل، خو موږ د حقانيت لمن نيولې وه، خپلې ملي مبارزې ته مو دوام ورکړ، پر خپله تولنه مو ناروا، نا مشروع او ناقانونه حاکم جريان مات کړ او د ملي ارزښتونو د ځلولو لپاره مو يوه دريځه ببرته کړه.

نن د لوی خدای (ج) په فضل اکثره هېواد مېشتي او بهر مېشتي افغانان د حالاتو د ترينګلتيا او د ستونزو له زياتېدنې سره سره، په ډېر جوش او خروش سره د هېواد د خپلواکۍ ورځ په شاندارو مراسمو سره نمانځي، حکومت کې هم يوازې په دې برخه کې څه ناڅه د سرېتوب څرک پيدا شوی، سږ کال نه يوازې په ولسي کچه بلکې په حکومتي کچه هم د دې ورځې د نمانځنې لپاره ښه ترتيبات نيول شوي دي. په کابل، ننګرهار، خوست، لوګر، بلخ، هرات، پکتيا، کندهار، لغمان او اکثرو ولايتونو کې ترتيبات په دې ډول دي چې په (تېرو پنځه لسو) کلونو کې يې ساری نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدل شوی، موږ د حکومت دا کار ستايو او له ولس څخه هيله کوو چې حکومت ته نورې هم د جرئت ګولۍ ورکړي او د ډار د رد تعويذونه ورته غاړه کې واچوي چې د ملي ارزښتونو د ځلولو په برخه کې له هيڅ څخه ونه ډار شي، خو حکومت ته لا ډېر کارونه هم په مخ کې پراته دي، چې دنده او مسؤليت يې ګڼل کېږي او دا د دې مانا نه ورکوي چې دا نمانځنه به د هغو نورو ارزښتونو د مخنيوي سبب کېږي او يا به هغو ته پاملرنه نه کېږي. دلته غواړم د همدې مهمو کارونو له جملې څخه د ځينو يې لنډه يادونه وکړم.

۱- **برېښنايي تذکرې:** له هغې ورځې چې د برېښنايي يا د هويت د تذکرو د جوړښت، چاپ او وېش موضوع مطرح شوې، نو له همغې ورځې زموږ ټولو هېوادپالو او اسلامپالو هېوادوالو د هويت په تذکره کې د اسلاميت او افغانيت د تثبيت غوښتنه کړې، لاريونونه، غونډې، احتجاجونه، له اړوندو چارواکو سره کتنې، قانوني لارې چارې او ټول ممکنه امکانات چې د ولس د خواخوږو لاس کې وو، هغه ټول وکارول شول. د ولس د رښتينو بچيو همدې هلو ځلو زموږ عقيده يې هويت (اسلام) د توطيو د ښامار له ستوني راوويست او د هويت په تذکره کې يې ځای کړ، خو ملي هويت مو د پخوانيو چارواکو د بې کفايتۍ، مضر احتياط او د اوسنيو چارواکو د بې جرئتۍ، ډار او مضر مصلحت له امله لا هم خپل حقوقي مقام ته نه دی رسېدلی. که څه هم اوسنيو چارواکو د ژمنو يوه اوږده لړۍ تېره کړې، خو پر خپل تعهد يې وفا نه ده کړې، موږ له همدې ځايه اوسنيو چارواکو، مفکرينو او نا مفکرينو، ځان ساتو او پرديساتو او ټولو اړوندو چارواکو ته اخطار ورکوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتـه وايـو چې د هويت پـه تـذكره كې اسلاميت او افغانيت زموږ سره كرښه ده، له دې څخه په هېڅ وجه تېرېدلاى نه شو، پـه ډاګـه يـې د نړۍ اول، دويـم، درېيم او څلورم مفكـر تـه وايـو چې پـه دې برخـه كې ژور فكر وكړي، ژر تر ژره دې له اساسي قانون سره سم د هويـت پـه تذكره كې د افغان كلمه ذكر كړي او كه نـه نو ددې سست او پـڅ حكومت تخت او بخت چپه كول، خو دې غيـور ملت تـه هېڅ هم نـه دي. د عوامو خبره ((يوه كپه نسوار هم نه دي)).

**۲- د انتخابـاتي اصـلاحاتو كميسـيون:** د انتخابـاتي اصـلاحاتو كميسـيون يـو ناقانونـه كميسـيون دى، هـېڅ قـانوني اساس نـه لـري، د دوو هغـو كانديـدانو پـه خوښـه جـوړ شـوى، چـې دوارو پر يو بل باندې د بې كچې درغليو تورونه پـورې كـړي، نـو لـه هغو اشخاصو څخه چې پـه انتخاباتو كـې د درغليـو تـور ورپـورې تړل شوى، له هغوى څخه څنګه هيله كېدى شي چې هغـوى دې د يـو بل ناعادلانه، نا انډوليز او نا مسلكي كميسيون له لارې قـانوني او عـادلانه ټاكنو ته لاره اواره كړي. كه د سمون خبره مطرح وي، نـو ښـه خو داده چې په اوسنيو انتخاباتي كميسيونو كې سمون راشـي، نـه دا چې د يو ناقانونه كميسيون له لارې د قانوني اصلاحاتو پـه پلمـه ناقانونه هڅو ته لاره اواره شي. د اوسني كميسـيون تركيب تـه چـې سړى ګوري، نو هلتـه سړي تـه د مفكر او نـورو مفكرانـو د فكـر پـه بـاب ډول ډول فكرونـه پيـدا كېـږي چې دا څنګـه مفكـر دى چې دې حساسې مسلې ته يې فكر نه دى كړى.

**۳- جهـاد او فسـاد:** جهاد د ټولو افغـانـانو ويـاړ او افتخـار دى، د ملت تقدس دى، دولـت تـه پـه كـار دي چې د مجاهد او فسـادګر تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ سره کرښه راکاږي، لعل او کوټي لعل سره جلا کړي، د جهاد رښتيني څېرې او د جهاد ټيکه داران سره بېل کړي د رښتينو مجاهدينو عزت او قدر بايد وشي او د سوداګرو مخه بايد ډب شي. هغوی چې جهاد کې يې سرونه نذرانه کړل، د هغوی نه نوم معلوم دی نه يې نښان، نه يې قبر شته، نه ځلی، خو هغوی چې د جهاد په کلونو کې يې غاښونه نه وو شنه کړي، څوک په ورنې کې وو، څوک په سوځوني کې، څوک په زانګو او څوک په خاپوړو کې، هغوی اوس د جهاد پر معنوي او مادي امتيازاتو خېټه اچولې ده. د دغه ډول سوداګرو مخه بايد ونيول شي.

۴- مقاومت او ديموکراسي: د مقاومت او ولسواکۍ له اصطلاحاتو هم ناوړه ګټه پورته کېږي، ځينې د خپل خيانت او جنايت د پټونې لپاره د (مقاومت) اصطلاح تر تقدس او ان تر جهاده هم پورته مقام ته رسولې، د دې کلمې تر شا په کتلوي ډول د جنګسالارانو يوه کتله پټه ده، يو خاص تنظيم او خاصه ډله له دې کليمې څخه ناوړه ګټه پورته کوي، د دوو جګړه مارو تنظيمونو تر منځ د يوې خوا جګړې ته د (مقاومت) او بلې خوا ته د (ملامت) نوم ورکول د عدالت د مسير خلاف حرکت دی، تنظيمي جګړې ته هېڅ ډول توجيح نه شي پيدا کېدی، حکومت بايد له اساسي قانون سره سم د اتباعو د تساوي اصل ته پاملرنه وکړي، عبادات له معاملاتو سره معامله نه کړي.

د ديموکراسۍ اصطلاح هم همدا ډول ده، په دوو پخوانيو جهادي څېرو کې يو يې تروريست او بل يې د ديموکراسۍ مخکښ معرفي کېږي، که پخوا يې د خلکو په سرونو کې مېخونه هم ټکوهل، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د بشـر د حقوقـو ، د ښځو د حقوقـو او د بيـان د ازادۍ پټـې پـه همدغو ښاغلو پرې کېږي او د غونډو ، خوږه هم دوی تقسـيموي. د دغسې جعلي او تصنعي، څو روله څېرو مخه بايد ډب شي.
نورې خبرې هم ډېرې دي، خو نه غواړم خپلې خبرې اوږدې کـړم. پـه پای کې پـه لنډيز سره وايم چې موږ هم د حکومـت اصلاح غـواړو او هم تـداوم ، د حکومـت د سمون، غښـتلتيا او پياوړتيـا پـه لټـه او فکر کې يو ، حکومت هم بايـد د خپلې بقا او بيـا وړتيـا لپـاره کـار وکـړي، خپلې ژمنـې عملـي او خپـل ملـي هويـت خونـدي کـړي، اقتصـادي پلانونــه جـوړ او پلـي کــړي، پــه خپـل سياسـت کــې انحصاري حالت له منځه يوسي. پوځ، انتخاباتي بنسټونه ، عـدلي او قضايي ارګانونه په بشپړ ډول بېطرفه کړي، خپل شخصي قهر او غوصه په عملي کار او تفکر بدلـه کړي، سـهامي شرکت تـه د پـای ټکی کېږدي، باغي واليـان او جنګسـالاران دې د دولـت د قـوانينو تـابع کـړي، د سـولې د بهيـر د تضـمين لپـاره دې پـه حکومـت کـې اصـلاحات راولـي، پاکسـتان او نـورو ګاونـډيو سـره دې د واضـح سياست له مخې پر مخ لاړ شي. د نړيوالو مرستې دې راجلب کـړي، اسلامي هېوادونو په تېره بيا عربي نړۍ سره دې خپل اړيکي ټينګ کـړي، لـومړی دې قـانون پـر خپـل ځان او بيـا پـر خپلـو ليکـو عملـي کــړي، د تنظيمــي او ســهامي وېـش لــه مخــې دې د بــې کفايتــه مشـاورينو لسـت راکـم کـړي او خپلـو وړ مشـاورينو تـه د مشـورې وخت او صلاحيت ورکړي.
ولسمشر بايـد لـه جزيـاتو څخـه کليـاتو تـه راشي او داسې نـور مهـم کارونه بايد تر سره کړي او که دا ونه کړي نو بې ځايه او تېزې منډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي نه وهي چې لار د ډېره کنډو کپړ ده، پښې، غاښونه او سرونه ټول په کې ماتېږي، بیا یې د رغېدو امکان نه شته. خپلو رښتینو انډیوالانو سره دې هم په راستۍ وچلېږي که نه نو د هغوی راستي به یې ووهي بیا به ارمان کوي او ګوتې به مروړي او وایي به چې: ((د رغېدو امېد مې نه شته، زه د اشنا روغې راستۍ وهلی یمه)).

په پای کې غواړم د غازي امان الله خان د مقبرې د جوړولو لپاره ځانګړی وړاندیز وکړم. د افغانستان ټول مطرح انجنیران دې سره جرګه شي، د امان الله خان د مقبرې لپاره دې داسې یوه طرحه جوړه کړي چې مسجد، کتابتون، موزیم او نورې ټول اړتیا وړ ودانۍ دې ولري او ترڅنګ دې غازي امان الله خان بڼ زرغونتیا او ښکلا ته هم زیاته پاملرنه وشي. لومړی له حکومت او بیا له ملي سوداګرو څخه هیله لرو چې د غازي امان الله خان د مقبرې د نقشې تر بشپړاوي وروسته د هغې د ودانولو عملي چارې پیل کړي. د دې ترڅنګ دې د سراج العمارت ودانۍ بشپړه ورغوي، د ملي ګالرۍ، ملي موزیم او ملي ارشیف بڼه دې ورکړي.

د دې غونډې د جوړولو په چارو کې پرځان لازم بولم چې له ښاغلي هاشم هاشمي، احسان الله کامه وال، حاجي عبدالقیوم پردېس، حاجي زلمي، ښاغلي غلام نبي فراهي، حاجي مطیع الله، څرېڼ هدايي او نورو دوستانو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې له موږ څخه یې خپله مادي او معنوي مرسته ونه سپموله.

د ملي او اسلامي هویت د ځلا او بریا

او د افغان ولس د بشپړې خپلواکۍ او سوکالۍ په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تراژیدۍ کې لمانځنه او یادونه

د (۱۳۹۴ل) کال د سنبلې پر (۹)مه نېټه د ملي تحریك او ژوندون ټلوېزیون له خوا له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون د ورځې په ویاړ په ژوندون ټلوېزیون کې یوه درنه غونډه جوړه شوې وه، ما دې غونډې ته وینا وکړه چې لیکنۍ متن یې دلته وړاندې کېږي.

## بسم الله الرحمن الرحیم

تر هرڅه وړاندې ټولو قدرمنو مشرانو، ځوانانو، دولتي چارواکو د لر او بر افغان مخورو شخصیتونو ته درناوی او د زړه له تله سلامونه او احترامونه!

په تېره بیا له مقبوضه افغانستان څخه راغلو قدرمنو مشرانو! اورنګزېب کاسی صیب، امان الله امان، ریاض بنګښ صیب، ریاض مروت صیب، طارق رحیم صیب، حسینه ګل تنها خور، نایاب صیب، ناښاد صیب، قدرمن ورور صادق ژړك، اتمانخېل صیب او نورو دوستانو ته ځانګړي سلامونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارم په مستقیم ډول اصلي موضوعګانو ته راشم او ستاسو قدرمنو په شتوالي کې څو مهمې مسلې وړاندې کړم.
**ددې ورځې یادونه او نمانځنه څه مانا؟**: ځینو خلکو ته دا خبره بابیزه، بې تفاوته او کم ارزښته ښکاري چې څوك خپل ملي ارزښتونه پالي، د خپل هېواد تېر او هېر تاریخ ژوندی کوي او اصل ته د کتنې پر ارزښت ټینګار کوي، دوی وایي، والله نو موږ په څه غم کې یو، دوی په څه غم کې دي. دوی ته خپل غم، غم ښکاري او د نورو په غم غمجن نه دي، له سترو انساني ارزښتونو سره ددې ډول اشخاصو ډډه نه لګي.

**زړه یې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی**
**په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي**

د بې تفاوتۍ، تنګنظرۍ، ډار، پردیپالنې او نورو ناروغیو په دغسې یو ګرداب کې چې هرڅوك سترې هېوادنۍ مبارزې ته وردانګي، نو هغوی به طبعاً له ډېرو ستونزو سره مخامخېږي. په یوه انسان کې د مانا او مفهوم توپیر همدغلته څرګند یږي.

**ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ**
**واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي**

موږ درې کاله وړاندې د بې تفاوتۍ او بې جرئتۍ همدغه سکوت مات کړ، هم مو په پښتونستان واټ کې د پښتونستان لوحې نصب کړې او هم مو د هېواد د خپلواکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورځې ترځنګ له پښتنو او بلوڅو سره د پیوستون ورځ ونمانځله او دادی د اوږده وهم په ماتولو سره دې لړۍ ته دوام ورکوو. اوس زموږ ملي جرئت او حرکت قوت موندلی، خو دا حرکت لاهم نور قوت او انسجام ته اړتیا لري.

**د تراژیدۍ تداوم:** نړدې ځلوېښت کاله کېږي چې افغان ملت په تېره بیا پښتون ولس په یوه څو اړخیزه تراژیدۍ کې راګیر دی. پښتون په قصدي ډول سیاسي انزوا ته ټېلوهل کېږي، له اقتصادي فقر سره مخامخېږي، د تعلیم له نعمته بې برخې کېږي او له نورې نړۍ سره یې قصداً د ټکر زمینه برابرېږي. دا ټول د یوې اوږدې ستراتیژۍ برخه ده، پښتنو سیاستوالو ته په کار دي، ددې اوږدې تراژیدۍ د ستراتیژۍ ژورتیاوو ته پام وکړي او د هرې غمیزې د مخنیوي لپاره خپل خپل پلان ترتیب کړي، د تراژیدۍ په بهیر کې د ملي روحیې پیاوړتیا هغه درملنه ده چې وخت پر وخت یې کارول په کار دي.

**د کار سرونه:** هر کار ته د کار سړي په کار دي. زموږ دښمن دې ټکي ته زیات متوجه دی، غواړي له موږه د کار سرونه واخلي، لومړی یې په بېلابېلو رنګونو او تورونو رنګ، د ژوند او سیاسي فعالیت ساحه یې راکمه او بیا یې له فزیکي پلوه هم محوه کړي. دوی نه غواړي چې دلته څوک سر پورته کړي، د هر سرلوړي د سر وروستی سر دار ته رسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا چې ځېږي مخامخ درته په دار سرونه**
**په دې وطن کې بس همدغه وو د کار سرونه**

یوازې په تېره یوه لسیزه کې په لر او بر افغانستان کې تر شلو زرو زیات د کار سرونه له کار ایستل شوي او تر داره رسېدلي دي. که دا غمیزه د دنیا پر بل هر قوم راغلې وای، نو د قوم او ملت په نامه به یې نوم او نښان نه و پاتې، خو افغان ملت او پښتون ولس داسې یو مقاوم ملت دی چې د ډېرو سختیو په مقابل کې هم خپل زغم او اوسېله له لاسه نه ورکوي.

**لا ژوندي یو لا د کار سري لرو**
**لا د ستورو په مدار سري لرو**

نو اوس نه یوازې زموږ د کار د سريو د خوندیتابه اړتیا ده، بلکې د نویو سريو او نوي پښت د روزنې او پالنې لپاره هم سخته اړتیا ده. موږ باید دې بهیر ته ډېره پاملرنه وکړو.

**د ډیورنډ کرښه:** تر (سلو زیات) کلونه وشول چې ډیورنډ مړ دی، خو مصنوعي اولادونه او خپلونه یې پاتې دي. د انګرېز تصنعي نسل دلته او هلته کله کله چغه پورته کوي چې افغانان دې د دوی د نیکه توره کرښه ومني. ډیورنډ خپل تر اصلي انګرېزه هم څو ګامه وړاندې ځي، ان د افغانستان په پارلمان کې د ډیورنډ د تورې کرښې د په رسمیت پېژندلو چغې وهي، یو شمېر (سیاسي خپل) په (ډیورنډ خپلو) ورګډ ېږي، هغوی هم زموږ د لوی هېواد پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینه د ډیورنډ د وېش تنابونه راکاږي. موږ دې ډول تالیڅتو ته د خپل ملي احساس له مخې وایو چې لاس مو تر لندنه خلاص، دا ارمانونه به ګور ته یوسئ، دا ډول اشخاص چې د ډیورنډ په نامه نه شرمېږي، نو د دوی د ایمان کچه به څومره وي.؟

پر احساس سربېره د ژور تفکر له مخې یادونه کوو ، اوس ددې وخت نه دی چې موږ له انګرېزه، د هغه له برګتهي او نورو برګتهیانو سره په دې باب بحث وکړو او یا هم اوسني اوه سري حکومت ته ددې صلاحیت ورکړو چې زموږ د ولس په استازۍ زموږ د هویت له قاتل او د خاورې له وېشونکي سره د یوه لوري په توګه کېني. دا مسله باید تر هغې پورې پر همدې حالت پرېښودل شي چې زموږ له ولسه د جګړې لمن ټوله شي او موږ له خپل اصلي سیال (انګرېز) سره د معادلې یوه برخه شو. تر هغه وړاندې د نا انډولۍ په حالت کې په دې باب هر ډول حقوقي بحث په خپله د خپلو حقوقو د ځپلو مانا ورکوي.

**اوسنی حکومت:** اوسنی حکومت په تېره بیا دولتمشر یې، چې په مجموعي ډول د ټولو افغانانو او په تېره بیا د پښتنو د انتخاباتي حماسې په برکت له ناعملي تفکر سره سره، د دولت د لومړۍ څوکۍ مقام ته ورسېد. نو دې مقام ته په رسېدو سره یې خپل پلویان، مینوال او خپل ټول ملت له ځانه دومره لرې کړ چې له بل هېڅ واکمن سره د پرتلنې وړ نه دی. مفکر د تصنعي تفکر د غرور پر اس سور شو او لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلي کسان ورته ټول ساده ګڼان ښکاره شول. په دغسې يو حالت کې چې ملت له حکومته پوره واټن لري، دا حکومت په تېره بيا مشرتابه يې ددې وړتيا او مشروعيت نه لري چې د ټول ملت په تېره بيا د پښتنو استازي وکړي. موږ يو ځل بيا دې نامتجانس حکومت په تېره بيا دولتمشر ته په ډاګه اعلانوو چې نه نور ته ښاغلی د ملت په درد لګېږي او نه ملت تاسره کومه لېوالتيا لري. تاريخ تېری درمل نه په کارېږي او د استعمال اضرار يې هم ډېر دي. پر قوم، ملت او قانون باندې تر دې زياتې ملنډې وهل بس دي، هر څه يو حد لري. موږ له دولتمشره غواړو چې خپل سر زوري واليان او نور جنګسالاران مهار کړي، د خپل مرستيال مخه دې ونيسي چې د طالب، داعش او القاعدې په نامه نورې فايدې پورته نه کړي. د اکثريت له عام وژنې (جنوسايډ) څخه دې لاس واخلي، خپل رسمي مکلفيت، حد او حدود دې وپېژني، عجيبه خبره ده د دفاع او کورنيو چارو وزير يې په کوټه او جلسه او مرستيال يې په جبهه کې. جنرال دوستم کې اوس هم خپل ځينې هغه پخواني خصلتونه پاتې دي.

**ټاکنيز کمېسيونونه:** هغه مهال چې ډاکتر اشرف غني احمدزی ولسمشرۍ ته نوماند و، نو زموږ د ملاتړ يو شرط دا و چې د برياليتوب په حالت کې به پوځ له تنظيمي حالته باسي، انتخاباتي کمېسيونونه به ناپېيلي کوي، عدلي او قضايي ارګانونه به په بشپړ ډول خپلواکۍ ته پرېږدي او د اسلاميت او افغانيت داعيه به پرمخ وړي، ده دا ټول ومنل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې واك ته ورسېد ، ددې ټولو ژمنو خلاف عمل یې ترسره کړ، پوځ تر ډېره حده همغه تنظیمي بڼه لري، عدلي او قضایي ارګانونه خپلواك نه دي، د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون د جګړه مارو تنظیمونو او متعصبو افغان ضد کړیو له افرادو ډك شو. له قومي پلوه اشرف غني پښتنو ته تر هغې کچې په سپك نظر وکتل چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی، له څوارلسو تنو څخه دوه تنه یانې په سلو کې (۱۳) سلنه پښتانه د انتخاباتي اصلاحاتو په کمېسیون کې ځای لري، چنګېزخان هم د پښتنو حقیقت او واقعیت دومره تر پښو لاندې کړی نه و، پښتانه یې مخالفین وو، خو د سیال په سترګه یې ورته کتل. اوس چې له دې متعصب، کرکجن، ناعادلانه، تنظیمي او اکثریت ضد انتخاباتي کمېسیون څخه هره منفي نتیجه راوځي، دولتمشر او د هغه بې زړه ټیم په مستقیم ډول په دې ګناه او خطا کې شریك دی. زموږ ولس په هېڅ وجه دې ته حاضر نه دی چې ددې ښاغلو د نورو ګناهونو کفاره ورکړي. همغه سزا یې بس ده چې په ټاکنو کې یې له دې ښاغلي مفکر څخه پر سر او مال ملاتړ وکړ، دا ملت نورې جفا او سزا زغملو ته حاضر نه دی.

دښمن په زوره ننوت په کور د پښتانه
خو دغه کار یې هم وکړ په زور د پښتانه

**اسلامیت او افغانیت:** د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د تسجیل په خاطر ددې هېواد رښتینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچیانو له همغه پیله تر دې دمه خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، اسلام یې د اسلامیت د مخالفینو د وهم د ښامار له خولې راوویست، د هویت په تذکره کې یې تسجیل کړ او د افغانیت لپاره یې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، ډاکتر غني هم د تېر ولسمشر په شان د افغانیت د تسجیل په خاطر ژمنې وکړې، خو تر دې دمه یې هېڅ عملي او قانوني اقدام ونه کړ. اوس دولتمشر هم د دولت له فاسدو کشرانو څخه دومره وېرېږي چې په خپله هویت پاڼه کې ځان ته افغان نه شي لیکلای. د ضعیف او قومي ایمان ترمنځ د برید کرښه همدلته معلومېږي، چې یو څوك د افغانستان پر لوړ مقام ناست او له افغانیت څخه ننګه او ملاتړ نه شي کولای. نو سړی به نور چا ته وژاړي، د ښاغلي غني یو شعار دا و چې هېڅ افغان له بل افغان څخه کمتر نه دی او هېڅ افغان له بل افغانه برتر نه دی. نو اوس چې د افغان کلمه د هویت له تذکرې څخه حذفېږي، دی مجبور دی چې ووایي: ((هېچ چیز از چیز دیگر کده کمتر نیست و هیچ چیز از چیز دیگر کده برتر نیست.))

دولتمشر حق نه لري چې ځان ته افغان ولسمشر ووایي، ځکه هغه ولس چې ولسمشر یې نوم په هویت پاڼه کې نه شي لیکلی، نو دا امتیاز هم باید ورڅخه واخیستل شي. موږ ښاغلي مفکر ته په ډېر سړیتوب سره یادونه کوو چې دې ولس ته په ټیټه سترګه مه ګوره، همدا ولس و چې ته یې دومره لوړ کړې چې اوس لاندې هېڅ شی په سترګو نه درځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ هېڅ‌چاته اجازه نه ورکوو چې ملي هویت مو هم لکه دولتي څوکۍ په معاملو، ځانساتنو، سرتېرو او غوړه مالیو ووېشي او ملت متفرق کړي.
د ښاغلي دولتمشر ترڅنګ ددې سهامي شرکت بل ونډه وال وزیر صاحب ښاغلي نورالحق علومي ته هم وایو چې هویت ستاسو د ښاغلو شخصي مال و متاع نه دی، چې موږ یې ستا په شان له بې دریځه اشخاصو څخه غواړو، یو وزیر چې د (ملت) او (مملکت) په توپیر او تعبیر نه پوهېږي، له هغه څخه د ملت د ملاتړ هیله څنګه وشي؟ دا چې دا ښاغلی وایي دلته پورته لیکل شوي (د افغانستان اسلامي جمهوریت) نور هېڅ شي ته ضرورت نه شته، ښاغلیه ستاسو ضرورتونه او د ملت ضرورتونه توپیر کوي، ستا ضرورت وزارت و چې په ډېرې بدرنګۍ او معاملو ورته ورسېدې، خو هویت د ملت ضرورت دی. که د تذکرې پر لومړي مخ افغان ولیکل شي، نو ستا پر کور به څه اور بل شي؟ پردیپالنه، ملت هېرونه هم یو حد لري، یو ځل پخوا هم یوې ډلې دا ډول تجربه وکړه، خو ملت ته په ډېر زیان تمامه شوه، تاسو چې د همغو تېرو عملونو کفاره ورکړئ او خپل غیور افغان ملت ته د احترام سر ټیټ کړئ، نو ایله به مو د تېرو تېروتنو پېټی یو څه کم شي، نه دا چې د ملت پر زخمونو نورې مالګې ودوړوئ، ستر جنرال، ډګر جنرال، تورن جنرال دا جنرال او هغه جنرال، لوړې رتبې، خو د کار درك نه لګي. زموږ د پوځ تنکي ځوانان، سرتېري او ځوان صاحبمنصبان هره ورځ ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد لپاره قرباني ورکوي، خو يو شمېر لوړپوړي چارواکي يې د اعاشې، اباطې، روغنياتو او مهماتو پيسو ته سترګې پټې کړې وي، په مليياردونو افغانۍ په يوه قرارداد کې غلا کېږي، لوړې رتبې او ټيټ کارونه، د يوه افغان له شان سره نه ښايي. طالبان نه رتبه لري، نه څوکۍ، نه يې هوجره معلومه ده، نه ډېره او نه هم پوځي پوړۍ او تعليم لري، خو د همدغو لوړپوړو چارواکو د بې کفايتۍ له امله هره ورځ يوه ولسوالۍ نيسي او زموږ تنکي تنکي پوځيان په کې قرباني کېږي. تاسو ښاغلی لومړی، باغران، دانګام، موسی کلا، نازيان، اچين، ګوشته او نورې سل ولسوالۍ فتح کړې، بيا تذکره وويښه، نو د دې ګرمې حلوا له وېش څخه دې موخه څه ده؟ هدف ټولو ته څرګند دی، يوازې او يوازې د هويت ختمول. لعنت دې وي پر هغو چارواکو چې نه يوازې له خپلې خاورې او هويت څخه دفاع نه شي کولای، بلکې شرمېږي پرې هم. دوی چې پر هويت شرمېږي زموږ ټول هېوادوال ان کاڼي او بوټي پر دوی شرمېږي.

درنو هېوادوالو! ځينو خلکو سره دا پوښتنه او اندېښنه ده، که چېرې په تذکره کې د افغان کلمه ونه ليکل شي، نو موږ يې نه اخلو! نه ورونو خبره بايد سپينه او واضح وشي. موږ د هويت په تذکره کې د اسلام او افغان دواړو کلمو ليکل غواړو او بيا تذکره اخلو. دا نو بيا د افغانيت او اسلاميت د دښمنانو کار دی چې دا تذکره اخلي که نه يې اخلي، نور نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د ولس د زغم، اوسېلې او پرله پسې ښه سرېتوب د صبر کاسه ډکه شوې ده.

ښاغلي دویم، درېیم او نورو مفکرینو ته یو ځل بیا یادونه کوو چې ژر تر ژره د هویت د تثبیت مسئله حل کړئ، که نه نو د ولس له داسې غبرګون سره به مخامخ شې چې بیا به ددې سست، پخ، نا متجانس او متضاد حکومت مراندې داسې سره وشلېږي چې هېڅوك به یې د راټولولو جوګه نه وي.

موږ نه غواړو چې حکومت ړنګ شي، موږ غواړو چې هم حکومت پیاوړی شي او هم اصلاح شي، خو همدا ځینې چاروکي دي چې د ریښتیني ملي حکومت، ریښتیني پوځ د جوړېدو، غښتلتیا او پیاوړتیا مخه یې نیولې ده. هغو ملتپالو افغانانو څخه هم په ټینګه غوښتنه کوو چې ملي احساس لري او د دولت پر لوړو څوکیو کار کوي، دوی څخه هم غواړو چې نور نو له خولې څخه د ډار مشنګ لرې کړي، د افغانیت او اسلامیت د داعیې لپاره راودانګي او دا غیرتي ولس له بې زړو او ډارنو چاروکو څخه وژغوري. دې کار کې مو د دین او دنیا دواړو ګټه نغښتې ده.

**ملي مناظره:** د انتخاباتي کمپاین پرمهال دواړو او په ټوله کې ټولو نوماندانو بېلابېلې مناظرې وړاندې کړې. ښاغلي ډاکتر غني، ښاغلي ډاکتر عبدالله ته هره ورځ د یوې لویې مناظرې وړاندیز کاوه او هغه به د جانانه مناظرې وړاندیز. اوس ددې وخت رارسېدلی دی چې ددې مشترك پنځوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

سليز حکومت دواړو مشرانو باندې غږ وکړو چې که د دوی په اوړو کې شګه نه وي، نو د ملي هويت پر سر دې د وضاحت، سلامت او ملامت د معلومولو لپاره يوې پراخې ملي او ديموکراتيکې مناظرې ته حاضر شي، چې حقيقت څرګند شي، که د ملتپالو هېوادپالو او اسلامپالو افغانانو داعيه په حقه نه وه، نو هغوی به له خپلې داعيې څخه تېر شي او که دوی کوم دليل او منطق نه درلود، نو بيا دې د ملت غوښتنې ته غاړه کېږدي.

د هېواد د ملي او اسلامي هويت
د ځلا او بريا او له امو څخه تر اباسينه پورې
د لوی او غښتلي افغانستان د جوړېدو په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامیت، افغانیت او ملي اجماع

دا لیکنه ما د اسلامیت او افغانیت په ملاتړ د ملي اجماع تر نامه لاندې یوې پراخې غونډې ته لیکلې وه، چې د غونډې د برخوالو په استازۍ او همدارنګه د یادو ارزښتونو د ملاتړ لپاره د پراخ لاریون د یو تن فعال له خوا واورول شوه. د اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره د (۱۳۹۴ل) کال د وږي پر (۱۴)مه نېټه د پراخو مظاهرو لړۍ پیل شوه. په کابل کې تر لوی لاریون وروسته د همدې میاشتې پر (۲۶)مه نېټه د ملي اجماع غونډه جوړه شوه او په ولایتونو کې لا د مظاهرو لړۍ دوام پیدا کړ.

بسم الله الرحمن الرحیم

درنو او قدرمنو مشرانو! ځوانانو، د سیاسي، ټولنیزو، ملي او مدني خوځښتونو استازو، قومي مخورو، دیني عالمانو او ټولو ګډونوالو ته تر هر څه وړاندې السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته وایم!

د اسلامیت او افغانیت په ننګه ولاړو ځوانانو، مخورو او ددې پرتمینې غونډې ټولو برخوالو! اجازه راکړئ تر هر څه وړاندې ستاسې په استازۍ ستاسو د ورونو او عزیزانو له هغو سوله ییزو مبارزو او اتلولیو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې له تېرو دوو دوه نیمو کلونو او په تېره بیا په تېرو نږدې شلو ورځو کې یې د هېواد په تاریخ کې ثبت کړې. بیا غواړم له هغو خویندو، میندو او پلرونو څخه مننه وکړم چې د سرو مرمیو باران، انفجار او انتحار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې ونه کتل، خپل ورونه او اولادونه يې د سوله ييزې مبارزې او د حق پالنې ډګر ته راوايستل او د اسلاميت او افغانيت په ننګه يې ميدان ته راودانګل. له دوی ټولو څخه مننه، مننه او بيا هم مننه.

له کابل څخه مننه، له کندهار څخه مننه، له پکتيا او ننګرهار څخه مننه، له کونړ او کندوز څخه مننه، له زابل او هلمند څخه مننه، له فراه او هرات څخه مننه، له بادغيس او نيمروز څخه مننه، له ميدان او لغمان څخه مننه، له خوست او بغلان څخه مننه، له بلخ او غزني څخه مننه، له بهر مېشتو افغانانو له هند مېشتو، ډنمارك مېشتو، لندن مېشتو او نورو بهر مېشتو افغانانو څخه مننه چې په يوه غږ يې د حق ناره پورته کړه، نه ورسره ټوپك و، نه توپ، نه ټانك نه الوتکه، تش لاس او د تکبير ناره. نه يې په ښار کې څوك په تکليف کړل، نه يې څوك ټپيان کړل، نه يې څوك ووېرول، يوازې د خپل مدني حق اواز يې اوچت کړ. څه شول هغه ښاغلي چې څلوېښت کاله کېږي په کور دننه او بهر يې پر دې عظيم ملت د وحشت، دهشت او بې کلتورۍ تورونه پورې کول، د چا په لاس کې ټوپك و؟ د چا په لاس کې چاقو و؟ د چا په لاس کې ماشينګڼه او چا له ځانه زغروال وسايل تاو کړي وو؟ ټول تش لاسي ولس و، خو د ايمان او عقيدې په وسله سمبال و.

درنو هېوادوالو! د خواشينۍ او افسوس خبره خو داده چې د ملت له دومره فريادونو، مظاهرو او غږونو سره سره بيا هم حکومت د بې کفايتۍ، بې تفاوتۍ او لټۍ پر داسې درانه خوب ويده دی، چې د رد او يا هم د تائيد ځواب نه لري. د خپل ملت او په تېره بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو طبیعي پلویانو پر وړاندې دومره بې تفاوتي د نړۍ په سیاسي تاریخ کې سارې نه لري.

غیور افغان ولسه! په اوسني حکومت کې پردېپالې کړۍ نه یوازې هڅه کوي چې د افغانانو عقیده یې او ملي هویت له منځه یوسي، بلکې په چل، فریب، مهارت او شرارت سره غواړي د افغان ولس ډېره درنه برخه له سیاسي ډګره هم وباسي. د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون په نامه یې یو خپل خوښې، خپلسرې، تنظیمي او ملت ضد ترکیب جوړ کړی، د اساسي قانون او نورو نافذه قوانینو خلاف یې ناقانونه پرېکړه په ناقانونه ډول په توره شپه کې د تورې پردې شاته د تورو نیتونو په قلم لاسلیکېږي او پر ولس تحمیلېږي.

درنو هېوادوالو! د انتخاباتي اصلاحاتو کمېسیون په نامه د تنظیمي جنګسالارانو خپلخوښې ترکیب داسې یو سیاسي طاعون دی چې د ټول افغان ملت رګونه به ونیسي او که همدا اوس یې مخه ونه نیول شي، نو زموږ ستر ملت به له سیاسي انتحار سره مخامخ کړي. ملت لا د هویت پر تذکرو د واکمنې غمیزې له غمونو نه دی راوتلی چې دوی پرې د انتخاباتي اصلاحاتو په نامه د ټاکنیزو مخدراتو بل ناورین ورتحمیل کړ.

د پورته ناورینونو ترڅنګ امنیت ورځ تر بلې خرابېږي، تر سلو زیاتې ولسوالۍ د دولت له کنټروله وتي، د پاکستان د پنجاب پوځ په کونړ، ننګرهار، کندهار، پکتیا، پکتیکا، خوست او نورو سیمو کې په لسګونو کیلو متره له پخوانیو اشغالي سیمو څخه د هېواد داخل ته راننوتی، داعش بله منفي پدیده ده چې هره ورځ زموږ په لسګونو هېوادوال په بې رحمۍ سره وژني، خو دولت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه پرضد کومه مشخصه سیاسي، پوځي او عملي پالیسي نه لري. اقتصادي فقر او وزګارتیا اوج ته رسېدلې. هره ورځ لړ تر لړه (لس زره تنه) ځوانان له هېواده بهر ته کډوال کېږي. اقتصادي پروژې له سقوط سره مخامخ دي. هره اوونۍ د بیت المال له زېرمې څخه نږدې (۵۰) ملیونه ډالره د افغانیو د ثبات په پلمه د افغانستان بانك څخه ایستل کېږي، خو په هېواد کې پولي ثبات نه ټینګېږي، د ایران او پاکستان د کرنسۍ چلند په چټکۍ سره زموږ هېواد ته غځېږي. خو دولت نه فکري ثبات لري، نه سیاسي، نه مالي، نه اخلاقي او نه هم کوم بل ډول. تر ټولو لا بده خبره داده چې د حکومت سیاسي اخلاق هم دومره کمزوري دي چې نه یوازې پر خپلو نیمګړتیاوو اعتراف نه کوي، بلکې د دروغو او نه عملي کېدونکو ژمنو تنابونه لاپسې غځوي. حکومت د داخلي اختلافاتو او فساد پر داسې نري رنځ اخته دی چې د ولس له ملي او شعوري پاڅون پرته یې د رغېدو مجال نه شته. د یوه نظام مشر چې (۹۹) سلنه خپل سرسختي پلویان پر سل سلنې مخالفینو بدل کړي، تر دې نو د سیاسي مشرتابه د بې کفایتۍ بله بېلګه په نړۍ کې نه ده لیدل شوې.

موږ له اوسني مشترك حکومت څخه د مثبتو کارونو ډېره هیله نه لرو، خو دا ورڅخه په ټینګه غواړو چې نوره خرابي دې نه رامنځته کوي. بې ځایه، بې وخته او مضر قوانین دې نه تصویبوي. پخواني سیستمونه دې نه ړنګوي، پخواني مامورین دې تر هغه پورې نه لرې کوي چې تر هغو ښه یې نه وي پیداکړي.

د هویت په تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت په مسله کې هم پخوانی ولسمشر ملت ته پړ دی، هم ملي شورا او هم اوسنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتمشر. اوسني دولتمشر ته تر يوزر ځلو زيات د ولس پيغامونه وررسېدلي، خو ده پرې سر نه دی ګرولی، خو کله چې دوه جنګسالاران ورته پښې ودربوي، نو بيا هر څه ورته نقد په پوله اېښي دي، اوسني دولتمشر په خپل لاس ستاسو استازو ته قول ورکړ چې د هويت د تذکرو معضله به حلوم، خو پر خپل قول يې هېڅکله عمل ونه کړ. اوس چې ولس لارو او واټونو ته راووت بيا هم لکه د حکومت پر ستوني چې خپسه ناسته وي، اخ و ټوخ يې نه پورته کېږي. داسې لکه مړې تبې چې نيولی وي. موږ ښاغلي دولتمشر ته وايو چې دا هماغه ولس دی چې ته يې له يو څادر سره د ولسمشرۍ مقام ته ورسولې، نه دي ګونډ درلود، نه دې وسلې نه دې پيسې، نه دې غوره ټولنيز او لوړ سياسي اخلاق، خو همدا ولس درپسې شو، په سر او مال يې ته دې مقام ته ورسولې، خو اوس پر ارګ د فرعونيت فضا خوره ده، د ولس فرياد، غږ او چغو ته څوك غوږ هم نه ږدي، داسې فکر هم نه کوي چې دلته هم کوم ولس شته که نه؟

دغه او دغو ښاغلو ته بايد ووايو چې ايا په خپل ټول ژوند کې مو داسې منظمې، سوله ييزې او مدني مظاهرې ليدلي چې ولس دې د خپلو حقه حقوقو لپاره فرياد پورته کړي او چاته دې په کې د زرې قدر ته تاوان پېښ نه شي. په هغو ځايونو کې چې همدا ښاغلي په ټانکونو کې نه شي ګرځېدلی، ولس له ملي بيرغونو سره راووت او خپل اسلاميت او افغانيت يې يو ځل بيا ثابت کړ.

افغان ملت د ټوپك ډېره پخه تجربه لري، چارواکي دې خپل ولس نه مجبوروي چې د وسلې تجربه يوځل بيا تکرار کړي، زما ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غره په شان خوی لري، کاڼي لري، خو چې څوك يې په عذاب نه کړي د کاڼي ګوزار پرې نه کوي.

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوك نه پرې ولم

پــه عــادتونو کــې دا يــو عادت د غره لرمه

يو ځل بيا اوسني حکومت مشرانو ته وايو چې د ولس ارادې ته غـاړه کېـږدي، پـه څـو کرايـي خبريـالانو، ليکوالـو، ميرزايـانو او درباري غـوړه مـالانو د ولـس مخـه نـه شـئ نيـولای. لـه هغـې ورځـې ووېرېږئ چې د ولس لاس ستاسو تر ګرېوانه در رسېږي.

په پای کې يو ځل بيا يادونه کوو چې موږ په هېڅ وجه د اسلاميت او افغانيت له داعيې څخه نه شو تېرېدلای، نـه يـوازې د هويت پـه تذکره کې د اسلاميت او افغانيت تسجيل غـواړو، بلکـې د ټولـو هغو په اصطلاح قوانينو لغوه کېدل غـواړو چې زمـوږ د خلکـو د حقـه حقوقـو د مخنيـوي سبب ګرځـي، لـه حکومتـه غـواړو چـې لـه دقت او سـوچ پرتـه قـوانين تصـويب نـه کـړي، هسـې نـه چې لکـه د تذکرو په شان په نورو قوانينو پسې هم ولس راپاڅېږي.

په درناوي

د اسلاميت او افغانيت په ملاتړ

د لاريونونو د انسجام کمېټې په استازۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا هم اسلامیت،افغانیت او د هویت تذکره

## له اجرائیه رئیس (ډاکتر عبدالله عبدالله) سره د کتنې جزئیات

دا لیکنه د (۱۳۹۴ل) کال د زمري میاشتې پر (۱۹)مه نېټه، له (ډاکتر عبدالله عبدالله) سره د کتنې پر مهال شوې ده.

له هغې ورځې چې د هویت د تذکرو پر سر ستونزې راولاړې شوي، له همغه وخته بیا تر دې دمه پورې موږ ټول جزئیات، که هغه مظاهرې وې، که له پارلمان سره جلسې او جنجالونه او یا هم له سترې محکمې، پخواني او اوسني ولسمشر سره جلا جلا کتنې او یا هم د بېلابېلو ملتپالو او هېوادپالو افغانانو ترمنځ په دې اړه خپل منځي جلسې، نو ددې ټولو جزئیاتو څرنګوالی مو پر خپل وخت له خپل ولس سره شریک کړی دی. په دې ورځو کې د ډاکتر عبدالله عبدالله تر مشرۍ لاندې وزیرانو شورا پرېکړه وکړه چې بربښنایي تذکرې دې د اسد پر (۲۸)مه نېټه وو بشل شي. دې کار یو ځل بیا د بېلابېلو ملتپالو او هېوادپالو کړیو ترمنځ اندېښنې راولاړې کړې. اندېښنې د تذکرو د وېش د نېټې په باب نه وې، بلکې په دې اړه وې چې ملي هویت (افغان) به په کې وي که

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه؟ ټولو ته څرګنده ده چې وزیرانو شورا د ملي شورا د همغې نیمګړې مصوبې د تحقق لپاره پرېکړه کړې چې په هغه کې د ملت ستون یا (افغان هویت) حذف شوی و.

ددې اند ښنې د لړې کولو لپاره موږ ډېره هڅه وکړه چې له ولسمشر ډاکټر اشرف غني سره وګورو، خو لکه څنګه چې هغه له پخوا څخه، ان په حساسو هېوادنیو مسلو کې هم د وخت د نشتوالي پر نري رنځ اخته دی، بیا هم موږ ته له هغه سره د هغه د څو درجنو کم کفایته مشاورینو له شتوالي سره سره په دې حساسه مسله کې د کتنې زمینه برابره نه شوه، نو مجبور شو د غني د پنځوس سلیز حکومت له بل مشر ښاغلي (ډاکټر عبدالله عبدالله) سره وګورو. سره له دې چې له ډاکټر عبدالله عبدالله سره زموږ د پخواني ذهني واټن او تضاد له امله زموږ کتنه اسانه خبره نه وه، خو د افغانیت او اسلامیت د داعیې د اعادې لپاره موږ د هر ډول ذهني او رواني فشار زغملو ته تیار یو، نو ځکه مو د الکترونیکي تذکرو د وېش او چاپ د دوو تنو مسولینو ښاغلي (همایون محتاط) او ښاغلي (میرویس علیزي) په واسطه له ډاکټر صیب عبدالله عبدالله سره ددې اند ښنې د روښانتیا په باب لیدنه وکړه. دا کتنه د اسد پر (۱۹)مه نېټه، د دوشنبې پر ورځ د ماسپښین شل کم څلور بجې په (سپېدار) ماڼۍ کې تر سره شوه. په کتنه کې په خپله ښاغلي ډاکټر عبدالله عبدالله، ښاغلي همایون محتاط، ښاغلي میرویس علیزي، ښاغلي ډاکټر فیض محمد ځلاند، ما (یون) او د اجرائیه ریاست یو منشي ښاغلي (فریدون خوځون) ګډون درلود.

د غونډې په پیل کې ښاغلي عبدالله عبدالله زما (یون) د مور بي بي د مړینې له کبله ماته د دعا لاسونه پورته کړل. بیا ما ورته د غونډې برخوال که څه هم ده خپله ټول پېژندل، په ډېر لنډیز سره ور وپېژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې ما د هویت په تذکره کې له پیله راپېښې شوې ستونزې یوه په بله پسې بیان کړې. په ملي شورا کې په دې برخه کې شوې درغلي، غبن او نیمګړې تصویب او همدارنګه په دې باب د ولس مظاهرې او غبرګونونه، پخواني او اوسني ولسمشر سره کتنې او د هغوی تعهدونه مې ټول یو په بل پسې تشریح کړل.

اوسني وخت کې مې ورته یو ځل بیا د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقرې له مخې چې پر هر وګړي د افغان کلمه اطلاقېږي، د دې ستونزې قانوني حل تشریح کړ، بیا مې ورته د افغانیت د ذکر اړتیا تشریح کړه او دا مې هم ورته واضح کړه چې که دا ستونزه حل نه شي، نو حکومت ته به غټې مشکلات پیدا شي، حکومت هم په نازک حالت کې دی، که مظاهرې او ستونزې راولاړې شي، نو طبیعي خبره ده چې اوسني نازک حکومت ته غټې چېلنجونه راولاړولای شي. موږ هم نه غواړو چې حکومت ته پر اوسنیو ستونزو نورې ستونزې، چې حکومت یې بیا د کنترول وس هم ونه لري، راولاړې شي. اوس ستاسو څخه زموږ هیله ده، مخکې تر دې چې د اسد پر اته ویشتمه نېټه د تذکرو وېش پیل شي، ښه ده چې ولسمشر ته ووایې د ملت د ستون د زیاتونې یا د افغان کلمې د لیکنې په ګډون نور ضروري مسایل د یوه تقنیني فرمان له لارې په تذکره کې ځای او بیا دې د تذکرې وېش پیل شي. موږ هم د تذکرې وېش غواړو او هم د ملت د ستون لیکل. خو د افغان کلمې تر لیکنې د مخه د تذکرو له هر ډول وېش سره څکه مخالف یو، چې دلته زموږ ملي هویت تر پوښتنې لاندې راځي.

زما تر دې او نورو توضیحاتو وروسته ډاکټر صیب عبدالله خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((اول زه خپل نظر درته وایم، زه په اصولو کې په تذکره کې له افغان کلمې سره ایډیالوژیک مشکل نه لرم، په دې شکل چې اوس ده راشي او که افغان په کې ولیکل شي، هم مخالفت یې نه کوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس خبره داده چې دا مسله داسې یو حد ته رسېدلې چې هر طرف ته په کې یو ډول ستونزه ده، نو که د یوې خوا غوښتنې په پام کې نیول کېږي دا هم یو مشکل دی، زما خپل نظر خو دادی چې اوس تذکرې وویشل شي ښه به وي، زموږ یو زیات شمېر مشکلات د همدې تذکرو له امله دي، تذکره زموږ هویت دی، څومره چې ژر کېږي، باید توزیع یې پیل شي او که اوس ونه وېشل شي نو بیا ټول عمر دا مسله پاتې ده، نه نړیوال مرسته کوي او نه نور امکانات شته، اوس د وزیرانو شورا پرېکړه کړې، باید دا پرېکړه عملي شي، نن زه خبر شوم چې جمهور رییس په مطبوعاتي کنفرانس کې ویلي چې د تذکرو اداره په دې برخه کې تخنیکي مشکل لري او امادګي نه لري.)) دا مهال د تذکرو د وېش مشر (محتاط) صیب وویل: ((ما امادګی داریم و هیچ نوع مشکل تخنیکی نداریم)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((زه فکر کوم هېڅ ډول تخنیکي مشکل نه شته خو که بل مشکل وي جمهور رییس یې باید واضح کړي، خو زه د اسد پر (۲۸)مه دا واضح کوم چې تخنیکي مشکل نه شته.)) دا مهال ما بیا وویل چې: ((موږ د تذکرو د وېش له بهیر سره مخالف نه یو، خو په دې شرط چې افغان کلمه په کې ولیکل شي او که دا کلمه په کې راغله نو موږ او په مجموع کې ټول ملت بیا هر ډول مرستې او همکارۍ ته تیار یو. له تاسو څخه اوس غوښتنه کوو چې دا مشکل له ولسمشر سره حل و فصل کړئ، موږ خپله اوس هغه ته لاسرسی نه لرو او وخت هم ډېر کم پاتې، هسې نه چې له ملي هویت پرته تذکرې پیل شي بیا به غټ مشکل پیدا شي.))

دا مهال ډاکټر صیب ځلاند وویل: ((ډاکټر صیب له تاسو څخه مو هیله ده چې تاسو په دې برخه کې جدي اقدامات وکړئ، له افغان پرته تذکره به ستاسو حکومت ته ډېرې سختې ستونزې راولاړې کړي، ډېری خلک به سړکونو ته راووځي، په لسګونو زره خلک به مظاهرې وکړي او بیا به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا حکومت د کنترول ظرفیت هم نه لري او کېدی شي د حکومت د زوال سبب شي... )) ډاکټر صیب عبد الله عبد الله وویل: ((تاسو چې جمهور رییس سره کتلي وو هغه درته په دې برخه کې څه وویل؟ )) ما وویل: ((د تېر ۱۳۹۳ ل کال د جدي په میاشت کې موږ سره ولسمشر ژمنه وکړه چې د ملي شورا د ژمنیو رخصتیو پر مهال به د یو تقنیني فرمان له لارې دا مشکل حل کړم او افغان کلمه به په تذکره کې درج کړو، ډاکټر صیب اشرف غني دا هم وویل چې زه به له ډاکټر صیب عبد الله عبد الله سره په دې برخه کې مشوره وکړم. )) ډاکټر صیب عبد الله وویل: ((ما سره خو یې په دې باب څه نه دي ویلي، خو ستاسو نوم یې راته واخیست چې (یون) سره په دې باب غږېږم )) بیا ډاکټر صیب څلاند وویل: ((جمهور رییس موږ ته تاسو د پلمې په توګه یادوي، ګنې زه خو یې منم خو دوی (تاسو) یې مخالفت کوئ او وایي چې د افغان کلمه دې په کې نه راځي. ))

دې خبرې سره ډاکټر عبد الله ټینګ غبرګون وښود، ویې ویل: ((نه نه هېڅ پوښتنه نه پیدا کېږي، هېڅوک زما پر افغانیت باندې شک نه شي کولای، زه همدې وطن کې پیدا شوی یم، ما دې وطن کې ټول عمر تېر کړی، ما جهاد کړی، د جهاد د تقدس په خاطر مې جهاد کړی، څوک حق نه لري چې پر ما باندې دا تور پورې کړي، البته ځینې خلک شته چې بېلابېل نظرونه لري، زه نه وایم چې د چا نظر سم دی او د چا نه دی، خو نظرونه دلته بېلابېل دي. ))

ما وویل: ((ډاکټر صیب ! نظرونه به بېلابېل وي خو مهمه خبره دا ده چې قانون څه وایي، زه بیا وایم چې د اساسي قانون د څلورمې مادې پنځمه فقره حکم کوي چې د افغانستان پر هر وګړي د افغان کلمه اطلاقېږي او تذکره موږ هر وګړي ته ورکوو، نو بیا په دې کې سوال څه دی، چې موږ چاته ووایو افغان یې او که نه؟ ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر صیب عبدالله عبدالله وویل: ((پورته یې لیکلي دي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، دې کې ټول افاده شول، اسلام هم راغی او افغانستان هم، بل تعبیر ترې نه شي کېدی، غیر له افغانه، خو که څوک بیا بېلا بېل تعبیرونه ترې کوي، هغوی کولای شي، کېدی شي ځینې خلک ځانته هېڅ افغان ونه وایي، خو دا کېدی شي ډېر محدود کسان وي.))
ما وویل: ((ډاکټر صیب یو ځل بیا وایمه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت نوم دی، چې زموږ د دولت یو ډول څرګندوي، لکه یو وخت کې د افغانستان جمهوریت و، بیا د افغانستان دموکراتیک جمهوریت، بیا د افغانستان اسلامي دولت، بیا د افغانستان اسلامي امارت او اوس د افغانستان جمهوري دولت دی، دا نوم خو وخت پر وخت بدلېږي، خو ملت مو افغان دی او هغه نه بدلېږي، موږ باید د مملکت (country) او ملت (Nation) تر منځ فرق وکړو. (افغانستان) له (افغانه) جوړ شوی، کله چې افغان نه منل کېږي نو افغانستان خو بیا اتومات نه منل کېږي او تاسو خو ښه پوهېږئ چې له پورته عنوان څخه د هویت په برخه کې نوره ناوړه ګټه هم پورته کېږي.)) دا مهال ډاکټر عبدالله وویل: ((هو رښتیا ځینې کسان بیا وایي، موږ افغانستاني یو، دا نو بیا د هغوی تعبیر دی، چې دا ډېر کم کسان دي او افغانستاني بیا د افغان مانا نه لري.)) ډاکټر ځلاند وویل: ((دا خو هغه کسان دي چې افغان نه مني هغه ډېر کم دي او د ګوتو په شمار دي، موږ د هغو په خاطر د افغان کلمې له لیکلو تېر شو چې هغوی یې نه مني؟ خو چې اکثریت یې مني هغه په پام کې نه نیسو، نو راځئ چې ریفرینډم وکړو چې څوک اکثریت کېږي؟)) ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((په یوې کلمې ریفرینډم سخت کار دی، ملت ته په تاوان دی، ملت سره وېشل کېږي، موږ څخه به نور کارونه پاتې وي، خو اکثریت معلومونه د پارلمان له لارې هم نسبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثریت په یو نه یو ډول معلومېږي)) ډاکټر ځلاند وویل: ((دا چرته د ملت رښتیني استازي دي؟)) ډاکټر عبدالله وویل: ((هر څنګه چې دي خو د ملت استازولي کوي.)) ما (یون) وویل: ((دې پارلمان خو یو ځل د افغانستان په سفارتونو کې د دوه تابعیته وو د رد موضوع هم په اکثریت سره تصویب کړې وه، د اهله تشیعه وو د شخصیه احوالو قانون یې هم په اکثریت سره تصویب کړی و، نو څنګه ولسمشر بېرته مسترد کړل او ملي شورا پرې بیا له سره غور و کړ. ولسي جرګه یوه ورځ یو وزیر ته د نا باوري، او بله ورځ همغه وزیر ته د باور رایه ورکوي، په شورا کې دا مسله په غبن سره تېره شوې، په پیل کې مې ورته اشاره وکړه، هېڅوک په شورا کې پیدا نه شول چې ووایي زه افغان نه یم، بله خبره دا که شورا د اساسي قانون خلاف پرېکړه هم وکړي، نو موږ ته به د منلو وړ وي؟ جمهور رییس به له هغه واک څخه څه وخت ګټه پورته کوي چې شورا یو ناقانونه مسوده تصویب کړي او دی یې د یو تقنیني فرمان له مخې اصلاح او یا یې بېرته ورمسترده کړي؟)) دا مهال ډاکټر عبدالله وویل: ((زه پوره باور لرم چې شورا کې به له یو دوه درېو تنو پرته هېڅوک هم ونه وایي چې زه افغان نه یم، ټول وایي چې موږ افغانان یو، خو اوس دا مسله همداسې راغلې ده.)) محتاط وویل ((فعلاً اکثریت شورا به این نظر است که کلمه افغان ضروری بود، اگر این موضوع دوباره به شورا محول شود، یقین است که شورا صد در صد موضوع افغانیت را تایید میکند، اکثریت شان همرای ما در تماس هستند و خواهان شروع توزیع تذکره الکترونیکی است.)) ډاکټر عبدالله عبدالله وویل: ((حل لارې ووایئ! که چېرې جمهور رییس فرمان ورکړي چې افغان کلمه دې په ډېټابیس کې راشي، مشکل به حل شي؟)) ما وویل: ((نه افغان کلمه باید د تذکرې پر لومړي مخ راشي، موږ ولې خپل هویت د پردې تر شا پټ کړو، تذکره خو ده د هویت لپاره!))

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرویس علیزي او محتاط وویل: ((مشکل یو څه حلېږي خو پوره نه.))
دې وخت کې ډاکټر صیب عبدالله وویل: ((که قوم او ملت دواړه د تذکرې پر اول مخ راشي ځنګه به شي؟)) محتاط ورته وویل: ((د قوم د لیکلو په حالت کې اروپايي اتحادیه موږ ته فنډ نه راکوي او وايي چې دا د ملګرو ملتو د نړیوال کنوانسیون مخالف کار دی، دې حالت کې د یو چا ژوند ته ګواښونه او خطرونه پېښېدی شي.))
ما وویل: ((موږ درې حل لارې وړاندې کوو: لومړی دا چې ټولو ته دې افغان ولیکل شي او د قانون حکم هم همدا دی، دویم که څوک پر قومیت ټینګار کوي، نو ملت دې ټولو ته افغان ولیکل شي او حتمي دې شي او قوم دې اختیاري پرېښودل شي، که د چا زړه و ودې لیکي او که د چا زړه نه و، نه دې لیکي او درېیم حالت دادی چې دا ښه حالت هېڅکله نه دی او وروستی حالت دی چې ملت دې ټولو ته افغان ولیکل شي او که چا ویل چې زه افغان نه یم، نو د ملت ستون دې ورته نه لیکل کېږي، نو بیا به وروسته وکتل شي چې له نورو قوانینو سره څه کوي؟ څوک چې له خپل ملته منکرېږي، د هغه نور حالت به څه وي؟)) دې وروستي حالت سره ډاکټر عبدالله عبدالله جدي مخالفت وښود او ویې ویل: ((دا کار ملت پر بېلابېلو برخو ویشي، د یوه تذکره کې به ملت افغان وي د بل کې به نه وي.)) نو ما بیا وویل چې ښه نو زموږ همغه لومړی وړاندیز دی، چې ټولو ته دې افغان ولیکل شي، دې وخت کې یو ځل بیا د افغان کلیمې د لیکلو او نه لیکلو خبره تاوه شوه. ما بیا وویل که ولیکل شي تاوان یې څه دی؟ که و نه لیکل شي نو تاوان خو یې واضح دی، چې ملت له خپل هویت څخه محرومېږي او هېڅکله ورته دا حالت د منلو وړ نه دی.
دې وخت کې علیزي وویل: ((موږ هېڅ تخنیکي مشکل نه لرو، هر وخت یې پیل ته تیار یو)) محتاط وویل: ((موږ یې هم پیل ته تیار یو او هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت ستون لیکلو ته، په دې دواړو برخو کې هېڅ مشکل نه شته، تاسو باید جمهور رییس قانع کړئ چې دا مسله نوره اوږده نه کړي)) محتاط په پای کې زیاته کړه: ((ښه لاره همدا ده چې موږ د کورنیو چارو وزارت له لارې د ملت - افغان کلیمو د زیاتولو وړاندیز کړی، تاسې یې پر ولسمشر ومنئ چې هغه یې د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې موږ ته راولېږي، نور نو موږ نه تخنیکي مشکل لرو او نه هم کوم بل مشکل.))

په پای کې زموږ د څو تنو (محتاط، علیزي، څلاند، یون) وړاندیز دا شو چې د ملت ستون په زیاتولو او د افغان کلمې د لیکلو لپاره دې له ولسمشر څخه تقنیني فرمان واخیستل شي او ډاکټر صیب عبدالله عبدالله باید ددې فرمان په صدور او د جمهور رییس په قانع کولو کې اصلي هلې ځلې وکړي.

ډاکټر صیب عبدالله په پای کې د نتیجې په توګه وویل: ((ما ستاسو وړاندیزونه واورېدل، اول او دویم وړاندیز مې هم یاداشت کړل، زه به یې جمهور رییس سره مطرح کړم، خو وعده درسره نه کوم، چې هغه به حتمي دا کار وکړي که ونه کړي، خو زه بیا وایم چې زه د افغان کلمې سره ایډیالوژیک مخالفت نه لرم، که جمهور رییس یې راوړي او که رای نه وړي مخالفت یې نه کوم، د تذکرې د وېش پر تاریخ ټینګار کوم، خو ستاسو وړاندیزونه ورته رسوم.)) ما او څلاند بیا د پای د ټکي په توګه وویل: ((که د افغان کلمه په کې رانه شي، موږ یې مخالفت کوو او بیا چې هر ډول ستونزه پېښه شوه، مسؤلیت به یې د همغه چا پر غاړه وي چې دا مشکل یې تردې دمه رارسولی دی، بیا مو د مدني او بېلابېلو کلتوري ټولنو او قومي شوراګانو هغه غوښتنلیک هم ډاکټر عبدالله ته ورکړ چې د جمهوري ریاست د مقام په نامه لیکل شوی و او دی یې باید ولسمشر ته ورکړي، دا لیک په جلا ډول لیکل شوی او لوستونکی کولای شي چې تر دې متن وروسته یې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادونې وړ ده چې د دې ناستې مینوټ مې ځکه ولیکه چې د یو تاریخي سند په توګه ولس ته پاتې شي. البته کېدی شي ځینې کلمې او خبرې مې له یاده وتلې وي، خو د ناستې غټ ټکي همدا وو چې تاسو ته مې یاد کړل.

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت محترم مقام ته

## په برېښنايي تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت د تثبیت غوښتنه

له هغې ورځې چې د نفوسو د احوال د ثبت قانون او په تېره بیا د هویت یا تابعیت د تذکرو د چاپ او وېش په باب بحثونه پیل شوي، نو له همغې ورځې یو شمېر ناڅرګندو عناصرو هڅه پیل کړې، چې له غبن، چل، فرېب او نورو نامشروعو لارو د هېواد اسلامي او ملي هویت مسخه کړي او دا کار د قانون تر پردې لاندې په ناقانونه ډول مخته بوځي. دوی په خپلو دې هڅو کې تر یوه حده بریالي شول، کله چې د هویت په تذکرو کې د (دین) او (ملت) د ستونونو د لیکلو خبره مطرح شوه او د ټولو هېوادوالو هیله وه چې د دین د ستون په مقابل کې هر مسلمان افغان ته (اسلام) او د (ملت) ستون په مقابل کې د هېواد هر وګړي ته د (افغان) کلیمه ولیکل شي او په دې ډول د افغانانو اسلامي او ملي هویت خوندي شي، خو دې ناڅرګندو عناصرو د چل او غبن له لارې د هویت په تذکره کې د دې دواړو سترو ارزښتونو د لیکلو مخه ونیوله. سره له دې چې د ملي شورا اکثریت وکیلان د دې ارزښتونو غوښتونکي وو، خو یو شمېر عناصرو له داسې فرېب څخه کار واخیست چې عملاً یې د دې ارزښتونو مخه ونیوله. وروسته د ولس د بېلابېلو پرګنو له خوا مظاهرې وشوې او ملي شورا مجبوره شوه، د یوه ګډ کمېسیون له لارې د (دین) ستون بېرته تذکرې ته داخل کړي، خو پر (ملت) یې بیا هم خاورې واړولې، پخواني ولسمشر هم ژمنه وکړه چې دا نیمګړی قانون به تعدیلوي او سمون به په کې راولي، خو هغه پر خپله ژمنه وفا ونه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني ولسمشر (ډاکټر اشرف غني) هم د ۱۳۹۳ ل کال د مرغومي په میاشت کې د بېلابېلو مدني، کلتوري ټولنو او قومي شوراګانو د استازو په غونډه کې له هغو سره ژمنه وکړه چې د همدې کال د (دلوې) په میاشت کې به د ملي شورا د ژمنیو رخصتیو پر مهال د یو تقنیني فرمان له لارې د (ملت) ستون هم د هویت په تذکره کې زیاتوي او د هېواد هر وګړي ته به د (افغان) کلیمه لیکي.

تر هغه وروسته ولسمشر له بېلابېلو اړوندو ارګانونو او اجراییه رییس ښاغلي (ډاکټر عبدالله عبدالله) سره هم سلا مشوره وکړه او ټولو د (ملت) د ستون له لیکلو سره موافقه وکړه، ولسمشر غني د یو تقنیني فرمان د متن د ترتیب غوښتنه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د ملي شورا د دوبنیو رخصتیو پر مهال به د یو تقنیني فرمان په ترڅ کې د تذکرې پر لومړي مخ د هېواد هر وګړي ته د (افغان) کلیمه لیکل کېږي، د فرمان متن هم ترتیب شو، خو تر اوسه پورې ولسمشر دا فرمان لاسلیک نه کړ.

اوس په هېواد کې بېلابېلو ملي بنسټونو، مدني ټولنو، فرهنګي بنسټونو، قومي شوراګانو، سیاسي خوځښتونو او په ټوله کې ټولو اسلامپالو او ملتپالو هېواد مینو افغانانو غوښتل، یوځل بیا پر سترو مظاهرو او لاریونونو لاس پورې کړي او په خپله هویت پاڼه کې خپل اسلامي او ملي هویت (اسلامیت) او (افغانیت) تثبیت کړي، خو ددې ټولو بنسټونو د همغږۍ جرګې تر مظاهرو دمخه غوره وبلله چې له قانوني لارو چارو د خپلې داعیې د تثبیت غوښتنه وکړي. دا بنسټونه د جمهوري ریاست له محترم مقام او په تېره بیا شخصاً له قدرمن جمهور رئیس څخه هیله لري چې د ملت دې داعیې ته له قانوني لارې هرکلي ووایي. څرنګه چې د هویت د تذکرو په باب د ملي شورا پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې د پنځمې فقرې مخالفه ده، نو لازمه او ضروري ده چې دا پرېکړه د یادې مادې له محتوا سره سمه اصلاح شي. د اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون د څلورمې مادې په پنځمه فقره کې راغلي دي: (( د افغان کلمه د ملت پر هر وګړي اطلاق کېږي )). نو څرنګه چې تذکره هم د هېواد هر وګړي ته ورکول کېږي او د هر وګړي ملي هويت (افغان) دی، نو ځکه موږ غواړو د همدې فقرې پر اساس د هويت په تذکره کې د (دين) ستون تر څنګ د (ملت) ستون زيات شي او په مقابل کې يې هر هېوادوال ته (افغان) کلمه وليکل شي. په دې ډول به هم د اساسي قانون محتوا او روحيه تطبيق شي، هم به ملي وحدت تامين شي او هم به ملي هويت او يووالي ته پېښې ګواښونه کمزوري او له منځه لاړ شي او د هېواد د ښمنانو هغه د سيسې به هم شنډې شي چې واحد افغان ملت پر بېلا بېلو نومونو او ټوټو وېشي. موږ له تاسو څخه هيله لرو چې د هويت تذکرو تر سمون د مخه د دې تذکرو د وېش په باب ټوله نيمګړې پروسه ودروئ. کله چې ياد سمون راغلی تر هغه وروسته دې د تذکرې د وېش په اړونده اداره کې هم پوره سمون او پياوړتيا راشي، بيا به حکومت، ولس او د هېواد مدني بنسټونه په ګډه د دې بهير د برياليتوب لپاره هلې ځلې کوي. د اسلامي او ملي هويت له تثبيت پرته د نيمګړې تذکرې وېش د هېواد اسلامي او ملي ارزښتونو سره د مخالفت مانا لري او هېڅ افغان ته د منلو وړ نه دی، په داسې يو حالت کې که د مظاهرو په ګډون هر ډول مشکل پيدا شو، نو مسؤليت به يې د ولسمشر او نورو دولتي چارواکو پر غاړه وي. خو هېوادپال او اسلامپال افغانان به تر هغه پورې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي چې خپل اسلامي او ملي هويت يې نه وي تثبيت کړی.د اسلامي او ملي داعيې د پوره کېدو په هيله.

په درناوي

د هېواد بېلابېلې مدني، فرهنګي ټولنې، قومي شوراګانې او سياسي خوځښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له فرهنګي څانګې څخه د زړه له تله مننه کوم چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ویاړم چې ملي تحریک د علمي اثارو د چاپ لړۍ پیل کړې ده. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د ملي تحریک له فرهنګي څانګې څخه د زړه له تله مننه کوم چې د دې اثر د چاپولو جوګه شو.

په فرهنګي مینه

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# DA SAMOON PA LATA

## “Try for Reforming”

### “THE COLLECTION OF POLITICAL AND SOCIAL ARTICLES”

By: Mohammad Ismael Yoon

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۹۸
د لیکوال د خپرونو لړ: ۴۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**